# دافغانستان اسلامي جمهوريت
# د ماليې وزارت
# د عوايدو لوی رياست

# پر عايداتو د مالياتو قانون تعليماتنامه

# مسوده

۱۳۸۹لمريز كال، د وري مياشت

پر عايداتو د مالياتو قانون تعليماتنامه
۱۳۸۹لمريزكال، د وري مياشت

# د محتویاتو لړلیک

سریزه................................................................................................................................۷

لومړی څپرکی (عمومي احکام) .......................................................................................... ۸
۱ ماده (مبني یا پیل)........................................................................................................۹
۲ ماده (د تطبیق)..........................................................................................................۱۰
۳ ماده (مالي کال)........................................................................................................ ۱۳
۴ ماده (د مالیې سنجش)................................................................................................. ۱۵
۵ ماده (د مېشتو اشخاصو مالیه)......................................................................................۱۷
۶ ماده (د نامېشتو اشخاصو د مالیاتو معافیت).......................................................................۲۰
۷ ماده (د مالیاتو ورکړه او مجاز کسرات)............................................................................۲۱
۸ ماده (د اقتصادي فعالیتونو مالیات)................................................................................. ۲۳
۹ ماده (د بهرنیو هېوادونو او نړیوالو مؤسسو مالیات)............................................................. ۲۹
۱۰ ماده (د مؤسسو د مالیاتو معافیت)..................................................................................۳۰
۱۱ ماده (د دولتي ادارو مالیاتي معافیت)...............................................................................۳۳

دویم څپرکی (د مالیې وړ عوایدو ټاکل)................................................................................۳۵
۱۲ ماده (مصطلحات او تعریفات)........................................................................................۳۶
۱۳ ماده (مالیاتو ته تابع عایدات)........................................................................................۳۷
۱۴ ماده (د مالیاتو غیرتابع عایدات).....................................................................................۵۰
۱۵ ماده (د احتراقي توکو مالیاتي معافیت)..............................................................................۵۵
۱۶ ماده (د غیرمنقولي شتمنۍ پر اجارې او کرایې مالیات)..........................................................۵۶
۱۷ ماده (له معاشاتو او مزدودنو څخه د مالیې د وضع کولو مکلفیت).............................................۵۷
۱۸ ماده (د مجرایي وړ لګښتونه)........................................................................................۵۹
۱۹ ماده (غیر قابل مجرایي لګښتونه)...................................................................................۶۹
۲۰ ماده (د کورنیو سرچینو عواید )......................................................................................۷۲

درېیم څپرکی (د شتمنۍ د لېږد، تبادلې او خرڅلاو له درکه ګټه یا تاوان)......................................۸۰
۲۱ ماده (پر عایداتو د مالیاتو تابع ګټه)...............................................................................۸۰
۲۲ ماده (دمالي کال د مالیې وړ ګټه)...................................................................................۸۱
۲۳ ماده (د شتمنۍ د لېږد څخه مالیه)..................................................................................۸۲
۲۴ ماده (د مالیې وړ عوایدو څخه د لګښتونو وضع)...................................................................۸۳
۲۵ ماده (د ورځې په بیه د مالیې ټاکل)..................................................................................۸۵
۲۶ ماده (د لېږدونې هغه ډول چې د مالیاتو پر مکلفیت اغېزه ونه لري).............................................۸۶

۲۷ ماده (د مالیې وړ عوایدو څخه د رامنځته شوي تاوان وضع کول) ..................... ۸۷
۲۸ ماده (د مالیې وړ عوایدو څخه د اضافي تاوان نه کسر کول) ..................... ۸۸
۲۹ ماده (د شتمنۍ د ارزښت له تزیید یا ډېرېدو څخه د مالیه سنجش) ..................... ۹۱
۳۰ ماده (د منقولې او غیرمنقولې شتمنې پر خرڅلاو مالیات) ..................... ۹۳

څلورم څپرکی (شرکتونه) ..................... ۹۷
۳۱ ماده (پېژندونه او تعریفونه) ..................... ۹۸
۳۲ ماده (پر محدود المسؤلیت او مختلط تضامني شرکتونو د تطبیق وړ احکام) ..................... ۹۸
۳۳ ماده (د تضامني شرکتونو مالیات) ..................... ۹۹
۳۴ ماده (د خالصو عوایدو ټاکل) ..................... ۱۰۰
۳۵ ماده (د لاسته راغلو عوایدو وېش) ..................... ۱۰۱

پنځم څپرکی (د محاسبې قاعدې) ..................... ۱۰۴
۳۶ ماده (د اسنادو جوړول او ساتنه) ..................... ۱۰۵
۳۷ ماده (د محاسبې وروستنۍ لارې چارې) ..................... ۱۰۶
۳۸ (د محاسبې نغدي طریقه) ..................... ۱۰۹
۳۹ ماده (د اسنادو او دفاتر بڼه او محتوا) ..................... ۱۱۳
۴۰ ماده (د کال په وروستۍ برخه کې موجودي) ..................... ۱۱۳
۴۱ ماده (د دوو یا زیاتو سوداګریزو مؤسسو د عوایدو تثبیتول) ..................... ۱۱۶

شپږم څپرکی (د سهامي او محدود المسؤلیت شرکتونو په اړه ځانګړي احکام) ..................... ۱۲۰
۴۲ ماده (د عملیاتي زیان مجرایي) ..................... ۱۲۱
۴۳ ماده (د شرکت د شتمنۍ وېشل سهم لرونکي ته) ..................... ۱۲۲
۴۴ ماده (د شرکت د ړنګولو پرمهال د شتمنیو وېشل) ..................... ۱۲۴
۴۵ ماده (د پیسو یا نورو شتمنیو وېشل) ..................... ۱۲۴
۴۶ ماده (د مالیه وضع کول) ..................... ۱۲۶
۴۷ ماده (د زیان مجرایي او استهلاک) ..................... ۱۲۹

اووم څپرکی (د بیمې د شرکتونو مالیات) ..................... ۱۳۵
۴۸ ماده (د بیمې د شرکتونو په اړن د تطبیق وړ احکام) ..................... ۱۳۶
۴۹ ماده (د بیمې د شرکتونو پر عایداتو د مالیاتو تابع عواید) ..................... ۱۳۷
۵۰ ماده (د بیمه شوو مالیاتي معافیت) ..................... ۱۳۸
۵۱ ماده (د بیمې د شرکتونو غیر قابل مجرایي تادیات) ..................... ۱۳۹
۵۲ ماده (د بیمې د شرکتونو د مجرایۍ وړ تادیات) ..................... ۱۴۰
۵۳ ماده (د بیمې د بهرنیو شرکتونو د مالیې وړ عوایدو تثبیتول) ..................... ۱۴۲

اتم څپرکی (د بانکونو، سهامي شرکتونو، پورونو او پانګه اچونې مالیه) ۱۴۸
**۵۴** ماده (مالیاتو تابع ګټې او تاوانونه) ۱۴۹
**۵۵** ماده (د ضروري لګښتونو مجرایي) ۱۴۶
**۵۶** ماده (زېرمه کې زیاتوالی) ۱۴۸
**۵۷** ماده (په ارزښت کې د ېروالی او لږوالی) ۱۴۹

نهم څپرکی (د عایداتو له منابعو څخه د مالیې وضع کول) ۱۵۴
**۵۸** ماده (د مالیې وضع کول انتقالول) ۱۵۵
**۵۹** ماده (د ودانیو او کورونو د کرایې مالیه) ۱۵۳
**۶۰** ماده (د مالیاتو د ورکړې معیاد او انتقال) ۱۵۷
**۶۱** ماده (د صورت حسابونو چمتوکول) ۱۵۹
**۶۲** ماده (د صورت حساب د ارایې معیاد) ۱۵۹
**۶۳** ماده (د اظهارلیک وړاندې کول) ۱۶۰

لسم څپرکی (د انتفاعي معاملاتو مالیه) ۱۶۵
**۶۴** ماده (د انتفاعي معاملاتو مالیه) ۱۶۶
**۶۵** ماده (د انتفاعي معاملاتو د مالیې معافیت) ۱۶۷
**۶۶** ماده (د انتفاعي معاملاتو د مالیې نورم) ۱۷۱
**۶۷** ماده (د انتفاعي معاملاتو د مالیاتو تطبیق) ۱۷۸

یوولسم څپرکی (ثابت مالیات) ۱۸۴
**۶۸** ماده (ثابتو مالیاتو ته تابع انتفاعي فعالیتونه) ۱۸۵
**۶۹** ماده (د ثابتې مالیې ورکړه) ۱۸۱
**۷۰** ماده (دوارداتي اموالو ثابته مالیه) ۱۸۱
**۷۱** ماده (د ترانسپورت ثابته مالیه) ۱۸۳
**۷۲** ماده (د قراردادي موضوعي مالیه) ۱۸۵
**۷۳** ماده (د نندارتون د عوایدو ثابته مالیه) ۱۸۸
**۷۴** ماده (د ژرندې، پایکوب، د تېل ایستلو او حلاجي، د برقي او اوبو د ګنیو د ماشینونو ثابته مالیه) ۱۹۰
**۷۵** ماده (د وړو تشبثاتو د ثابتې مالیې ټاکل) (هرډول تشبث) ۱۹۱
**۷۶** ماده (د معافیت په برخه کې تعدیلات) ۱۹۲

دولسم څپرکی (د معدن پر جواز لرونکو، د معدن صلاحیت لیک او د هایدروکاربن په قرارداد د مالیاتو د وضع کولو مقررات) ۲۰۴
**۷۷** ماده (تعریفونه) ۲۰۵

۷۸ ماده (د ۱۲څپرکي لومړيتوب) ........ ۲۰۰
۷۹ ماده (د QEIT مالياتي مکلفيتونه) ........ ۲۰۱
۸۰ ماده (د انتفاعي معاملاتو ماليه) ........ ۲۰۲
۸۱ ماده (د کسراتو استهلاک) ........ ۲۰۴
۸۲ ماده (د سړک جوړولو لګښتونه) ........ ۲۰۸
۸۳ ماده (له توليده مخکې لګښتونه) ........ ۲۰۹
۸۴ ماده (د چاپېريال او ټولنيز مکلفيت د بودجې د تمويل لپاره پولي صندوق ته د بسپنې لپاره د کسراتو وضع کول) ........ ۲۱۴
۸۵ ماده (د تړونونو د زيان او دوام انتقال) ........ ۲۱۲

ديارلسم څپرکی (د ماليې سنجش، اظهارليکونه، اعتراضونه او د ماليې ورکړه) ........ ۲۲۲
۸۶ ماده (د ماليه ورکوونکي د پېژندنې نمبر) ........ ۲۲۷
۸۷ ماده (د ماليې سنجش او تعديل شوي سنجشونه) ........ ۲۲۷
۸۸ ماده (د اظهارليک وړاندې کول او د ماليې ورکول) ........ ۲۲۸
۸۹ ماده (اعتراضونه او غوښتنې) ........ ۲۲۹
۹۰ ماده (بيا ورکړې) ........ ۲۳۲
۹۱ ماده (د معلوماتو راټولول) ........ ۲۳۳

څوارلسم څپرکی (تطبيقي احکام) ........ ۲۴۲
۹۲ ماده (له درېيم ګړي څخه د نا ورکړل شوې ماليې راټولول) ........ ۲۴۳
۹۳ ماده (د ريسانو، سهم لرونکو او نورو اشخاصو مالياتي مکلفيت ........ ۲۴۳
۹۴ ماده (ممنوع الاخروج اشخاص) ........ ۲۴۴
۹۵ ماده (د تشبثاتو تړل او بندول) ........ ۲۴۵
۹۶ ماده (د ماليه ورکوونکي لخوا شتمنۍ ته د لاسرسي محدوديت) ........ ۲۴۶

پنځلسم څپرکی (د ماليې له کتمانه مخنيوی) ........ ۲۵۲
۹۷ ماده (د اړوندو اشخاصو ترمنځ معاملې) ........ ۲۵۳
۹۸ ماده (د ماليې له کتمانه مخنيوی) ........ ۲۶۷

شپاړلسم څپرکی (اضافي ماليې او جريمې) ........ ۲۷۷
۹۹ ماده (سرغړونې او جريمې) ........ ۲۷۸
۱۰۰ ماده (پر عايداتو اضافي ماليه په هغه صورت کې چې ماليه ځنډمنه شي) ........ ۲۷۹
۱۰۱ ماده (پر عايداتو اضافي ماليه په هغه صورت کې چې اسناد ونه ساتل شي) ........ ۲۸۰
۱۰۲ ماده (پر عايداتو اضافي ماليه په هغه صورتکې چې اظهارليک وړاندې نشي) ........ ۲۸۳
۱۰۳ ماده (پر عايداتو اضافي ماليه په هغه صورت کې چې ماليه ځنډمنه شي) ........ ۲۸۷

۱۰۴ ماده (پر عايداتو اضافي ماليه په هغه صورت کې چې ماليه تاديه نه شي) ......................... ۲۷۸
۱۰۵ ماده (د ماليه ورکوونکي تشخيصيه نمبر پورې اړونده پر عايداتو اضافي ماليه) ............ ۲۸۰
۱۰۶ ماده (هغه سرغړونې چې د مالياتي کارکوونکو لخوا تسرسره شوي) ............................ ۲۸۱
۱۰۷ ماده (د اضافي ماليې د راټولولو واک) ............................................................ ۲۸۲

اولسم څپرکی (وروستۍ مادې) ........................................................................... ۲۹۳
۱۰۸ ماده (د فورمو او طرزالعملونو تهيه کول) ........................................................ ۲۹۴
۱۰۹ ماده (د کاري جواز نه صادرول) ...................................................................... ۲۹۵
۱۱۰ ماده (د معافيت لپاره د مستحق کېدو شرايط) .................................................. ۲۹۸
۱۱۱ ماده (پر عايداتو د مالياتو قانون لوړوالی) ........................................................ ۲۹۹
۱۱۲ ماده (د ورکړې ور مالیات او مسؤليتونه) .......................................................... ۳۰۱
۱۱۳ ماده (د نافذېدو نېټه) ..................................................................................... ۳۰۳

## سریزه :

پر عایداتو د مالیاتو د قانون تعلیماتنامه د مالیې وزارت دهغه صلاحیت پر بنسټ ترتیب شوې ده چې د۱۳۸۸ هجري لمریز کال د مالیاتو قانون د ۱۰۸ مادې د ۲مې فقرې لمخې نوموړي وزارت ته ورکړ شوی دی. د دغې تعلیماتنامې د اوږدون یا ترتیب موخه دا ده چې د عوایدو لوی ریاست او نورو اړوندو ادارو ته د ۱۳۸۸ کال د مالیاتو قانون د تعبیر او تفسیر او پلې کولو په اړه اضافي لارښوونې او معلومات برابر شي. کله چې په ځانګړې توګه د عوایدو لوی ریاست نوم یادیږي، د مستوفیتونو په ګډون د نوموړي ریاست ټولې څانګې رانغاړي. د دغې تعلیماتنامې دلوستلو په وخت کې باید هر لوستونکی پدې وپوهیږي چې د حکمي او حقیقي اشخاصو په ګډون ټول اشخاص په افغانستان کې د مېشتو اشخاصو په توګه ګڼل کیږي مګر دا چې قانون په دې اړه په بل ډول حکم کړی وي.

برسېره پردې، لاندې محاسبوي نومونې یا اصطلاحات ( چې یواځې پر دوی پورې محدودې نه دي) لکه عواید ، ناخالصه ګټه، عملیاتي لګښت او خالص مفاد عموماً د محاسبوي مفاهیمو په توګه منل شوي دي مګر دا چې د دغه قانون احکام په بل ډول حکم وکړي. دغه مفاهیم د محاسبې د نړیوالو معیارونو د هیئت لخوا تشریح او تعریف شوي دي. تر هغه وخته پورې چې افغانستان خپل محاسبوي معیارونه رامنځ ته کوي، د عوایدو لوی ریاست باید له دغو نومونو (اصطلاحاتو ) څخه چې د محاسبې د نړیوالو معیارونو ادارې لخوا ټاکل شوي دي، ومني او ترې استفاده وکړي.

په دغې تعلیماتنامه کې پر عایداتو د مالیاتو قانون هره ماده په جلا توګه وجود لري او له هرې مادې سره اړوند مقررات له مادې نه وروسته ذکر شوي دي. د قانون حکمونه په دغې تعلیماتنامه کې نغښتي او د مقرراتو یوه برخه تشکیلوي. هره مقرره دیوې ځانګړې شمېرې لخوا جوته شوې ده. د شمېرې لومړی رقم د قانون ماده ده چې د مقررې په واسطه تشریح شوې ده . د شمېرې دویم رقم د مادې هره تشریح په جلا توګه څرګندوي.

په دغه تعلمیاتنامه کې ټول نغښتي تشریحات او څرګندونې باید تر پایه په ډېر دقت سره مطالعه شي ترڅو قانون په سمه او منظمه توګه پلی شي. مقررات اومالیات لکه څنګه چې تشریح شوي دي باید تطبیق او ترلاسه کړل شي. د مالیې وزارت د اجازې نه پرته د طرحه شوو مقرراتو په تطبیق کې باید هېڅ ډول بدلون صورت ونه مومي. هدایات،لارښوونې اوفورمې دمقرراتو د یوې برخې په توګه شمېرل کیږي.

بشپړ قانون په یوه جمله، مقرره او لایحه کې نه شي خلاصه کېدای. په هر ډول شرایطو کې د قانون د تطبیق په موخه باید مقرره په بشپړه توګه تر غور لاندې ونیول شي. د قانون د جوړښت او تعبیر لپاره باید ټولې مقررې او لایحې تر غور لاندې ونیول شي.

د مالیاتو قانون د دغې تعلیماتنامې لوستونکي باید پدې پوه شي چې تعلیماتنامه د نورو معلوماتي او ښوونیزو موادو په څېر د اضافي معلوماتو یوه ښه سرچینه ده. د مالیاتو قانون د یوې ځانګړې مادې په اړه بشپړې توضېحات له طرزالعملونو ، لارښودونو ، پالیسۍ او مقرراتو څخه ترلاسه کیدای شي.

د افغانستان د مالیاتو د قوانینو په اړه د زیاتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره د تعلیماتنامې له لوستونکو څخه هیله کیږي چې د مالیې وزارت انټرنټ پاڼې ( www.mof.gov.af/tax ) ته مراجعه وکړي.

# لومړی فصل

## عمومي احکام

### له۱ مادې څخه تر۱۱ پورې

**مبنی**

**لومړۍ ماده:**

(1) دغه قانون د افغانستان د اساسي قانون د دوه څلويښتمې مادې د حکم له مخې د ماليې د ټاکلو او د هغې د ورکړې د طرز په موخه وضع شوی دی.

(2) د ماليې ورکړه الزامي ده چې د دولت د مالي بنسټ او عامه سوکالۍ د ټينګښت لپاره پرته له دې چې په مقابل کې يې خدمات يا يو جنس وړاندې شي، له حقيقي او حکمي اشخاصو څخه اخيستل کيږي.

(3) هر ډول ماليه چې د دولتي يا نادولتي ادارو لخوا د دغه قانون د حکم له مخې وضع يا راټوليږي، په بانک کې د دولت (ماليې وزارت) ځانګړې حساب ته سپارل کيږي.

۱.۱ پر عايداتو د مالياتو قانون د هېواد د اساسي قانون د ۴۲مې مادې سره سم د اقتصادي او ټولنيزو حالاتو په پام کې نيولو سره او د ټولنيز عدالت اصولو په رعايتولو سره، وضع شوی چې ماليات تنظيم او راټول کړي.

د افغانستان د اساسي قانون دوه څلويښتمه ماده په لاندې ډول حکم کوي:

هر افغان وګړی مکلف دی چې د قانون له احکامو سره سم دولت ته ماليه او محصول ورکړي.

د قانون له احکامو پرته هېڅ ډول ماليه او محصول نه وضع کيږي.

د ماليې او محصول کچه او د هغوی د ورکړې لارې چارې د ټولنيز عدالت په نظر کې نيولو سره د قانون لخوا ټاکل کيږي.

دغه حکم پر بهرنيو اشخاصو او مؤسساتو هم پلی کيږي.

هر ډول ماليات، محصول او لاسته راغلي عوايد بايد د دولت ځانګړي بانکي حساب ته تسليم کړل شي. پر عايداتو د مالياتو قانون د افغانستان اسلامي جمهوريت د ملي شورا لخوا تصويب او بيا وروسته د افغانستان ولسمشر لخوا توشېح شو. ياد قانون د افغانستان د ولسمشر د فرمان له نېټې څخه د تطبيق وړ ګڼل کيږي.

۲.۱ پر عايداتو د مالياتو د قانون تعليماتنامه د مالياتو قانون د (۱۰۸) مادې د (۲) فقرې سره سمه جوړه شوې چې د ماليې وزارت ته د دغې تعليماتنامې د چمتو کولو صلاحيت ورکوي. دغه تعليماتنامه د دې لپاره جوړه شوې چې ماليې وزارت ته په تېره بيا د عوايدو لوی رياست او نورو اړوندو ادارو ته پر عايداتو د مالياتو د قانون د موادو د تطبيق او تفسير په اړه لارښودونه وړاندې کړي. پر عايداتو د مالياتو قانون د تعليماتنامې تطبيق پر ټولو مالياتي ادارو الزامي دی.

پر عایداتو د مالیاتو د قانون په تعلیماتنامې کې شامل محتویات پر عایداتو د مالیاتو په قانون کې له مندرجو موادو سره په ټکر کې نه شي واقع کېدای. (که چېرې د مالیاتو اجراییوي ادارې یا مالیه ورکوونکي په تعلیماتنامه کې د مندرجو موضوعاتو د احکامو په تفسیر کې له ستونزو سره مخ شي، د عوایدو لوی ریاست د حقوقو او پالیسۍ د خدماتو ریاست ته دې د موضوع د هواري لپاره مراجعه وکړي).

۳.۱ د اساسي قانون د ۴۲مې مادې او پر عایداتو د مالیاتو قانون د ۱ مادې سره سم یو مکلفیت ګڼل کیږي او ټول هغه اشخاص چې د دغه قانون د حکم لمخې د مالیې په ورکړه مکلف دي، د دغه قانون د احکامو تطبیقول پرې لازمي او الزامي دي. د مالیاتو د وضع کولو او راټولولو څخه موخه دا ده چې د عامه سوکالۍ د تامینولو، د زمکنۍ بشپړتیا د ساتنې او د دولت د نورو لګښتونو د تامینولو لپاره د ملي بودجې د لګښتونو د تمویل لپاره ترسره کیږي او د دولت لخوا د قانون د حکم سره سم وضع او راټولیږي.

لکه څنګه چې مالیات د هېواد د ملي بودجې د تمویل لپاره راټولیږي او دغه راز دغه بودجه د بودجوي تخصیصاتو له مخې د خزاینو د واحد حساب له لارې لګیږي، باید ټول هغه مالیات چې د دولتي او نادولتي ادارو لخوا د دغه قانون د حکم لمخې د هېواد د کورنیو او بهرنیو منابعو یا د هېواد له پولو څخه بهر وضع او راټولیږي، د دولت یوه واحد او ځانګړې بانکي حساب ته سپارل کیږي. د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست په مستقیمه توګه دا مسؤلیت لري چې پرعایداتو د مالیاتو قانون پلی کړي او د یاد قانون لمخې د وضع شوو مالیاتو د کنټرول، تطبیق او تحصیل مسؤلیت لري.

---

**د مالیې اخیستل**

دوه یمه ماده:

(1) د حقیقي او حکمي اشخاصو له ټولو عوایدو څخه چې د هېواد دننه او بهر کې له افغاني منابعو څخه لاسته راځي او له هغو په افغانستان کې مېشت عوایدو څخه چې له غیر افغاني سرچینو او بهر څخه ترلاسه کیږي، د دغه قانون د حکم لمخې پرې مالیه وضع او اخیستل کیږي.

(2) لاندې ور حقیقي او حکمي اشخاص چې:

1. په هغه صورت کې چې د شخص اصلي استوګنځی د مالي کال په اوږدو کې په هېواد کې دننه وي،
2. په هغه صورت کې چې شخص د مالي کال په ترڅ کې په ټولیزه توګه ۱۸۳ ورځې په افغانستان کې دننه تېرې کړې وي،
3. هغه کارکوونکو ته چې د مالي کال په اوږدو کې د دولتي خدماتو د ترسره کولو لپاره په بهرني هېواد کې دنده ورکول کیږي،
4. او هغه ادارې چې تاسیس یې د مالي کال په جریان کې ترسره شوی وي یا یې مرکزي دفتر په افغانستان کې دننه وي.

افغاني سرچینې: عبارت دي له هغو عوایدو چې په افغانستان کې د مېشتو اشخاصو لخوا د هېواد له منابعو څخه او په بهر کې د دولتي ادارو له شتمنیو څخه ترلاسه کیږي،

---

| |
|---|
| غیر افغاني سرچینې: عبارت دي له هغو عوایدو څخه چې په افغانستان کې د مېشتو اشخاصو لخوا په هېواد کې دننه د نورو هېوادونو له منابعو څخه ترلاسه کیږي، او<br><br>کورنۍ سرچینې: عبارت دي له هغو عوایدو چې دا شخاصو لخوا د هېواد د کورنیو منابعو څخه د افغاني او بهرنیو دواړو سرچینو څخه ترلاسه کیږي. |

۱.۲ لاندې تعریفونه د دغې تعلیماتنامې د کارونې لپاره د پلي کېدو وړ ګڼل کیږي:

أ. (سهامي شرکت) یوحکمي نهاد دې چې:

1. د یوه شرکت په نوم تاسیس شوی وي،
2. په داسې سوداګریزو او صنعتي فعالیتونو کې بوخت وي چې قانوني ممانعت ونه لري،
3. د ټاکلې او اصلي سرمایې لرونکی وي او سرمایه یې د ونډې د هغو اسنادو له مخې چې د انتقال وړ دي وړاندې شوې وي،
4. د شریکانو مکلفیتونه یوازې د سهامي شرکت د سرمایې لخوا ادا کړل شي، او
5. چې په هغه صورت کې د شریکانو مسولیت محدود وي او مسؤلیت یې د هغوی لخوا د ژمنه شوې سرمایې د ونډو په نه ورکړل شوي مبلغ پورې محدود وي.

ب. محدودالمسؤلیت شرکت یوحکمي نهاد دی چې:

1. د یوه شرکت په نوم تاسیس شوی وي،
2. د ټاکلې او اصلي سرمایې لرونکی وي او سرمایه یې د ونډې د هغو اسنادو له مخې چې د انتقال وړ نه وي وړاندې شوې وي،
3. د شریکانو مکلفیتونه یوازې د محدودوالمسولیت شرکت د سرمایې لخوا ادا کړل شي، او
4. چې د شریکانو مسؤلیت په کې محدود وي او مسؤلیت یې د هغوی لخوا د ژمنه شوې سرمایې د ونډو په مبلغ پورې محدود وي مګر دا چې د نوموړي شرکت اساسنامې او یا د افغانستان قوانینو د کوم بل ستر مسؤلیت حکم کړی وي.

۲.۲ د یوه حقیقي شخص اصلي استوګنځی د شرایطو د حقایقو او بررسۍ څخه په استفادې سره ټاکل کیږي. د دې لپاره چې ایا نوموړی حقیقي شخص په افغانستان کې مېشت دې او که نه، لاندې موضوعات باید ترغورلاندې ونیول شي:

1. آیا حقیقي شخص په افغانستان کې کوم کور لري او که کور یې په کرایه نیولی دې؛
2. آیا حقیقي شخص په کوم بل بهرني هېواد کې کور لري او که کور یې په کرایه نیولی دې؛
3. هغه موده چې حقیقي شخص یې په افغانستان او یا په بهرنیو هېوادونو کې تېروي؛
4. حقیقي شخص د کورنۍ استوګن ځای، او

5. هغه موده چې حقیقی شخص په افغانستان او یا په یوه او یا له یوه څخه په ډېرو هېوادونو کې د یوه کور خاوند پاتې شوی وي.

۱ بېلګه: عزیزي په بامیانو ولایت کی یو کور لري او یو بل کور یې په ازبکستان کې په کرایه نیولی دې. نوموړی د شپږو میاشتو لپاره په بامیانو کی او د شپږو میاشتو لپاره په ازبکستان کې اوسيږي. حقیقت دا دې چې عزیزي په افغانستان کې یو کور پېرودلی او یو یې له هېواده بهر په کرایه نیولی دې، نو له دې څخه څرګندیږي چې د عزیزي اصلي استوګنځی په افغانستان کې دې.

۲ بېلګه: عزیزي یو کور په کابل ښار او همدارنګه د تاجکستان په هېواد کې هم د یو کورخاوند دی او د کابل په پرتله د خپل عمر ډېره موده په تاجکستان کی تیروي، له دې کبله، افغانستان د عزیزي د اصلي استوګنځي په توګه نه ګڼل کیږي.

۳ بېلګه: درې کاله کیږي چې عزیزي په بامیانو ولایت کې یو کور لري، خو نوموړی پدې وروستیو کې د ازبکستان په هېواد کې هم یو کور رانیولی دې. عزیزي د مساوي وخت لپاره په خپلو هغو کورونو کې او سیږي چې په بامیانو او ازبکستان کې موقعیت لرې. دا چې عزیزي له وړاندې څخه په افغانستان کې د یوه کور خاوند دی او نورعوامل داهمیت وړنه دي، نو داسې ګڼل کیږي چې افغانستان د عزیزي اصلی استوګنځی دی. که چیری عزیزي په راتلونکي کال کې د خپل ژوند ډېره برخه په ازبکستان او لږه برخه په افغانستان کې تېره کړي، نو په دغه صورت کې افغانستان د نوموړي د اصلي استوګنځي په توګه نه ګڼل کیږي.

۴ بېلګه: عزیزي درې کوره په کرایه نیولي دي چې یو یې په کابل ، یو په تاجکستان او دریېم اپارتمان یې په پاکستان کې موقعیت لري. که چیرې عزیزی د ۱۵۰ ورځو لپاره په کابل کې ، د ۱۰۷ ورځو لپاره په تاجکستان کې او د ۱۰۸ ورځو لپاره په هغه کور کې چې په پاکستان کې موقعیت لري و اوسیږي، نو په دغه صورت کې داسې ګڼل کیږي چې د عزیزي اصلي استوګنځی په افغانستان کې دی.

۵ بېلګه: عزیزي د خپلې کورنۍ د استوګنې لپاره په کابل کې یو کور په کرایه نیسي. نوموړی د خپلې مېرمنې او درې ماشومانو سره یوځای په دغه کور کې ژوند کوي. نوموړی همدارنګه د پاکستان په کراچۍ ښار کې د یوه اپارتمان خاوند دی. د کال په اوږدوکی عزیزي د خپلو دندو د ترسره کولو لپاره ډېر وخت په پاکستان کې پاتې کیږي، خو مېرمن او ماشومان یې په کابل کې خپل ژوند ته دوام ورکوي، نو حقیقت دا دی چې د عزیزي اصلي استوګنځی په افغانستان کې دی.

۳.۲ یو حکمي نهاد هغه وخت په افغانستان کې مېشت ګڼل کیږي چې د افغانستان اسلامي جمهوریت د قوانینو لمخې تاسیس شوی وي.

بېلګه: د الف شرکت هغه نهاد دی چې دافغانستان اسلامي جمهوریت د سوداګرۍ قانون لمخې د یوه سهامي شرکت په توګه ثبت شوی دې. د الف شرکت مدیره هیئت خپل ټول مجالس له افغانستانه بهر ترسره کوي. د نوموړي شرکت رئیس له افغانستانه د باندې ژوند او فعالیت کوي د الف شرکت په افغانستان کی مېشت ګڼل کیږي.

۴.۲ یو حکمي نها په هغه صورت کې په افغانستان کې مېشت ګڼل کیږي چې مرکزي دفتر یې په افغانستان کې دننه وي. دا چې یو حکمي نهاد یا بنسټ د افغانستان په داخل کې خپل مرکزي دفتر لري او که نه، د شرایطو او حقایقو د څېړنې له مخې ټاکل کیږي. د دغې موضوع په اړه باید لاندې موارد په نظر کې ونیول شي:

1. آیا په هغو مجالسو او غونډو کې چې د نوموړي نهاد په اړه په کې پریکړې صورت مومي د دغه نهاد مسؤلین د نهاد په استازیتوب شخصاً په افغانستان کې حضور لري او که نه؛
2. د نهاد د مسؤلینو لخوا د هغو یو شمېر پریکړو پرتله چې د دوی په موجودیت کې ترسره شوي دي له هغو پریکړو سره چې د دوی په نه موجودیت کې ترسره شوي دي، او
3. آیا د نهاد مسؤلین په افغانستان کې مېشت دي او که نه؟

۱ بېلګه: یو سهامي شرکت په تاجکستان کې تاسیس شوی دی چې درې تنه آمرین لري. له هغو څخه یو تن په افغانستان کې مېشت او پاتې دوه تنه یې په تا جکستان کې مېشت دي. نوموړي آمرین په یوه کال کې څلور ځله جلسات دایروي چې یوه جلسه یې په کابل او پاتې درې یې په تاجکستان کې دایریږي. دا سې ګڼل کیږي چې د دغه شرکت مرکزي دفتر په افغانستان کې موقعیت نه لري.

۲ بېلګه: یو سهامي شرکت په تاجکستان کې تاسیس شوی دی، نوموړی شرکت درې تنه آمرین لري چې دوه تنه یې په افغانستان کې او یو تن یې په تاجکستان کې مېشت دی. د شرکت آمرین په یوه کال کې څلور جلسات دایروي چې دوه جلسې یې په کابل او دوه نورې یې په تاجکستان کې دایریږي. په دغه صورت کې دا سې ګڼل کیږي چې د نوموړي شرکت مرکزي دفتر په افغانستان کې موقعیت لري.

---

**مالي کال**

**دریمه ماده:**

(1) مالي کال له شمسي کال څخه عبارت دی چې د وري له لومړۍ څخه پیل او د هماغه کال د کب د میاشتې په وروستۍ ورځ پای ته رسیږي.

(2) که چیرې حکمي شخص د دې مادې په (۱) فقره کې درج له مالي کاله څخه په غیر مالي کاله د ګټې اخیستنې غوښتنه وکړي مکلف دی په لیکلې توګه د خپل مالي کال په نورو دوو لسو میاشتو باندې د بدلون دلایل د مالیې وزارت ته وړاندې کړي ، د مالیې وزارت نوموړی غوښتنلیک یوازې د هغه د مؤجه والي په صورت کې منظوروي.

(2) د دې مادې په ( ۲ ) فقره کې درج مالي کال له هغې نیټې څخه د تطبیق وړ دی چې د مالیې وزارت لخوا کتباً مشخص شي.

(3) د مالیې وزارت واک لري چې د دې مادې په ( ۳ ) فقره کې درج شوی تجویز د اړتیا سره سم لغوه کړي.

---

۱.۳ مالیات پر هغو عوایدو تطبیقیږي چې د هجري لمریز کال په یوه ټاکلې موده کې لاسته راغلي وي. د مالیاتو د قانون د (۳) مادې د (۲) فقرې له حکم نه پرته مالي کال د وري له لومړۍ نیټې څخه پیل او د هماغه کال د کب د میاشتې په وروستۍ ورځ پای ته رسیږي.

۲.۳ دا چې د مالیاتو په قانون کې د کلنۍ محاسبې اصطلاح ذکر شوې ده ، نو دا مهمه نه ده چې مالیه ورکونکي د کال په کوم وخت کې عواید لاسته راوړي دي. همدارنګه که چیري یوحکمي شخص په یوه میاشت کې ۱۲۰۰۰افغانۍ عواید ترلاسه کړي او د مالي کال په ۱۱میاشتو کې هېڅ فعالیت ونه لري، نوموړی شخص باید د هغه حکمي شخص په شان چې د کال په یوه میاشت کې ۱۰۰۰ افغانۍ د ۱۲ میاشتولپاره ترلاسه کوي د مالیې په ورکولو مکلف دې.

۳.۳ هغه عواید چې په یوه مالي کال کې ترلاسه کیږي د بل مالي کال په عوایدو کې نه شاملیږي. یو شخص د مالي کال په وروستیو کې په یو سوداګریز فعالیت پیل کوي او راتلونکي مالي کال پوري خپل فعالیت ته دوام ورکوي، که چیرې د دغه شخص فعالیت تر ۱۲ میاشتو پورې او یا هم له ۱۲ میاشتو نه د لږ یا ډېر وخت لپاره دوام وکړي، نو د نوموړي شخص د مالیاتو د محاسبې په وخت د دواړو کلونوعواید نه سره جمع کیږي.

بېلګه: یو شرکت د۱۳۸۴هجري لمریزکال په وروستیو درې میاشتو کې په فعالیت پیل کوي او په ۱۳۸۵هجري لمریزکال کې دغه فعالیت ۹ میاشتې ادامه مومي. دغه شرکت د۱۳۸۵ هجري لمریز کال په درې وروستیو میاشتو کې هېڅ فعالیت نه دي لرلی او په ۱۳۸۴ او ۱۳۸۵ کلونو کې بې هېڅ عواید هم نه دي ترلاسه کړي. سره د دې چې د نوموړي شرکت فعالیت تر ۱۲میاشتو پورې دوام کړی دې، خو د شرکت لاسته راغلي عواید په دوو مختلفو مالي کلونو کې لاسته راغلي دي. ځکه نو د دغه شرکت مالیات د هرکال لپاره په جلا ډول محاسبه کیږي. د ۱۳۸۴هجري لمریز کال په درې وروستیو میاشتو کې لاسته را غلي عواید د ۱۳۸۴ کال دمالیې وړ عوایدو په توګه او د ۱۳۸۵ هجري لمریزکال په (۹) میاشتو کې لاسته راغلي عواید د ۱۳۸۵ کال د مالیې وړ عوایدو په توګه شمېر ل کیږي.

۴.۳ د (۳) مادې د (۲) فقرې پر اساس یو حکمي شخص ( نه حقیقي شخص) ته اجازه ورکوي چې د یوه معیاري مالي کال پرځای د یوه متفاوت مالي کال لپاره د مالیې وزارت ته په لیکلې توګه وړاندیز وکړي. همدارنګه د (۳) مادې (۲) فقره د مالیې وزارت ته په هغه صورت کې د بدلون د منظورولو اجازه ورکوي که چیرې د بدلون د وړاندیز په اړه سم او د توجیه وړ دلایل موجود وي.

۵.۳ د مالیې وزارت دیو متفاوت مالي کال لپاره وړاندیز په هغه صورت کې د توجیه وړ بولي که چیرې:

1. په افغانستان کې یوحکمي شخص د هغه شرکت د غیرمستقلې نمایندګۍ په توګه وي چې په اصل کې د افغانستان نه بهر په داسې یو هېواد کې تاسیس شوې وي چې مالي کال یې د ا فغانستان له مالي کال سره توپیر ولري؛
2. د دغه شرکت اصلي دفتر د مالیاتي اهدافو د تطبیق په موخه د محاسبې توحیدي اسناد په همغه بهرني هېواد کې چمتو کړي؛
3. په افغانستان کې یو حکمي شخص مکلف کړل شي چې د افغانستان د مالي کال پر اساس مالیاتي اسناد برابر کړي، نو دغه کار له قانون څخه د پیروۍ په موخه د نوموړي حکمي شخص لپاره د ډېر لګښت سبب ګرځي.

۶.۳ په هغه صورت کې هغه وړاندیز چې د یو حکمي شخص لخوا د متفاوت مالي کال په اړه د مالیې وزارت ته وړاندي کیږي د مالیې وزارت ته د منلو وړ نه دی چې یو اځینی دلیل د دغه حکمي شخص کارکونکو ته د مالي کال پرځای په مختلفو وختونو کې د معاش د ورکړې په اړه وي. د اطاعت پذیری هغه لګښت چې استخدام کوونکي ورسره په داسې حالاتو کې مخ کیږي د دې باعث نه ګرځي چې د مالیې وزارت د استخدام کوونکو ( یا دهغوی کارکوونکو ) لپاره متفاوت مالي کال تثبیت کړي.

۷.۳ که چیرې په هر حالت کې د مالیې وزارت لخوا د مالي کال د بدلون وړاندیز د توجیه وړ غوښتنه وګڼل شي، نو په دغه صورت کې د قانون د (۲) مادې د (۳) فقرې پر اساس د مالیې وزارت حکمي شخص ته د بدلون د پیل او د هغو وختونو په باره کې چې د مالیاتو د ورکړې په اړه د مالیې وزارت لخوا ټاکل کیږي، په لیکلې توګه خبر ورکوي ترڅو اطمینان ترلاسه شي چې د نورو مالیه ورکوونکو د تادیاتو په پرتله نه حکمي شخص او نه هم د افغانستان دولت یو نامناسب وضعیت اختیاروي.

**دمالیې سنجول**

**څلورمه ماده:**

(1) د حکمي اشخاصو پرعایداتو باندې مالیات، په مالي کال کې دهغهٔ د مالیې وړ عواید په سلو کې ۲۰ فیصده دي.

(2) د اسعاري عوایدو پر عایداتو مالیات په افغاني پیسو سنجول او تسعیرکیږي، د تسعیر نرخ، دهرې میاشتې په پای کې د پلورنې پر بنسټ د افغانستان بانک د آزاد نرخ اوسط دی.

(3) د حقیقي اشخاصو پر عایداتو مالیات د لاندې جدول لمخې سنجول کیږي:

| د مالیې مقدار | د مالیې وړعواید |
|---|---|
| صفر (معاف) | له ۰ څخه تر ۵۰۰۰ افغانیو پورې |
| دوه سلنه (۲٪) | له ۵۰۰۱ افغانیو څخه څخه تر ۱۲۵۰۰ افغانیو |
| لس سلنه (۱۰٪) + ۱۵۰ افغانۍ ثابت مبلغ | له ۱۲۵۰۱افغانیو څخه تر ۱۰۰۰۰۰ افغانیو پورې |
| شل سلنه (۲۰٪) + ثابت مبلغ (۸۹۰۰ افغانۍ) | له ۱۰۰۰۰۰ افغانیو څخه پورته |

۱.۴ پر عایداتو باندې د مالیاتو د قانون د ۴مې مادې د ۱ فقرې سره سم، د ټولو حکمي اشخاصو عایداتو ۲۰٪ مالیه اخیستل کیږي. خالص عواید عبارت له هغو عوایدو څخه دي چې د قانوني لګښت له وضع کولو وروسته پاتې کیږي.

بېلګه: د پېروز بام ودانیز شرکت په یوه مالي کال کې ۱۵۰۰۰۰ افغانۍ ناخالصه عواید ترلاسه کړي دي او د پورته یادو عوایدو د لاسته راوړلو لپاره یې ۲۵۰۰۰۰ افغانۍ لګولي دي. د یاد شرکت پر عایداتو مالیات د مالیاتو قانون د ۴مې مادې د ۱ فقرې سره سم، له کسراتو وروسته په لاندې ډول سنجش کیږي:

| | |
|---|---|
| د ناخالصو عوايد مجموع: | ۵۵۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| دمجرايي وړ لګښت: | ۲۵۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| انتفاعي ماليات د ۲ فيصدو په نورم کې | ۱۱۰۰۰۰ افغانۍ |
| د مجرايې وړ مبلغ مجموعه | ۲۶۱۰۰۰۰ |
| د ماليې وړ عوايد | ۲۸۹۰۰۰۰ |
| د ماليې وړ پر عوايدو د ورکړې وړ عوايدو څخه ماليه(۲ ٪) | ۵۷۸۰۰۰ افغانۍ |
| د انتفاعي معاملاتو ماليه | ۱۱۰۰۰۰ افغانۍ |
| د تحصيل وړ مالياتو مجموعه | ۲۸۸۰۰۰ افغانۍ |

۲.۴ د حقيقي اشخاصو د ماليې وړ عوايد د هغه جدول پر اساس محاسبه کيږي چې د (۴) مادې په (۳) فقرې کې درج دي. که چيرې مياشتني مجموعي عوايد ۵۰۰۰ افغانۍ يا له دې لږ وي ، نو په دغه صورت کې د ورکړې وړ هيڅ ماليه وجود نه لري. که چيرې د ماليې وړ مياشتني مجموعي عوايد له ۵۰۰۰ افغانيو څخه زيات وي، نو په دغه صورت کې يوازې له هغه مبلغ څخه ماليه اخستل کيږي چې له ۵۰۰۰ افغانيو څخه زيات دي.

۱ بېلګه: د يوه حقيقي شخص له کلني عايدو څخه چې ۱۵۰۰۰۰ افغانۍ کيږي، ماليه يې په لاندې توګه محاسبه کيږي:

| | | | |
|---|---|---|---|
| ماليه | لومړنۍ ۵۰۰۰ افغانۍ د مياشتې | د کال ۶۰۰۰۰ | صفر |
| ۲٪ | په راتلونکو ۷۵۰۰ افغانيو د مياشتې | د کال ۹۰۰۰۰ | ۱۸۰۰ افغانۍ |
| ۱۰٪ | په راتلونکو ۸۷۵۰۰ افغانيو د مياشتې | د کال ۱۰۵۰۰۰ | ۱۰۵۰۰ افغانۍ |
| ۲۰٪ | په مياشت کې له ۱۰۰۰۰۰ افغانيو څخه په ډېر مبلغ | د کال ۱۲۰۰۰۰ | ۲۰۰۰۰ افغانۍ |
| | پر ۱۵۰۰۰۰ افغانيو د ماليې مجموعه | | ۱۲۲۸۰۰ افغانۍ |

تبصره: په جدول کې مندرج مالياتي نورم پر حقيقي اشخاصو تطبيقيږي. دا مهمه نه ده چې د ماليې وړ عوايد له معاش، اجورو او که له سوداګريزو فعاليتونو څخه لاس ته راغلي وي.

۳.۴ په بهرنيو اسعارو لاسته راغلي عوايد " له هغو عوايدو څخه عبارت دي چې په بهرنيو اسعارو سره لاسته راغلي وي. که چيرې عوايد په بهرنيو اسعارو سره لاسته راغلي وي، نو ماليه ورکوونکی بايد خپل مالياتي مسؤليت په افغانيو سره محاسبه کړي.

بېلګه: د يو قرارداد د شرايطو له مخې، که چېرې يو انفرادي ماليه ورکوونکی په يوه مياشت کې ۵۰۰ امريکائي ډالره د ماليې وړ معاش ولري. په لومړۍ مياشت کې په آزاد بازار کې د ډالرو د تبادلې اوسط نرخ ۵۰:۱( د يوه امريکائي ډالر په بدل کې پنځوس افغانۍ ) او په دويمه مياشت کې د ډالرو اوسط نرخ ۵۲:۱( ديوه امريکائي ډالر په بدل کې دوه پنځوس افغانۍ ) وي، د نوموړي شخص د لومړۍ او دويمې مياشتې عوايد په لاندې ډول دي:

لومړۍ میاشت:       ۵۰۰×۵۰=۲۵۰۰۰ افغانۍ
دویمه میاشت:       ۵۰۰×۵۲=۲۶۰۰۰ افغانۍ

سره له دې چې دغه مبلغ په ډالرو ورکړل شوی دی، مالیه ورکوونکی مکلف دې چې د خپلو مالیاتي مسؤلیتونو د اداکولو په موخه دغه بهرني اسعار په رایجو افغانۍ پیسو تبدیل کړي.

تبصره: د اسعارو د تبادلي په بازار کې د اسعارو د اوسط نرخ د نه موجودیت په صورت کې باید هغه نرخ په پام کې ونیول شي چې د افغانستان بانک لخوا استفاده کیږي.

۴.۴ په بهرنیو اسعارو سره لاسته راغلي عواید باید په افغانیو باندې واړول شي. د بهرنیواسعارو د تبادلې د پېرودلو هغه نرخ باید په نظر کې ونیول شي چې د افغانستان بانک لخوا ټاکل شوی دې. که چیرې دافغانستان بانک د بهرنیو اسعارو د تبادلې لپاره کوم ټاکلی نرخ ونه لري، په بهرنیو اسعارو سره لاسته راغلي عواید باید په لاندې ډول په افغانیو باندې واړول شي:

أ. په هغه هېواد او وخت کې د بهرنیو اسعارو د تبادلې د نرخ پر اساس چې دغه اسعار په کې لاسته راغلي دي، دغه عواید باید پر امریکایي ډالرو او یانورو هغو بهرنیو اسعارو باندې واړول شي چې د افغانستان بانک ورڅخه په سوداګریزو فعالیتونو کې استفاده کوي.
ب. امریکایي ډالرو او یا نورو اسعارو لاسته راغلي مبلغ باید پر افغانیو واړول شي.

بېلګه: د افغانستان یو مېشت وګړی د کاناډا په هېواد کې استوګن دی او د مالي کال په اوږدو کې ۳۰۰۰۰ کاناډایي ډالر لاسته راوړي. د افغانستان بانک د کاناډایي ډالرو د تبادلې لپاره کوم ځانګړی نورم نه لري. کوم وخت چې دغه افغان مېشت وګړي عواید ترلاسه کړل نو په دغه هېواد کې یو امریکایي ډالر په (۱.۱۴) کاناډایي او همدارنګه په کابل کې د افغانستان بانک لخوا یو امریکایي ډالر په پنځوسو افغانیو (۱:۵۰) تبادله کیده. د نوموړي شخص عواید په افغانیو سره په لاندې ډول حسابیږي:

لومړۍ مرحله: کاناډایي ډالر باید په امریکایي ډالرو تبدیل کړل شي، یعنې
(امریکایي ډالر) ۲۶۳۱۵ =۱.۱۴ ÷ (کاناډایي ډالر)۳۰۰۰۰
دویمه مرحله: لاس ته راغلي امریکایي ډالر باید په افغانیو باندې واړول شي:

**۱۳۱۵۷۵۰** افغانۍ =**۵۰**×(امریکایي ډالر) **۲۶۳۱۵**

د مېشتو اشخاصو مالیات
پنځمه ماده:
(1) په افغانستان کې د مېشتو حقیقي اشخاصو پرعایداتو مالیات، په لاندې توګه محاسبه کیږي:

أ. د هغو عوایدو په شمول چې له بهرنیو سرچینو څخه یې تر لاسه کوي، د مالیې وړ عوایدو پربنسټ.
ب. پر عایداتو د مالیاتو پربنسټ له لاسته رغلې ګټې څخه چې بل هېواد ته تادیه کیږي. پدې صورت کې مالیه یوازې پر کلنیو عایداتو باندې د مالیاتو د هغې برخې په وړاندې چې د مالیه ورکوونکي بهرنیو عوایدو ته منسوبیږي، د مجرایي وړګڼل کیږي.
ج. په هغهٔ صورت کې چې په افغانستان کې مېشت حقیقي اشخاص له څو ګونو بهرنیو هېوادونو څخه عواید ولري، پر عایداتو د مالیاتو قانون تعلیماتنامې ته په پام سره، د مالیې مجرایي له هغو عوایدو سره سمه ترلاسه کیږي چې له جلا هېوادونو څخه یې ترلاسه کوي.

2) په افغانستان کې مېشت حکمي اشخاص د مالیې وړ هغو عوایدو پربنسټ چې له کورنیو او بهرنیو سرچینو څخه یې ترلاسه کوي، د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو حکمونو په پام کې نیولو سره پر عایداتو باندې د مالیاتو په ورکړې تابع ګرځي.

۱.۵ هر مېشت افغان د هغو مالیاتو تابع دی چې پر عایداتو د مالیاتو په قانون کې درج دي ولو که دغه عواید د هغو خدماتو څخه لاسته راغلي وي چې په یو بهرني هېواد کې عرضه شوي دي.

بېلګه: یو مېشت افغان ځینو مجلو او ورځپاڼو ته هغه وخت یولړ مقالې لیکلې کله چې له هېواد څخه بهر استوګن و. که څه هم دنو موړي شخص فعالیت په بهرني هېواد کې ترسره شوی دی، د هغه دغه لاسته راغلي عواید د افغانستان د مالیاتو د قانون تابع دي.

۲.۵ یو مېشت افغان کولی شي د هغو بهرنیو مالیاتو لپاره د مجرایي غوښتنه وکړي چې د دغې تعلیماتنامې د (۳) برخې په (۵) مقرره کې د شاملو محدودیتونو تابع دي.

۳.۵ د بهرنیو مالیاتو هغه مجرایي چې د دغې تعلیماتنامې د (۵) مادې په (۲) فقره کې ذکر شوې ده، د هر هېواد لپاره د یوه ځانګړي محدودیت تابع ده. د هر هېواد لپاره دغه محدودیتونه په لاندې ډول محاسبه کیږي:

أ. د عوایدو مجموعي مبلغ ( له مجموعي عوایدو څخه د مجرایي وړ لګښت په منفي کولو سره ) چې د مالیه ورکوونکي لخوا په هغه هېواد کې ترلاسه شوي وي چې مالیات په کې وضع شوي دي، ټاکل کیږي. دغه رقم له " بهرنیو سرچینو څخه د لاسته راغلو عوایدو " په نامه یادیږي،
ب. د افغاني عوایدو څخه مجموعي مالیات له هر ډول مجرایي څخه دمخه ټاکل کیږي، او

ج. په افغانستان کې د عوایدو مجموعي مالیات د هغه کسر له ضرب څخه ټاکل کیږي چې د کسر صورت د مالیه ورکوونکي له بهرنیو سرچینو څخه لاسته راغلي عواید او د کسر مخرج د مالیه ورکوونکي هغه عواید وي چې له نړیوالو سرچینو څخه لاسته راغلي وي.

بېلګه: یو انفرادي مېشت شخص په افغانستان کې ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ عواید لري او ۵۰۰۰۰ افغانۍ د مالیې وړ عواید یې ( د اسعارو له تبادلې وروسته) له یو بهرني هېواد څخه لاس ته راوړې دي. د یادو لاسته راغلو عوایدو (۲۵۰۰۰۰ افغانیو) مالیه په افغانستان کې ۳۶۵۰۰ افغانۍ کیږي. د دغه شخص مالیاتي مکلفیت د الف په هېواد( بهرني) کې ۱۰۰۰۰ افغانۍ کیږي.

1. د الف هېواد لپاره د مجاز مجرایي اعظمې حد:
په افغانستان کې پر عایداتو مجموعې مالیات ۳۶۵۰۰ افغانۍ X
د الف په هېواد کې د مالیې وړعواید ۵۰۰۰۰ افغانۍ
دمالیې وړ سرتاسري مجموعې عواید ۲۵۰۰۰۰ افغانۍ
= پر عایداتو د مالیاتو د مجاز مجرایي اعظمې حد ۷۳۰۰ افغانۍ کیږي.

2. فرض کړی چې له بهرنیو سرچینو څخه د (ب) هېواد لاسته راغلي عواید ۳۰۰۰۰ افغانۍ او د (ب) هېواد تادیه شوې مالیه ۲۰۰۰ افغانۍ ده، او د(ج) هېواد لاسته راغلي عواید ۲۰۰۰۰ افغانۍ او تادیه شوې مالیه یې ۲۵۰۰ افغانۍ ده. د هر هېواد لپاره د مالیاتي مجاز مجرایي اعظمې حد په لاندې ډول محاسبه کیږي.

أ. د (ب) هېواد مالیاتو لپاره مجرایي اعظمې حد

په افغانستان کې پر عایداتو مجموعې مالیات ۳۶۵۰۰ افغانۍ X
د (ب) هېواد د مالیې وړعواید ۳۰۰۰۰ افغانۍ
دمالیې سرتاسري مجموعې عواید ۲۵۰۰۰۰ افغانۍ
= ۴۳۸۰ افغانۍ د(ب) هېواد د مالیاتو مجاز مجرایي ا عظمې حد دی.

تبصره: ۱۲۲۰ افغانۍ د(ب) هېواد ته پرعایداتو باندې د مالیاتو له کبله د تادیه شوې مبلغ اضافي مجرایي چې ورکړل شوې ده په تیرو او راتلوونکو کلونو کې د ( ب) هېواد د مالیې وړ عوایدو د کمښت په موخه نه راتلوونکو کلونو او نه هم تیروکلونو ته انتقال کیدای شي.

ب. د (ج) هېواد مالیاتو لپار د مجرایی مجاز اعظمې حد
د (ج ) هېواد د مالیې وړعواید ۲۰۰۰۰ افغانۍ
۳۶۵۰۰ افغانۍ x

د مالیې سرتاسري مجموعې عواید ۲۵۰۰۰۰ افغانۍ

= ۲۹۲۰ افغانۍ د (ج ) هېواد مالیاتو لپاره د مجرایی مجاز اعظمې حد

د (ج) هېواد ته د تاديه شوو عوايدو ماليات ۲۵۰۰۰ افغانۍ کېږي. د دې لپاره چې دغه مبلغ د مجرايۍ له اعظمي حد څخه زيات نه دي ، د ۲۵۰۰۰ افغانيو مبلغ پر عايداتو د مالياتو لپاره د مجرايۍ وړ مبلغ دی.

تبصره: د (ج) هېواد ته د ورکړل شوو مالياتو مجرايۍ ته (ب ) هېواد ته د ۱۲۲۰۰ افغانيو د اضافي مبلغ هېڅ برخه نه اضافه کيږي.

**۴.۵** له افغانستان څخه بهر ورکړل شوي ماليه په هغه صورت کې د مجرايي وړ ده که چيرې:

1. پر عايداتو د مالياتو د اظهارليک کاپي او د هغه هېواد د مالياتو رسيد چې ماليات يې وضع کړي له افغاني مالياتي اظهارليک سره ضميمه يو ځای وړاندې شي،
2. له ټولو سرچينو څخه لاسته راغلي عوايد په افغاني مالياتي اظهارليک کې شامل کړل شي،
3. د هغو عوايدو له مالياتو څخه هېڅ ډول کسرات د مجرايي په شکل نه وي منفي شوي کوم چې له بهرنيو سرچينو څخه لاسته راغلي دي، او
4. د دويم هېواد ماليات دې هغه ډول ماليات وي چې پر خالصو عوايدو باندې وضع کيږي لکه څرنگه چې د مالياتو قانون د دغې تعليماتنامې د (۵) مادې په (۵) فقره کې تشريح شوې ده.

**۵.۵** د بهرنيو تاديه شوو مالياتو مجرايي يواځې پر عايداتو باندې د مالياتو په مورد کې د تطبيق وړ ده. دغه مجرايي دهغو مالياتو لپاره نه ورکول کيږي چې د ماليه ورکوونکي پر عوايدو باندې د تطبيق وړ نه دي. دا چې آيا پرعوايدو باندې ماليه شته او که نه د حقايقو او حالاتو له مخې څرگنديږي. په دغه ډول تشخيص کې د ماليې وزارت د عوايدو عمومي رياست بايد دا موضوع په نظر کې ونيسي چې آيا يو بهرنی هېواد ماليه ورکوونکي ته اجازه ورکوي چې د خپلو عوايدو لپاره د مناسبې مجرايي غوښتنه وکړي او که نه.

۱ بېلگه: يو افغان تبعه چې له هېواد څخه بهر په سوداگريز فعاليت بوخت دی او د هغو اجناسو د واردولو له کبله چې د ده په شرکت کې پلورل کيږي گمرکي محصول تاديه کوي. دغه محصول د نوموړي شخص د پلورل شوو مالونو د ارزښت د يوې برخې په توگه کنټل کيږي، ولې گمرکي محصول د نوموړي شخص د افغاني مالياتي مکلفيت په توگه د مجرايې وړ نه دي.

۲ بېلگه: يو افغان تبعه چې له هېواده بهر په سوداگريزو فعاليتونو کې بوخت دی د خپلې دوراني سرمايې څخه په مالي کال کې بهرني هېواد ته د ۴ ٪ ماليه ورکوي چې کلنۍ ماليه يې ۲۲،۰۰۰ افغانۍ کيږي. د نوموړي شخص د خالصو عوايدو تاديه شوې ماليه په دغه هېواد کې په همدغه مالي کال کې ۱۲۰۰ افغانۍ ده. د دوراني سرمايې ماليه يعنې ۲۲۰۰۰ افغانۍ د لگښت په توگه د مجرايي وړ دې، اما د دوراني سرمايې ماليه د هغو عايداتو د مالياتو لپاره مجرايي نه ورکول کيږي چې په افغانستان کې د تادې وړ دي. په بهرني هېواد کې د خالصو عوايدو د ماليې (۱۲۰۰ افغانيو ) لپاره د مجرايي غوښتنه کيدای شي چې دغه کار په افغانستان کې د شرکت د مسؤليت د کموالي سبب کيږي.

۳ بېلگه: د (الف ) سهامي شرکت چې يو افغان شرکت دې په افغانستان او پاکستان کې د فرنيچر د توليد او پلور سوداگريز فعاليتونه ترسره کوي. دغه شرکت په پاکستان کې د ماليې تابع دې. فرض کوو چې د پلورل شوو اجناسو د قيمت په پام کې نه نيولو سره د پاکستان هېواد د الف شرکت پرعوايدو باندې ٪۲ ماليه وضع کوي. سره د دې چې د پاکستان هېواد د مالياتو قانون د الف شرکت ته اجازه ورکوي چې د پلورل شوو اجناسو د

قیمت لپاره د مجرايي غوښتنه وکړي، د پاکستان لخوا وضع شوې ماليه پر عايداتو باندې د مالياتو په توګه نه ګڼل کیږي ځکه چې د نوموړې هېواد د مالياتو قانون د معاش او د استهلاک د لګښت په څېر دالف شرکت ته د عملياتي لګښت د مجرايي اجازه نه ورکوي.

تبصره: هغه ماليات چې پرعايداتو باندې نه تطبيقيږي، د وضع ورکاري لګښت په توګه ګڼل کیږي. د دغو مالياتو لپاره مجرايي نه ورکول کيږي.

| |
|---|
| د غير مېشتو اشخاصو د مالياتو معافيت<br>شپږمه ماده:<br>نامېشت اشخاص په هغهٔ صورت کې پر عايداتو باندې د مالياتو د ورکړې له معافيت څخه ګټه اخلي چې دغه معافيتونه د هغوی د متبوع هېواد لخوا په بالمثل ډول په هغهٔ هېواد کې دافغاني مېشتو اشخاصو لپاره اټکل شوي وي. |

۱.۲ بېلګه: هغه پيلوټ او يا کوم بل شخص چې په هغو الوتکو کې کار کوي کومې چې د افغانستان له هوايي حريم څخه تيريږي، په هغه صورت کې پر عايداتو باندې له مالياتو څخه معاف ګڼل کيږي چې د لاندې شرايطو لرونکی وي:

أ. که چيرې نوموړی مېشت، تبعه يا په افغانستان کې مېشت شخص وي،
ب. که چيرې د بهرني شرکت يا بهرني دولت کارکوونکی وي،
ج. که چيرې په افغانستان کې استوګن نه وي، او
د. که چيرې د ده متبوع هېواد او يا هغه نهاد چې نوموړی ورسره کارکوي د افغانستان له اتباعو څخه په ورته حالاتو کې ماليه وانخلي.

| |
|---|
| د غير مېشتو اشخاصو لخوا د مالياتو ورکړه او مجاز کسرات<br>اوومه ماده:<br>(1) هغه نامېشت حقيقي او حکمي اشخاص چې په اقتصادي او سوداګريزو فعاليتونو بوخت وي، د افغانستان له کورنيو سرچينو څخه د ترلاسه شوو عوايدو پربنسټ د ټکټانې، د ونډې د ګټې ،کرايې، حق الامتياز او نورو هر ډول عوايدو له مدرکه د دې قانون د حکمونو لمخې پرعايداتو باندې د مالياتو په ورکړې مکلف دي.<br>(2) د نا مېشتو حکمي اشخاصو له ټکټانې پرته عوايدو، د ونډې د ګټې، کرايې او حق الامتياز څخه پدې قانون کې درج مجاز کسرات په هغهٔ صورت کې د تطبيق وړګڼل کيږي چې پدې قانون او پرعايداتو باندې د مالياتو په تعليماتنامه کې د درج معلوماتو لرونکی حقيقي او صحيح اظهارليک اړوندو څانګو ته وړاندې کړي. |

۱.۷ د نا مېشت شخص لخوا لاسته راغلی ځانګړی مبلغ پر عايداتو باندې د مالياتو قانون د ۴۲ مادې د حکم پر اساس د موضوعي ماليې تابع نه دې، اما پر عايداتو د مالياتو قانون دغه شخص د دغو مالياتو په وضع کولو باندې مکلف نه بولي.

بېلګه: فيروز يو انفرادي شخص دی چې دکاناډاپه هېوادکې استوګن دې. فيروز له يوه افغان سهامي شرکت څخه دټکټاني له درکه ۱۰۰۰۰ افغانۍ ترلاسه کوي. له ټکټاني څخه لاسته راغلي عوايد پرعايداتوباندې د مالياتو قانون د۴۲ مادې پر اساس د ٪۲۰ موضوعي ماليې تابع دي. د ا چې فيروز د کال په اوږدو کې له ۵۰۰۰۰ افغانيو څخه لږ مقدار پيسې تر لاسه کړې دي، د نوموړي عوايد د۴ مادې د حکم لمخې په افغانستان کې د مالياتو تابع نه دي(۱۲۵۰۰ افغانۍ په يوه مياشت کې ×۱۲مياشتې =۱۵۰۰۰۰ افغانۍ). فيروز کولی شي چې خپل اظهارليک ارايه او د هغو وضع شوو ۲۰۰۰۰ افغانيو د بيا لاسته راوړنې غوښتنه وکړي چې د ده له ټکټاني څخه وضع شوي دي.

۲.۷ که چيرې داسې وګڼل شي چې لاس ته راغلي عوايد له ټکټانې، د ونډې ګټې ،کرايې او يا له حق الامتياز څخه لاسته نه دې راغلي، نو يو غير مېشت حقيقي شخص او يا غير مېشت حکمي شخص کولی شي چې د خپلو هغو عوايدو د کسر لپاره غوښتنه وکړي چې له افغاني سرچينو څخه يې لاسته راوړي دي. که چيرې يو غير مېشت حکمي شخص او يا غېر مېشت حقيقي شخص خپل مالياتي اظهارليک وړاندې نه کړي، نو په دغه صورت کې د عوايدو عمومي رياست د ماليه ورکوونکي پر مجموعي عوايدو باندې ماليه وضع کوي.

۱ ساری: يوترکي سهامي شرکت دغيرمستقلې نمايندګۍ په توګه په کابل کې يو رستورانت پر مخ وړي. نوموړی شرکت نه غواړي چې ددغه رستورانت پرمخ وړلو لپاره په کابل کې سهامي شرکت پرانيزي. رستوارنت په لومړي کال کې ۱۰۰۰۰۰۰ افغاني عوايدترلاسه کوي ، ولې د ۷ ۰۰۰۰۰۰ افغانيو په اندازه د مجرايي وړ لګښت هم لري. ترکي شرکت خپل مالياتي اظهارليک اړوندې اداري ته نه وړاندې کوي. د ماليې وزارت واک لري چې د نوموړي شرکت ماليات (چې ۲۰۰۰۰۰ او يا٪۲۰× ۱۰۰۰۰۰۰ افغانيوته رسيږي) د هغه له مجموعي عوايدو څخه وضع کړي.

۲ ساری: يو ترکي سهامي شرکت د غيرمستقلې نمايندګۍ په توګه په کابل کې يو رستورانت پر مخ وړي. نوموړی شرکت نه غواړي چې ددغه رستورانت پرمخ وړلو لپاره په کابل کې سهامي شرکت پرانيزي. رستوارنت په لومړي کال کې ۱۰۰۰۰۰۰ افغاني عوايد ترلاسه کوي، ولې د ۱۱۰۰۰۰۰۰ افغانيو په اندازه د مجرايي وړ لګښت هم لري ترکي شرکت خپل مالياتي اظهارليک اړوندې اداري ته نه وړاندې کوي. سره ددې چې دغه شرکت د کال په اوږدو کې ګټه نه ده لاسته راوړې، د ماليې وزارت واک لري چې د نوموړي شرکت ماليات چې ۲۰۰۰۰۰ افغانيوته رسيږي د هغه له مجموعي عوايدو څخه وضع کړي.

۳ ساری: يوترکي سهامي شرکت دغيرمستقلې نمايندګۍ په توګه په کابل کې يو رستورانت پر مخ وړي. نوموړی شرکت نه غواړي چې ددغه رستورانت پرمخ وړلو لپاره په کابل کې سهامي شرکت پرانيزي.

أ. نوموړې رستورانت د فعاليت په لومړي کال کې ۱۰۰۰۰۰۰ افغانيې عوايد ترلاسه کړي او په مقابل کې يې د ۱۳۰۰۰۰۰ افغانيو مجرايي وړ لګښت هم ګاللی دی او خپل مالياتي اظهارليک هم نه وړاندې کوي. سره د دې چې رستورانت په لومړي کال کې هېڅ ګټه نه ده ترلاسه کړې د

مالیې وزارت د عوایدو عمومي ریاست به ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ د رستورانت د لومړي کال د فعالیت له درکه د مالیې په توګه وټاکي.

ب. نوموړی رستورانت د فعالیت په دویم کال کې ۱۱۰۰۰۰۰ افغانۍ عوایدلاسته راوړي او په مقابل کې یې ۸۰۰۰۰۰ افغانۍ د مجرایي وړ لګښت هم ګاللی دي. د فعالیت په دویم کال کې شرکت خپل مالیاتي اظهارلیک وړاندې کوي چې ۳۰۰۰۰۰ افغانۍ په کې د ګټې په توګه ښودل شوي او د لومړي کال د عملیاتي ضرر په توګه ۳۰۰۰۰۰ افغانۍ له دغې ګټې څخه تفریق شوي دي. دغه وړاندې شوی اظهارلیک ناسم دی ځکه چې نوموړي ترکي شرکت په لومړي کال کې خپل اظهارلیک نه دې وړاندې کړی نو د راتلوونکي کال له مالیې وړعوایدو څخه دتیرکال عملیاتي ضرر د انتقال وړنه دې.

داقتصادي فعالیتونو مالیات

اتمه ماده:

1) انفرادي اشخاص،شرکتونه اونورې مېشتې مؤسسې چې په افغانستان کې په اقتصادي، سوداګریزو او خدماتي فعالیتونو بوخت دي، مکلف دي خپل مالیات دهغو عوایدو پربنسټ چې د هېواد له کورنیو سرچینوڅخه یې ترلاسه کوي، ورکړي.

2) پرعایداتو دمالیاتو کسرات په هغهٔ صورت کې د مجرایي او محاسبې وړګڼل کیږي چې دهېوادله دننه سرچینوڅخه په ترلاسه شوو عوایدوپورې اړوند وي.

3) دهغوالوتکو او د هغو د کارکوونکو له عوایدو څخه مالیه چې دافغانستان په قلمرو کې دبهرني دولت تربیرغ لاندې فعالیت کوي، پدې شرط معاف ګڼل کیږي چې بهرنی دولت ترافغاني بیرغ لاندې الوتکو او د هغو اړوندو کارکوونکو ته په هغهٔ هېواد کې ورته معافیت ورکړي.

4) د هېواد په دننه کې په عوایدو پورې داړوندو لګښتونو توزیع د دې قانون او پرعایداتو د مالیاتو د تعلیماتنامې د حکمونو لمخې صورت مومي.

5) که چیرې په افغانستان کې غیرمېشت شخص د ناخپلواکې نمایندګۍ له لارې فعالیت وکړي، د نوموړې نمایندګۍ دمالیې وړ عواید، دیوهٔ جلا او خپلواک حکمي شخصیت دعوایدو په توګه ټاکل او په لاندې ډول محاسبه کیږي:

أ. هغه ورکړې (تادیات) یامبالغ چې د غیرمېشت شخص دفعالیتونو په نورو برخو پورې اړه مومي، د دې قانون د دیارلسمې مادې په (۳)فقره کې ددرج حکم لمخې د ونډې ګټه ګڼل کیږي.

ب. د هغو ورکړو او مبالغو مجرایي چې د غیر مېشت شخص په نورو ورکړو پورې اړه لري، د دې قانون د اتلسمې مادې په (۲)فقره کې د درج حکم لمخې مجاز نده.

ج. هغه لګښتونه چې د ناخپلواکې نمایندګۍ یا دغیر مېشت شخص د فعالیت د بلې برخې لخوا چې مستقیماً د نوموړې نمایندګۍ د ناخالصو عوایدو په ترلاسه کولو سره اړوند وي صورت مومي، د خپلواک حقوقي شخصیت د لګښتونو په توګه ګڼل کیږي.

۱.۸ یوحقیقي غیر مېشت او یا حکمي غیرمېشت شخص د هغوعوایدو له درکه چې له افغاني سرچینوڅخه یې لاسته راوړي په افغانستان کې د مالیاتو تابع دي.

۱ ساری: د یوخارجي شرکت مستقله نمایندګي له خپل اصلي بهرني شرکت څخه یوڅه اندازه اجناس رانیسي. نمایندګی غوښتل چې په ډېره لوړه پیمانه مالونه راونیسي او د دغې اړتیا د پوره کولو لپاره یې له خپل اصلي شرکت څخه ۱۰۰۰۰۰ امریکایي ډالر له ۲٪ ټکټانې سره د پور په ډول ترلاسه کړل. نمایندګی د ټکټانې د خپلو خالصو عوایدو د تعینولو په موخه د مجرایي لګښت اخلې او دغه لګښت له افغاني سرچینو څخه د بهرني شرکت د عوایدو په توګه ګڼل کیږي او د ۲۰٪ مالیې تابع دي. تادیه کوونکی شخص مکلف دی چې دغه مالیه د ۴۲ مادې د حکم لمخې وضع کړي.

۲ مثال: هغه انفرادي شخص چې په افغانستان کې مېشت نه دی او په افغانستان کې دیوشرکت د مستقلې نمایندګی د ټولو اسهامو خاوند دي. نوموړې نمایندګي د ۱۰۰۰۰ افغانیو سرمایې سره تاسیس شوې ده چې د فعالیت په لومړي کال کې یې ۱۰۰۰۰۰ افغانی ګټه لاسته راوړې ده. دغه شرکت دیوه کال په اوږدو کې خپل ونډې لرونکي ته ۱۰۵۰۰۰ افغانی ورکړي چې ۱۰۰۰۰۰ افغانی یې د۴۵ مادې دحکم لمخې د ونډې د ګټې په توګه ګڼل کیږي. دغه مبلغ د۲۰۰۰۰ افغانیود وضع تابع دي چې د ونډې د ګټې موضوعي مالیې په توګه ګڼل کیږي او د ۴۲ مادې دحکم پر اساس نوموړی شرکت د دغې مالیې په وضع کولو مکلف دي. پاتې ۵۰۰۰ افغانی د هغې سرمایې په توګه ګڼل کیږي چې په فعالیت کې په کار اچول شوې او په افغانستان کې د مالیې تابع نه دي.

۳ مثال: یو فرانسوي شرکت د کلني حق الامتیاز په بدل کې د معلوماتي ټکنالوژی د پرمخ وړلو لپاره یوافغان شرکت ته د ځانګړو حقوقو او امتیازونو جواز ورکوي. فرانسوي اوافغاني شرکت له یو بل سره اړوند (مرتبط) شرکتونه نه ګڼل کیږي. نوموړی حق الامتیاز د شرکت د کلني خالص خرڅلاو څخه د ۵٪ له قراره محاسبه کیږي. د لومړي کال خالص خرڅلاو ۱۰۰۰۰۰۰ افغانی دي چې د دغه مبلغ ۵٪ ۵۰۰۰۰ افغانی کیږي. نو له دې کبله، دغه حق الامتیاز د۵۰۰۰۰ افغانیو څخه د۲۰٪ مالیې تابع دی چې ۱۰۰۰۰ افغانی کیږي. جواز اخیستونکی مکلف دی چې د۴۲ مادې دحکم پر اساس مالیه تادیه کړي.

۲.۸ یو شراکت ته دهغو عوایدو تادیه چې له افغاني سرچینو څخه راغلي د دغه شرکت شریکانو ته د ورکړې په توګه ګڼل کیږي.

۱ مثال: وحید د افغانستان مېشت او جک د بریتانیا هېواد تبعه دي. د سوداګریزو فعالیتونو د ترسره کولو په موخه وحید او جک په کابل کې یو افغاني شرکت پرانیزي چې وحید په کې ۲۰٪ او جک په کې ۸۰٪ ونډه لري. نوموړې شرکت د فعالیت په موده کې یو غیرارتباطي افغاني شرکت ته پور ورکوي او دپور له درکه په لومړي کال کې ۸۰۰۰۰ افغانی ټکټانه ترلاسه کوي. دا چې ټکټانه د یو افغاني شرکت لخوا ورکول کیږي نو دغه عواید هم له افغاني سرچینو څخه د لاسته راغلو عوایدو په توګه ګڼل کیږي. پوراخیستونکی افغاني شرکت مکلف دی چې د ورکړې وړ ټکټانې (۱۲۰۰۰ افغانیو) څخه د۲۰٪ له مخې مالیه وضع کړي. د دغې مالیې۸۰٪ یعنې ۱۲۸۰۰۰ افغانی دجک لخوا چې دبریتانیا هېواد تبعه دي ورکول کیږي اوپاتې مبلغ د وحیدلخوا دورکړې وړدي.

۲ مثال: د دې نه پرته چې وحید اوجک دیو افغاني شرکت مالکین نه بلکې دیو بریتانوي محدودالمسؤلیت شرکت مالکین دي. ددغې بیلګې نور حقایق د لومړۍ بیلګې حقایقو ته ورته دي. د دواړو بیلګو پایلې یو بل ته ورته دي.

۳.۸ د هغو بهرنیو هوایي شرکتونو عواید چې په افغانستان کې یې دخپل فعالیت له درکه ترلاسه کړي دي پرعایداتو باندې دمالیاتو قانون لمخې دمالیې تابع دي، ولې که چیرې هغه هېواد چې دغه بهرنی هوایي شرکت یې تر بیرغ لاندې فعالیت کوي افغاني اتباعو یا شرکتونو ته ورته مالیاتي معافیت ورکړي.

۴.۸ د بهرنیو هوایي شرکتونو هغه عواید چې دنوموړو شرکتونو د پلور له درکه په افغانستان کې ترلاسه شوي او یا د دغو شرکتونو له هغو فعالیتونو څخه لاسته راغلي وي چې منشا یا پیل یې په افغانستان کې وي، د مالیاتو تابع دي. که چیرې د دغو فعالیتونو د مالیې وړعواید د شرکت د اسنادو او مدارکو له مخې مشخص نه شي، د مالیې وزارت کولی شي په افغانستان کې دشرکت د فعالیتونو په تناسب، د شرکت د نړیوالو ګټو یوه برخه د مالي کال په اوږدو کې په افغانستان کې د شرکت فعالیتونو ته ځانګړې کړي.

۵.۸ په حقیقت کې شونې ده چې یوراجسترشوی بهرنی سوداګر په افغانستان کې د یو سهامي شرکت د نا مستقلې نمایندګۍ او یا د بهرني محدودالمسؤلیت شرکت په توګه فعالیت ولري. دمالیې وزارت باید د شرایطو او حقایقو په نظرکې نیولو سره دغه موضوع تشخیص کړي نه د ظاهري حالاتو په نظر کې نیولو سره. که چېرې یو بهرنی شرکت په افغانستان کې د غیرمستقلې نمایندګۍ له لیارې فعالیت ولري، نو داسې ګڼل کیږي چې دغه شرکت په افغانستان کې فعالیت کوي او په افغانستان کې د دغه شرکت له خرڅلاو څخه لاس ته راغلې ګټه د مالیاتو تابع ګرځي. هغه معیارونه چې له مخې یې یو مستقل سوداګر او د یو سهامي او محدودالمسؤلیت شرکت نا مستقله نمایندګۍ توپیر کیدای شي، په لاندې ډول دي:

| د شرکت ناخپلواکه نمایندګي: | خپلواک سوداګر: |
|---|---|
| أ. د یوشرکت کارکوونکي خپل معاشونه او یا کمېشن له شرکت څخه ترلاسه کوي.<br>ب. ټول وسایل اود د فتر ځای شرکت پورې اړه لري.<br>ج. یو شرکت کولی شي چې خپل استازي یا دغیرمستقلې نماینده ګۍ کارکوونکي له دندې څخه ګوښه او یا غیر مسقله نماینده ګۍ وتړي.<br>د. له شرکت څخه مالونه نه شي رانیولی مګر له پېرودونکو څخه فرمایشونه اخستلای شي او شرکت د هغوی د فرمایش له مخې مالونه چمتو او برابروي.<br>ه. واردات شرکت یا پېرودونکو پورې اړه لري.<br>و. تضمین ته اړتیا نه لري ځکه دتضمین ورکول یوازې پېرودونکو پورې اړه لري، او<br>ز. معمولاً یوازې د خپل دفتر تولیدات پلوري. | أ. له کوم شرکت څخه معاش نه اخلې او د خپلو عوایدو تر ګټې پورې محدود دې.<br>ب. د سوداګر په سودا ګریز فعالیت کې شرکت پانګه نه لري.<br>ج. شرکت د سوداګر پر فعالیتونو باندې کنټرول نه لري مګرکیداې شې دقراردادونو او په کوم تړون کې د غړیتوب پر اساس د سودا ګر فعالیتونه کنټرول کړل شې.<br>د. له بهرنیوشرکتونو څخه مالونه رانیسي او پر خپلو پېرودونکو یې پلوري.<br>ه. پر پېرودونکو باندې له پلورلو نه مخکې واردات سوداګر پورې اړه لري.<br>و. له مستقل سوداګرڅخه د یو بهرني شرکت لخوا ضمانت اخستل کیږي، او<br>ز. معمولاً د مختلفو شرکتونو تولیدات رانیسي او بیرته یې پلوري. |

مخکې لدې چې د یوشرکت کاري ماهیت وټاکل شي، له بل شرکت سره یې باید سوداګریزې اړیکې او د فعالیت ډول وڅیړل شي. پورتني معیارونه وروستي نه بلکه یوازې دهغوی دپیژندنې لپاره بیان شوي دي. کیدای شي د دغې موضوع د ډېرو اړخونو له څیړنې نه وروسته دغه پوښتنه چې آیا نوموړی نهاد دیو سهامي شرکت دنمایندګۍ او یا د بهرنې محدودالمسؤلیت شرکت په توګه فعالیت لرې ځواب شي او څرګنده به شي چې سهامي او یا محدودالمسؤلیت شرکتونه پرعایداتو دمالیاتو قانون د ۸ مادې داحکاموتابع دي.

۱ مثال: یو پاکستانی شرکت معدني اوبه تولیدوي او دخپل استازي له لیارې چې یو افغان مېشت شخص دي کابل ښار کې دغه اوبه پلوري. افغان مېشت شخص دپاکستاني شرکت دکارکوونکې په توګه نه ګڼل کیږي. مېشت افغان ته د یوه بو تل اوبو د پلور بیه او هغه ځای چې اوبه په کې باید وپلورل شي د نوموړي شرکت لخوا ټاکل کیږي او دغه مېشت شخص د اوبو د پلورل شوو بوتلو د شمېر له مخې له شرکت څخه کمېشن اخلي. دغه افغان مېشت کولی شي چې دنوروشرکتونو معدنې اوبه هم وپلوري. نوموړی افغان مېشت د یو مستقل سوداګر په توګه ګڼل کیږي. او همدارنګه داسې ګڼل کیږي چې پاکستانی شرکت په افغانستان کې غیر مستقله نمایندګۍ نه لري ځکه نوموړی افغان مېشت شخص کوم ټاکلی معاش نه ترلاسه کوي او د یو ډول معدني اوبو دپلورلو محدودیت هم وربانديې نه دې وضع شوی.

۲ بېلګه: د دغې بیلګې حقیقتونه د لومړۍ بیلګې حقیقتونو ته ورته دي مګر په دغه بېلګه کې دقرارداد لمخې افغان مېشت نه شي کولی چې دپاکستاني شرکت د رقیبانو تولیدشوې معدني اوبه وپلوري. نوپه دغه صوررت کې افغان مېشت د یو مستقل سوداګرپه توګه نه ګڼل کیږ ي او داسې ګڼل کیږي چې پاکستانی شرکت په افغانستان کې یو غیرمستقل نماینده ګی لري.

۶.۸ هغه بهرنی سهامي اویا محدودالمسؤلیت شرکت چې دخپلوکارکوونکو له لیارې په افغانستان کې خپل تولیدات پلوري، د خپلو ټولو هغو ګټو له کبله چې له دغو خرڅلاو و څخه یې لاسته راوړې د مالیې تابع دې.

بېلګه: یوپاکستانی شرکت د خپلو تولیداتو د پلورلو لپاره خپل یوکارکوونکی افغانستان ته استوي . نوموړی کار کوونکی هغه وخت چې په افغانستان کې اوسیږي د دغو تولیداتو د پلور لپاره د بازار پیدا کولو په لټه کې وي .کله چې دغه کارکوونکی کوم جنس و پلوري، پاکستانی شرکت په مستقیمه توګه له پاکستان څخه نوموړی جنس خپل افغان پیرودونکي ته وراستوي.د پاکستاني کارکوونکي فعالیت داسې ګڼل کیږي چې نوموړی کار کوونکی د پاکستاني سهامي شرکت دیو غیر مستقلې نمایندګۍ په توګه فعالیت کوې. د دغې غیرمستقلې نمایندګۍ لخوا لاسته راغلې ګټه په افغانستان کې د مالیاتوتابع دي.

۷.۸ که چیرې یو بهرنی شرکت په افغانستان کې فعالیت ولري او خپل ټول هغه اسناد له ځان سره و نه ساتي د کومو پراساس چې کولی شي په افغانستان کې خپل لاسته راغلي د مالیې وړ عواید له هغو عوایدو څخه جلا وښیي چې له نوروهېوادونو څخه یې لاسته راوړې دي، د مالیې وزارت باید د دغه شرکت د مالیې وړ نړیوالو عوایدو یوه برخه په افغانستان کې د نوموړي شرکت فعالیتونوته تخصیص کړي . د دغه شرکت دمالیې وړهغه عواید چې په افغانستان کې یې لاسته راوړې دي په لاندې ډول محاسبه کیږي:

۱ مرحله: له نړیوالوفعالیتونو څخه د دغه شرکت لاسته راغلي مجموعي عواید ( لکه څنګه چې د شرکت په وروستي راپور او یاپه مالیاتي حساب کې څرګند شوي دي ) باید مشخص کړل شي.

۲ مرحله: د دغه شرکت مالیات د هغې مجرایې ځخه وروسته چې د مالیاتو قانون په دویم څپرکي کې درج شوي او د دغه شرکت له هغو خالصو عوایدو ځخه د مخه چې له نړیوالو فعالیتونو ځخه یې لاسته راوړي دي محاسبه کیږي.

۳ مرحله: د مالیې وړعوایدو مبلغ (په ۲ مرحله کې محاسبه شوي دي) پر ناخالصوعوایدو ( په ۱مرحله کې تثبیت شوي دي ) باندې وېشل کیږي او لاس ته راغلی خارج قسمت د شرکت دګټې له هغې فیصدې ځخه عبارت ده چې له نړیوالوفعالیتونو ځخه یې لاسته را وړې ده.

۴ مرحله: د شرکت د هغو عوایدو مجموعه د هغې ګټې په فیصدې ( په ۳مرحله کې تثبیت شوې ده ) کې باید ضرب کړل شي چې په افغانستان کې دنوموړې شرکت دفعالیتونوله درکه لاسته راغلې ده. د ضرب حاصل ، د دغه شرکت له مالیې ځخه د مخه چې په افغانستان کې یې لاسته راوړي دي ، د دغه شرکت له نا خالصو عوایدو ځخه عبارت دې.

بېلګه: هغه یوبهرنی شرکت چې ثقیله ساختماني وسایل لري په ډېر شمېر هېوادونوکې فعالیت کوي او خپل وسایل اشخاصواوشرکتونوته په اجاره ورکوي. نوموړې شرکت یوقرارداد لاسلیک کوي چې دهغه په اساس خپل ځیني ساختماني ماشین الات اشخاصواونوروشرکتونوته چې په افغانستان کې مېشت دي د ۲۰۰۰۰۰ افغانیو په بدل کې په اجاره ورکوي. د بهرني شرکت دفاتریا اسناد په افغانستان کې دنوموړي شرکت عملیاتي لګښت نه په ګوته کوي ، اما نوموړي اسناد د شرکت هغه افغاني لګښت او هغه عملیاتي لګښتونه چې په نورو هېوادونو کې یې ترسره کړي دي، ځرګندوي. دنوموړې شرکت د مالیې وړ عواید په لاندې ډول محاسبه کیږي:

۱ مرحله: د شرکت هغه ناخالص عواید چې له نړیوالوفعالیتونوځخه یې لاسته راوړي دي د هغې وروستۍ ګټې او تاوان له مخې ټاکل کیږي چې د شرکت لخوا ښودل شوي دي. فرض کړی، چې دغه مبلغ ۲۵۰۰۰۰۰ افغانۍ دي.

۲ مرحله: د مالیې وړ هغه عواید ( له مالیې ځخه دمخه خالص عواید ) چې د شرکت له نړیوالوفعالیتونو ځخه ترلاسه شوي دي د هغومعافیتونواومجرایې ګانوپه نظرکې نیولو سره محاسبه کیږي چې د مالیاتوقانون په(۲) فصل کې درج دي. فرض کړي چې دغه مبلغ ۲۵۰۰۰۰ افغانۍ دي.

۳مرحله: له نړیوالو فعالیتونو ځخه لاسته راغلي دمالیې وړعوایدو فرضي مبلغ ( ۲۵۰۰۰۰ افغانۍ ) باید پرهغوناخالصوعوایدو ( فرضي مبلغ ۲۵۰۰۰۰۰ افغانۍ ) باندې و وېشل شي چې له نړیوالوفعالیتونوځخه لاسته راغلي دي. لاس ته راغلی خارج قسمت د شرکت د هغو عوایدو له د ګټې له فیصدي ځخه ګڼل کیږي چې له نړیوالوفعالیتونو ځخه تر لاسه شوي دي او په لاندې ډول محاسبه کیږي:

۲۵۰۰۰۰ ÷ ۲۵۰۰۰۰۰ = ٪ ۱۰=۱۰،

**۴ مرحله:** په افغانستان کې دشرکت له فعالیتونوڅخه لاس ته راغلي ناخالص مجموعې عواید ( ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ ) باید په ۱۰ فیصدو( له نړیوالو فعالیتونو څخه دشرکت لاس ته راغلي ګټې فیصدې ) کې ضرب کړل شي . د ضرب لاسته راغلی حاصل له هغه مبلغ څخه عبارت دې چې په افغانستان کې دنوموړي شرکت دفعالیتونو له درکه دد غه شرکت له مالیې وړ عوایدو څخه ترلاسه شوي دي.

فرضاً: افغانۍ ۲۰۰۰۰ = افغانۍ ۲۰۰۰۰۰ X ۱۰٪

**۵ مرحله:** په افغانستان کې د فعالیت له درکه لاسته راغلي دمالیې وړعواید( ۲۰۰۰۰ افغانۍ ) باید په ۲۰٪ (دشرکتونومالیاتي نورم) کې ضرب کړل شي .په افغانستان کې دنوموړي شرکت دتادیې وړمالیې مبلغ په لاندې ډول دې: افغانۍ ۱۲۰۰۰ = افغانۍ ۲۰۰۰۰ X ۲۰ ٪

۸.۸ د عمومي اصل په توګه، که چیرې یو سهامي یا محدودالمسؤلیت بهرنی شرکت چې په افغانستان کې د سوداګریزو فعالیتونو لپاره همیشنی ځای ولري، داسې ګڼل کیږي چې نوموړی شرکت په افغانستان کې سوداګریز فعالیت لري. که چیرې یو بهرنی شرکت خپل تولید شوي مالونه پر کمېشن کار، مستقل سوداګر، دولتي ادارې او یا په نورو باندې و پلوري او په افغانستان کې همیشنی ځای ونه لري ، داسې ګڼل کیږي چې نوموړی شرکت په افغانستان کې سوداګریز فعالیت نه لري.

که چیرې یوبهرنی سهامي اویا محدودالمسؤلیت شرکت په افغانستان کې سوداګریز فعالیت ولري، هغه عواید چې دنوموړو شرکتونو له سوداګریزو فعالیتونو څخه لاسته راځي په افغانستان کې د مالیې وړ عوایدو په توګه شمېر ل کیږي او که چیرې نوموړي شرکتونه په افغانستان کې سوداګریز فعالیتونه ونه لري، له دغه فعالیتونو څخه لاسته راغلي عواید په افغانستان کې د مالیې وړ نه دي.

د مالیاتو د قانون له مخې پر عوایدو د مالیې د وضع کولو لپاره:

أ. د سوداګریز فعالیت ځای په لاندې ډول تعریف شوی دی:

ب. هغه ځای چې تشبث په کې په بشپړ یا قسمي توګه فعالیت ولري د سوداګریز فعالیت له محل څخه عبارت دی.

ج. هر یو له لاندې ځایونو څخه د همیشني محل په توګه ګڼل کیږي:

1. دفعالیت دتنظیم محل،
2. نا مستقله نمایندګی ،
3. فابریکه،
4. دفتر،
5. ورکشاپ،
6. ګودام،
7. د معدن د استخراج ځای،په غرۀ کې د تیرو د راایستلو ځای او نور هغه ځایونه چې طبیعي منابع ورڅخه رایستل کیږي،
8. ساختماني پروژې، نصب او تړل ،
9. د پلور همیشني نمایشونه ، او

10. د يو بهرني شرکت مستقله افغاني نمايندګی. چې د نوموړي بهرني شرکت لخوا اداره او کنټرول کيږي.

ح. هغه شخص چې د بهرني شرکت د استازي په توګه افغانستان کې فعاليت کوي په هغه صورت کې د نوموړي شرکت د دايمي محل په توګه ګڼل کيږي چې دلاندې شرايطو لرونکی وي:

1. نوموړی شخص معمولاً اختيار لري چې دبهرني شرکت په نوم په افغانستان کې تړونونه لاسليک کړي،
2. نوموړی شخص معمولاً په افغانستان کې داجناسو يا مال التجاره د ګودام د ساتنې مسوليت په غاړه لري او له دغې ليارې دغه اجناس او مال التجاره يا بهرني شرکت ته او يا د شرکت نمايندګی ته انتقالوي، او
3. نوموړی شخص معمولاً په افغانستان کې بهرنې شرکت يانورو هغو شرکتونو ته چې د نوموړې بهرني شرکت تر اداري لاندې دی او يا هغه شرکتونه چې دپام وړ ګټه لاسته راوړي، ځانګړي فرمايشونه برابروي. پرته له دې چې فرمايش د استازي په نوم يا مستقيماً د کمېشن کار او يا د پېرودونکي په نوم دې او که نه، دغه حکم تطبيقيږي.

۱ بېلګه: يو جاپانی شرکت چې د موټرو پرزې توليدوي او له يو افغان مېشت شخص څخه غوښتنه کوي چې د شرکت توليداتو لپاره په افغانستان کې له تخنيک کارانو او ورکشاپونو څخه فرمايشونه تر لاسه کړي . افغان مېشت شخص د دغه کار لپاره دافغانستان ټولو سيمو ته سفر کوي. کله چې نوموړی شخص هغه تخنيک کاران او ورکشاپونه بيامومي چې د پرزو پېرودلو سره علاقه لري، د هغوې لپاره د پرزو د برابرولو په موخه د تړون لاسليک کولو ته ځان چمتو کوي. افغان مېشت شخص او تخنيک کاران د بيې او د تړون د شرايطو په اړه له يو بل سره مذاکرات ترسره کوي او په پای کې تړون لاسليک کوي. نو په دغه صورت کې دافغان مېشت شخص د فعاليتو له وجې داسې ګڼل کيږي چې نوموړی جاپانی شرکت په افغانستان کې دايمي محل لري.

۲ بېلګه: يو جاپانی شرکت چې د موټرو پرزې توليدوي او له يو افغان مېشت شخص څخه غوښتنه کوي چې د شرکت توليداتو لپاره په افغانستان کې له تخنيک کارانو او ورکشاپونو څخه فرمايشونه تر لاسه کړي، افغان مېشت شخص د دغه کار لپاره د افغانستان ټولو سيمو ته سفر کوي. کله چې نوموړی شخص هغه تخنيک کاران او ورکشاپونه بياموومي چې د پرزو پېرودلو سره علاقه لري، له هغوې نه پوښتي چې آيا د پرزو دبرابرولو تړون لاسليک کول غواړي او که نه. افغان مېشت شخص او نوموړي تخنيک کاران د بيې او د تړون د شرايطو په اړه له يو بل سره مذاکرات ترسره کوي. وروسته بيا افغان مېشت شخص د ارزيابی او منظوری په موخه جاپاني شرکت ته تړون استوي. که چيرې جاپانی شرکت دغه تړون منظورکړي، په دغه صورت کې دنوموړي شرکت يو تن کارکوونکی ( چې افغان مېشت نه دی ) دغه تړون لاسليک کوي. په دغه صورت کې جاپانی شرکت بايد د افغان مېشت شخص د فعاليتونو له وجې په افغانستان کې د دايمي محل د لرونکي په توګه ونه ګڼل شي.

د بهرنیو هیوادونو او نړیوالو مؤسسو مالیات
نهمه ماده:
د بهرنیو هېوادونو، نړیوالو مؤسسو او په افغانستان کې د هغوی د نامېشتو کارکوونکو مالیاتي مکلفیت له کورنیو عوایدو څخه له افغانستان سره د ترسره شوو موجودو قراردادونو، معاهدو او پروتوکولونو لمخې ټاکل کیږي.

۱.۹ د یوه مېشت افغان معاش او اوجوره د استخدام کوونکي د هویت په پام کې نیولو نه پرته د مالیاتو تابع دي.

۱ بېلگه: هغه افغان مېشت شخص چې د بهرنیو سفارتونو لخوا په کابل کې استخدامیږي، معاش یا اوجوره یې په افغانستان کې د مالیې وړ دي.

۲ بېلگه: یو افغان مېشت شخص په افغانستان کې د هغې بهرنۍ مؤسسې لخوا چې د یوې معاهدې یا تړون له مخې په افغانستان کې له مالیاتو څخه معافه ده استخدامیږي. د نوموړي شرکت د بهرنیو کارکوونکو لپاره په معاهده یا تړون کې معافیت په نظر کې نیول شوی دي اما د دغه افغان مېشت معاش او اوجوره په افغانستان کې د مالیې تابع دي.

۲.۹ د هغو بهرنیو اتباعو معاش یا اوجوره چې د خپل متبوع هېواد لخوا په افغانستان کې استخدامیږي، که چیرې له لاندې شرایطو څخه یو هم موجود وي، نو له مالیې څخه معاف دي:

أ. که چیرې د افغانستان او نوموړي هېواد ترمنځ په معاهده کې معافیت په پام کې نیول شوی وي، او
ب. که چیرې له نړیوالو قوانینو، اصولو او نورو معیارونو سره سمون ولري.

بېلگه: د هغه بهرني وګړي عواید چې د خپل متبوع هېواد لخوا د رالیږل شوي د ډیپلوماتیک هیئت د غړي په توګه په افغانستان کې دنده ترسره کوي، د مالیې تابع نه دي.

۳.۹ هغه بهرني وګړي چې د یو بهرنۍ مؤسسې لخوا په افغانستان کې استخدام شوي او معاش یې د متبوع هېواد لخوا ورکول کیږي، د نوموړو اشخاصو له عوایدو سره د هغو اشخاصو د عوایدو په شان چلند کیږي چې د نوموړي هېواد لخوا په ورته پروژه کې استخدام شوي دي.

له مالیاتو معاف شوې مؤسسې
لسمه ماده:
(1) ترلاسه شوي اعانې او د هغو مؤسسو له لازمي فعالیت څخه عواید چې د لاندې شرایطو لرونکې وي، له مالیې څخه معاف دي:

1. مؤسسه د نافذه قوانینو لمخې جوړه شوې وي.
2. غیر انتفاعي مؤسسه چې یوازې ، ښوونیزو ، کلتوري، ادبي اوعلمي یا خیریه چارو په منظور جوړه او فعالیت وکړي.
3. تمویلوونکي، ونډه لرونکي او غړي یا اړوند کارکوونکي د دې فقرې په(۱ او۲)جزء کې د درج مؤسسې له ګټې څخه د فعالیت یا انحلال په وخت کې ګټه وانخلي.

(2) د دې مادې په(۱) فقره کې د درج مؤسسو د مالیاتي فعالیتونو د معافیت ډول پر عایداتو باندې د مالیاتو په تعلیماتنامه کې تنظیمیږي.

۱.۱۰ هر هغه مؤسسه چې پر عایداتو د مالیاتو قانون په (۱۰) ماده کې د درج شوو شرایطو سره سمون ولري، په همدغه قانون کې له درج شوې مالیې څخه معاف دي. اما مؤسسه نشي کولی په خپله ځان معاف وګڼي. دغه مالیاتي معافیت د معافیت په غوښتنلیک کې د لیکل شوو حقایقو او نورو موجودو معلوماتو په نظر کې نیولو سره د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست لخوا ټاکل کیږي. که چیرې د مالیې وزارت یو نامطلوب طرزالعمل صادر کړي، مالیه ورکوونکی کولی شي په دې اړه محکمې ته مراجعه وکړي. محکمه به پدې اړوند پریکړه کوي چې آیا د معافیت ټاکل شوي شرایط د منلو وړ دي او که نه.

۲.۱۰ د هغو مؤسسو له لازمو فعالیتونو څخه لاسته راغلي عواید او بسپنې له مالیې معاف دی چې لاندې شرایط ولري:

1. مؤسسه باید د افغانستان له نافذه قوانینو سره سمه رامنځته شوې وي. اړونده قانون عبارت دی د مؤسسو له قانون څخه چې د چنګاښ په ۱۵مه نېټه په ۸۵۷ نمبر رسمي جریده کې خپور شوی دی. د یاد قانون لمخې، هغه مؤسسې چې په دغه قانون کې مندرج شرایط او طرزالعملونه ولري، د نادولتي مؤسسو په توګه شمېرل کیږي.

أ. مؤسسه: عبارت له یو نادولتي، غیرسیاسي او غیر انتفاعي سازمان څخه دی چې په هغه کې بهرنۍ او کورنۍ مؤسسې شامل دي،
ب. کورنۍ مؤسسه: عبارت له هغې کورنۍ نادولتي مؤسسې څخه دی چې د یوې موخې او موخو د ترلاسه کولو لپاره رامنځته کیږي،
ج. بهرنۍ مؤسسه: عبارت دی له یوه بهرني جوړښت څخه چې له افغانستانه بهر د بهرني هېواد له قانون سره سمه رامنځته شوې او د انجوګانو د قانون شرایط مني،

د. نړیواله مؤسسه: عبارت دی له یوه بهرني جوړښت څخه چې له افغانستانه بهر د بهرني هېواد له قانون سره سمه رامنځته شوې وي او فعالیت یې له یوه څخه په ډېرو هېوادو کې موجود وي،

ه. غیر انتفاعي په دی مانا چې:

1. مؤسسه نه شي کولای لاسته راغلي عواید، شتمني او نور پرته له کاري اهدافو څخه بل شخص ته وو ېشي،
2. مؤسسه نه شي کولای له شتمنۍ، عایداتو او نورو لاسته راغلو عوایدو څخه د موسسینو، د مدیره هیات غړو، مسولینو، کارکوونکو او په مستقیمه او نا مستقیمه توګه د مرسته کوونکو او خپلوانو د شخصي موخو لپاره ګټه واخلي،

أ. د مؤسسې چتر: مؤسسې کولای شي د پروژو د کار د پراختیا، سموالي، تحقق او سرته رسولو لپاره کاري جوړښت او تشکیل یانې چتر رامنځته کړي. مؤسسې کولای شي د کار د لانبه انسجام او همغږۍ لپاره له نورو ذیربطو دولتي ادارو سره د د یوې نادولتي مؤسسې په توګه د کار یو همغږی تشکیل د دغه قانون له حکم سره سم رامنځته کړي چې شمېر یې له ۳ کم نه وي. دغه تشکیل وروسته له هغې د اعتبار وړ ګڼل کیږي چې د ارزونې ستر کمېسیون یې ومني.

پورته یادې ټولې مؤسسې باید د اقتصاد وزارت سره ثبت او تایید شي او څارنه یې وشي. له دې سره سره، پر عایداتو د مالیاتو قانون د ۱۰مې مادې سره سم، د نادولتي مؤسسو د قانون لمخې ثبتېدل یوې مؤسسې ته دا حق نه ورکوي چې له مالیې څخه معاف شي.

1. دغه شان مؤسسه یوازې باید د ښوونیزو، فرهنګي، ادبي، علمي او یا خیریه اهدافو د ترسره کولو لپاره رامنځته شوي او فعالیت وکړي. د نادولتي مؤسسو د قانون د ۱۳مې مادې د ۳ بند لمخې، د مؤسسې د ایجاد د غوښتنې فورمه باید د مؤسسې د فعالیت او اهدافو لرونکې وي. له دې سره سره، پر عایداتو د مالیاتو قانون د ۱۰مې مادې د ۱ بند د ۲ جز لمخې، کېدای شي دغه اهداف د معافیت د دویم شرط سره یو ځېل نه وي. ځکه، ټولې نادولتي مؤسسې کېدای شي د معافیت لپاره واجد شرایط نه وي.
2. دا چې مرستندویان، سهم لرونکي، غړي یا کارکوونکي له مؤسسې څخه د فعالیت او انحلال په وخت کې باید ګټه وا نه خلي، دغه ځانګړنه یوازې غیر انتفاعي مؤسسې ته ځانګړې شوی او د مالیاتي معافیت لپاره باید پوره کړی شي.

۳.۱۰ هغه مؤسسه چې د نادولتي مؤسسو د قانون سره سمه جوړه شوې او پر عایداتو د مالیاتو د قانون د لسمې مادې لمخې د خپل مالیاتي معافیت د تصدیق لپاره یې غوښتنه کړې، په کار ده چې په اړونده تعلیماتنامه کې د مندرجې طریقې لمخې له فورمې سره یو ځای چې د همدې هدف لپاره جوړه شوې، د عوایدو لوی ریاست ته مراجعه وکړي. د غوښتنلیک فورمه او لارښود د اړتیا په صورت کې د مالیې وزارت په انټرنټي صفحه کې ترلاسه کېدای شي. دغه فورمه دې له نورو اسنادو سره لکه د اساسنامې او د مؤسسې د مقرراتو کاپي، د بېلانسونو او شپږ میاشتنیو حسابونو کاپیانې چې د نړیوالې محاسبې له معیارونو سره سمې چمتو شوي وي، او دغه راز د ارزونې د ستر کمېسیون د ارزونې کاپي چې د غوښتنلیک له اړتیاوو څخه ګڼل کیږي، د اقتصاد وزارت ته وسپارل شي. د غوښتنلیک د وضعیت له ټاکلو وروسته، د عوایدو لوی

رياست غوښتونکي ته د مؤسسې د وضعيت په اړه يو خصوصي طرزالعمل د (( له ماليې څخه د معاف شوې مؤسسې په توګه )) د ځانګړو عوايدو د منابعو لپاره چې په طرزالعمل کې ياد شوي، صادروي.

۴.۱۰ دا چې يوه دولتي تصدي له مالياتي معافيت څخه ګټه نشي پورته کولی، نو هغه سوداګريزه تصدي هم دغه معافيت نه شي ترلاسه کولی کوم چې د هغې مؤسسې د ملکيت يوه برخه ده چې د مالياتو قانون د (۱۰) مادې پر اساس له مالياتو څخه معاف ده.

۱ بېلګه: يوه افغاني مؤسسه د دې لپاره چې ښوونيزې چارې پرمخ يوسي د يو ښوونځي په بڼه تاسيس شوې ده. نوموړې مؤسسه مالي بسپنې ترلاسه کوي او د لومړنيو ښوونځيو ماشومانو ته په وړيا توګه پرته له کوم امتياز څخه او يا د ټيټ نورم پر اساس ښوونيز خدمات ترسره کوي. په ښوونځي کې يو کتاب پلورنځی هم شته دی چې د ښوونځي پر زده کوونکو او همدارنګه پر نورو هغو اشخاصو باندې کتابونه پلوري چې د ښوونځي زده کوونکي نه دي. نوموړی کتاب پلورنځی د سيمې له نورو کتاب پلورنځيو سره د کتابونو په پلورلو کې سيالي کوي. د کتاب پلورنځي آمر کتاب پلورنځي د دې لپاره پر مخ وړي چې ګټه ورڅخه ترلاسه کړي. سره له دې چې د نوموړي ښوونځي فعاليت له مالياتو څخه معاف دی، پورتنی ياد کتاب پلورنځی له مالياتو څخه معاف نه دی.

۲ بېلګه: يو مرستندوی نهاد (چې د قانون د (۱۰) مادې پر اساس مالياتي معافيت لري) د يوه افغان صنعتي شرکت ډېر شمېر پلورل شوي اسهام په اختيار کې لري. که څه هم چې دغه صنعتي شرکت د نوموړي مرستندوی نهاد لخوا کنټرولېږي، عوايد يې د ماليې وړ دي. خو د خيريه نهاد لخوا د ترلاسه شوې ونډې ګټه له ماليې څخه د معاف شوو عوايدو په توګه ګڼل کيږي.

تبصره: افغان صنعتي شرکت د ونډې د ګټې له درکه هغه مجرايي اخيستلای شي چې مرستندويه خيريه نهاد ته يې تاديه کړې، البته په دې شرط چې د ونډې د ګټې موضوعي ماليه تاديه شوې وي.

| |
|---|
| د دولتي ادارو مالياتي معافيت<br>يوولسمه ماده:<br>د ښاروالیو په شمول د دولتي ادارو او د هغو د نمايندګيو عوايد پر عايداتو باندې د مالياتو تابع ندي. دولتي تصدی لدې حکم څخه مستثنی دي. |

۱.۱۱ سره له دې چې مرکزي بانک يوه دولتي تصدي ده چې په بشپړه توګه د دولت ملکيت دی، د نوموړي بانک له سوداګريزو فعاليتونو څخه لاسته راغلي عوايد پر انتفاعي معاملو باندې د ماليې او همدارنګه پر عايداتو باندې د مالياتو تابع دي.

۲.۱۱ سوداګريز نهادونه او مختلط دولتي او يا د دولت ښاروالیو پورې اړوند جايدادونه (لکه رستورانټونه، هوټلونه او داسې نور) "دولتي تصديګانې" ګڼل کيږي او پر عايداتو باندې د مالياتو د قانون لمخې له

مالیاتو څخه نه شي معاف کیدای. هر نهاد باید د خپلو سوداګریزو فعالیتونو بېلانس وړاندې کړي او د ورته خصوصي نهاد په شان پر انتفاعي معاملو باندې مالیه او پر عایداتو مالیات هم باید تادیه کړي.

بېلګه: یوه دولتي اداره د یو هوټل خاونده او فعالیتونه یې هم پرمخ وړي او نوموړې ادارې په **۱۳۸۴** هجري لمریز کال کې د خونو له کرایې، د خوړو له پلور، د خدماتو له عرضه کولو، د سوغاتونو، د پست کارتونو او داسې نورو له درکه **۱۹۲۵۰۰۰** افغانۍ ترلاسه کړي دي. د نوموړې ادارې مجموعي مبلغ څخه **۱۵۲۲۰۰۰** افغانۍ د خونو د کرایې له درکه او **۴۰۳۰۰۰** افغانۍ د سوغاتونو له پلور څخه ترلاسه شوې دي. په همدې کال کې د دغه هوټل د مجرایي وړ عملیاتي لګښت **۱۵۹۰۰۰۰** افغانیو ته رسیږي. د هوټل د فعالیت له کبله نوموړې دولتي اداره باید لاندې مالیات تادیه کړي:

پر انتفاعي معاملو باندې مالیه:

أ. د خونو له کرایې څخه لاسته راغلي عواید: ٪۱۰(**۱۵۲۲۰۰۰** افغانۍ)
ب. د سوغاتونو له پلور څخه لاسته راغلي عواید: ٪۲ (۴۰۳۰۰۰) **۸۰۶۰**
ج. پر انتفاعي معاملو باندې د مالیاتو مجموعه مساوي کیږي له: **۱۶۰۲۲۰**

پر عایداتو باندې مالیات:

| | |
|---|---|
| مجموعي عواید | **۱۹۲۵۰۰۰** |
| عملیاتي لګښت | **۱۵۹۰۰۰۰** |
| له انتفاعي مالیې څخه دمخه عواید | **۳۳۵۰۰۰** |
| منفي د انتفاعي معاملو باندې مالیات | **۱۶۰۲۲۰** |
| د مالیې وړ خالص عواید | **۱۷۴۷۴۰** |
| پر عایداتو باندې مالیات (د مالیې وړ خالص عواید ٪۲۰) | **۳۴۹۴۸** |

# ### #

# دویم فصل

## د مالیې وړ عوایدو ټاکنه

## له ۱۲ مادې نه تر ۲۰ پورې

اصطلاحگاني او نومونې
دولسمه ماده:
د ماليې وړعوايد: هغه مبلغ دی چې د شخص، سهامي شرکت، محدودالمسؤليت شرکت يا نورحکمي شخصيتونو له عوايدو څخه پدې قانون کې د درج معافيتونو له مجرايي او د کسراتو له وضع کولو وروسته باقي پاتيږي.

معافيت: د ماليه ورکوونکي له عوايدو څخه مجرايي ده چې د دې قانون د حکمونو لمخې هغۀ ته ورکول کيږي.

کسرات: د توليد لګښتونه او د عايداتو د لاس ته راوړلو او ساتلو لګښتونه دي چې له عايداتو څخه د هغو وضع کول د دې قانون د حکمونو لمخې مجاز دي.

لګښتونه او هغه تمامه شوې بيه چې مشخصاً د معافيت يا کسراتو په توګه ذکر شوي نه وي، د وضع کولو وړ ندي.

نګه عملياتې ضررونه: هغه مبلغ دی چې پدې قانون کې له درج شوو مجراييو وروسته له عايداتو څخه زيات وي.

۱.۱۲ له هغه نه پرته کوم چې پر عايداتو د مالياتو په قانون کې ذکر شوي دي، پر عايداتو د مالياتو څخه هيڅ ډول لګښت نه منفي کيږي. د مالياتو قانون **۵** ماده د هغو مالياتو د مجرايي په اړه حکم کوي چې پر عايداتو باندې د افغانستان د مالياتو قانون لمخې د بهرنيو عوايدو له کبله ورکړل شوي دي. له هغو بهرنيو مالياتو څخه پرته چې له ماليې د مجرايي وړ دي، د ټولو د مجرايي وړ لګښتونو مجرايي له عوايدو څخه تر لاسه کيدای شي نه له هغو افغاني عوايدو څخه چې په کوم بل ډول د ورکړې وړ دي.

۲.۱۲ د ماليې وړ عوايدو د محاسبې په وخت کې، شخصي لګښتونو ته مجرايي نه ورکول کيږي

۱ بېلګه: يو افغان مېشت شخص په کابل کې يو رستورانت اداره کوي. نوموړی شخص هيڅکله هم نه غواړي چې درستورانټ د مالکيت لپاره يو سهامي او يا يو محدودالمسؤليت شرکت تاسيس کړي. دغه افغان مېشت شخص د عزيز په نامه يو ګارسون او د اسد په نامه يو اشپز په کار ګماري. نوموړی شخص اشپز او ګارسون ته په جلا توګه د ورځې ۱۰۰ افغانۍ او خپل ځوی فرشيد ته د ورځې ۸۰ افغانۍ اجوره ورکوي. فرشيد پرته له دې چې کوم ځانګړی کار ترسره کړي او يا خواړه پاخه کړي کله نا کله له رستورانت څخه ليدنه کوي. افغان مېشت شخص يوازې د ورځني لګښت (۲۰۰افغانيو ) لپاره مجرايي ترلاسه کولی شي. فرشيد ته ورکړل شوې ۸۰ افغانۍ د مجرايي وړ نه دي ځکه په حقيقت کې فرشيد په رستورانټ کې هيڅ کار نه کوي او تاديه شوی مبلغ هغه ته د شخصي لګښت په توګه ګڼل کيږي.

۲ بېلګه: یو افغان مېشت شخص په کابل کې د برېښنایي توکو یو پلورنځی پرمخ وړي. نوموړی په دغه پلورنځي کې جنراتورونه، ساکټونه او برېښنایي اډپټرونه پلوري. نوموړی شخص پرېکړه کوي چې د برېښنا د تولید لپاره یو لوی جنراتور راوپېري مګر دغه جنراتور په عام محضر کې د پلور لپاره نه ایښودل کېږي. نوموړی همدارنګه د خپل پلورنځي د روښانه کولو په موخه له دغه جنراتور څخه د احتیاطي ماشین په توګه کار نه اخلي اما په کورکي ور څخه د برېښنا د تولید لپاره ګټه اخلي. د جنراتور د پېرودنې بیه د نوموړي شخص د فعالیتونو له درکه له لاسته راغلو عوایدو نه د مجرایي وړ نه دي. د جنراتور لپاره ورکړل شوی مبلغ د نوموړي شخص د شخصي لګښت په توګه ګڼل کېږي او د مجرایي وړ نه دي.

۳.۱۲ پر انتفاعي معاملو باندې مالیه، د ګمرکاتو محصول د مالیاتو نور ډولونه (د مالیاتو قانون لمخې له موضوعي مالیاتو پرته) د مجرایي وړ دي او د شتمنې له ارزښت سره جمع کېږي.

أ. مالیه هغه وخت د ناخالصو عوایدو څخه د مجرایي وړ عملیاتي لګښت په توګه ګڼل کېږي چې د متشبث د فعالیتونو سره سم تر سره شوي وي او د یوې ځانګړې شتمنۍ په لاسته راوړلو پورې تړاو ونه لري.

۱ بېلګه: یو افغاني شرکت د یوه رستورانټ چلول پر غاړه لري او له دغې لارې هغه خواړه او نوشابې چې په سمد ستي توګه چمتو کېږي، وړاندې کوي. نوموړی شرکت د خپل فعالیت په لومړي کال کې ۱۳۰۰۰۰۰ افغانۍ عاید ترلاسه کوي. نوموړي شرکت پر عایداتو د مالیاتو قانون د ۲۴ مادې د (۱) فقرې لمخې د انتفاعي معاملو د مالیې په ورکړه مکلف دی. د مالیاتو د قانون د ۲۴ مادې د (۵) فقرې پر اساس، پر خدماتو باندې د انتفاعي معاملو د مالیې د تطبیق وړ نورم ٪۱۰ ټاکل شوی دی. دغه رستورانټ د فعالیت په لومړي کال کې ۷۰۰۰۰۰ افغانۍ عملیاتي لګښت ګاللی دی. د نوموړي افغان شرکت د مالیې وړعواید په لاندې توګه محاسبه کېږي:

| | |
|---|---|
| د سنجش وړ عواید | ۱۳۰۰۰۰۰ |
| منفي دانتفاعي معاملو مالیه | (۱۳۰۰۰۰) |
| پاتې مجموعه | ۱۱۷۰۰۰۰ |
| منفي د مجرایي وړ لګښت | ۷۰۰۰۰۰ |
| د مالیې وړعواید | ۴۷۰۰۰۰ |
| د عوایدو مالیه (٪۲۰) | ۹۴۰۰۰ |

۲ بېلګه: عزیز یو مېشت افغان شخص دی چې د یو سهامي شرکت ټول پلورل شوي اسهام په واک کې لري. نوموړی افغان سهامي شرکت اومه مواد لکه پیچ ،بولټ، سرېښ او د فرنیچر د تولید لپاره رخت واردوي. د سهامي شرکت وارد کړل شوي مواد د وارداتو د محصول تابع دي. افغان سهامي شرکت د ګمرکي محصولاتو د مجرایۍ مستحق دی ځکه نوموړي شرکت د فرنیچر د تولید لپاره د خپلو فعالیتونو په ترڅ کې یاد لګښت په غاړه اخیستی.

۳ بېلګه: عزیز د خپلې شخصي استفادې لپاره د پاکستان او هندوستان له هېوادونو څخه د سي ډي (CD) او ډي وي ډي ( DVD ) مختلفې فیتې واردوي او د دغو توکو د واردولو له کبله ګمرکي محصول تادیه کوي. د عزیز د مالیاتي مکلفیتونو د محاسبې په وخت کې له ګمرکي محصول څخه لاسته راغلي ناخالص عواید دمجرایي وړ نه دي.

ب. په هغه صورت کې چې لګښت د هغې شتمنۍ د لاس ته راوړلو لپاره چې ماليه ورکوونکی د دغه شان لګښت د مجرايي د غوښتنې اجازه نه لري، وشي، دغه ماليات بايد دلاس ته راغلې شتمنۍ پر ارزښت ور زيات شي.

۴ بېلګه: د الف شرکت يو افغان سهامي شرکت دی چې په افغانستان کې د ترانسپورټي سوداګريزو فعاليتونو د ترلاسه کولو لپاره بار وړونکي وسايط يا لارۍ ګانې واردوي. نوموړی شرکت بايد د دغو وسايطو د واردولو له کبله وارداتي محصول تاديه کړي. تاديه شوی وارداتي محصول بايد د بار وړونکو وسايطو له ارزښت سره جمع شي. وارداتي محصولات پر عايداتو د مالياتو په توګه د مجرايي وړنه دي (د يادونې وړ ده چې مجرايي د چټک استهلاک له مخې د ۱۸مادې د (۱) فقرې د ۷ جز پر اساس مجاز ګڼل کيږي).

د ماليې تابع عايدات

دیارلسمه ماده:

(1) لاندې لاسته راغلي عوايد پر عايداتو باندې د مالياتو تابع دي:

أ. معاش، مزد، فيس او کمېشن،
ب. له سوداګريزو او صنعتي، ودانيزو معاملو او نورو فعاليتونو څخه ټول (مجموع) عوايد،
ج. د منقول او غيرمنقول ملکيت له پلورلو څخه ترلاسه شوي عوايد،
د. پولي تکټ، د ونډې ګټه، کرايه، حق الامتياز، جايزې، مکافات، د قرعې او بخششيو له درکه عوايد،
ه. د تضامني شرکت له عايد څخه شريکه ونډه،
و. له کار، پانګې يا اقتصادي فعاليت څخه ترلاسه شوي نور عوايد،
ز. نور هغه حالات چې په قانون کې تصريح شوي دي، او
ح. نور هغه عوايد چې په دې قانون کې اټکل شوي ندي.

(2) د ونډې ګټه: دعوايدو هر ډول وېشنه ده چې د شرکت لخوا د پيسو، شتمنۍ يا ونډه والو ته د هغوی له ونډې سره د متناسبې هر ډول ګټې په شکل صورت مومي او لاندې موارد پکې شامل دي:
أ. هر ډول ملموسه او غير ملموسه شتمني،
ب. په شرکت کې ونډه،
ج. له شرکت څخه په هرډول پېرودنه کې تخفيف،
د. ونډه والو ته پور، او
ه. د يوۀ شرکت له هرډول شتمنۍ څخه ګټه اخستل.

(3) که چيرې د دې قانون په اتمه ماده کې د درج په افغانستان کې د غير مېشت شخص ناخپلواکه نمايندګی، غير مېشت شخص يا هر بل شخص ته چې له هغه سره اړيکه ولري، څه مبلغ ورکړي يا يې ورکړه ومني، نوموړی مبلغ د ونډې ګټه ګڼل کيږي.

۱.۱۳ عوايد يواځې هغه څه نه دي چې د اسعارو، سکې او نغدو پيسو په بڼه لاسته راغلي وي چې د ماليې تابع وګرځي. اما شتمني چې په هر ډول او هره بڼه لاسته راشي او په بازار کې د مجرايي وړ ارزښت ولري، د لاسته راوړونکي د ماليې وړ عوايدو په توګه ګڼل کيږي.

۱ بېلګه: يو افغان مېشت شخص په کابل ښار کې د برېښنايي اجناسو د چمتو کولو پلورنځی لري. نوموړی په دغه پلورنځي کې برقي جنراتورونه، ساکټونه او د اړتيا وړ نور اسباب پلوري. نوموړی مېشت شخص معمولاً غوره ګڼي چې د نغدو پيسو په بدل کې اجناس و پلوري. مګر نوموړي يوځل د برېښنا د توليد خپل يو جنراتور د يو مستعمل موټر په بدل کې د ۲۰۰۰۰ افغانيو په قيمت پلوري. سره له دې چې نوموړي شخص نغدې پيسې نه دي ترلاسه کړې، دا سې ګڼل کيږي چې هغهٔ د ۲۰۰۰۰ افغانيو معادل لاسته راوړې دي.

۲ بېلګه: يو افغان مېشت شخص په کابل ښار کې دغاليو يو کوچنی پلورنځی لري او په دغه پلورنځي کې هغه ډول ډول غالۍ پلورل کيږي چې په افغانستان کې جوړې شوې دي. نوموړي افغان مېشت شخص لس تنه کارکوونکي په کار ګمارلي دي چې له هغو څخه يو تن د عزيز په نوم د يوه کال په اوږدو کې په ډېر شمېر غالۍ پلورلي او پېرودونکو ته يې د ستاينې وړ خدمتونه عرضه کړي دي. افغان مېشت شخص پريکړه کوي چې عزيز ته د ښو خدمتونو د عرضه کولو له کبله له معاش څخه پرته ۱۰۰۰۰ افغانۍ اضافي امتياز ورکړي. سره د دې چې دغه ۱۰۰۰۰ افغانۍ عزيز ته د بخششي امتياز په توګه ورکړل شوي دي، عزيز بايد دغه مبلغ په خپلو کلنيو عوايدو کې شامل کړي.

۳ بېلګه: يو مېشت افغان شخص کابل کې يو رستورانټ پرمخ وړي او خپلو پېرودونکو ته افغاني خواړه چمتو کوي. د وحيد په نوم د رستورانټ يو ګارسون د کار په بدل کې د ورځې ۱۰۰ افغانۍ ترلاسه کوي. نوموړی ګارسون همدارنګه له هغو پېرودونکو څخه بخششي هم ترلاسه کوي چې په رستورانټ کې خواړه خوري. سره له دې چې دغه بخششي د ګارسون له ورځنۍ اجورې څخه لوړ ه ده، نوموړی ګارسون بايد دغه بخششيانې په خپلو کلنيو عوايدو کې شاملې کړي.

۲.۱۳ که چيرې يو افغان مېشت شخص د خپلو خدمتونو او شتمنيو په بدل کې د پور يادښت يا سند ترلاسه کړي، د سند اصلي ارزښت يا د پور يادښت بايد د مارکېټ له مناسب نورم سره مساوي وګڼل شي. د مالي معاملاتو پر هغې اجارې ورته حکم پلی کيږي چې په هغې کې مالک د پور يو سند يا يادښت اجاره دار ته د اجارې وړ شتمنۍ د په واک کې ورکولو په بدل کې ترلاسه کوي. که چيرې د ټکټانې نورم د پور د نورم له درکه په بشپړ ډول د بازار له نرخه ښکته او يا لوړ وي، نو په هغه صورت کې د پور هغه سند د مناسب ارزښت قيمت که چېرې د ټکټانې په کار شوې نورم د ټولو حقايقو او مربوطه شرايطو باندې ولاړ وي، د دې په پلټنې سره چې د ټکټانې کوم نورم د پور په سند کې واوسي، تعيينيږي. په بازار کې د ټکټانې د نورم د تعيينولو په اړه له ۹۷ او ۹۸ مادې د مندرجو احکامو څخه استفاده کيږي.

بېلګه: يو افغان (پلورونکی) مېشت شخص پر بل افغان مېشت (پېرودونکي) د پنځو کلونو د پور د سند په بدل کې يو موټر چې اصلي قيمت يې ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ دی له ۵٪ ټکټانې سره پلوري. د پور د نوموړي سند لمځې بايد تاديات په لاندې توګه صورت ومومي

| | |
|---|---|
| لومړی کال | ۲۳۰۹۷۴۸۰ افغانۍ |
| دویم کال | ۲۳۰۹۷۴۸۰ افغانۍ |
| درېیم کال | ۲۳۰۹۷۴۸۰ افغانۍ |
| څلورم کال | ۲۳۰۹۷۴۸۰ افغانۍ |
| پنځم کال | ۲۳۰۹۷۴۸۰ افغانۍ |

تادیات په لاندې توګه ورکول کېږي:

| کال | تادیات | ټکټانه | د اصلي پیسو تادیه | پاتې برخه |
|---|---|---|---|---|
| لومړی | ۲۳۰۹۷۴۸۰ | ۵۰۰۰۰ | ۱۸۰۹۷۵ | ۸۱۹۰۲۵ |
| دویم | ۲۳۰۹۷۴۸۰ | ۴۰۹۵۱ | ۱۹۰۰۲۴ | ۶۲۹۰۰۲ |
| درېیم | ۲۳۰۹۷۴۸۰ | ۳۱۴۵۰ | ۱۹۹۵۲۵ | ۴۲۹۴۷۷ |
| څلورم | ۲۳۰۹۷۴۸۰ | ۲۱۴۷۴ | ۲۰۹۵۰۱ | ۲۱۹۹۷۶ |
| پنځم | ۲۳۰۹۷۴۸۰ | ۱۰۹۹۹ | ۲۱۹۹۷۶ | -۰- |
| | ۱۱۵۴۸۷۴۰۰ | ۱۵۴۸۷۴ | ۱۰۰۰۰۰۰ | |

نوموړی موټر د پلورونکي لپاره په ۸۰۰۰۰۰ افغانیو اصلي قیمت تمام شوی دی. په لومړي کال کې د موټر له درکه پلورونکی خپل اظهارلیک کې ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ ګټه شاملوي. همدارنګه نوموړی باید په پورتني جدول کې درج شوې ټکټانه تصدیق کړي چې تادیات به د پور د یادښت لمخې له څنګ څخه پرته په هر کال کې صورت مومي.

د شرایطو، حقایقو او څېړنو څخه وروسته د عوایدو عمومي ریاست د پور د یادښت د مارکېټ نورم ۲٪ ټاکي. څرنګه چې د ټکټانې واقعي نورم په مارکېټ کې له ۵٪ څخه ښکته دې، د یادښت واقعي ارزښت د هغهٔ له اصلي بیې څخه چې ۱۰۰۰۰۰۰ افغانۍ ده لوړ دی. د پور د یادښت واقعي ارزښت ۱۰۸۸۲۹۰ افغانۍ ده او د پور یادښت په لاندې توګه ورکول کیږي:

| کال | تادیات | ټکټانه | د اصلي پیسو تادیه | پاتې برخه |
|---|---|---|---|---|
| لومړی | ۲۳۰۹۷۴۸۰ | ۲۱۷۷۴ | ۲۰۹۲۰۱ | ۸۷۹۴۸۹ |
| دویم | ۲۳۰۹۷۴۸۰ | ۱۷۵۹۰ | ۲۱۳۳۸۵ | ۶۶۶۱۰۴ |
| درېیم | ۲۳۰۹۷۴۸۰ | ۱۳۳۲۲ | ۲۱۷۶۵۳ | ۴۴۸۴۵۲ |
| څلورم | ۲۳۰۹۷۴۸۰ | ۸۹۶۹ | ۲۲۲۰۰۶ | ۲۲۶۴۴۶ |
| پنځم | ۲۳۰۹۷۴۸۰ | ۴۵۲۹ | ۲۲۶۴۴۶ | -۰- |
| | ۱۱۵۴۸۷۴۰۰ | ۶۶۱۸۴ | ۱۰۸۸۲۹۰ | |

د پلټنو په پایله کې، نوموړی پلورونکی باید د۲۸۸۲۹۰ افغانۍ ګټه البته د ۸۸۲۹۰ افغانیو د مبلغ له زیاتوالي سره څرګنده کړي چې په اظهارلیک کې یې ښودلې ده. نوموړی د بروالی دا حقیقت څرګندوي چې دغه یادښت له هغه ارزښت څخه زیات دې کوم چې د پلورونکي لخوا په راپور کې ښودلی دی. همدارنګه

پلورونکی باید څرګنده کړي چې په پورتني جدول کې د ټکټانې له درکه لاسته راغلي عواید له کوم ځنډه څخه پرته تادیه کیږي.

۳.۱۳ د یو شرکت شریکان باید د شرکت عواید او ضررونه په هغه ډول چې منځ ته راغلي د شرکت د محاسبې له طریقې سره سم تایید کړي.

بېلګه: عزیز او وحید دوه مېشت افغانان دي چې په یو شرکت کې شریکان دي. په نوموړي شرکت کې عزیز ۶۰٪ او وحید ٪۴۰ ونډه لري. دغه شرکت د خپل فعالیت په لومړي کال کې ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ ګټه ترلاسه کوي. عزیز باید ۶۰۰۰۰ افغانۍ او وحید باید ۴۰۰۰۰ افغانۍ په خپلو اظهارلیکونو کې وښیي.

تبصره: د سهامي او محدودالمسؤلیت شرکتونو برخلاف شراکتونه مکلف ندي چې د محاسبې له وروستۍ طریقې څخه استفاده وکړي. د دغې موضوع د لا زیات وضاحت لپاره پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون د ۳۷ مادې او هغه لاربنود ته چې د دغې مادې د حکم پر اساس صادر شوی دی، مراجعه وشي. که چیرې شراکت وغواړي چې د محاسبې له وروستۍ طریقې څخه استفاده وکړي، شریکان مکلف دي د ونډې د اسنادو د توزیع ورعواید د وروستۍ طریقې نه په استفادې سره وښیي.

۴.۱۳ د یو حکمي نهاد هغه لاسته راغلي نغدي او یا جنسي عواید چې د همدغه نهاد د ونډې د اسنادو په بدل کې ورکول کیږي، د دغه نهاد له مالیې ور عوایدو څخه نه ګڼل کیږي.

أ. که چیرې د شتمنۍ په بدل کې یو سهامي او یا محدودالمسؤلیت شرکت یو شخص ته د ونډې اسناد او یا شراکت ورکړي، دغو سهامي ، محدودالمسؤلیت او یا هغه شراکتونو ته چې اسناد او شراکت ورکوي د ونډې د اسنادو او یا د شراکت صادرول باید په منصفانه توګه صورت ومومي. ولې هغه شخص چې خپله شتمني انتقالوي په دې مکلف دی چې ګټه او ضرر څرګند کړي مګر دا چې د انتقالوونکي ګټه د ۱۴مادې له شرایطو څخه مجزا وي.

ب. که چیرې یو سهامي یا محدودالمسؤلیت شرکت موجود ونډه لرونکي او یا شریک ته د ونډې د ګټې په توګه د ونډې اسناد ورکړي، سهامي یا محدودالمسؤلیت شرکت ته چې ونډې سپاري، د یادې ونډې ګټه اغېزه نه لري. د ونډې د ترلاسه کولو له امله لاسته راوړونکی د مالیې تابع نه دي ولې د ونډې اسناد او یا لاسته راغلې ګټه یې د صفر ارزښت لري. د سهامي شرکت د ونډه لرونکي او یا د موجوده شریک د ونډې د اسنادو د ارزښت د محاسبې په موخه باید د ونډې د ګټې اصلي ارزښت د هغهٔ د ونډې له موجوده اسنادو سره جمع کړل شي.

۱ بېلګه: دوه افغان مېشت اشخاص هر یو عزیز او وحید د یوه سهامي شرکت ټول پلورل شوي اسهام په خپل واک کې لري. نوموړی شرکت د فعالیت په لومړي کال کې ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ ګټه ترلاسه کړې ده. یاد شرکت د نغدو پیسو په بدل کې عزیز ته ۵۰۰۰۰ افغانۍ او وحید ته د ونډې ۱۰ اضافي سندونه ورکوي. د عزیز لاسته راغلې ۵۰۰۰۰ افغانۍ د ونډې د هغې ګټې په توګه ګڼل کیږي چې د مالیې وړده. د ونډې هغهٔ ۱۰ اضافي سندونه چې وحید ترلاسه کړي دي د مالیې تابع نه دي مګر داسې ګڼل کیږي چې وحید د صفر په ارزښت د ونډې اضافي اسناد ترلاسه کړي دي. د نوموړي شرکت عواید د ۵۰۰۰۰ افغانیو په اندازه کمیږي، اما د ونډې د ۱۰ اضافي اسنادو ورکړه پر شرکت باندې کومه اغېزه نه کوي.

۲ بېلګه: د ۱۳۸۴ هجري لمريز کال په اوږدو کې يو انفرادي شخص له يو سهامي شرکت څخه د ۳۲۰۰ افغانيو په ارزښت د ونډې ۱۰۰ قطعې سندونه رانيسي. نوموړی شرکت د ۱۳۸۵ هجرې لمريز کال په اوږدو کې د ونډې ګټې په بدل کې د ونډې اسناد ورکوي او نوموړی انفرادي شخص د ونډې ۲۰ قطعې اضافي اسناد چې د يوې قطعې اوسط ارزښت ۳۰ افغانۍ. اټکل شوی دې لاسته راوړي. که چېرې نوموړی شخص لاسته راغلي خپل د ونډې اسنادونه ونه پلوري، نو دغه اسناد په ۱۳۸۵ لمريز کال کې د هغهٔ د ماليې وړ عوايدو په توګه نه ګڼل کېږي. که چيرې نوموړی شخص د ونډې خپل اوسني او پخواني اسناد په ۱۳۸۵ هجرې لمريز کال کې وساتي او په ۱۳۸۲هجري لمريز کال کې د ونډې د نوو اسنادو يوه برخه او يا ټول اسناد وپلوري، نو له پلورل شوي ونډې څخه لاسته راغلې ګټه بايد د ۱۳۸۲ هجرې لمريز کال د عوايدو په توګه وښودل شي. که چېرې نوموړی شخص د ونډې ۵۰ قطعې اسناد چې د يوې قطعې بيه ۴۰ افغانۍ وي وپلوري او له کبله يې ۲۰۰۰ افغانۍ لاسته راوړي، د نوموړي ګټه ۵۰۰ افغانۍ ده او په مالياتي اظهارليک کې بايد د عوايدو په توګه درج کړل شي.

دانفرادي شخص لګښت او د ونډې اسناد

| | |
|---|---|
| پېرودل ۱۳۸۴ د ونډې ۱۰۰ قطعې اسناد (يوه قطعه په ۳۲ افغانۍ) | ۳۲۰۰ افغانۍ |
| د ونډې د ګټې اسناد ۱۳۸۵ د ونډې ۲۰ قطعې اسناد (هر سند ۰ افغانۍ) | ۰ افغانۍ |
| د ونډې۱۲۰قطعې اسناد (د هر سند اوسط ارزښت۳۰ افغانۍ) | ۳۲۰۰ افغانۍ |
| په ۱۳۸۲کال کې د ونډې اسنادو د ۵۰ قطعو پلورل (يوه قطعه په ۳۰افغانۍ) | ۱۵۰۰ افغانۍ |
| د ونډې اسنادو پاتې ۷۰ قطعې (ديوې قطعې ارزښت ۳۰ افغانۍ) | ۲۱۰۰ افغانۍ |

له پلورلو څخه د لاسته راغلې ګټې محاسبه

| | |
|---|---|
| پلور ۱۳۸۲ د ونډې ۵۰ قطعې اسناد (يوه قطعه ۴۰ افغانۍ) | ۲۰۰۰ افغانۍ |
| اصلي بيه د ونډې ۵۰ قطعې اسناد (يوه قطعه ۳۰ افغانۍ) | ۱۵۰۰افغانۍ |
| په مالياتي اظهار ليک کې دعوايدو په توګه د ثبت وړ ګټه | ۵۰۰ افغانۍ |

أ. که چېرې يو سهامي يا محدودالمسؤليت شرکت خپل يو کارکوونکي ته د خدماتو د جبران په موخه د ونډې سند او يا شراکت تاديه کړي، سهامي او يا محدودالمسؤليت شرکت بايد د ورکړ شوي سند د ارزښت په کچه په هغه کال کې د مجرايي مستحق شي په کوم کې چې کارکوونکی د ونډې اسناد ترلاسه کوي. نوموړی کارکوونکی د ونډې د سند او شراکت ارزښت هغه وخت د خپلو عوايدو په توګه ځرګندوي چې د هماغه کال په اوږدو کې د ونډې سند د جريمې له خطر سره مخ نه وي. د ونډې يو سند په هغه صورت کې د جريمې له خطر سره نه مخ کيږي چې د اسنادو د پلور او انتقال له کبله د ونډې د اسنادو پر لرونکي باندې واقعې محدوديتونه وضع شوي وي.

۱ بېلګه: دوه افغان مېشت اشخاص چې عزيز او وحېد نومېږي د يوه فارم د پرمخ وړلو لپاره يو سهامي شرکت تاسيسوي. هر يو عزيز او وحيد په شرکت کې ۵۰٪ ونډه لري او د فارم د پرمخ وړلو لپاره د اديب په نوم يو شخص په کار ګماري. شرکت اديب ته د هغهٔ د فعاليتونو په بدل کې د ورځې ۱۰۰ افغانۍ د اجورې په توګه او د محصولاتو په پای کې د ونډې ۱۰ قطعې اسناد ورکوي. دا چې د ونډې ۱۰ قطعې لاسته راغلي اسناد تر

محدودیت لاندې نه راځي نو ادیب کولی شي د ونډې اسناد پر هر شخص باندې چې وغواړي وپلوري. د ونډې نوموړي اسناد ۱۰۰۰۰افغانۍ ارزښت لري. ادیب باید خپل ورځني عواید چې ۱۰۰ افغانۍ دي د کال په پای کې د ونډې اسنادو له ارزښت(۱۰۰۰۰ افغانۍ ) سره جمع او په راپور کې یې شامل کړي. نوموړی شرکت د هغې ورځنۍ تادیې (۱۰۰ افغانۍ) او د ونډې اسنادو د ارزښت(۱۰۰۰۰افغانۍ) له کبله چې ادیب ته یې تادیه کړې دي، دکسراتو د وضع کولو مستحق دی.

۲ بېلګه: د دغې بیلګې حقایق د لومړۍ بیلګې حقایقو ته ورته دي، اما په دویمه بېلګه کې چې ادیب د ونډې کوم اسناد ترلاسه کوي د یولړ محدودیتونو تابع دي. یعنې ادیب نه شي کولی د ونډې لاسته راغلي اسناد په درې کلونو کې وپلوري. که چېرې ادیب په راتلونکو درې کلونو کې په شرکت کې له خپلې دندې څخه (یا له دندې څخه ګوښه کړل شي او یا خپله دنده پریږدي) لاس واخلي، د ونډې دغه اسناد ضبطیږي او بیا شرکت پورې اړه نه نیسي. ادیب باید د ونډې د هغو اسنادو ارزښت چې په همدغه کال کې یې ترلاسه کړي دي د عوایدو په توګه ونه ښیي. نو پر دغه اساس نوموړی شرکت نه شي کولی د ونډې د هغو اسنادو لپاره د مجرایي غوښتنه وکړي چې صادر کړي یې دي. که چېرې ادیب له درې کلنو څخه وروسته د نوموړي شرکت د کارکوونکي په توګه پاتې شي او پر شرکت باندې وضع شوي محدودیتونه له منځه لاړ شي، نو ادیب مکلف دی چې په هماغه وخت کې د ونډې د اسنادو ارزښت په مالیاتي اظهارلیک کې وښیي. که چېرې په درېیم کال کې د ونډې د اسنادو ارزښت ۱۲۰۰۰ افغانۍ وي، نو ادیب باید په مالیاتي اظهارلیک کې ۱۲۰۰۰ افغانۍ د عوایدو په توګه وښیي او نوموړی شرکت په هماغه کال کې د ۱۲۰۰۰ افغانیو د مجرایي مستحق دی.

۵.۱۳ د سهامي شرکت د ونډې د اسنادو د پېرودنې یا خرڅلاو پر امتیاز مالیات توپیر لري البته د دې په نظر کې نیولو سره چې آیا د ونډې د اسنادو د پېرودنې یا خرڅلاو امتیاز له خدماتو یا شتمنیو څخه په زیاته کچه تادیه شوی دی که نه.

أ. د خدمتونو په بدل کې د پېرودنې او یا د ونډې د اسنادو د پلور امتیازونه چې یوه شخص ته ورکړل شوي دي ترڅو چې عملاً تطبیق نه شي د مالیاتو تابع نه ګرځي. هغه شرکت چې یو شخص په دنده ګماري تر هغې پورې د مجرایي غوښتنه نه شي کولی ترڅو چې نوموړی کارکوونکی د پېرودنې او یا د ونډې د اسنادو د پلور له امتیازونو څخه لاسته راغلي عواید نه وي ښودلي.

بېلګه: د یوه سهامي شرکت له آمرینو څخه یو تن د استخدام د شرایطو لمخې د ونډې د اسنادو د پېرودنې یا خرڅلاو له هغو امتیازونو څخه استفاده کوي د کومو پر اساس چې نوموړی کولی شي هر کال د سهامي شرکت یو شمېر د ونډې اسناد په مناسبه بیه وپېري. د ونډې اسنادو د لاسته راوړولو په وخت کې د هغهٔ د ارزښت(په مارکېټ کې د هغهٔ د ارزښت پر اساس) او د هغه مبلغ ترمنځ توپیر چې په بدل کې یې تادیه شوي دي باید په مالیاتي اظهارلیک کې د عوایدو په توګه درج کړل شي . که چېرې د ونډې نوموړي ۱۰قطعې اسناد چې دهرې قطعې بیه یې ۵۰۰ افغانۍ کیږي وپېري په داسې حال کې چې په مارکېټ کې دیوې قطعې بیه ۷۵۰ افغانۍ ده ، دغه توپیر (۲۵۰۰افغانۍ =۵۰۰۰افغانۍ-۷۵۰۰افغانۍ) په هغه کال کې چې د ونډې اسناد په کې رانیول شوي دي باید په مالیاتي اظهارلیک کې دعوایدو په توګه درج کړل شي. نوموړی شرکت په هماغه کال کې د ۲۵۰۰ افغانیو د مجرایي مستحق دی.

ب.      د پېرودنې او يا د ونډې اسنادو د پلور د امتيازونو په اړه چې بيه يې دمخه ټاکل شوې او د شتمنۍ په بدل کې صادر شوی دې ترهغه وخته پريکړه نه شي کيدای چې د پېرودنې او يا د ونډې د اسنادو د پلور امتياز عملاً تطبيق نه شي او يا يې ټاکلی وخت پای ته ونه رسيږي.

۱ بېلګه: عزيز يو افغان مېشت شخص دی چې درې کاله وړاندې يې د ۱۰۰۰۰۰ افغانيو په ارزښت يو موټر پېرودلی وه او اوس غواړي چې خپل موټر وپلوري. نوموړی موټر د وحيد خوښ دی او غواړي چې دغه موټر له عزيز څخه وپيري مګر نوموړی په اوس مهال کې د موټر د رانيولو لپاره په کافي اندازه پيسې نه لري. عزيز وحيد ته داسې وړانديز کوي چې نوموړی کولی شي دغه موټر د راتلوونکي کال له دولسو مياشتو څخه په يوه مياشت کې د ۸۰۰۰۰ افغانيو په بدل کې وپيري. وحيد د وړانديز په بدل کې عزيز ته ۱۰۰۰۰ افغانۍ ورکوي. شپږ مياشتې وروسته وحيد ټاکل شوې ۸۰۰۰۰ افغانۍ عزيز ته ورکوي يعنې د ۹۰۰۰۰ افغانيو په بدل کې موټر ترلاسه کوي او عزيز ۹۰۰۰۰ افغانۍ (۱۰۰۰۰افغانۍ بيانه + ۸۰۰۰۰ افغانۍ اصلي قيمت) عوايد لاسته راوړي. له دې کبله عزيز د خپل موټر د پلورلو له درکه له ۱۰۰۰۰ افغانيو تاوان سره مخ شوی دی.

(۹۰۰۰۰ افغانۍ عوايد - ۱۰۰۰۰۰افغانۍ اصلي بيه )

۲ بېلګه: د دغې بېلګې حقايق د لومړۍ بېلګې له حقايقو سره يو شان دي ، اما په دې بېلګه کې وحيد بيعانه نه ورکوي. د پېرودلو او پلورلو د ونډې اسنادو د بيعانې د شرايطو په انقضا سره وحيد ته ۱۰۰۰۰ افغانۍ ضرر رسيږي. که چيرې دغه ضرر د عملياتي لګښت ښکارندوی نه وي ، وحيد نه شي کولی د هغۀ لپاره مجرايي تر لاسه کړي. د پورتنۍ موضوع د روښانه کولو لپاره ۱۳ او ۱۹ مې مادې ته مراجعه وکړئ. کله چې د ونډې اسنادو د پلورلو او پېرودلو د امتياز د شرايطو وخت پای ته ورسيږي، عزيز بايد ۱۰۰۰۰ افغانۍ د خپلو عوايدو په توګه وښيي څکه کوم وخت چې د امتياز د شرايطو نېټه پای ته رسيږي، عزيز ۱۰۰۰۰ افغانۍ پرته له دې چې په بدل کې يې نغدې پيسې او يا شتمني انتقال کړي، لاسته راوړې دي.

۲.۱۳    د ونډې لرونکو لپاره د ونډې ګټه سره له دې چې په رسمي توګه نه ده اعلان شوې د ماليې وړ ده. هر هغه ګټه چې د شرکت د کافي عوايدو په نظرکې نيولو سره د شرکت لخوا ونډه لرونکو ته ورکول کيږي، د ونډې ګټه بلل کيږي.

۱ بېلګه: نجيب الله د يو افغان سهامي شرکت ټولې پلورل شوې ونډې په واک کې لري. نوموړي شرکت ۱۰۰۰۰۰۰ افغانۍ عوايد لاسته راوړي دي. شرکت هغه دوه مرکزونه اداره کوي چې موټر په کرايه ورکوي. له دغو مرکزونو څخه يو په کابل او بل په مزارشريف کې موقعيت لري. هغه مرکز چې په مزار شريف کې موقعيت لري د نجيب څوی عزيز ته اجازه ورکوي هر وخت چې وغواړي د کرايې له ورکولو نه پرته له موټرو څخه استفاده وکړي. د مزار شريف د مرکز آمر د يوه کال په اوږدو کې له لاسه تللې کرايه ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ تخمينوي. داسې ګڼل کيږي چې نجيب الله له افغان سهامي شرکت څخه ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ د ونډې فرضي ګټه ترلاسه کړې ده.

۲ بېلګه: نجيب الله د يو افغان سهامي شرکت ټولې پلورل شوې ونډې په اختيار کې لري. نوموړي شرکت له بهرنيو هېوادونو څخه تلويزونونه پېرودلي او په افغانستان کې يې پر خپلو پېرودونکو باندې پلوري. په عمومي توګه د يوه تلويزيون د پلور بيه ۱۰۰۰۰افغانۍ ده اوځينې وختونه نجيب الله له خپل پلورنځي څخه يو پايه تلويزيون په ۸۰۰۰ افغانۍ پيري. هر ځل چې نجيب الله له خپل پلورنځي څخه تلويزيون رانيسي، نوموړی

داسې ګڼل کېږي چې د ۲۰۰۰ افغانيو په اندازه يې تخفيف ترلاسه کړی دی. که چيرې نوموړی شرکت په کافي اندازه عوايد ولري، دغه تخفيف د ونډې د ګټې په توګه ګڼل کيږي که نه نو نوموړی تخفيف د هغې پانګې د بيرته ورکړې په توګه چې د ماليې ور نه ده، ګڼل کيږي او يا هم د پانګې د عوايدو په ارزښت کې د کمښت په توګه ګڼل کيږي.

تبصره: دا چې يو سهامي شرکت خپل ونډه لرونکي ته هغه شتمني چې د مخه يې نرخ ټاکل شوی وو بښي، ۴۳ مادې او هغې مقررې ته چې د دغې مادې پر اساس صادره شوې ده، مراجعه وشي.

۷.۱۳ که چېرې د يو سهامي شرکت لخوا خپلو ونډه لرونکو ته د نغدو پيسو، شتمنۍ او يا نورو ګټو په ډول ګټه ورکړل شي، دا ټول د ونډې د ګټې په توګه ګڼل کيږي. ونډه لرونکی بايد د يوه ونډه لرونکي په توګه ګټه ترلاسه کړي. که چېرې د ګټې وېش د ونډې لرونکي له موقفه پرته په کوم بل ډول ترلاسه شي، نو په دغه صورت کې دغه وېش د ونډې دګټې په توګه نه ګڼل کيږي.

۱ بېلګه: عظيم په کابل ساختماني شرکت کې ونډه لري. هغه بلاک چې عظيم او نور نا اړونده خلک په کې ژوند کوي د زلزلې له کبله ورانيږي. د کابل ساختماني شرکت موافقه کوي چې نوموړی بلاک به د مرستې په ډول په وړيا توګه بيا جوړ کړي. که څه هم عظيم د خپل استوګنځي د بيا جوړلو لپاره د کابل له ساختماني شرکت څخه يو څه ګټه ترلاسه کړې ده، ولې ګټه يې د نوموړي اپارتمان د استوګن په توګه ترلاسه کړې ده نه د شرکت د ونډه لرونکي په توګه. د اپارتمان د بيا جوړلو لګښت د عظيم د ونډې ګټې په توګه نه ګڼل کيږي.

که چيرې يوه ونډه لرونکي ته ګټه د نغدو پيسو په توګه نه بلکه د جنس په ډول ورکړل شي، دغه ګټه هغه وخت د ونډې د ګټې په توګه ګڼل کيږي چې ونډه لرونکی يې د مارکېټ له نرخه په ټيټ ارزښت ترلاسه کړي.

۲ بېلګه: بشير د ايسي برېښنايي شرکت يو ونډه لرونکی دی چې پر خلکو د برېښنا اجناس پلوري. ونډه لرونکي کولی شي چې برېښنايي اجناس په بازار کې د هغوي د ارزښت (چې د جنس اصلي بيه ټيټه ده) په پرتله د ٪۲۵ ارزښت په بدل کې له شرکت څخه لاسته راوړي. په ۱۳۸۵هجري لمريز کال کې بشير د ۱۰۰۰۰ افغانيو په ارزښت له شرکت څخه ځيني اجناس ترلاسه کوي. نوموړي شرکت ته ۲۵۰۰ افغانۍ ورکوي. له دې کبله چې بشير د نوموړي شرکت ونډه لرونکی دی نوځکه يې دبازار له ارزښته په ټيټه بيه ملموسه شتمني ترلاسه کړې ده. نو داسې ګڼل کيږي چې بشير له شرکت څخه د ونډې ګټه ترلاسه کړې ده. په بازار کې د جنس بيه منفي هغه مبلغ چې بشير تاديه کړی دی د ونډې له ګټې څخه عبارت دي او داسې ګڼل کيږي چې په ۱۳۸۵هجري لمريزکال کې بشير ۷۵۰۰ افغانۍ د ونډې ګټه ترلاسه کړې ده.

دغه اصل د ونډه لرونکو لخوا پر لاسته راغلو ګټو باندې تطبيقيږي ځکه چې د ونډه لرونکو په توګه هغوې د بازار له هغه نرخ څخه چې عام خلک اجناس رانيسي په کمه بيه اجناس ترلاسه کړي دي. يوۀ ونډه لرونکي ته د هر ډول ملموسې او نا ملموسې شتمني او يا ارايه شوې ونډې ورکړه هغه وخت د ونډې د ګټې په توګه ګڼل کيږي چې ونډه لرونکي نوموړې شتمني دبازار له ارزښت څخه په کمه بيه رانيولې وي. هغه پورونه چې د شرکت لخوا يوۀ ونډه لرونکي ته ورکول کيږي هغه وخت د ونډې ګټې په توګه ګڼل کيږي چې ونډه لرونکی دهغو پورونو په پرتله چې د بانکونو لخوا د سوداګريزو فعاليتونو د ترسره کولو په موخه پېرودونکوته ورکول کيږي په اسانۍ سره ګټه ترلاسه کړي.

۳ بېلګه: فیاض د سافرینې هوټل یو ونډه لرونکی دې. نوموړی د هوټل د یوې ونډه لرونکي په توګه ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ پور ترلاسه کوي. فیاض مکلف دې چې یو کال وروسته ۲۰۲۰۰۰ افغانۍ یعنې د پور مبلغ جمع ٪۱ ټکټانه ورکړي. که چېرې فیاض له یوه سوداګریز بانک څخه پور ترلاسه کړی وای نو د هغې د بیا ورکړې مبلغ به له یوه کال څخه وروسته ۲۱۰۰۰۰ افغانۍ وای ( یعنې د پور مبلغ جمع ۵ ٪ټکټانه ). دا چې فیاض د بازار له ارزښت څخه په کمه اندازه ګټه لاسته راوړې ده، نو د نوموړي لاسته راغلې ګټه د ونډې د ګټې په توګه ګڼل کیږي. د ونډې ګټه له هغه اضافي مبلغ څخه عبارت دې چې د پور د ټکټانې د نورم له درکه لاسته راغلې او د شرکت لخوا برابرشوی دې. هغه مبلغ چې د ټکټانې په توګه ګڼل کېږي له هغه تفاوت څخه عبارت دې چې د تادیې وړ ټکټانې ( که چیرې پور له یوه سوداګریز بانک څخه ترلاسه شوې وې ) او شرکت ته د تادیې وړ ټکټانې یعنې ۸۰۰۰ افغانۍ ترمنځ موجود دې.

که چېرې دیوې شرکت ونډه لرونکی د داسې امتیاز مستحق وګڼل شي چې وکولی شي له هر ډول محصول او یا کم تخفیف نه پرته د نورو خلکو په پرتله د شرکت له شتمنیو څخه په اسانۍ سره استفاده وکړي، نو د شرکت له شتمنیو څخه په منصفانه توګه استفاده د ونډې ګټې په توګه ګڼل کیږي.

۴ بېلګه: عارف په (اوید ) شرکت کې ونډه لري. نوموړی شرکت پېرودونکو ته موټر په کرایه ورکوي.د موټرو ورځنۍ کرایه ۲۰۰۰ افغانۍ ده. عارف د خپلې کورنۍ د لیدو لپاره له کابل څخه جلال آباد ته ځي او د پنځو ورځو لپاره یو موټر په کرایه نیسي. په دې خاطر چې عارف دنوموړي شرکت ونډه لرونکی دی د ورځې ۱۰۰۰ افغانۍ د موټر کرایه ورکوي. دا چې عارف په نوموړي شرکت کې ونډه لري نو لاسته راغلې ګټه یې د ونډې د ګټې په توګه ګڼل کیږي د بازار د ارزښت او د عارف لخوا د تادیه شوي مبلغ یعنې ۲۰۰۰ افغانۍ منفي ۱۰۰۰افغانۍ ترمنځ تفاوت چې ۱۰۰۰ افغانۍ کیږي د ونډې له ګټې څخه عبارت دې. د پنځو ورځو ګټه ۵۰۰۰ افغانۍ ده.

۸.۱۳ که چېرې یو مېشت افغان شخص په افغانستان کې نامستقله نمایندګي ولري او دغه نمایندګي هغې غیر مېشت افغان شخص ته او یا هغه شخص ته چې له غیر مېشت افغان سره اړیکې لري یو مقدار مبلغ (پر عایداتو باندې د مالیاتو د قانون د ۱۰۲ مادې لمخې) تادیه کړي، د نامستقلې نمایندګۍ لخوا غیر مېشت شخص ته دغه ورکړه ونډه بلل کېږي. دا چې آیا تادیاتو صورت نیولی او که نه ، د نامستقلې نمایندګۍ دفاتر او اسناد باید وکتل شي. که چیرې نامستقله نمایندګي د خپلو فعالیتونو له لیارې د کال په اوږدو کې ګټه لاسته راوړې او دغه ګټه د مالي کال په وروستي بېلانس کې دعوایدو په توګه ونه ښودل شي، نو داسې ګڼل کیږي چې دونډې ګټه وېشل شوې ده. د ونډې دغه فرضي ګټه د ټولو موضوعي مالیاتو تابع ده.

۱ بېلګه: کاشف یو پاکستانی انفرادي مېشت شخص دې چې په افغانستان کې په صادراتي او وارداتي سوداګریزو فعالیتونو کې بوخت دې. کاشف غواړي چې خپل صادراتي او وارداتي سوداګریز فعالیتونه د یوې نامستقلې نمایندګۍ په توګه پرمخ بوزي نه د یو سهامي شرکت په توګه. د کال په پیل کې د نامستقلې نمایندګۍ بېلانس په لاندې ډول دی:

| شتمني | | مکلفیتونه | |
|---|---|---|---|
| نغدې پیسې | ۱۰۰۰۰۰ | د ورکړې وړ حساب | ۱۰۰۰۰۰ |
| لاسته راتلونکې پیسې | ۸۰۰۰۰۰ | | |
| موجوده ونډه | ۱۰۰۰۰۰۰ | سرمایه | |
| د دفتر فرنیچر | ۵۰۰۰۰ | سرمایه | ۱۰۰۰۰ |
| | | عواید | ۱۸۰۴۰۰۰۰ |

شرکت دکال په اوږدو کې هېڅ عواید نه دي لاسته راوړي. د کال په پای کې د نوموړې نمایندګۍ بېلانس په لاندې ډول دې:

| مکلفیتونه | | شتمني | |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰۰۰ | د ورکړې وړ حساب | ۲۰۰۰۰۰ | نغدې پیسې |
| | | ۷۰۰۰۰۰ | لاسته راتلونکې پیسې |
| | سرمایه | ۱۰۰۰۰۰۰ | موجوده ونډه |
| ۱۰۰۰ | سرمایه | ۵۰۰۰۰ | د دفتر فرنیچر |
| ۱۸۰۴۰۰۰ | عواید | | |

د دغو حقایقو په نظر کې نیولو سره داسې ګڼل کیږي چې دغې نامستقلې نمایندګې د ونډې هېڅ فرضي ګټه نه شي معلومیدای. ولې په دفاترو او اسنادو کې یو اځې د نامستقلې نمایندګې هغه ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ ښودل شوي چې له پورونو څخه یې ترلاسه کړي دي. دغه ټولې نغدې پیسې تر اوس مهاله د نامستقلې نمایندګۍ په دفاترو کې موجودې دي. د دغه نغدیه مبلغ هر ډول ټکټانه په افغانستان کې دمالیې وړ ده. نو له دېکبله هېڅ ډول د ونډې ګټه نه ده وېشل شوې.

۲ بېلګه: کاشف یو پاکستانی انفرادي مېشت شخص دی چې په افغانستان کې د یو صادراتې او وارداتې شرکت اداره پر غاړه لري. کاشف غواړي چې خپل صادراتي اوارداتي سوداګریز فعالیت د یوې نامستقلې نمایندګۍ په توګه پرمخ بوزي نه د یو سهامي شرکت په څېر. د کال په پیل کې د نامستقلې نمایندګې بېلانس په لاندې ډول دې:

| مکلفیتونه | | شتمني | |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰۰۰ | د ورکړې وړ حساب | ۱۰۰۰۰۰ | نغدې پیسې |
| | | ۸۰۰۰۰۰ | لاسته راتلونکې پیسې |
| | سرمایه | ۱۰۰۰۰۰۰ | موجوده ونډې |
| ۱۰۰۰ | سرمایه | ۵۰۰۰۰ | د دفتر فرنیچر |
| ۱۸۰۴۰۰۰ | عواید | | |

د کال په اوږدو کې نوموړې شرکت ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ عواید لاسته راوړي دي. د کال په پای کې د نوموړې نمایندګۍ بېلانس په لاندې ډول دې:

| مکلفیتونه | | شتمني | |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰۰۰ | د ورکړې وړ حساب | ۲۰۰۰۰۰ | نغدې پیسې |
| | | ۸۰۰۰۰۰ | لاسته راتلونکې پیسې |
| | سرمایه | ۱۰۰۰۰۰۰ | موجوده ونډې |
| ۱۰۰۰ | سرمایه | ۵۰۰۰۰ | د دفتر فرنیچر |
| ۱۹۰۴۰۰۰ | عواید | | |

د دغو حقایقو په نظرکې نیولو سره داسې ګڼل کیږي چې دغه نامستقلې نمایندګۍ د ونډې هېڅ فرضي ګټه نه شي معلومیدای. که څه هم نامسقلې نمایندګۍ د کال په اوږدو کې ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ اضافي عواید لاسته راوړي دي، دغه عواید باید دنمایندګۍ په بېلانس کې وښودل شي. په همدې توګه هغه ټکټانه چې نوموړې نمایندګۍ له ۱۰۰۰۰۰ افغانیو څخه لاسته راوړي په افغانستان کې د مالیې تابع ده.

۳ بېلګه: کاشف یو پاکستانی انفرادي مېشت شخص دې چې په افغانستان کې د یو صادراتې او وارداتې شرکت اداره پرغاړه لري. کاشف غواړي چې خپل صادراتې او وارداتې سوداګریزفعالیت دیوې نامستقلې نماینده ګۍ په توګه پرمخ بوزي نه د یو سهامي شرکت په څېر. د کال په پیل کې د نامستقلې نمایندګۍ بېلانس په لاندې ډول دې:

| شتمني | | مکلفیتونه | |
|---|---|---|---|
| نغدې پیسې | ۱۰۰۰۰۰ | د ورکړې وړ حساب | ۱۰۰۰۰۰ |
| لاسته راتلونکي پیسې | ۸۰۰۰۰۰ | | |
| موجوده ونډه | ۱۰۰۰۰۰۰ | سرمایه | |
| د دفتر فرنیچر | ۵۰۰۰۰ | سرمایه | ۱۰۰۰۰ |
| | | عواید | ۱۸۰۴۰۰۰۰ |

د کال په اوږدو کې، نوموړې شرکت ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ عواید لاسته راوړي دي. د کال په پای کې د نمایندګۍ بېلانس په لاندې ډول دې:

| شتمني | | مکلفیتونه | |
|---|---|---|---|
| نغدې پیسې | ۱۰۰۰۰۰ | د ورکړې وړ حساب | ۱۰۰۰۰۰ |
| لاسته راتلونکي پیسې | ۸۰۰۰۰۰ | | |
| موجوده ونډه | ۱۰۰۰۰۰۰ | سرمایه | |
| د دفتر فرنیچر | ۵۰۰۰۰ | سرمایه | ۱۰۰۰۰ |
| | | عواید | ۱۸۰۴۰۰۰۰ |

د دغو حقایقو په نظرکې نیولو سره داسې ګڼل کیږي چې د دغې نامستقلې نمایندګۍ له ۱۰۰۰۰۰ افغانیو فرضي مبلغ څخه دونډې ورکړل شوې ګټه معلومیدای شي. یعنې نمایندګۍ دکال په اوږدو کې ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ اضافي عواید لاسته راوړي دي. پورتنی مبلغ د نمایندګۍ بېلانس په هغه برخه کې چې نغدیه مبلغ په کې لیکل کیږي د زیاتوالي په ډول درج کړل شوی دې. اما پورونه په همدغه اندازه کم شوي دي او په پای کې دنمایندګۍ د سرمایې په اضافي مبلغ (۱۰۰۰۰۰) کې زیاتوالی نه دې ښودل شوی.

سره له دې چې نامستقلې نمایندګۍ ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ عواید ترلاسه کړي دي خو د نمایندګۍ په سرمایه کې د ۱۰۰۰۰۰ افغانیو په اندازه ډېروالې نه دې ښودل شوی نوله دې کبله داسې ګڼل کیږي چې دغې نماینده ګۍ کاشف ته ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ ور کړي دي او په دغه صورت کې دونډې ګټه د ۲۰٪ مالیې تابع ده.

تبصره: دا چې د نامستقلو نمایندګیو پر ګټو باندې د مالیاتو له وضع کولو څخه هدف د نمایندګیو او سهامي شرکتونو ترمنځ د یو متوازن مالیاتي برخورد برقرار ساتل دي، د نمایندګۍ د مالیې وړ عوایدو د محاسبې په وخت کې د ورکړل شوې فرضي ونډې ګټه د مجرایي وړ ده.

۹.۱۳ " د نامستقلې نمایندګۍ پر ګټو باندې مالیات" باید پر هغه غیر مېشت شخص باندې چې د یو سهامي شرکت په توګه یې په افغانستان کې پانګه اچولې ده پرته له دې نه چې شرکت کورنی دې او که بهرنی په مساوي توګه تطبیق کړل شي.

بېلګه: یوسکو یو امریکایي سهامي شرکت او کانکو یو کاناډایي سهامي شرکت دې. یوسکو او کانکو په یو افغان سهامي شرکت کې ګډه فعالیت ترسره کوي چې یوسکو په کې ٪۲۰ او کانکو په کې ٪۴۰ ونډه لري. د کال په لومړیو کې د هغوې د شرکت لومړی بېلانس په لاندې ډول دې:

| شتمني | | مکلفیتونه | |
|---|---|---|---|
| نغدې پیسې | ۱۰۰۰۰۰ | د ورکړې وړ حساب | ۱۰۰۰۰۰ |
| لاسته راتلونکي پیسې | ۷۰۰۰۰۰ | | |
| موجوده ونډې | ۱۰۰۰۰۰۰ | سرمایه | |
| د دفتر فرنیچر | ۵۰۰۰۰ | سرمایه | ۱۰۰۰۰ |
| | | عواید | ۱۸۰۴۰۰۰۰ |

نو موړي شرکت د کال په اوږدو کې ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ عواید لاسته راوړي دې نو د کال په پای کې د نمایندګۍ بېلانس په لاندې ډول دی:

| شتمني | | مکلفیتونه | |
|---|---|---|---|
| نغدې پیسې | ۲۰۰۰۰۰ | د ورکړې وړ حساب | ۱۰۰۰۰۰ |
| لاسته راتلونکې پیسې | ۷۰۰۰۰۰ | | |
| موجوده ونډه | ۱۰۰۰۰۰۰ | سرمایه | |
| د دفتر فرنیچر | ۵۰۰۰۰ | سرمایه | ۱۰۰۰۰ |
| | | عواید | ۱۸۰۴۰۰۰۰ |

د ۱۰۰۰۰۰ افغانیو اضافي مبلغ هغه ګټه ده چې د شرکت په عوایدو کې باید د۱۰۰۰۰۰ افغانیو د ډېروالي سبب شي. له حقایقو څخه داسې څرګندیږي چې د ۱۰۰۰۰۰افغانیوډېروالی دشرکت په عوایدوکې نه دی ښودل شوی نو د۱۰۰۰۰۰ افغانیو فرضي وېش شوني دې. داسې ګڼل کېږي چې دیوسکوشرکت ۲۰۰۰۰ افغانۍ او دکانکو شرکت ۴۰۰۰۰ افغانۍ د ونډې ګټې له وېش څخه ترلاسه کړي دي. نو موړي شرکتونه که چیرې ثابته کړي چې دغه وېش په مختلفو نسبتونو سره تقسیم شوی دې نو هغوې کولای شي دغه فرضیه رد کړې.

۱۰.۱۳ د مالیه ورکوونکي عواید چې محاسبه یې د ورستۍ طریقې پر اساس (دنوموړې موضوع دلاښه وضاحت لپاره پرعایداتوباندې دمالیاتوقانون پنځم فصل ته مراجعه وکړې) ترسره شوې ده له هغو عوایدو څخه عبارت دي چې له پلور، ټکټانې، کرایې او داسې نورو څخه لاسته راغلي وي.

بېلګه: په ۱۳۸۴هجري لمريزکال کې د يو محدودالمسؤليت شرکت نغدې پلور ۸۷۰۰۰۰ افغانيوته رسيږي. که چېرې د ۳۰۰۰۰ افغانيو پلور د۱۳۸۴ هجري لمريز په وروستۍ مياشت کې لاسته راغلي وي اوهمدغه پيسې دراتلونکي کال يعنې ۱۳۸۵ هجري لمريزکال تر لومړۍ مياشت پورې نه وې تاديه شوې ،نوپه دغه صورت کې د۳۰۰۰۰ افغانيو پلور د۱۳۸۴ هجري لمريز کال له پلور سره جمع او محاسبه کيږي. د محاسبې د وروستۍ طريقې پر اساس فروشات د هغو داجرا په وخت کې دعوايدو په توګه ګڼل کيږي نه د پيسودترلاسه کولو په وخت کې. دنوموړي شرکت دمالي وړ عوايد چې د محاسبې د وروستۍ طريقې پر اساس دمالي کال په اوږدوکې لاسته راغي ۹۰۰۰۰۰ افغانۍ (مجموعې پلور ) کيږي نه ۸۷۰۰۰۰ افغانۍ( هغه مبلغ چې واقعاً لاسته راغلی ).

د مالياتو نه تابع عايدات

څوارلسمه ماده:

(1) لاندې ترلاسه شوي مبالغ پر عايداتو دمالياتو تابع ندي، دحقيقي او حکمي اشخاصو په اظهارليک کې نه شامليږي :

1. دحکومت لخوابخشش،تحفې، انعامونه، جائزې او مکافات چې د بهرنيو دولتونو، نړيوالو مؤسسو يا غيرانتفاعي مؤسسولخوادعلمي، هنري، ادبي فعاليتونو، ټولنيز پرمختګ او نړيوال تفاهم دتقديرولو په منظور ورکول کيږي،
2. د معلوماتو د زياتيدو يا د مسلکي او فني کفايت او ښودنو د اصلاح اوترقۍ په منظور سکالرشيپونه، فيلوشيپونه اونورې مرستې،
3. د صحي او ټکر (تصادم)له بيمې اودبيکارۍ دبيمې له ګټوڅخه عايد ،
4. دژوند له بيمې څخه عايد چې له مړينې وروسته ورکول کيږي،
5. له ټپ،ناروغۍ يا دحيثيت له اعادې څخه دراپيداشوو زيانونوغرامات يا تلافي،
6. استقراض،
7. د شرکتونوپه واسطه دونډې دسندونواود پور(قرضې)د سندونوله صادرولوڅخه لاسته راغلی عايد ،
8. دکورنيو سهامي شرکتونواو نورو حکمي شخصيتونود الحاق له لارې دشتمنۍ ترلاسه کول،
9. د داين په واسطه د مديون دحقوقود سلبولوله لارې دمنقولې اوغيرمنقولې شتمنۍ ترلاسه کول،
10. له مديونينوڅخه د اصل پور ترلاسه کول ،
11. په دولتي بانکونو کې شامل د سپما(پس انداز ) د صندوق اودشخصي حسابونود مفادی اماناتوګټه،
12. د دولتي اوښارواليو دپور دسندونوګټه ، او
13. د دې قانون دحکمونولمخې نورترلاسه شوې مبالغ.

۱.۱۴ پرعايداتوباندې دمالياتوقانون ۱۴ماده د هغو عوايدو په اړه حکم کوي چې له ناخالصوعوايدو څخه جلا ګڼل شوي دي. که چېرې عوايد په څرګند ډول جلا شوي نه وي نو په عادي عوايدو کې شامليږي.

۲.۱۴ هغه مرستې،سوغاتونه او جايزې په تادياتوکې نه شامليږي چې د دندې د ترسره کولو په وخت کې د خدمتونوپه بدل کې د دولت لخوا کارکونکو ته ورکول کيږي. مرستې، سوغاتونه اوجايزي په ښه ډول د دندو او غيرمعمولوخدمتونو د ترسره کولوپه بدل کې اويا دلاسته راوړنو څخه د ستاينې په موخه او په نورو ځانګړو حالاتوکې ورکول کيږي. پورتنۍ ياد شوې مرستې،سوغاتونه اوجايزې د کارکوونکو د زيار ايستنې اويا دهغوې دښولاسته راوړنو د ستاينې په بدل کې ورکول کيږي.کلني بخششونه،اضافه کاري، بيا ورکړه (پس پرداخت) اونورې هغه ګټې چې يوه کارکوونکي ته ورکول کيږي،د لاسته راوړونکي د ماليې وړعوايدو يوه برخه ګڼل کيږي.

۱ بېلګه: يوه کورنۍ چې ديوې پيښې له امله زيانمنه شوې ده له دولت څخه ۵۰۰۰ افغانۍ مرسته ترلاسه کوي. دغه ۵۰۰۰ افغانۍ د نوموړې کورنۍ د هېڅ يوه غړي په ماليې وړعوايدوکې نه شامليږي.

تبصره: هغه مرستې اوبخششونه چې د کورنيواوبهرنيو نهادونو لخوا ورکول کيږي دماليې وړ نه دې.

۲ بېلګه: د طب يوه ډاکتر د روغتيايي کلينيکونود ودانولو ، په مختلفوساحوکې د نورو کلينيکونو لپاره داسانتياؤ او د اړتيا وړ وسايلو د برابرولولپاره خپل ژوند وقف کړی دی. دنوموړي ډاکترخدمتونه د دولت لخوا هغهٔ ته دمادي او معنوي مکافاتو په ورکولوسره ستايل کيږي. ډاکتر ته ورکړل شوې مادي مکافات دماليې وړ نه دي.

۳ بېلګه: د نوبل د نړيوالې جايزې څخه هغه لاسته راغلي عوايد چې د يوې غيرانتفاعي نهاد لخوا ورکول کيږي له ماليا تو څخه معاف دي.

۳.۱۴ له تحصيلي بورسونو او فيلوشيپونو او يا له مسلکي اوتخنيکې روزنيزو پروګرامونو څخه لاسته راغلې ټولې پيسې له ماليې څخه معاف دي ځکه دغه پيسې يوازې د سفر،استوګنځي ، ښوونې فيس ، کتابونو او نورو لګښتونولپاره ورکول کيږي.

بېلګه: يوزده کوونکی تحصيلي بورس چې دهغهٔ دسفرلګښت، دهوټلبل، د استوګنځي لګښت ،دزده کړې حق،فيس،کتابونه،روغتيايي اونور لګښتونه په کې شامل دي ترلاسه کوي او برسيره پردې دمياشتې۵۰۰۰ افغانۍ دکاليو د رانيولو ،خوړو او نورو شخصي لګښتونولپاره ورکول کيږي. د پورتنيولګښتونولپاره چې کومې پيسې ورکول کيږي له ماليې څخه معاف ګڼل دي.که چېرې نوموړی زده کوونکی له دولت څخه نورې اضافي مرستې ترلاسه کړي ، هغه هم له ماليې څخه معاف دي.ولې که چېرې نوموړی د دولت د کارکوونکي په توګه خپل ټول معاش اويا يې يوه برخه ترلاسه کړي، نوپه دغه صورت کې دنوموړي معاش دماليې تابع دي.

۴.۱۴ د يوه شخص هغه مبلغ چې دبيمې له شرکتونوڅخه يې د زيانونو ،مصيبتونواو ناروغيو له کبله يې د خپلې بيمې په بدل کې لاسته راوړی دې دماليې تابع نه دي.

۱ بېلګه: یوانفرادي شخص د ناروغیو او ټپي کېدو په مقابل کې دبیمې په یوه شرکت کې چې په هره میاشت کې دبیمې حق ورکوي، خپل ځان بیمه کړی دی. نوموړی شخص په یوه ترافیکي پېښه کې ټپي کیږي چې د هغهٔ دعوایدو د زیان، روغتیایي لګښت اومعیوبیت سبب ګرځي. د بیمې دشرایطو پراساس نوموړي شخص ته ۱۰۰۰۰۰۰ افغانۍ دهغهٔ د غوښتنې په بدل کې ورکول کیږي. دغه لاسته راغلی عاید د مالیې وړ نه دی.

۲ بېلګه: یوانفرادي شخص دخپلې دندې د ترسره کولو په مهال ټپي کیږي. دنوموړي شخص استخدام کوونکې اداره دبیمې داسې پالیسي لري چې د هغهٔ ټول کارکوونکي دبیمې مستحق دي. د بیمې شرکت نوموړي شخص ته دهغهٔ دغوښتنې په بدل کې ۱۰۰۰۰۰۰ افغانۍ ورکوي.سره له دې چې نوموړي شخص دغه شرکت ته د خپل ځان لپاره میاشتنۍ حق البیمه نه ده ورکړې، نوموړی له مالیې څخه معاف دی.

**۵.۱۴** د هغه بیمه شوي شخص لاسته راغلی مبلغ چې د هغهٔ د مرګ نه وروسته ترلاسه کیږي او پخوا یې د ژوند بیمه لرله ، له مالیې څخه معاف دی.

۱ بېلګه: یوانفرادي شخص دبیمې داسې پالیسي لري چې دنوروشرایطو دبرابرولو برسیره د بیمه شوي شخص له مرګ نه وروسته هم باید دغه شخص ته په میاشت کې ۲۰۰۰ افغانۍ ورکړي. دغه عواید دمالیې وړنه دي.

تبصره: پرته له دې چې کوم شخص دګټې لاسته راوړونکی دی اویا د بیمې ګټه څنګه ورکول کیږي ، د بیمې دشرکت لخوا ورکړل شوی مبلغ پرعایداتو باندې د مالیاتو تابع نه دی.

بېلګه: یوانفرادي شخص د دندې دترسره کولو په مهال په یوه ترافیکي پېښه کې خپل ژوند له لاسه ورکوي. دنوموړي شخص استخدام کوونکې اداره دبیمې داسې پالیسي لري چې د هغهٔ ټول کارکوونکي دبیمې مستحق دي. دبیمې شرکت د ژوند د بیمې مبلغ چې دبیمې په پالیسۍ کې ټاکل شوی دی د مړ شوي شخص دګټې لاسته راوړونکي شخص ته ورکوي. سره له دې چې مړشوي شخص د بیمې خپل حق نه وه تادیه کړی، ورکړل شوې بیمه له مالیې څخه معاف ده.

**۶.۱۴** هغه مبلغ چې دشخصي ټپونو ،ناروغیو اویا نورو مصیبتونو په بدل کې تادیه کیږي ، دمالیې وړنه دي.

۱ بېلګه: یوشخص په یوه ترافیکي پېښه کې ټپي کېږي او د ټپونو د جبران لپاره ۱۰۰۰۰ افغانۍ ترلاسه کوي.دغه لاسته راغلی مبلغ د مالیې وړ نه دی.

۲ بېلګه: یوشخص په یو شرکت کې کار کوي او د تل لپاره له مضرو کیمیاوي موادو سره په تماس کې دی. دغه مواد نوموړی شخص د معیوبیت په ناروغۍ اخته کوي. محکمه په دې هکله داسې حکم کوي چې نوموړی شرکت باید دغه شخص ته دهغهٔ د معیوبیت په دوران کې د میاشتې ۲۰۰۰افغانۍ ورکړي. د معیوب شخص لخوا دغه لاسته راغلی مبلغ د مالیې وړنه دی.

**۷.۱۴** د پور له درکه لاسته راغلي عوایدد مالیې وړ نه دي.

بېلګه: یوانفرادي شخص د اعتباري سند په بدل کې له بانک څخه **۲۵۰۰۰** افغانۍ ترلاسه کوي. نوموړی لاسته راغلی مبلغ د عوایدو په توګه نه ګڼل کیږي او د مالیې وړ هم نه دی.

۸.۱۴ هغه عوايد چې د يو شرکت لخوا د پور د سند له پلور او يا د ونډې د سند د صادرولو له درکه لاسته راځي، د ماليې ور نه دي.

۱ بېلګه: يو شرکت د ونډې د اسنادو د صادرولو له کبله په خپله سرمايه کې زياتوالی راولي چې د هر سند ارزښت ۱۰۰۰ افغانۍ دي. نوموړی شرکت د ۱۰۰۰۰ ونډې اسنادو د پلور له درکه چې د يو سند بيه يې ۱۰۰۰ افغانۍ ده ۱۰۰۰۰۰۰۰ افغانۍ لاسته راوړي. د غه لاسته راغلی مبلغ د ماليې ور نه دې.

۲ بېلګه: يو شرکت خپل د پور اسناد چې د هرسند ارزښت يې ۵۰۰۰ افغانۍ دي د ٪۵ ټکټانې سره چې د تاديې وړ دي پلوري. نوموړي اسناد بايد ۱۰ کاله وروسته بيا وپيرل شي. نوموړی شرکت د پور ۱۰۰۰سندونه چې د هرسند بيه يې ۵۰۰۰ افغانۍ دي پلوري. له د غه پلور څخه لاسته راغلې ۵۰۰۰۰۰ افغانۍ د ماليې ور نه دې.

تبصره: که چيرې د پور د اسنادو له ارزښت څخه ډېرې پيسې ترلاسه کړل شي ، لاسته راغلی اضافي مبلغ د ماليې وړ تابع دې. که چيرې د پور د اسناد د هغو د بازار له ارزښت څخه په ټيټه بيه وپلورل شي ،د نوموړو اسنادو په ارزښت کې د غه راغلی کمښت د مجرايي وړلګښت په توګه ګڼل کيږي. اضافي لاسته راغلی مبلغ چې د اضافي قيمت په نامه هم نومول کيدای شي ، د پور د اسنادو په دوران کې د ټکټانې د کمښت سبب ګرځي په داسې حال کې چې د پور د اسنادو په دوران کې د غه کمښت د اضافي ټکټانې سبب ګرځي. ډېرښت او کمښت بايد د پور د سند د معياد (ټاکل شوی وخت د پور د سند د صادرلو نه پيل د بيا پيريدنې تر تاريخ پورې) پر اساس و ټاکل شي.

۹.۱۴ هغه شتمنې چې د شراکتونو او ونډه لرونکو له مدغم کيدو څخه لاسته راځي هغه وخت د ماليې تابع نه ګرځي، له لاندې شرايطو سره سمون ولري:

أ. د ۱۳۳۴ لمريز کال د سوداګرې قانون او يا د کوم بل قانون لمخې پورتنې معامله هغه وخت د مدغم شوې معاملې په توګه ګڼل کيږي چې د مدغم شوي شرکت ونډه لرونکي نوي تاسيس شوي شرکت ته انتقال کړل شي.

۱ بېلګه: د يو نوي سهامي شرکت د جوړلو لپاره د(الف ) او(ب ) شرکتونه سره يو ځای کيږي او د يو ځای والي د پروسې په دوران کې نوی تاسيس شوی شرکت د ( الف) او ( ب ) شرکتونو د پورونو په ګډون د هغوی نغدي شتمنې او نورې شتمنې ګانې لاسته راوړي. د ( الف ) او ( ب) شرکتونه په نوي تاسيس شوي شرکت کې د ونډې د خپلو اسنادو په بدل کې د ونډې اسناد لاسته راوړي. په د غه معامله کې د(الف) او( ب ) شرکتونه هېڅ ډول عوايد لاسته نه راوړي. د دې په خاطر چې د ( الف ) او ( ب ) سهامي شرکتونو خپل د ونډې اسناد د نوي تاسيس شوي شرکت له اسنادو سره تبادله کړي دي،نوله دې کبله د عوايدو په ښودلو باندې مکلف نه دي.

۲ بېلګه: نقيب الله د( الف ) سهامي شرکت ټولې ونډې په اختيار کې لري.د نقيب الله د ونډې اسنادو لومړنی ارزښت ۱۰۰۰۰ افغانۍ دي. اوس وخت کې د نقيب الله د ونډې ارزښت ۵۰۰۰۰۰ افغانيو ته رسيږي. وحيد د (ب) سهامي شرکت ټولې ونډې په خپل اختيار کې لري . د و حيد د ونډې اسنادو لومړنی ارزښت ۲۰۰۰۰ افغانيو ته رسيږي. اوس مهال د وحيد د ونډې اسناد هم ۵۰۰۰۰ افغانۍ ارزښت لري.نقيب الله او وحيد داسې پريکړه کوي چې خپل شرکتونه سره يوځای ( مدغم ) کړي. د شرکتونو د يوځای والي په نتيجه کې په نوي تاسيس شوي شرکت کې نقيب الله د ونډې ۵۰ قطعې اسناد او وحيد د ونډې ۴۵قطعې اسناد او۵۰۰۰ افغانۍ نغدې

پیسې لاسته راوړي. دیوځای والي په نتیجه کې چې نقیب الله د ونډې کوم اسناد ترلاسه کوي،دغه معامله دمالیې تابع نه ګرځي. نقیب الله دونډې ۵۰ قطعې اسناد د۱۰۰۰۰ افغانیو انتقالي ارزښت په بدل کې لاسته راوړي. وحید له ٪۹۰ ونډه او٪۱۰نغدې پیسې لاسته راوړي. دونډې هغه اسناد چې وحید ترلاسه کړي دي د مالیې تابع نه ګرځي.د وحید لخوا لاسته راغلې د ونډې اسناد د۱۸۰۰۰ افغانیوانتقالي ارزښت لري. د وحید لخوا لاسته راغلی نغدیه مبلغ دمالیې وړ دې. وحید باید د۳۰۰۰۰ افغانیو ګټه (۵۰۰۰ افغانۍ منفي ۲۰۰۰۰ افغانۍ چې له ٪۱۰ اصلي قیمت څخه عبارت دې) وښیي. په دغې معامله کې د(الف )او(ب) سهامي شرکتونه نه ګټه اونه هم ضرر ترلاسه کوي.

ب. کیدای شي یوافغان مېشت شخص دونډې اسناد اویا خپله نوره شتمني یو سهامي اویا یومحدودالمسؤلیت شرکت ته په دې شرط انتقال کړي چې له انتقال نه وروسته ٪۵ ونډه او یادونډې نور ډېر اسناد ولري. نو د ونډې اسناد باید د ونډې دارزښت اود رایه ورکولو د صلاحیت له نظره وټاکل شي.

۱ بېلګه: نقیب الله او وحید دوه افغان مېشت اشخاص دي او غواړي چې په کابل کې د کالیود یوپلورنځي دپرمخ بیولو په موخه یو سهامي شرکت تاسیس کړي.نقیب الله په نوموړي شرکت کې د۵۰۰۰۰۰ افغانیو او٪۵۰ ونډې په بدل کې شریکیږي. وحید هم دکالیوپه دغه شرکت کې ٪۵۰ ونډه لري او د دغو کالیوله درکه د۲۰۰۰۰۰ افغانیو په ارزښت لومړنۍ پانګه لري. نقیب الله نه شي کولی خپله ګټه اویا ضرر وښیي ځکه هغۀ افغاني اسعار شرکت ته انتقال کړي دي. دا چې وحید په نوموړي شرکت کې له ٪۵ څخه زیاته ونډه لري نو دپیسوانتقال دمالیې تابع نه ګرځي. وحید د ۲۰۰۰۰۰ افغانیو په بدل کې دنوموړي شرکت د ونډې اسناد ترلاسه کړي دي او شرکت هم د ۲۰۰۰۰۰ افغانیو په ارزښت کالي ترلاسه کوي.

۲ بېلګه: نقیب الله او وحید دوه افغان مېشت اشخاص دي چې په ګډه د یومحدودالمسؤلیت شرکت ټولې ونډې په خپل اختیارکې لري. د نقیب الله دتره ځوی ادیب یو څه اندازه داستفادې وړ وسایل لري. ادیب غواړي چې په شرکت کې دسوداګرۍ د ونډې اسناد تر لاسه کړي نو خپل وسایل نوموړي شرکت ته تسلیموي. ادیب خپل وسایل د۱۰۰۰۰۰ افغانیوپه ارزښت ورکړي دي. نقیب الله او وحید پریکړه کوي چې د وسایلوپه بدل کې ادیب ته په خپل شرکت کې دونډې اسناد ورکړي. د ونډې کوم اسناد چې ادیب ته ورکول کیږي د شرکت له ٪۷ ارزښت سره معادل دي او ادیب د رایې ورکولوحق نه لري. د ونډې نوموړي اسناد تقریباً د۱۷۵۰۰۰ افغانیوارزښت لري.ادیب دخپلې شتمنۍ دانتقال له کبله په نوموړي شرکت کې د رایې ورکولو حق نه لري. دغه انتقال د ادیب لپاره د مالیې وړ دې نوله دې کبله ادیب باید د ۷۵۰۰۰ افغانیوګټه مشخصه کړي. شرکت نوموړي وسایل د بازار په مناسب ارزښت سره ترلاسه کړي دي ( یعنې د ۱۷۵۰۰۰ افغانیو لومړنۍ ارزښت یې لاسته راوړی دې ).

۳ بېلګه: نقیب الله او وحید دوه افغان مېشت اشخاص دي چې په ګډه دیومحدودالمسؤلیت شرکت ټولې ونډې په اختیارکې لري. هغوې دواړه پریکړه کوي چې نقیب الله باید یوڅه اندازه ځمکه چې ارزښت یې د مخه ټاکل شوی دې محدودالمسؤلیت شرکت ته انتقال کړي. دواړه ونډه لرونکي موافقه کوي چې شرکت ته د ځمکې د انتقال په بدل کې نقیب الله ته د رایې ورکولو او د شرکت په ارزښت کې د ٪۲ ګټې حق ورکړي. نقیب الله خپله ځمکه نوموړي شرکت ته انتقالوي. له انتقال څخه وروسته نقیب الله ٪۵۲ او وحید ٪۴۸ ونډه لري. سره له دې چې نقیب الله دخپلې ځمکې په بدل کې له محدودالمسؤلیت شرکت ( چې درایې ورکولو د حق او ارزښت له درکه ټاکل شوی دې ) څخه ٪۵ اویا هم له هغې څخه زیاته ټکټانه نه ترلاسه کوي، دغه انتقال دمالیې تابع نه

ګڼل کیږي. دځمکې له انتقال څخه وروسته نقیب الله په نوموړي نهاد کې درای ورکولو او همدارنګه د نهاد په ارزښت کې ۵٪ او یاهم له هغۀ څخه زیات حق لري.

۱۱.۱۴ هغه مبلغ چې پور ورکوونکی یې د تادیه شوي مبلغ په بدل کې له پوروړي څخه ترلاسه کوي د عوایدو په توګه نه ګڼل کیږي او پرعایداتو باندې د مالیاتو تابع نه ګرځي. د مستاجر لخوا مالک ته د ورکړل شوې مالي اجارې د اجارې وړ شتمنۍ په بیه د پانګې اصلي مبلغ ځرګندوي او د مالک د مالیې وړ عواید نه ګڼل کیږي.

۱۱.۱۴ هغه ټکټانه چې په افغانستان کې د حکومت یا ښاروالبو لخوا د پور د اسنادو له کبله ورکول کیږي پرته له دې چې آیا د انفرادي شخص (افغان یا بهرنی) د سهامي او یا محدودالمسؤلیت شرکت (کورنی یا بهرنی) لخوا ترلاسه کیږي، له مالیې څخه معاف دي.

۱ بېلګه: یو محدودالمسؤلیت شرکت له حکومت څخه د پور یوسند رانیسي چې مجموعې ارزښت یې ۵۰۰۰۰۰ افغانۍ دي. مالیې وزارت د خزاینو ریاست هرکال نوموړي شرکت ته ټکټانه ورکوي. ددې په خاطر چې دغه عواید د دولتې پورد اسنادو له درکه ترلاسه شوي دي ،دمالیاتوتابع نه ګرځي او نوموړی شرکت هم مکلف نه دې چې دغه عواید په خپل مالیاتي اظهارلیک کې شامل کړي.

۱۲.۱۴ د ۱۴مې مادې د ۱۲ فقرې د حکمونو د تطبیق لپاره د شرکتونو لخوا لاسته راغلې ټکټانې د شرکت د شریکانو د لاسته راغلو عوایدو په توګه ګڼل کیږي.

۱۳.۱۴ د سوغات، ترکې، وصیت او میراث له لیارې د ترلاسه شوې شتمنۍ ارزښت په عوایدو کې نه شاملیږي مګر هغه عواید چې له داشان شتمنیو څخه لاسته راځي د مالیې وړ شمېرل کیږي.

| |
|---|
| **د احتراقي موادو مالیاتي معافیت**<br>**پنځلسمه ماده:**<br>دغذايي موادو ،احتراقي موادو اوهغوجنسونودبیې له درکه عواید چې تولیدونکي شخص یا یې د کورنۍ غړوهغه په مصرف رسولي یایې ترګټې اخستنې لاندې نیولي دي،پرعایداتوباندې له مالیاتوڅخه معاف دي. |

۱.۱۵ " تولید کوونکی " هغۀ شخص ته ویل کیږي چې اجناس او وسایل د خپلې او نورهغواشخاصو داستفادې لپاره تولیدوي چې له ده سره تړاو لري.

بېلګه: یوصنعتکار دترکاڼې یو دوکان لري او په دغه دوکان کې فرنیچر تولیدوي. دیوه کال په اوږدوکې دغه صنعتکاردخپل کور داستفادې لپاره یوپایه میز اوشپږ پایې څوکۍ جوړوي. نوموړی صنعتکار مکلف نه دي چې پورتني اجناس په خپل مالیاتي اظهارلیک کې ارایه کړي.

تبصره: په ډېروموارودوکې تولیدونکي هغه ثابته مالیه تادیه کوي چې پرعایداتوباندې دمالیاتو پر عوض د مالیاتوقانون په یوولسم فصل کې درج شوې ده. دیوولسم فصل داحکامودتطبیق په موخه د اجناسوپه ا رزښت چې معمولاًدمالیه ورکوونکې اوله هغهٔ پورې د اړوندو اشخاصو لخوا په مصرف رسیږي په هغوخالصوعوایدوکې شاملیږي چې دنوموړي نهاد د تاسیس له درکه ترلاسه کیږي.

| |
|---|
| د غیرمنقولو مالونو پر کرایې یا اجارې باندې مالیات<br>شپاړسمه ماده:<br>دغیر منقولو مالونو د کرایې یا اجارې له درکه عواید چې اساساً د سوداګرۍ یا صنعت او نورو اقتصادي فعالیتونو په منظور ترګتې اخستنې لاندې نیول کیږي، پرعایداتو باندې د مالیاتو تابع دي، د کرنیزو، باغي ځمکو او مواشي مالیه د خاص قانون تابع ده. |

۱.۱۲ له کرنیزو محصولاتو او فارمونو څخه د مالیاتو اخیستنه پرعایداتو د مالیاتو تابع نه ده. هغه عواید چې بزګران، د ځمکو خاوندان،رمه لرونکي او د څارویو لرونکي یې له کرنیزو حاصلاتو او فارمونو څخه ترلاسه کوي، پرعایداتو د مالیاتو تابع نه دي.

أ. لاندې بیلګې هغه عواید څرګندوي چې پرعایداتوباندې دمالیاتوقانون د (۱۲ ) مادې لمخې له هغو مالیاتوڅخه مستثنی دي چې پرعایداتو باندې وضع کیږي:

1. دیوه شخص لخوا د هغې غلې له پلور څخه لاسته راغلې پیسې چې دغه شخص په خپله تولید کړې وي او یایې په خپله ځمکه کې کرلې وي.
2. دهغې ځمکې دکرایې پیسې چې دغله جاتو،میوه جاتو اولرګیودتولید اویا دڅارویو دڅړ لپاره ورڅخه استفاده کیږي.
3. د وړیو،پوستکو،لبنیاتو،غوښو،ژوندیوڅارویواو د نورو هغو فارمي محصولاتو له پلور څخه لاسته راغلې پیسې چې دڅارویو دخاوند اویا د څارویو ساتونکي لخوا تر لاسه کوي.
4. هغه پیسې چې د څارویو خاوند یې د څاریو له عوایدو څخه د خپلې ونډې په توګه لاسته راوړي.

ب. لاندې بیلګې د هغوعوایدو په اړه دي چې پرعایداتوباندې د مالیاتوقانون لمخې له هغو مالیاتوڅخه معاف نه دي چې پرعایداتو باندې وضع کیږي:

1. هغه عواید چې حیواني او زراعتي محصولاتو له صنعتي او سودا ګریزې پروسې څخه لاسته راځي.
2. هغه عواید چې زراعتي او حیواني محصولاتوله سوداګرۍڅخه لاسته راځي.
3. د هغې ځمکې له کرایې څخه لاسته راغلي عواید چې د کرهڼیزوفعالیتونولپاره ورڅخه استفاده نه کیږي.

4. هغه عواید چې پر بزګرانو او د څارویو پر خاوندانو باندې د موادو، کیماوي سرې،تجهیزاتو او کیمیاوي درملو اونورو له پلورڅخه لاسته راځي ، سره له دې چې له پورتنیو موادو څخه د کرهنې اوڅارویو په تولید کې استفاده نه کیږي.

۱ بېلګه: نقیب الله یوه ټوټه کرهنیزه ځمکه لري چې غنم پرې کري. نقیب الله پر عزیز باندې خپل غنم پلوري. عزیز هغه څوک دې چې له نوروبزګرانو څخه غنم رانیسي او پرژرندو باندې یې پلوري. عزیز هغه غنم چې نقیب الله څخه یې ر انیولي وه پر وحید چې د کابل ښار یو ژرنده ګړی دې پلوري. وحید لومړی غنم اوړه کوي او بیایې د کابل ښار د اوړو پرسوداګرو باندې پلوري. په داسې حال کې چې عزیز، وحید او د اوړو پلورونکی د مالیاتو تابع دي ، نقیب الله د مالیاتو تابع نه دې.

۲ بېلګه: ادیب یوه ټوټه کرهنیزه ځمکه لري او په خپله ځمکه کې له تراکتورڅخه استفاده کوي. کله چې ادیب د تراکتور استفادې ته اړ نه وي نو خپل تراکتور نورو بزګرانو ته په کرایه ورکوي. هغه عواید چې ادیب یې دتراکتور له کرایې څخه ترلاسه کوي دمالیې تابع دي.

۲.۱۲ د ملموسو شتمنیو هغه خاوندان چې له شتمنیو څخه د سوداګریزو او صنعتي فعالیتونو او د نورو اقتصادي موخو لپاره کار اخلي او له دغې لیارې عواید لاسته راوړي، د کرایې او اجارې له درکه د نوموړو خاوندانو لاسته راغلي عواید پر عایداتو باندې د مالیاتو تابع دي.

۱ بېلګه: د سوداګریزو دوکانونو اوسرایونوخاوندان د هغوعوایدوله کبله چې د دغوشتمنیو دکرایې اویا اجارې څخه یې لاسته راوړي پرعایداتوباندې دمالیاتوتابع دي.

۲ بېلګه: د فابریکواوهغوځایونوخاوندان چې له فابریکو او دغو ځایونو څخه د صنعتي موخولپاره کار اخلي دهغو عوایدو له کبله چې له پورتنیو یاد شوو ځایونو له کرایې اویا اجارې څخه یې لاسته ر اوړي ،پرعایداتوباندې دمالیاتوتابع دي.

۳ بېلګه: ادیب یوه ټوټه کرهنیزه ځمکه لري او په خپله ځمکه کې له تراکتورڅخه استفاده کوي کله چې ادیب د تراکتور استفادې ته اړ نه وي نو خپل تراکتور قراردادیانو ته په کرایه ورکوي. قراردادیان له تراکتور څخه په یو نړ دې ښارکې د خښتو اوسمنټو د انتقال په موخه کار اخلي. سره له دې چې ادیب دکال په یوه برخه کې له تراکتورڅخه په خپله کرهنیزه ځمکه کې کاراخلي د تراکتور له کرایې څخه لاسته راغلي عواید پرعایداتوباندې دمالیاتو تابع دي.

له معاشونو اومزدوريو (دستمزدونو ) څخه د ماليې د وضع کولو مکلفيت
اوولسمه ماده:
(1) وزارتونه،اداري اونورې دولتي مؤسسې، تصدى، شرکتونه اوخيريه مؤسسې مکلف دي پرمعاشونواومزدوريوباندې ماليه ،دهغود اجراء په وخت کې وضع اود دولت حسا ب په يې وليږدوي.
(2) د دولتې کارکوونکودتقاعد حقوق پر عايداتوباندې دمالياتوتابع ندي.

۱.۱۷ د معاشونودموضوعي ماليې د احکامود تطبيق مراحل اوپروسې د ماليې وزارت په پنځم لارښود چې سرليک يې " پر معاشونو باندې موضوعي ماليه " دې او په عمومى طرزالعمل کې چې سرليک يې " معاشونه او اجورې په افغانستان کې " دې ، بيان شوي دي.
دمعلوماتو دغه دواړه سرچينې دماليې وزارت له انټرنټ پاڼې څخه ترلاسه کيداى شي.
(www.mof.gov.af/tax)

۲.۱۷ يواځې هغه تاديات د موضوعي مالياتو تابع دي چې کارکوونکوته ورکول کيږي. هغه تا ديات چې حقيقي اشخاصو " چې مستقل قراردادیان دي " صورت مومي د دغومالياتوتابع نه دي. خو نوموړې مستقل قراردادیان دکلنۍ ماليې په ورکړه باندې مکلف دي.

۳.۱۷ د ۱۷ او۴۲ مادې لمخې لاندې عوامل د دې په نظر کې نيول کيږي ترڅو معلومه شي چې آيا يوشخص " کارکوونکى " دې او که "يومستقل قراردادي ". نو د هغهٔ چا لپاره چې خدمات ترسره کيږي د "کارفرما " اوهغه شخص چې دتادياتو په بدل کې خدمات عرضه کوی د " خدماتودعرضه کوونکي "په نامه يادېږي.

أ. دا موضوع چې آيا کارفرما د کارکوونکي د کاري وخت او د هغهٔ دکارکولو شيوه کنټرولوي او که نه تر غور لاندې نيول کيږي.

تبصره: وړاندې ذکر شوې عوامل د يو شخص په تشخيص کې چې آيا نوموړى يو کارکوونکى دې او که يو مستقل قراردادي د ارزښت وړ دي.

أ. د يوه کارفرما لخوا د هغو اسبابو د چمتو کولو اندازه چې د د خدماتوعرضه کوونکى يې د دندې د ترسره کولولپاره ورڅخه استفاده وکړي.
ب. د کارفرما لخوا د خدماتو د عرضه کولو لپاره د يوه ځانګړې انفرادي شخص انتخابول.
ج. د تادياتو څرنګوالى ( د پيسوهغه ورکړه چې دساعتونو پر بنسټ ورکول کيږي د هغې ورکړې سره په مقايسه کې چې د دندې په پاى کې ورکول کيږي )،
د. ثابته ورکړه اويا هغه ورکړه چې دحوادثو له رامنځته کيدوپورې تړلې ده.
ه. په بازارکې ځانګړې معاملات _ يعنې آيا د دغه ډول خدماتوعرضه کوونکي د يو کارکوونکي په توګه ګڼل کيږي او که ديو مستقل قراردادي په توګه ؟ ، او

و. د خدماتوله عرضه کوونکي سره د کارفرما د برخورد څرنګوالی یعنې دا چې آیا د خدماتو نوموړی عرضه کوونکی دکارفرما لخوا د یوه کارکوونکي په توګه ګڼل کیږي او که نه باید ترغور او څیړنې لاندې ونیول شي.

۱ بېلګه: د مخابراتو وزارت د امواجو د لیږدونکي برج د نصبولو لپاره پنځه تنه انفرادي اشخاص په دنده ګمارلي دي. نوموړي اشخاص په میاشت کې ۲۰۵۰۰ افغانۍ ثابته اجوره ترلاسه کوي. دمخابراتووزارت لخوا دغواشخاصوته د لیږدونکو برجونود نصبولو په اړه لارښوونه کیږي. د کار د امنیت او حفاظت په اړه د مخابراتووزارت لخوا مفصل او ځانګړي قوانین اومقررات برابر کړل شوي دي.دنوموړو انفرادي اشخاصولپاره د نقلیه وسایطو اواسبابو چمتو کول دمخابراتووزارت دنده ده .نوموړي اشخاص دخپلو کاري اسبابو پېریدلو ته اړتیا نه لري ځکه د کار هرډول اسباب د مخابراتو وزارت لخوا برابریږي، ولې دغه اشخاص باید دکار یونیفورم په خپله ځانونو ته برابرکړي. د دغوحقایقوپه نظرکې نیولوسره دمخابراتووزارت دکارفرماپه توګه او دغه پنځه تنه انفرادي اشخاص دنوموړي وزارت دکارکوونکو په توګه ګڼل کیږي. د مخابراتو وزارت مکلف دې چې د دغو پنځو تنو له معاش څخه په هره میاشت کې ۹۵۰ افغانۍ موضوعي مالیه وضع کړي. ( ۲۰۵۰۰ -افغانۍ مالیه د ۴مې مادې په ۲مه فقره کې په درج شوي نورم کې وضع کیږي ).

د مجرایۍ وړ لګښتونه

اتلسمه ماده:

(1) د تولید د عادي او اړینو لګښتونو کسر او وضع، د حقیقي او حکمي اشخاصو د عوایدول لاسته راوړل او ساتنه په لاندې ډول مجاز او د مجرایې وړ دي، پدې شرط چې د مالي کال په ترڅ کې یې صورت موندلی وي یا د دې قانون د حکمونو لمخې د تیرو دریو کلونو په یوه پورې متعلق وي:

أ. دحمل اونقل دبیمې اوهغې ته دورته لګښت په شمول دتولیدي شیانویا دپلورنې او سوداګرۍ دلګښتونو تمامه شوې بیه.

ب. دسامانونو او لوازمو، احتراقیه موادو، برېښنا، اوبو، اونورو اړینو خدمتونو بیه چې د عایداتو دلاسته راوړلو لپاره یا په کار او سوداګرۍ کې ترګټې اخستنې لاندې نیول کیږي.

ج. هغه مزد، معاش، کمېشن او فیس چې دکارکوونکو د خدمتونو په وړاندې ورکول کیږي.

د. له کار او سوداګرۍ څخه رامنځته شوې ټکټ پولي.

ه. د مالونو او هغهٔ ملکیت چې په کار او سوداګرۍ کې اړین وي او تر ګټې اخستنې لاندې نیول کیږي، له درکه ورکړل شوې کرایه.

و. د مالونو او هغهٔ ملکیت چې په کار اوسوداګرۍ کې اړین وي اوتر ګټې اخستنې لاندې نیول کیږي، دترمیم، ساتنې او ځارنې لګښتونه.

ز. (دکرنیزوځمکوپه استثنې ')دمنقولواوغیرمنقولومالونواستهلاک چې په کاریا سوداګرۍ کې ترګټې اخستنې لاندې نیول شوي اویا دعایداتودتولید په منظوردمؤلدپه واک کې دي ،پرعایداتوباندې دمالیاتودتعلیماتنامې لمخې دمجرایې وړدی.

ح. په تعلیماتنامه کې د درج مودې په ترڅ کې د مالونو یا دملکیت داستهلاک دکسراتو ټول (مجموع)نه بنایې مالیه ورکوونکي ته دهغوله تمامې شوې بیې څخه زیات شي.

ط. هغه مالیه اومحصول چې په خپل ذات کې د کاراوسوداګرۍ لپاره لازمي لګښت یا دعایداتوپه منظوردمال اوملکیت دلرلولپاره لازمي لګښت اویا دعایداتود تولید لپاره لازمې لګښت وي.پدې شرط چې مالیه یې دمالي کال په موده کې ورکړل شوې وې اویا تړوله شوې وي.هغۀ مالیات چې د دې قانون دحکمونو لمخې وضع شوی دي اوهغه مالیات چې دکاراوسوداګرۍ دلازمي لګښتونوله جملې څخه ونه شمېر ل شي،دمجرایي وړندي،خوداچې پدې قانون کې بل ډول اټکل شوي وي.

ي. د دریوکلونو په ترڅ کې منقولو او غیر منقولو مالونو ته له حریق،زلزلې اونوروناڅاپي پیښوڅخه ورپیښ شوي زیانونه،پدې هکله مثبته سندوړاندې اودبیمې دمؤسسولخوا جبران شوي نه وي.

ک. پرعایداتوباندې دمالیاتودتعلیماتنامې لمخې په کاریا سوداګرۍ کې له نه ترلاسه کیدو وړ پورونو څخه رامنځته شوی زیان.

ل. د هغه حکمې شخصیت په واسطه چې دهېواد دنافذه قوانینو لمخې تاسیس شوی وي په پیسو باندې دورکړل شوې ونډې ګټه.

م. د کاریا سوداګرۍ نورلګښتونه اودعایداتودتولید په منظور دمنقولو اوغیر منقولو مالونو په واک کې دلرلو لګښتونه او په اړوندو تقنیني سندونو کې درج دعایداتو دتولید لګښتونه.

(2) په لاندې مواردو کې دلګښتونو لپاره هېڅ کسر ات مجاز ندي:

أ. د بلنواواعلانونولګښتونه چې په اقتصادي اوسوداګریزوفعالیتونوپورې اړوند نه وي.

ب. هغه حکمي اشخاص چې د دې قانون دحکمونولمخې دونډې له ګټې،تکتانې،حق الامتیاز،کرایې،کمېشن مزدورۍ (دستمزد )، معاشونواو ورته عوایدوڅخه دمالیاتوپه وضع کولومکلف دي ولې دهغو مالیه یې وضع کړې نه وي.

ج. په افغانستان کې دیوۀ نه خپلواک غیر =مېشت شخص پرنمایندګۍ باندې هرډول هغه خرڅونه چې غیر مېشت شخص یا ورسره کوم اړوند شخص ته ورکړل یاومنل شې.

۱.۱۸ د مالیې وړ عوایدو د تشخیص په موخه د عوایدو دتولید لګښت اوبیه له هغې ګټې او عوایدو څخه وضع کیږي چې له همدغه فعالیت څخه لاسته راغلي وي. د حقیقي او حکمي اشخاصو د مالیې وړ عوایدو د تعین په موخه پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون ( ۱۸ ) ماده د هغو معمولي او اړینو لګښتونو او قیمتونو لست وړاندې کوي چې له مجموعي عوایدو څخه د مجرایي وړ دي. هغه لګښتونه او قیمتونه چې پرعایداتو باندې د مالیاتو د تطبیق په موخه ترسره کیږي، د مجرایي وړ نه دي. نو له دې کبله د یو نهاد ګټه او خالص عواید د نوموړي نهاد د خاوند د اسنادو پر اساس کیدای شي له هغه څه نه چې د مالیاتو قانون لمخې تعینیږي، توپیر ولري. غیرمعمولي او غیرضروري لګښتونه او همدارنګه پر عایداتو باندې مالیات د مجرایي وړنه دي.

د هغو لګښتونو بېلګې چې د مجرايي وړ نه دي، په لاندې ډول دي:

أ. سوغاتونه،
ب. ناقانونه لګښتونه،
ج. مرستې،
د. پرعايداتو ماليات،
ه. په هغوذخايرو کې زياتوالی چې د قانون د حکم له مخې مجاز نه دي او يا د تجربو پربنسټ دپاملرنې وړنه دي (پرعايداتوباندې دمالياتوقانون د 19 مادې (2 ) فقرې 2 برخې ته مراجعه وکړئ)،
و. په هغوذخايرو کې زياتوالی چې د قانون د حکم له مخې مجاز دي او يا د تجربو پربنسټ دپاملرنې وړ دي ( پرعايداتوباندې د مالياتوقانون 56 مادې او د 19 مادې (2 ) فقرې 2 برخې ته مراجعه وکړئ) ،
ز. دهغو پېرودل شوو اجناسو مجموعي ارزښت چې د خاوندانواويا کارکوونکولخوا د خپلوشخصي اوياکورنيولپاره ورڅخه استفاده شوې ده اوتر دې دمه نه دي پلورل شوي،
ح. د هغو پيېرېدل شوؤ اجناسو مجموعي ارزښت چې پلورونکو اويا توليد کوونکي ته بېرته مستر د شوي وي، او
ط. خاوندانو او نورو لوړ پوړو اشخاصو ته د خدمت د ګټو د عرضه کولو هغه مجموعي ارزست چې د فعاليت د ترسره کولو لپاره ضروري نه دي.

۱ بېلګه: يوانفرادي شخص ديوې فابريکې خاوند دې. فابريکې له لاسته راغلوعوايدوڅخه نوموړي شخص ته يو موټر پېرودل کيږي چې په خپلو کورنيزو چارو کې ورڅخه استفاده وکړي.دنوموړي شخص دماليې وړعوايدو دتعيينولو په وخت کې دغه لګښت د مجرايي وړ نه دي.

۲ بېلګه: د نقليه وسايطويوپلورونکی ۱۰عرادې نقليه وسايط چې د يوې واسطې بيه ۱۲۰۰۰۰ افغانۍ ده په دې نيت پيرې چې بيرته يې وپلوري. نوموړی شخص دوه عرادې موټر دخپلې کورنۍ لپاره له ځان سره ساتي او اته نور يې پلوري ( في عراده په ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ ).

| | | |
|---|---|---|
| أ. | دپلورله درکه لاسته راغلي عوايد ( ۸ ×۲۰۰۰۰۰افغانۍ ) | ۱۶۰۰۰۰۰افغانۍ |
| ب. | د اجناسو مجموعي بيه (۱۰×۱۲۰۰۰۰ افغانۍ) | ۱۲۰۰۰۰۰افغانۍ |
| ج. | ناخالصه ګټه | صفر |

په داسې حال کې چې سم او صحيح اظهار ليک په لاندې ډول دی:

| | | |
|---|---|---|
| أ. | دپلورله درکه لاسته راغلي عوايد ( ۸×۲۰۰۰۰۰افغانۍ ) | ۱۶۰۰۰۰۰افغانۍ |
| ب. | د اجناسومجموعي قيمت منفي د هغودوه موټرو قيمت چې د شخصي ګټو لپاره ورڅخه استفاده کوي (۸×۱۶۰۰۰۰افغانۍ) | ۱۲۸۰۰۰۰افغانۍ |
| ج. | ناخالصه ګټه | ۳۲۰۰۰۰ افغانۍ |

۲.۱۸ هغه ټکټانه چې د سوداګریزو پورونو او د اجارې د هغې ټکټانې له درکه چې مستاجر یې ورکوي، د مجرايي وړ ده، مګر هغه ټکټانه چې د شخصي پورونو له درکه ورکړشوې ده د مجرايي وړ نه ده. شخصي پورهغه دی چې د شخصي استفادې لپاره د اجناسو د پیرودنې، د خدماتو د عرضه کولو او یا شتمنیو لپاره ترلاسه کیږي. له بله پلوه سوداګریز پور هغه پور دی چې د ځمکې، کورونو، وسایلو د پیرودنې، د اجناسو د اجارې، دوباره پلور، د اجارې له درکه یا د مالي اجارې د ترتیباتو سره سم، د اجناسو او خدماتو د تولید او نورو سوداګریزو اهدافو لپاره ترلاسه کیږي.

بېلګه: عزیز له خپل ورور وحید څخه دکمپیوټر دپیرېدنې لپاره یو مقدار پیسې پوروي . وحید له خپل ورور عزیزڅخه د دغه پور له درکه په کال کې ۲٪ ټکټانه غواړي. عزیز دهغې ټکټانې مجرایي نه شي ترلاسه کولای چې وحید ته یې ورکوي.

۳.۱۸ که چېرې یو مالیه ورکوونکی دیوې شتمنې له درکه دخسارې جبران اویا داستهلاک لګښتونه په څرګند ډول نه وي ټاکلي ، نو د استهلاک اصلي لګښتونه او د خسارې اصلي جبران د مجرايي وړ نه دي. هره هغه بیه چې د استهلاک دلګښتونو د ترلاسه کولو لپاره وټاکل شي، نو په مالیه ورکوونکي باندې دهماغې شتمنې دپلورله درکه د ګټې ټاکل جبري اولازمي دې.

۱ مثال: ادیب د خپلو سوداګریزو فعالیتونو د ترسره کولو په موخه درې کاله وړاندې یو موټرسایکل رانیولی وه. ادیب دپیریدنې رسید له ځان سره نه دي ساتلی. اوس مهال ادیب خپل موټرسایکل د۳۰۰۰۰ افغانیوپه بیه پلوري اود موټرسایکل دقیمت د معلوملولپاره هیڅ اسناد نه لري. ادیب باید د موټرسایکل دپلورله درکه ۳۰۰۰۰ افغانۍ لاسته راغلې ګټه وښیې.

۲ بېلګه: ادیب دخپلو سوداګریزوفعالیتونو د تر سره کولو لپاره درې کاله وړاندې یوموټرسایکل رانیولی وه او دپیریدنې رسید یې له ځان سره نه دې ساتلی. اوس مهال ادیب خپل موټرسایکل د۳۰۰۰۰ افغانیوپه بیه پلوري.ادیب کولای شي ثابته کړي چې دغه ډول موټرسایکلونه معمولاً ۵۰۰۰۰ افغانۍ ارزښت لري او پر دغه بیه پلورل کیږي. هغه شخص چې پرادیب باندې یې دغه موټرسایکل پلورلی دې د ادیب دغه خبره تصدیقوي. ادیب کولای شي چې ۲۰۰۰۰ افغانۍ مجرایي ترلاسه کړي.

۴.۱۸ که چېرې د یوه کور خاوند دخپل کور تمام شوی قیمت اواستهلاک ونه شي ټاکلی، نو د مالیې وزارت له مجرایي نه د مخه دکوم مبلغ په اړه معلومات نه لري. که چېرې دکور خاوند داستهلاک په اړه معتبر اسناد وړاندې کړي ، نو کیدای شي چې دنوموړو لګښتونو مجرایي په نظرکې ونیول شي.

۵.۱۸ أ. د اجارې یو تړون:

1. د اجارې موده دې له ۱۲ میاشتنۍ دورې څخه زیاته وي،
2. د مستاجر لخوا دې یاده شتمني د اقتصادي فعالیت لپاره وکارول شي،
3. د رامنځته شوو تاوانونو پېښېدل او له شتمنۍ څخه ترلاسه شوې ګټه مستاجر ته لېږدول کیږي، په داسې حال کې چې د تر اجارې لاندې د شتمنۍ ملکیت د اجارې د مودې په پای کې مستاجر ته انتقالیږي،

4. د اجارې تړون مستاجر ته حق ورکوي چې د اجارې له مودې مخکې یا په همدې موده کې په ټاکل شوې بیه شتمني وپېري،
5. د اجارې د قرارداد موده د اجاره شوې شتمنۍ د ۸۰٪ ګټور ژوند موده نه کمېل کیږي،
6. د اجارې د قرارداد د متوقع تادیاتو اوسنی ارزښت چې د کمښت په مناسبې بیې سره ټاکل شوی، د اجارې د قرارداد د عقدولو د نېټې پرمهال د شتمنۍ له ۹۰٪ ارزښت څخه زیات وي، او
7. د اجاره شوې شتمنۍ پاتې بیه په روښانه توګه یاده شوې او د هغه مبلغ په اړه هېڅ ابهام وجود نه لري چې د اجارې د مودې په پای کې باید مالک ته د شتمنۍ د پېرودلو لپاره ورکړل شي،

ب. د شتمنۍ منصفانه ارزښت چې د اضافي ګټې سربېره د مالک لپاره بیه هم په برکې نیسي، د اجارې په تړون کې یادیږي او شتمنۍ او مکلفیتونه د مستاجر په بېلانس کې ذکر کیږي،
ج. د مالي اجارې په تعریفاتو کې کارول شوي اصطلاحات په لاندې توګه تعریفیږي:

1. د اجارې موده: هغه موده ده چې اجاره شوې شتمني د مستاجر تر ملکیت او استفادې لاندې وي،
2. د ګټې وړ دوره: د مالي اجارې په برخه کې دغه اصطلاح د شتمنۍ د اغېزمن ژوند په مانا ده چې لکه څنګه چې پر عایداتو د مالیاتو په تعلیماتنامه کې د استهلاک په نورمونو کې یاده شوې ده، او
3. پاتې ارزښت: د مالي اجارې په برخه کې دغه اصطلاح د شتمنۍ د دفتري خالص ارزښت په مانا دی چې پر عایداتو د مالیاتو په قانون کې د استهلاک له نورمونو سره سم د اجارې په تړون کې یاد شوی دی.

د. مستاجر په مالي اجاره کې کولای شي د ۱۳ مې مادې په ۲ بند کې د درج شوو اصولو سره سم د اجاره شوې شتمنۍ د استهلاک ارزښت کسر کړي. مستاجر مکلف دی چې هره تادیه په خپله اصلي برخه (کوم چې د مجرایۍ وړ نه دی) او د ټکټانې په برخه کې ووېشي (کوم چې د مجرایۍ وړ دی).

بېلګه: د اجارې د یوه تړون لمخې، وحید عزیز ته یو څه وسایل په کرایه ورکوي. د دغې اجارې په موده کې، عزیز **۵** مبلغه چې هر مبلغ ۲۰۰۰۰ افغانۍ کیږي او هر مبلغ هر کال د ورې په لومړیو کې یانې د اجارې په لومړۍ ورځ ( د تصاعدي یا پرمختایي پور نورم ۱۰٪ دی) تادیه کوي. د دغو وسایلو څخه د استفادې موده ۱۰ کاله او د قرارداد موده **۵** کاله ده. د یادو وسایلو د مالکیت قانوني حق د اجارې د مودې په پای کې له وحیده عزیز ته لېږدول کیږي.

په لومړي پړاو کې دا جوته کیږي چې آیا دغه د اجارې تړون یوه معمولي اجاره ده که مالي اجاره. د یادې اجارې تړون د مالي اجارې لاندې شرایط په برکې لري:

أ. د اجاره شوو وسایلو د مالکیت قانوني حق د مالي اجارې په ترڅ کې او د مودې په پای کې،
ب. مالي مال الاجارې د اجارې د قرارداد په پای کې عزیز (موجر) ته ولېږدول شول،

ج. یاد وسایل د سوداګریزې استفادې لپاره ګڼل کیږي، او
د. اجارې د قرارداد د متوقع تادیاتو اوسنی ارزښت چې ۱۰۰٪ دی، د اجارې د قرارداد د عقدولو پرمهال د یادو و سایلو له ۹۰٪ ارزښت څخه باید زیات وي.

له دې کبله، د یادې اجارې دغه تړون د مالي اجارې تړون بلل کیږي. په همدې توګه، وحید باید یاده معامله د پور د تشبث په توګه په پام کې ونیسي او ټکتانه دې د عوایدو په توګه ثبت کړي. د ۱۳مې مادې د ۳ بند ته په پام سره، د ترلاسه شوو عوایدو د تشخیص لپاره، یاد تادیات په لاندې توګه کسر کیږي:

| کال | ورکړې | ټکتانه | اصلي مبلغ | بېلانس |
|---|---|---|---|---|
| ۱ کال | ۲۰۰۰۰ | ۲۰۰۰۰ | ۲۳۳۹۸ | |
| ۲ کال | ۲۰۰۰۰ | ۲۳۴۰ | ۱۳۶۶۰ | ۴۹۳۹۸ |
| ۳ کال | ۲۰۰۰۰ | ۴۹۷۴ | ۱۵۰۲۶ | ۳۴۷۱۲ |
| ۴ کال | ۲۰۰۰۰ | ۳۴۷۱ | ۱۶۵۲۹ | ۱۸۱۸۳ |
| ۵ کال | ۲۰۰۰۰ | ۱۸۱۸ | ۱۸۱۸۳ | - |
| مجموع: | ۱۰۰۰۰۰ | ۱۶۶۰۲ | | ۸۳۱۸۳ |

په هغه صورت کې چې وحید د ۸۰۰۰۰ افغانیو په ارزښت وسایل ولري او په لومړي کال کې د ۱۳۱۸۳ افغانیو ګټه وښیي، سربېره پر دې، وحید باید ټکتانه لکه څنګه چې په پورته جدول کې ښودل شوې ده جوته کړي او د هغه مبلغ تادیات چې هر کالې تادیه کیږي، باید په غاړه واخلي.

له بلې خوا، عزیز خپله شتمني د حسابونو په دفتر کې ثبتوي او دغه شتمني د شتمنۍ د قانوني مالکیت د استهلاک له پالیسۍ سره سم کسروي.

۲.۱۸ کله چې د استهلاک وړ کاري شتمنۍ ارزښت د اسنادو له مخې ثابت کړل شي، د استهلاک هغه لګښت چې کیدای شي په هر کال کې د مجرایي وړ وي د لاندې احکامو تابع دي:

الف. ټولې اداري او نهادونه مکلف دي چې د خپلو تعمیرونو، ماشینونو او نورو وسایلو لپاره د استهلاک د غوښتنې په وخت کې لاندې فیصدي او معیارونه په نظر کې ونیسي:

أ. فیصدۍ د تمام شوي قیمت له مخې سنجول کیږي.
ب. فیصدې او معیارونه د کانو او صنایع وزارت په مشورې سره د مالیې وزارت لخوا په یوه مناسب وخت کې ټاکل کیږي او په اړه یې نهادونو او ادارو ته خبرورکول کیږي.
ج. کلنی استهلاک د مجرایي وړ دې. که چېرې یو مالیه ورکونکی د استهلاک څرګند مبلغ وضع نه شي کړای او یا هم له هغه څخه د لږ مبلغ په وضع کولو باندې و نه توانیږي، نوموړی شخص نه شي کولای چې له پامه لوید لی او یا هغه مبلغ چې نه دې څرګند شوی په راتلونکي کال کې وضع کړي.

| شمېره | د شتمني ډول | د شتمنۍ د استفادې موده د کال لمخې | په هر کال کې د مجرايي وړ فيصدي |
|---|---|---|---|
| 1. | هغه تعمير چې له خښتو او تيږو څخه جوړشوی وي | ۵۰ | ۲ |
| 2. | هغه تعمير چې له خامو خښتو څخه جوړشوی وي | ۲۰ | ۵ |
| 3. | هغه تعمير چې له لرګيو څخه جوړ شوی وی | ۱۰ | ۱۰ |
| 4. | هغه ماشينونه او وسايل چې په لاندې برخو کې نه وي مشخص شوي | ۱۰ | ۱۰ |
| 5. | دکانونو د رايستلو وسايل | ۶.۶ | ۱۵ |
| 6. | اسباب | ۴ | ۲۵ |
| 7. | دچاپ ماشينونه | ۲ | ۵۰ |
| 8. | د لاسي صنايعو کارخانه | ۳ | ۳۳ |
| 9. | د اوسپنې دويلې کولو فابريکه | ۱۰ | ۱۰ |
| 10. | غالۍ | ۱۰ | ۱۰ |
| 11. | قالينچې او هر ډول فرشونه | ۴ | ۲۵ |
| 12. | کوچ، څوکۍ او آرام څوکۍ | ۴ | ۲۵ |
| 13. | د کار ميز، ميزاو الماري | ۱۰ | ۱۰ |
| 14. | د دفتروسايل( دحساب ماشين، دټايپ ماشين ) | ۶۶ | ۱۵ |
| 15. | بايسکل | ۵ | ۲۰ |
| 16. | باروړونکي نقليه وسايط | ۲ | ۵۰ |
| 17. | تيز چلانده نقليه وسايط | ۴ | ۲۵ |
| 18. | ټاير او ټيوب | ۲ | ۵۰ |
| 19. | بکس | ۲ | ۵۰ |
| 20. | له ناخالصې اوسپنې څخه جوړه شوې بخارۍ او پيپ | ۱۰ | ۱۰ |
| 21. | اوسپنيزه بخارۍ | ۲ | ۵۰ |
| 22. | ګاډۍ، حيواني اولاسي کراچۍ | ۳ | ۳۳ |
| 23. | ساختماني ماشينونه، رولراومکسر | ۵ | ۲۰ |
| 24. | کمپيوټر او اړوند وسايل يې | ۳ | ۳۳ |
| 25. | تلويزيون ، راډيو او ګرځنده ټيلفون | ۳ | ۳۳ |
| 26. | مخابراتي وسايل / پايې | ۷ | ۱۴ |

منقوله او غير منقوله شتمني پرته له کرنيزې زمکې څخه چې د يوه شخص لخوا د عايدو د توليد لپاره په سوداګرۍ او تشبث کې کارول کيږي، بيه يې بايد پر عايداتو د مالياتو د قانون د تعليماتنامې سره سم او د پورتنيو فيصديو لمخې مجرايي ورکړل شي. البته په دې شرط چې مجرايي د استهلاکي اموالو له تمامې شوې بيې څخه زياته نه وي.

۷.۱۸ استهلاک د شتمنۍ د بیې لپاره تر هغه حده پورې نه دی مجاز چې کوم پورې د شتمنۍ تادیه ۷۲مې مادې د حکمونو سره سم د موضوعي مالیې تابع نه ده او د دولت بانکي حساب ته هم نه ده ورکړل شوې.

بېلګه: د عادل مخابراتي شرکت د بهان له شرکت سره د مخابراتي برج د رغولو په موخه د ۱۰۰۰۰۰ افغانیو په بیه یو داسې تړون ترسره کوي چې په دوو برخو یا قسطونو کې ورکول کیږي. کله چې د برج د رغولو چارې بشپړې شي، مخابراتي شرکت دا حق لري چې د برج له بیې څخه د استهلاک غوښتنه د داسې شتمنۍ په توګه چې په خپلو فعالیتونو کې ورڅخه ګټه اخلي، مطرح کړي.

کله چې د عادل مخابراتي شرکت لومړۍ ۵۰۰۰۰ افغانۍ ورکوي، د بهان شرکت د عادل له شرکته دا غوښتنه کوي چې مالیه ترې وضع نه کړي دا ځکه چې د بهان شرکت وایي چې دغه مالیه یې په خپلو لګښتونو کې نه وه محاسبه کړې. مخابراتي شرکت یاد مبلغ ورکوي او له هغه نه هېڅ مالیه نه وضع کوي. کله چې د عادل مخابراتي شرکت دویم قسط (۵۰۰۰۰) هم ورکوي، د ۷۲مې مادې له مخې د ۱۰۰۰۰ افغانیو مالیه له هغه نه وضع کوي او د دولت بانکي حساب ته یې ورسپاري. د عادل مخابراتي شرکت د مخابراتي برج د استهلاک د غوښتنې مستحق یوازې د ۵۰۰۰۰ افغانیو د بیې پر اساس کېدای شي.

۸.۱۸ مزدونه او معاشات په هغو اقلامو کې شاملیږي لکه دایمي ورکړې، بخششیانې، اضافه کارې، په معاشاتو کې زیاتوالی او نور امتیازات چې د استخداموونکي لخوا په تغدي توګه یا په نورو بڼو ورکول کیږي.

بېلګه: د یوه شرکت یو کارکونکی په میاشت کې ۲۰۰۰۰ افغانۍ معاش ترلاسه کوي. نوموړی کارکونکی د لیندۍ په میاشت کې ترفیع کوي او معاش یې ۲۴۰۰۰ افغانیو ته لوړیږي. په معاش کې دغه تغیر د تلې له لومړۍ نېټې څخه د تطبیق وړ دی. نوموړی شرکت د کال په پای کې خپل هر کارکونکي ته د هغهٔ د معاش ۵٪ د بخششۍ په توګه ورکوي. نوموړی شرکت مکلف دی چې د کارکونکو د معاشونو په راپورکې ټولې تادیه شوې پیسې وښیي او همدارنګه کارکونکي باید دغه ګټې پر عایداتو د مالیاتو په اظهارلیکونو کې په لاندې ډول درج کړي:

| | | |
|---|---|---|
| أ. | د لومړیو شپږو میاشتو معاش (۶×۲۰۰۰۰ افغانۍ) | ۱۲۰۰۰۰افغانۍ |
| ب. | د وروستیو شپږو میاشتو معاش (۶× ۲۴۰۰۰ افغانۍ) | ۱۴۴۰۰۰ افغانۍ |
| ج. | د دولسو میاشتو مجموعي معاش | ۲۶۴۰۰۰ افغانۍ |
| د. | د کال په پای کې ۵٪ کلنې معاش (۵٪ ۲۶۴۰۰۰ افغانیو) | ۱۳۲۰۰ افغانۍ |
| ه. | د شرکت لخوا مجموعي ورکړل شوی معاش | ۲۷۷۲۰۰افغانۍ |

یاد شرکت د ورکړل شوي معاش د مقدار له درکه د مجرایۍ د غوښتنې مستحق ګڼل کیږي.

۹.۱۸ د یوه کارفرما لخوا د هغهٔ د کارکونکي د شخصي عایداتو له درکه د مالیاتو تادیه د نوموړي کارکونکي د اضافي معاش او اجورې په توګه ګڼل کیږي او د مالیې تابع دي.

۱۰.۱۸ پر کرایه شوو جایدادونو باندې د ښاروالۍ مالیه (د اماکنو ټکس) د نوموړو جایدادونو له لاسته راغلو عوایدو څخه د مجرایۍ وړ دي.

بېلګه: هغه مستاجر چې يو سوداګريز جايداد يې د ۲۴۰۰۰۰ افغانيو کلنۍ کرايې په بدل کې کرايه کړی دې ۲۰۰۰۰ افغانۍ د ښاروالۍ د ماليې په توګه تاديه کوي. نوموړې ماليه د کرايې له عوايدو څخه د مجرايي وړ ده. که چيرې د استهلاک لګښت ۲۰۰۰۰ افغانۍ او د بيا رغاونې لګښت ۴۰۰۰ افغانۍ وي او د مجرايي وړ نور لګښتونه پر غاړه نه وي اخيستل شوي، له نوموړې جايداد څخه لاسته راغلي خالص عوايد په لاندې ډول محاسبه کيږي:

| | | |
|---|---|---|
| أ. | مجموعي کرايه | ۲۴۰۰۰۰ افغانۍ |
| ب. | د ښاروالۍ ماليه | ۲۰۰۰۰ افغانۍ |

استهلاک او ترميمول (د ۱۸ مادې ۴ فقرې ته مراجعه وکړی ) ۲۴۰۰۰ افغانۍ - ۴۴۰۰۰ افغانۍ
خالص عوايد ۱۹۶۰۰۰ افغانۍ

۱۱.۱۸ د خالصو عوايدو د محاسبې په وخت کې پر خالصو عايداتو باندې ماليات د مجرايي وړ نه دي.

بېلګه: يو سهامي شرکت د مالي کال په اوږدو کې ۸۰۰۰۰ افغانۍ خالص عوايد ترلاسه کوي. نوموړي شرکت د تيرکال پر عايداتو باندې د ماليې له درکه ۱۲۰۰۰۰ افغانۍ تاديه کړي دي. نوموړی مبلغ او د روان کال پر عايداتو باندې ماليات له پورته ياد مبلغ څخه چې ۱۲۰۰۰ افغانۍ کيږي، د مجرايي وړنه دي.

۱۲.۱۸ يو کارفرما کولای شي د هغو غيرنغدي امتيازونو لپاره مجرايي ترلاسه کړي چې خپلو کارکونکو ته يې برابر کړي دي البته په دې شرط چې د دغو امتيازونو برابرول مستقيماً د کارفرما له سوداګريز فعاليت سره تړاو ولري.

بېلګه: يو ساختماني شرکت ښار ته څېرمه د يوه بند په جوړلو بوخت دی او له ښار نه د کار تر ساحې پورې خپلو کارکونکو ته هره ورځ د ترانسپورټ اسانتياوې برابروي. د نوموړي فعاليت لپاره دغه يو مشروع لګښت دی او شرکت کولای شي چې د دغه ډول ترانسپورتي خدماتو په بدل کې مجرايي ترلاسه کړي.

تبصره: که چيرې ځينې کارکونکي د خپلو شخصي موټرونه په استفادې سره د کارساحې ته تګ او راتګ وکړي، نوموړي اشخاص نه شي کولای چې د مالياتي اظهارليکونو د ارايه کولو په وخت کې له خپلو مجموعي عوايدو څخه د تګ او راتګ د لګښت مجرايي واخلي.

۱۳.۱۸ د اور لګيدو، طوفاني باد، زلزلې، خسارې او يا د هر ډول مصبيت له کبله په هغه شتمني کې رامنځ ته شوی ضرر چې د عوايدو د توليد، لاسته راوړنې او ساتنې لپاره ورڅخه کار اخستل کيږي هغهٔ وخت د مجرايي وړ ګڼل کيدای شي چې د بيمې لخوا نه وي جبران شوی. د دغه ډول مجرايي د غوښتنې په موخه د شتمني خاوند بايد هغه اسناد له ځان سره ولري چې د تخريب شوې شتمني قيمت او ارزښت ثابت کړي. د ضرر د رېيم ه برخه په روان کال او پاتې برخې يې په وروستيو دوه کالو کې د مجرايي وړ دي.

۱۴.۱۸ د عوايدو د توليد، لاسته راوړنې او ساتنې لپاره د شتمنې د بيمې د حق پيرودنه د نوموړي فعاليت لپاره قانوني لګښت دی او په بشپړه توګه د مجرايي وړدي. د له منځه تللې يا تخريب شوې شتمني په بدل کې د بيمې له شرکت څخه لاسته راغلی مبلغ په هغهٔ صورت کې د ماليې وړ نه ګڼل کيږي چې د نوموړې شتمني له

بیې او ارزښت څخه لوړنه وي. که چېرې بیرته ورکړل شوی مبلغ د تخریب شوې شتمنې له بیې او ارزښت څخه لوړ وي، د شتمنې خاوند مکلف دی چې لاسته راغلی اضافي مبلغ د عوایدو په توګه په راپور کې شامل کړي.

بېلګه: یو انفرادي شخص د موټرو دکمېشن کار په توګه په کابل کې کارکوي. د نوموړي شخص دوه عرادې موټر چې په پارکنګ کې توقف شوي دي د یو سخت طوفان له کبله زیانمن شوي دي .په دغو موټروکې یوه عراده ټوټیا او بل یوه عراده بنز شامل دي.ټول موټرونه بیمه شوي دي.نوموړی انفرادي شخص بنز په ۱۰۰۰۰۰افغانۍ او ټوټیا یې په ۸۰۰۰۰ افغانۍ پیرېدلي ده. نوموړی دبیمې له شرکت څخه درسیدلي زیان دجبران غوښتنه کوي او د بنز د زیان د جبران لپاره ۷۰۰۰۰ افغانۍ او د ټوټیاد زیان د جبران لپاره ۸۵۰۰۰ افغانۍ ترلاسه کوي.نوموړي شخص د بنز له کبله ۳۰۰۰۰ افغانۍ تاوان او دټوټیا له درکه ۵۰۰۰ افغانۍ ګټه ترلاسه کوي. دغهٔ انفرادي شخص ته ۳۰۰۰۰ افغانۍ رسیدلی تاوان په درې کلنوکې دجبران وړدي چې له جملې څخه یې ۱۰۰۰۰ افغانۍ په روان کال او۲۰۰۰۰ افغانۍ یې په راتلونکودوه کلنوکې (دکال ۱۰۰۰۰ افغانۍ ) مجرایي ورکول کیږي.

۱۵.۱۸ یو مالیه ورکونکی هغه وخت په یوه مالي کال کې د نا ترلاسه شوو پورنو لپاره د مجرایي مستحق ګڼل کیږي چې لاندې شرایط ولري:

أ. که چیرې د پور مبلغ له وړاندې نه دمالیه ورکونکي په مالیې وړ عوایدو کې شامل شوی وي،
ب. که چیرې په مالي کال کې د مالیه ورکونکي له حساب څخه پور له منځه تللی وي، او
ج. که چېرې مالیه ورکونکی د پور د بیرته نه ترلاسه کیدو په اړه باوري دلایل.

پورتني شرایط پرهغه بانک باندې چې دمالیاتو قانون د **۵۲** مادې د حکم پر اساس د ضرر په مقابل کې په زیرمو کې د زیاتوالی له کبله د مجرایي مستحق دې ، نه تطبیقیږي.

بېلګه: د احمد داعلانونو شرکت ورځپاڼواو راډیوګانوته داعلانونوخدمات عرضه کوي.نوموړی شرکت دشیراز رستورانټ سره په داسې ډول قرارداد کړی دی چې په هره میاشت کې به د رستورانټ اعلانونه په ورځپاڼواو راډیوګانوکې خپروي او د شیراز رستورانټ ته د۵۰۰۰ افغانیودلګښت یو سند استوي چې رستورانټ دغه مبلغ تادیه کړي. نوموړی رستورانټ په یوه میاشت کې خپلې پیسې نه تادیه کوي او په بدل کې داعلانونو یادشوی شرکت نوموړی ترتیب ( قرارداد ) لغوه کوي. داحمد داعلانونو شرکت دخپلوعوایدودمحاسبه کولو لپاره مکلف دی چې دمحاسبې له وروستۍ طریقې څخه استفاده وکړي ، داعلانونوخدمات یې هم له وړاندې څخه عرضه کړي دي او هغهٔ ۵۰۰۰ افغانۍ یې هم د مخه په خپلوعوایدوکې شاملې کړې دي. نوموړی شرکت د پیسود ترلاسه کولو لپاره هڅه کوي د دې مقصد لپاره له شیراز رستوراټ سره د ټیلفون او همدارنګه د لیک له لیارې تماسونه نیولي خو هیڅ کوم مقدار پیسې یې لاسته نه دي راوړي . دشیرازرستورانټ په تدریج سره خپلو فعالیتونوته د پای ټکی ږدي.

داحمد داعلانونوشرکت دنوموړي نه ترلاسه کیدونکي پور لپاره معقول دلایل لري او دغه مبلغ دنه ترلاسه کیدونکي پورپه توګه ګڼې . شرکت د دغه نه ترلاسه کیدونکي مبلغ لپاره پرعایداتوباندې دمالیاتو دمجرایي غوښتنه کوي.

تبصره: که چیرې یو مبلغ د نه ترلاسه کیدونکي پور په توګه حذف کړل شي، اما پوروړي په راتلونکې کې دحذف شوي مبلغ یوه برخه اویابشپړ مبلغ تادیه کوي، په دغه صورت کې تادیه شوی مبلغ دعوایدوپه توګه محاسبه کیږي.

۱۲.۱۸ د هغو تادیاتو لپاره هېڅ ډول مجرایي مجازه نه ده چې د قانون لمخې د مالیې د وضع کېدول لپاره تابع نه وي. مالیه باید د ونډې د ګټې، ټکټاني، حق الامتیاز، اجارې، کمېشن، حق الازحمې، معاشاتو او د ورته عوایدو د تادیاتو له درکه وضع کیږي. دغه راز، مالیه باید له هغو تادیاتو څخه وضع شي چې د **۷۲**مې مادې لمخې قراردادي ته ورکول کیږي. په داسې حال کې چې مالیه له هغو تادیاتو څخه چې قراردادي ته ورکول کیږي، وضع نه شي، تادیه کوونکی شخص د ورکړل شوي مبلغ له درکه د مالیې په کسر کې نه شاملیږي.

بېلګه: د فېروز کوه ودانیز او سړک جوړولو شرکت د دې لپاره چې د هندوش له سوداګریز شرکته کرېږ او سیمټ وپېري له نوموړي شرکت سره د **۵۰۰۰۰۰** افغانیو په ارزښت یو تړون ترسره کوي. د یاد تړون لمخې، دغه مبلغ باید په دوو برخو یا قسطونو کې یانې **۲۵۰۰۰۰** افغانۍ ورکړل شي. د فېروز کوه ودانیز او سړک جوړولو شرکت د دغه مبلغ لومړنۍ برخه یاد شرکت ته ورکوي او لکه څنګه چې د هندوکش شرکت د کار جواز لري، د فېروز کوه ودانیز او سړک جوړولو شرکت **۵۰۰۰۰** افغانۍ مالیه له یاد مبلغه وضع کوي. وضع شوې مالیه د دولت بانکي حساب ته لیږدول کیږي. کله چې د فېروز کوه ودانیز او سړک جوړولو شرکت دویمه برخه ورکوي، د هندوکش سوداګریز شرکت د فېروز کوه له شرکته غوښتنه کوي چې په دویمه برخه کې پر یاد مبلغ مالیه وضع نه کړي دا ځکه چې د هندوکش شرکت د نغدو پیسو له ستونزو سره لاس او ګرېوان دی. له دې کبله، د فېروز کوه ودانیز او سړک جوړولو شرکت ټول مبلغ چې **۲۵۰۰۰۰** افغانۍ کیږي، د هندوکش شرکت ته ورکوي او هېڅ مالیه پرې نه وضع کوي. د فېروز کوه ودانیز او سړک جوړولو شرکت کولای شي د هغو عوایدو پر وړاندې د مجرایۍ ادعا وکړي چې د لومړۍ برخې (**۲۵۰۰۰۰** افغانۍ) څخه دي مګر د دویمې برخې یا قسط له مبلغ څخه دغه شان ادعا نه شي کولی.

**دنه مجرايي وړلګښتونه**
**نولسمه ماده:**

(1) دلاندې اقلامو په شمول د شخصي لګښتونو کسرا و وضع چې غیرمجاز دي،د مجرایي وړ ندي:

1. هغه ورکړې(تادیات)چې دمالیه ورکوونکي یا یې دفامیل دګټې اوخوښې په غرض اشخاصو ته صورت مومي.
2. دمالیه ورکوونکي یا یې د فامیل د حویلۍ یا د اوسیدو د ځای د ساتنې او څارنې، ترمیمولو، تعمیر، د مخرڅلاو و د اصلاح لګښتونه او نور لګښتونه یا هر مال او ملکیت چې د مالیه ورکوونکي یا یې دفامیل ګټې اخستنې ته مختص وي،
3. پرشخص دیونوبانې ټکټ پولې،
4. دکارځای ته د تلو را تلو لګښتونه او د شخصي مقصدونو لپاره لګښتونه،
5. د ژوند،ټکر (تصادم)او روغتیا دبیمې او د مالیه ورکوونکي اود هغهٔ دفامیل دمصؤنیت په منظور، د نورو د ادعا پرخلاف دبیمې لګښت، او
6. دهغومالونواوملکیت چې په شخصي مقصدونوترګټې اخستې لاندې نیول کیږي د ساتنې په غرض دهرډول بیمې لګښت.

(2) په لاندې مواردو کې دلګښتونو کسرا و وضع هم غیرمجازدي،دمجرایي وړ ندي:

1. دځمکې، ودانیو او دوامدارو شیانو (ماشین، تجهیزات، ثابتې اثاثیې، مفروشاتو ) د الحاقیې یا په هغې کې داصلاحاتو د تمام شوي(لګښت) تمامه شوي بیه، د دې قانون د اتلسمې مادې د (۱)فقرې په (۷)جزء کې درج لګښتونه او په دریم فصل کې درج حکمونه لدې امر څخه مستثنی دي،
2. احتیاطي زیرمې ته زیاتوالی ورکول، دنه ترلاسه کیدو وړ پورونو او هغوته ورته په مقصد زیرمه،
3. دغیرمېشتو اشخاصو لخوا چې دافغانستان له کورنیو سرچینو څخه عواید ترلاسه کوي، او
4. بهرنیو دولتونو ته ورکړل شوي مالیات،خو دا چې پدې هکله ژمنلیک موجود وي.

۱.۱۹ هغه لګښت چې د ۱۹ مادې په (۱) برخه کې موجود دي د ممکنه شک در فع کولو په موخه دیوه انفرادي شخص او دهغهٔ دکورنۍ دژوند دلګښت لپاره ځانګړي شوي دي اود غیر قابل مجرایي لګښت په توګه په کې شامل شوي دي. د شخصي لګښتونو بیلګې په لاندې ډول دې:

أ. دیوه مالیه ورکونکي اود هغهٔ دکورنۍ دخوړو ،لازمي موادو ،جامو او سرپناه لګښتونه،
ب. دیوه مالیه ورکونکي اودهغهٔ دکورنۍ دمیلمستیا،سرګرمیو،کتابونو اولوړوزده کړو لګښتونه،
ج. دیوه مالیه ورکونکي اودهغهٔ دکورنۍ د روغتیا اوغابنونو لګښتونه،
د. هغه ونډې، سوغاتونه او مرستې چې مستحقو اشخاصو ته ورکول کیږي،

ه. د هغو نقليه وسايطو د ترميم او ساتنې لګښت چې د شخصي اويا کورنيزو امورو لپاره ورڅخه استفاده کيږي،

و. پرعايداتوباندې شخصي تاديه شوي ماليات،

ز. د هغه استوګنځي ماليه چې دخاوند تر واک لاندې دي اويا نوره هر ډول ماليه البته د هغه سوداګريز فعاليت له لګښت څخه پرته چې عوايد يې دماليې وړ دي ،

ح. هغه جريمه چې له قانون څخه دسرغړونې په بدل کې پرماليه ورکونکي اويا هم د هغۀ پرکورنۍباندې وضع کيږي ،

ط. په شتمنۍ کې هغه زيانونه (له هغو زيانونو نه پرته چې پرعايداتوباندې دمالياتوقانون د۱۸مادې (۱) فقرې په (۹ ) برخه کې شامل دي ) چې ديوې ناوړه پيښې،غلا اونه پاملرنې له کبله منځ ته راځي، او

ي. هغه لګښتونه چې دسوداګريزوفعاليتونو،دعوايدو دتوليد اويا نوروفعاليتونودپرمخ وړلو لپاره په مصرف نه وي رسيدلي.

۲.۱۹ ځمکه يوه ثابته شتمني ده او د مالياتود محاسبې په وخت کې داستهلاک وړ نه ده.که چيرې ځمکه دسيلاب اويا دځمکې ښويدو له کبله تخريب شي، خپل ارزښت اوګټورتيا له لاسه نه ورکوي. نوله دې کبله دځمکې بيه د پيريدنې په وخت کې اويا له ځمکې څخه داستفادې په وخت کې دمجرايي وړنه دي. دځمکې بيه يوازې دپلور او انتقال په وخت کې ( پرته له دې چې ځمکه د ميراث له لياري ترلاسه کړل شي ) له لاسته راغلي ارزښت اوبيې څخه وضع کيږي.

۱ بېلګه: يوسهامي شرکت دنوې فابريکې د و دانولولپاره يوه ټوټه ځمکه پيري.دځمکې بيه له عوايدو څخه د مجرايي وړ نه ده او داستهلاک لګښت يې د ځمکې دپيريدنې په وخت کې نه شي غوښتل کيداى .دپيريدنې تاديه شوى قيمت دسهامي شرکت د اسنادو پر اساس ترهغه وخته له کوم بدلون څخه پرته پاتې کيږي چې نوموړې ځمکه په بشپړه توګه او هم قسمي توګه و پلورل شي.

۲ بېلګه: يوسهامي شرکت د دفترلپاره له يوه تعمير سره يوه ټوټه ځمکه پيري. د دغه ټول جايداد په بدل کې ورکړل شوى قيمت ۳۰۰۰۰۰۰ افغانۍ دي. د دغه مبلغ يوه برخه دسهامي شرکت په دفاتروکې دځمکې دقيمت په توګه او بله برخه يې دنوموړې ځمکې (تعمير) دودانولودلګښت په توګه ليکل شوي دي. د ځمکې قيمت د استهلاک وړ نه دې مګر د بيارغاونې د استفادې په موده کې د بيارغاونې د لګښت لپاره د کلنۍ استهلاک په توګه مجرايي نه ورکول کيږي.

۳.۱۹ په زيرمو کې د اضافي مبلغ د هغو عوايدو يوه برخه ګڼل کيږي چې نه دي مصرف شوي .که د هغې نوې ذخيرې د جوړولو لپاره چې د رهبري هيئت د پريکړې پر اساس ضروري ده له مخکې نه په تاسيس شوې زېرمه کې يوڅه مبلغ اضافه کړل شي، نوموړى مبلغ په هغه صورت کې د مجرايي وړ دي چې په اړه يې قانون حکم موجود وي.

۱ بېلګه: که چيرې يوبانک د قانون له مخې د هغو ورکړل شوو ۲۵٪ پورونو د زيانونو د جبران لپاره د زيرمې په لرلو مکلف وي او زېرمه له هغه څخه لږ وي ، هر هغه اضافي مبلغ چې نوموړې زېرمه ۲۵٪ ته وسوي او له هغې څخه زيات نه شي، په زېرمه کې جمع کيږي او د مالياتو له محاسبې نه دمخه له مجموعي عوايدو څخه مجرايي ورکول کيږي.

نو که چېرې دکال په پای کې ورکړشوی پور۲۰۰۰۰۰۰۰۰ افغانیوته ورسیږي او د پور د خسارې دجبران زېرمه ۴۷۵۰۰۰۰۰ افغانۍ وي، له ۴۷۵۰۰۰۰۰ افغانیونه پرته هغه لوړترین مبلغ چې ممکن په نوموړې زیرمې باندې ور اضافه شي په لاندې توګه لاسته راځي:

أ. ٪۲۵ ورکړشوي پورونه ( له۲۰۰۰۰۰۰۰۰ افغانیو څخه ٪۲۵ ) ۵۰۰۰۰۰۰۰ افغانۍ
ب. موجوده زېرمه ۴۷۵۰۰۰۰۰ -
ج. د زیرمې لړوالی ۲۵۰۰۰۰۰ افغانۍ

نوموړې موجوده زېرمه د۲۵۰۰۰۰۰ افغانیو په اندازه له هغه مبلغ څخه لږ ده چې په قانون کې تصریح شوي دي. نو له دې کبله تر۲۵۰۰۰۰۰ افغانیو پوري مبلغ باید حفظ اود مجرایي په موخه د هر ډول مالیې له تثبیت څخه وړاندې باید له مجموعي عوایدو څخه وضع شي. که چېرې خالص عواید ۲۵۰۰۰۰۰ افغانۍ اویا هم له هغۀ څخه لږ وي، ټول عواید په امان کې دي او هېڅ داسې عواید نه پاتې کیږي چې د مالیې وړ وي.

تبصره: په زیرمو کې زیاتوالی د انتفاعي معاملو پر مالیې باندې کومه اغېزه نه لري.

۲ بېلګه: که چیرې د نوموړي بانک د ۵۰۰۰۰۰۰۰ افغانیو زېرمه ولري اود کال په پای کې یې د پورونو مجموعه ۲۰۰۰۰۰ افغانیوته ورسیږي ، په زېرمه کې منځ ته راغلی زیاتوالی دمجرایي وړنه دې ځکه د بانک زېرمه لا دمخه دورکړشوو پورونو له ٪۲۵سره مساوي وه .سره له دې که چیرې خالص عواید۱۰۰۰۰۰۰۰ افغانۍ وي او د ۲۵۰۰۰۰۰ افغانیو مبلغ په نوموړې زېرمه کې ور زیات کړل شي، زېرمه ۵۲۵۰۰۰۰۰ افغانیوته زیاتیږي ولې د مالیې وړعواید(۱۰۰۰۰۰۰۰ افغانۍ )نه کمیږي. په زېرمه کې زیات شوی مبلغ له عوایدو څخه دمجرایي وړ نه دې د ذخیرې مقدار له هغه مبلغ سره مساوي دې چې لا دمخه په قانون کې ذکر شوی دې. ( ۲۵.۰ ×۲۰۰۰۰۰۰۰۰ افغانۍ=۵۰۰۰۰۰۰۰ افغانۍ ).

۳ بېلګه: پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون د(۱۹) مادې حکم د زیرمو پر استهلاک باندې کوم اغیز نه لري. د استهلاک مجرایي وړ لګښت د هغې شتمنۍ له قیمت څخه وضع کیدای شي چې استهلاک کیږي.( د استهلاک د مجاز نورمونو په اړه د ۱۸ مادې ( ۲ ) فقرې ته مراجعه وشي ).

۴.۱۹ هغه لګښتونه چې د مجرایي وړنه دې باید له هغې زیرمې څخه تادیه نه شي چې عواید یې له مالیې څخه مستثنی دي.

بېلګه: څرنګه چې پرعایداتو باندې مالیات له مالیې وړعوایدو څخه دمجرایي وړنه دي، نو له هغو زیرمو څخه چې له مالیاتو نه مستثنی دي د دغو مالیو وضع کول په دې معنی دې چې له مالیې وړعوایدو څخه پرعایداتو باندې مالیات وضع کیږي . له بل پلوه که چیرې احتیاطي زیرمې دقانون لمخې مجاز نه وي او ددې باوجود نوموړې ذخیرې د مالیې له وضع کولو نه وروسته له عوایدو څخه منځ ته راشي، نوموړې زیرمې پرعایداتو باندې د مالیاتو تابع ګرځي.

۵.۱۹ د بهرنیو وګړو لخوا په بهرنیو هېوادونو کې د مالیاتو ورکړه له افغاني عوایدو څخه دورکړې وړ پر هغو مالیاتو چې دولت ته ورکول کیږي، کوم اغیز نه لري.

ببلګه: یو نامېشت شخص کیدای شي په خپل هېواد کې د هغوعوایدوله کبله چې له افغاني سرچینوڅخه یې ترلاسه کړي دي پر عایداتو باندي د مالیاتو تابع وګرځي. له افغاني سرچینوڅخه لاسته راغلي عواید په افغانستان کې د مالیاتو تابع دي. د افغانستان هېواد دې ته لومړیتوب ورکوي چې د هغو عوایدوله درکه مالیه واخلي چې له افغاني سرچینوڅخه لاسته راځي او نه پرېږدي چې د نامېشتو اشخاصو لخوا د هغوې په هېوادونو کې تادیه شوي مالیات په افغانستان کې دتادیې وړمالیات اغیزمن کړي. نو د هغو مالیاتو ورکړه چې په بهرنیو هېوادونو کې تادیه کېږي ، د قانون لمخې دتادیې وړمالیاتود محاسبې په وخت کې له مالیې وړعوایدوڅخه نه وضع کېږي او د تادیه شوؤ مالیاتوپه توګه ورته مجرایي هم نه ورکول کېږي. نوکه چیرې یوبهرنی شخص په افغانستان او یا هم په خپل هېوادکې دخدماتودعرضه کولو له درکه ۵۰۰۰۰ افغانۍ ترلاسه کړي، د نوموړي شخص په هېواد کې دتادیې وړمالیاتود محاسبې دڅرنګوالې نه پرته، په افغانستان کې مالیات په خپل حال پاتې کېږي.

#له کورنیو سرچینو څخه عواید

شلمه ماده:

(1) دکورنیو سرچینو عواید په لاندې ډول دي:

1. د پورونو ټکټانه، مفادي تحویلۍ، پانګه اچونې،
2. له هغو مېشتو شرکتونو څخه چې په افغانستان کې فعالیت کوي دونډې دګټې عواید ،
3. دمعاش، حق الزحمې او دخدمتونو په وړاندې له ازادو شغلونو څخه دمزدورۍ (دستمزد )عواید ،
4. دکرایو او له منقولو او غیرمنقولو مالونوڅخه دحق الامتیازعواید ،
5. د منقولې اوغیر منقولې شتمنۍ دپلورنې عواید ،
6. د هر ډول بیمو په شمول له پلورنو څخه د کمېشن اخستل،
7. د هېواد په د ننه کې د سوداګریزو فعالیتونو عواید ،
8. د هغو منقولو مالونو پلورل یا لیږدول چې په سوداګریزو یا استخدامي فعالیتونو کې له هغو څخه ګټه اخستل کېږي،
9. دحق الامتیاز، فیس اوکمېشن عواید چې دافغاني مېشت لخوا ورکول کېږي،
10. دنفتي موادو، معدني موادو یا نورو سرچینو له اکتشاف اواستخراج څخه رامنځته شوي عواید، او
11. د هېواد په دننه کې دنوروعایداتي سرچینوعواید چې د دې قانون دحکمونولمخې د مالیاتو تابع ګرځي.

(2) د دې قانون د موخو دتطبیق په منظور دنهه وېشتمې او دیرشمې مادې په استثنی د دې مادې د(۱) فقرې پنځه (۵)جزء کې د(غیرمنقولې شتمنۍ) اصطلاح په یوۀ شرکت یا بل بنسټ کې چې د شتمنۍ ارزښت یې اساساً داشخاصو د مستقیم مالکیت په پایله کې ترلاسه کېږي، په لاندې توګه هر ډول ګټې په برکې نیسي:

1. په افغانستان کې غیرمنقوله شتمني،او

2. دهایدروکارېن، د کانونو دجوازاو د کانونو دواک لیک دقراردادونو په شمول هغه ډول چې په دوولسم فصل کې تصریح شوي دي، په افغانستان کې دغیرمنقولې شتمنۍ ګڼل کېږي.

(3) د دې قانون دموخو دتطبیق په منظوردنهه وېشتمې اودیرشمې مادې په استثني دکانونو له استخراج څخه رامنځته شوي عواید چې د دې مادې د(۱)فقرې په (۱۰)جزء کې توضیح شوي دي د هر ډول پلورنې او نورو مفادي معاملو په برکې نیوونکې دي.

۱.۲۰ په افغانستان کې د پورونو، امانتونو، پانګه اچونو اونورو له درکه ټکټانه لاندې برخې لري:

أ. له انفرادي اشخاصونه پرته د افغانستان په بانکونو کې د سهامي اومحدودالمسؤلیت شرکتونو د امانتي مبالغو ټکټانه، او

ب. په افغانستان کې دانفرادي اشخاصو ،سهامي شرکتونو ،دایمي نهادونو اومستقلو نماینده ګیو د پورونو ټکټانه.

۲.۲۰ دونډې هغه ګټه چې د افغاني سهامي اومحدودالمسؤلیت شرکتونولخوا تادیه کیږي له افغاني سرچینو څخه د لاسته راغلو عوایدو په توګه ګڼل کیږي او په افغانستان کې دموضوعي مالیې تابع دي.

بېلګه: یو بهرنی پانګه اچونکی دیوه افغان سهامي شرکت دټولو پلورل شوؤ سهمونو خاوند دی. نوموړي افغاني شرکت ۱۰۰۰۰۰۰ افغانۍ عواید لاسته راوړي دي. دغه افغاني شرکت خپل ونډه لرونکي ته ۱۲۰۰۰۰۰ افغانۍ ورکوي چې له جملې څخه یې ۱۰۰۰۰۰۰ افغانۍ له افغاني سرچینو څخه د لاسته راغلې ونډې ګټې په توګه ګڼل کیږي. پاتې نور مبلغ دپانګې ګټې اویا د پانګې اچونکي دونډې په نظرکې نیولو سره د بل ډول ګټې په توګه ګڼل کیږي. د سرمایې او د عوایدو له ونډې څخه لاسته راغلې ګټه له افغاني سرچینو څخه نه ګڼل کیږي.

۳.۲۰ په افغانستان کې دخدماتو له عرضه کولو نه لاسته راغلي معاشونه، اجورې اوله آزادو شغلونو څخه لاسته راغلي عواید له افغاني سرچینو څخه د لاسته راغلو عوایدو په توګه ګڼل کیږي.

بېلګه: یو غیرمېشت انفرادي شخص دیوه بریتانوي شرکت لخوا دافغانستان په د اخل اوبهرکې د دندې د ترسره کولو لپاره استخدام شوی دی. نوموړی غیرمېشت شخص د یوه کال په اوږدو کې تقریباً خپل۸۰٪ وخت په افغانستان کې تیروي. نو داسې ګڼل کیږي چې دکال په اوږدوکې د نوموړي غیرمېشت شخص ۸۰٪ معاش له افغاني سرچینو څخه ترلاسه شوی دی. نوموړي عواید په افغانستان کې پرعایداتو باندې دمالیاتو تابع دي مګر دا چې له دولت سره دکوم قرارداد یا موافقت نامې له مخې معاف ګڼل شوي وي.

۴.۲۰ د هغې هر ډول شتمنې( منقولې اوغیرمنقولې) له درکه لاسته راغلې کرایه اوحق الامتیاز چې په افغانستان کې ورڅخه استفاده کیږي له افغاني سرچینو څخه دلاسته راغلو عوایدو په توګه ګڼل کیږي.

۱بېلګه: یو چینایي شرکت یوۀ افغاني شرکت ته بار وړونکي نقلیه وسایط په کرایه ورکوي.افغاني شرکت له نوموړو وسایطو څخه په ټول افغانستان کې دمالونو دانتقال په موخه استفاده کوي. افغاني شرکت چې کومه کرایه

چینایي شرکت ته تادیه کوي د چینایې شرکت دغه عواید له افغاني سرچینوڅخه دلاسته راغلوعوایدوپه توګه ګڼل کیږي.

**۲ بېلګه:** یوچینایي شرکت یوهٔ افغاني شرکت ته بار وړونکي نقلیه وسایط په کرایه ورکوي.افغانی شرکت له نوموړو وسایطوڅخه په افغانستان او پاکستان کې دمالونو دانتقال په موخه استفاده کوي. دافغاني شرکت لخوا چې چینایې شرکت ته په افغانستان کې له موټروڅخه د استفادې په بدل کې کومه کرایه ورکول کیږي د چینایي شرکت دغه عواید له افغاني سرچینو د لاسته راغلو عوایدو په توګه ګڼل کیږي. لدې کبله دافغاني شرکت لخوا چینایي شرکت ته په افغانستان کې دبار وړونکوموټروڅخه داستفادې په بدل کې دکرایې تادیه او په پاکستان کې د نوموړو موټرو د استفادې په بدل کې د کرایې تادیه باید دیوهٔ مناسب معیار اویا مقیاس پر اساس ووېشل شي. له مناسب معیار اومقیاس څخه موخه په هرهېوادکې د نوموړو موټرو د ګرځیدو کیلومتر اویا په هرهېواد کې دانتقال څخه د لاسته راغلو عوایدو مقایسه کول دي.

**۵.۲۰** دهغومنقولواوغیرمنقولوشتمنیودپلورګټه چې په فزیکي ډول په افغانستان کې موقعیت لري له افغاني سرچینوڅخه د لاسته راغلو عوایدو په توګه ګڼل کیږي.دغه ډول ګټې په لاندې ډول دي:

أ. د هرې غیرې منقولې شتمنې د مالکیت اویا ونډې لرلو له درکه لاسته راغلي عواید ، معدني زیرمې او په افغانستان کې طبیعې سرچینې.

ب. هغه عواید چې په افغانستان کې داقتصادي فعالیتونو د مالکیت او یا په دغو فعالیتونو کې د ونډې له درکه لاسته راځي.

ج. د یو کورني او یا بهرني شرکت د ونډو له پلور څخه لاسته راغلي عواید ،تر هغې پورې چې نوموړی شراکت په افغانستان کې شتمني لري.

**۱ بېلګه:** یوبهرنی پانګه اچونکی دیوه افغاني شرکت د پانګه د په ګټه او پانګه کې ۱۰٪ ونډه لري.نوموړی افغاني شراکت په افغانستان کې دغیرمنقولې شتمني خاوند دي.که چیرې دغه پانګه اچونکی په افغاني شراکت کې خپله ۱۰ ٪ ونډه وپلوري ، لاسته راغلي عواید (دګټې دموجودیت په صورت کې) له افغاني سرچینوڅخه ګڼل کیږي. کیدای شي چې د شراکت د ونډې پلور داړوندې شتمنې له پلور سره مشابه سرچینې ولري ځکه دشرکت شتمنی د هغوغیرمنقولوشتمنیوله پانګه اچونوڅخه تشکیل شوې ده چې په افغانستان کې موقعیت نه لري.

**۲ بېلګه:** یوبهرنی پانګه اچونکی دیوه بریتانوي محدودالمسؤلیت شرکت په پانګه کې دګټې او پانګې ٪۱۰ ونډه لري.نوموړی شرکت په افغانستان کې دمعادنوشتمنی لري.که چیرې نوموړی پانګه اچونکی په دغه شرکت کې خپله ونډه وپلوري، د هغهٔ لاسته راغلي عواید ( دګټې دموجودیت په صورت کې) داسې ګڼل کیږي چې له افغاني سرچینوڅخه ترلاسه شوي دي.

**۳ بېلګه:** یوبهرنی پانګه اچونکی دیوه افغاني شرکت په پانګه کې د ګټې اوپانګې ٪۱۰ ونډه لري.نوموړی افغاني شرکت په هندوستان غیرمنقول شتمنی لري ولې په افغانستان کې هېڅ شتمني نه لري. که چیرې دغه پانګه اچونکی په افغاني شراکت کې خپله ٪۱۰ ونډه وپلوري ، د هغهٔ لاسته راغلي عواید (دګټې دموجودیت په صورت کې) داسې ګڼل کیږي چې له افغاني سرچینوڅخه ترلاسه شوي دي.

د. هغه عواید چې په یوه افغان سهامي اویا محدودالمسؤلیت شرکت کې د ونډې له پلورڅخه په هغه صورت کې چې دشرکت دشتمنیوقیمت په ځانګړې توګه د مالکیت له کبله (الف) په افغانستان کې غیرمنقوله شتمني اویا(ب) په افغانستان کې په غیرمنقول دارایې کې ونډه ، د هایدروکاربن دقرارداد او دمعادنو د جواز لیک په ګډون لکه څنګه چې په دولسم فصل کې تصریح شوې ده، په مستقیمه اویا غیرمستقیمه توګه دنورواشخاصولخوا لاسته راغلي وي.

تبصره: د "په ځانګړې توګه" ) اصطلاح د ارزښت له پلوه له پنځوس فیصدوڅخه زیات مفهوم لري.

تبصره: یوسهامي اویا محدودالمسؤلیت شرکت داسې ګڼل کیږي چې په غیرمستقیمه توګه دنهاد دونډې دارزښت له نظره د ټیټ ردیف نهادونو دشتمنیو مالک او یا دلوړ ردیف نهادونه دټیټ ردیف په نهادونو کې وي.

۱ بېلګه: یوبهرنی پانګه اچونکی دیوه افغان سهامي شرکت په ونډو کې ټکټانه لري.نوموړي افغان سهامي شرکت ځیني غیرمنقولې شتمني کرایه کړې دي او په افغانستان کې تجهیزات هم لري.نوموړي سهامي شرکت درې کاله وړاندې د شتمني داجارې یو قرارداد لاسلیک کړی ؤ چې اوس مهال یې دکرایې ارزښت د بازار له ارزښت څخه لږه دې. له دې کبله د هغې شتمني دکرایې ارزښت چې نوموړي شرکت کرایه کړې ده ۳۰۰۰۰۰ افغانۍ دې او د تجهیزاتو ارزښت یې تقریباً ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ دې. که چیرې نوموړی بهرنی پانګه اچونکی د افغان سهامي شرکت سهمونه په ګټه باندې وپلوري، دنوموړي پانګه اچونکي لاسته راغلي عواید له افغاني سرچینوڅخه نه ګڼل کیږي.

۲ بېلګه: یوبهرنی پانګه اچونکی په افغان سهامي شرکت (الف) کې شریک دې. د ( الف ) افغاني سهامي شرکت د (ب) افغان سهامي شرکت ټول اسهام پیري . د (الف) سهامي شرکت یوازینۍ شتمني هغه ونډې دي چې د (ب) له سهامي شرکت څخه یې رانیولي دي او د (ب) سهامي شرکت یوازینۍ د ارایي هغه غیرمنقول جایداد دې چې دبامیانو ولایت کې موقعیت لري.که چیرې نوموړی بهرنی پانګه اچونکی د(الف) سهامي شرکت سهمونه وپلوري ، نو په دغه صورت کې د هغهٔ لاسته راغلي عواید له افغاني سرچینوڅخه ګڼل کیږي ځکه د(الف) سهامي شرکت شتمني په افغانستان کې له غیرمنقولې شتمني څخه منځ ته راغلې ده (چې په نامستقیمه توګه دشرکت شتمني ده ).

۳ بېلګه: یوبهرنی پانګه اچونکی د(الف)افغان سهامي شرکت ټول پلورل شوي سهمونه په خپل اختیارکې لري. د(الف) شرکت د(ب) افغان سهامي شرکت ٪۷۰ ونډې پیري. د (الف) سهامي شرکت د افغانستان بانک په یوه حساب کې ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ لري. د(ب) شرکت په افغانستان کې د ۲۰۰۰۰۰ افغانیو په ارزښت غیرمنقول جایداد لري. د(الف) شرکت د شتمني قیمت په افغانستان کې د غیرمنقول جایداد د مالکیت له حق څخه لاسته راغلی دې ځکه د (الف) شرکت شتمني له ۱۰۰۰۰۰ نغدوافغانیو اوله ۱۴۰۰۰۰افغانیوغیرمنقول جایداد (٪۷۰×۲۰۰۰۰۰افغانۍ) څخه متشکل ده. که چیرې بهرنۍ پانګه اچونکی د(الف) سهامي شرکت سهمونه وپلوري، دنوموړي پانګه اچونکي لاسته راغلي عواید داسې ګڼل کیږي چې له افغاني سرچینوڅخه ترلاسه شوي دي.

۴ بېلګه:




دافغاني مستقلې نمایندګۍ یواځینۍ شتمني له هغو سهمونو څخه عبارت دي چې په نوموړې نمایندګۍ کې په ټیټ ردیف کې قرارلري ، دټیټ ردیف د نمایندګۍ شتمني له هغو اسهامو څخه عبارت دي چې په ځمکه لرونکي شرکت کې یې لري او دځمکه لرونکي شرکت یواځینۍ شتمني د معدن د جواز په شان هغه غیر منقوله شتمني ده چې دافغانستان په کومه ساحه کې وجود لري.

که چیرې یوبهرنۍ شرکت خپلې ونډې پر یوه مستقله افغانۍ نمایندګۍ باندې وپلوري، په دغه صورت کې داسې ګڼل کیږي چې نوموړي سهامي شرکت خپله غیرمنقول شتمني په افغانستان کې پلورلې ده. دافغاني مستقلې نمایندګۍ د ونډو دپلورله کبله لاسته راغلي عواید پر عایداتوباندې د مالیاتوتابع ګرځي ځکه چې دنوموړې نمایندګۍ ۱۰۰٪ ارزښت دغیرمنقول شتمني له ټیټ ارزښت سره مساوي دې.

که چیرې افغاني مستقله نمایندګۍ چې په ټیټ ردیف کې قرار لري دځمکه لرونکي شرکت ۴۹٪ ونډه او د نا اړوند بهرنۍ ځمکه لرونکي شرکت ۵۱٪ ونډه په خپل اختیارکې ولري،نو ورته پایلې به ولري. سره ددې چې بهرنی شرکت په غیرمنقول شتمني کې له ۵۰٪ څخه لږ غیرمستقیمه ونډه لري ، موضوع تراوسه پورې همدا ده چې دمستقلې افغاني نمایندګۍ ۱۰۰٪ ارزښت دغیرې منقول شتمني له مالکیت سره متناسب دې. په دغه حالت کې دمستقلې افغاني نمایندګۍ د ونډو پلورل دغیرمنقول شتمني دپلورپه توګه ګڼل کیږي.

تبصره: د دویم نهادلخوا تعقیبي مېکانیزم په عین شکل په افغانستان کې د هایدروکاربن دقراردادونو، دمعدن د جواز او د معدن د صلاحیت نامې په ګډون چې په دولسم فصل کې موجود دي پر غیر منقولو شتمنیو ( شتمنیو ) او یا له غیرمنقولو شتمنیو څخه پر لاسته راغلو ګټو باندې تطبیقیږي.

۷.۲۰ دبیمې په ګډون د پلوردمعاملوهر ډول کمېشن تر هغه وخته پورې دافغاني سرچینو څخه د لاسته راغلو عوایدو په توګه ګڼل کیږي چې د پلوردغه فعالیتونه په افغانستان کې ترسره شي. په دې اړوند ټول حقایق اوحالات ترڅېړنې لاندې نیول کیږي. سره له دې چې دقرارداد دلاسلیک فزیکي ځای دیوۀ باوري عامل په توګه ګڼل کیدای شي، اما د پلور د فعالیتونو د ځای او موقعیت لپاره دلیل نه شي کیدای.

بېلګه: دبیمې دشرکت یوپلورونکیدبهرنیوکوړډیپلوماتیک اشخاصو په ګډون پر هغوبهرنیانوباندې چې په افغانستان کې مېشت دي د بیمې دپلورپه موخه په افغانستان کې د ۳۰ ورځو لپاره پاتې کیږي.

دنوموړي شخص لخوا پر هغوبهرنیو اشخاصوباندې چې په افغانستان کې له مالیاتو څخه معاف دي دبیمې له پلور څخه لاسته راغلی کمېشن او همدارنګه هغه کمېشن چې نوموړی یې پر نورو بهرنیانوباندې د بیمې له پلورڅخه لاسته راوړي ، پرعایداتوباندې دمالیاتوتابع دي. که چیرې قرارداد له افغانستان څخه بهر ( دقرارداد دموجودیت په صورت کې ) هم لاسلیک شوی وي، پورتنې یاد شوې موضوع تطبیقیږي. داچې د پلور لپاره په افغانستان کې بازار لټول کیږي او مذاکرات هم په افغانستان کې ترسره کیږي ، د نوموړي شخص لخوا ترلاسه شوی کمېشن په افغانستان کې پرعایداتو باندې دمالیاتو تابع ګرځي.

۷.۲۰ د هرې هغې شتمنۍ له پلور او یا انتقال څخه لاسته راغلي عواید چې په افغانستان کې په سوداګریزو اویا د استخدام په فعالیتونو کې ورڅخه استفاده کیږي له افغاني سرچینو څخه دلاسته راغلوعوایدوپه توګه ګڼل کیږي.داچې له نوموړې شتمنۍ څخه په افغانستان کې استفاده شوې ده اوکه نه، دهغۀ وخت په پرتله چې له شتمنۍ څخه د خاوند لخوا په بل کوم ځای کې استفاده شوې ده او دهغه وخت په نظرکې نیولوسره چې له دغې شتمنۍ څخه په افغانستان کې استفاده شوې ده د حقایقواوحالاتو د ارزونې له مخې تعینیږي.

۱ بېلګه: یو پاکستانی سهامي شرکت یو شمېر بار وړونکي نقلیه وسایط لري چې دافغانستان په لراوبر کې ورڅخه د اجناسودانتقال لپاره استفاده کوي. نوموړي پاکستاني سهامي شرکت له یوې وا سطې څخه د درې کالولپاره په افغانستان کې استفاده کوي. دڅلورم کال په پیل کې دغه پاکستانی سهامي شرکت نوموړی باروړونکې واسطه په دربېیم شخص باندې په ګټه پلوري. له دغه پلور څخه لاسته راغلې ګټه پرته له دې چې پلور په افغانستان کې ترسره شوی دې اوکه نه ، له افغاني سرچینوڅخه د لاسته راغلوعوایدوپه توګه ګڼل کیږي.

۲ بېلګه: یوپاکستانی سهامي شرکت یو شمېر بار وړونکي نقلیه وسایط لري چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د اجناسو دانتقال لپاره ورڅخه استفاده کوي. دغه پاکستانی سهامي شرکت له یوې وا سطې څخه د درې کالولپاره استفاده کړې ده. نوموړې واسطه د دغې مودې له نیمایي څخه د زیات وخت لپاره د شرکت په اختیارک وه او په فزیکي ډول ورڅخه په پاکستان کې استفاده شوې ده (نه په افغانستان کې). دڅلورم کال په پیل کې دغه پاکستانی سهامي شرکت نوموړی باروړونکې واسطه په دربېیم شخص باندې په ګټه پلوري. دغه لاسته راغلې ګټه له افغاني سرچینې څخه د لاسته راغلې ګټې په توګه ګڼل کیږي ځکه له نوموړې موټر په ځانګړې توګه له افغانستان څخه بهر استفاده شوې ده.

۲۰ . ۸ دیوهٔ افغان مېشت شخص لخوا چې په افغانستان کې کوم حق الامتیاز،اداري اجوره،کلنی امتیاز او یا کمېشن تادیه کیږي له افغاني سرچینو څخه دلاسته راغلو عوایدو په توګه ګڼل کیږي.

۱ بېلګه: یو هندوستانی سهامي شرکت یو افغاني سهامي شرکت ته هر کال د جواز د د نوي کولو په صورت کې د هغهٔ حق الامیتاز په بدل کې چې د نوموړي شرکت له ۱۵٪ خرڅلاو و سره برابر دي جوازورکوي. دغه لاسته راغلي حق الامتیاز له افغاني سرچینو څخه دلاسته راغلو عوایدو په توګه ګڼل کیږي.

۲ بېلګه: یوبریتانوی سهامي شرکت دیوهٔ افغان سهامي شرکت ټول پلورل شوي ونډې په اختیار کې لري. د دغه بریتانوي سهامي شرکت ځینې لوړپوړي چارواکي افغان سهامي شرکت ته په اداري چاروکې مشورې ورکوي. د دغو خدماتوپه بدل کې افغان سهامي شرکت بریتانوي سهامي شرکت ته د اداري اجورې په نامه یو مقدار پیسې تادیه کوي.دغه اجوره پرته له دي چې آیا دغه مشورتي خدمات دافغانستان په دننه اویا بهرکې ترسره شوي دي له افغاني سرچینو څخه دلاسته راغلوعوایدو په توګه ګڼل کیږي.

۲۰ . ۹ هغه عواید چې د معادنو په کیندلو کې د ونډې او یا د معادنو ،اومه نفتو له ګټې اویا په افغانستان کې د موجودو نورو سرچینو له درکه لاسته راځي له افغاني سرچینو څخه د لاسته راغلو عوایدو په توګه ګڼل کیږي . که چیرې یو حکمي او یاحقیقي شخص د معادنو ، نفت او په افغانستان کې د موجوده نوروطبیعي سرچینو څخه د عوایدو د تولید ( دګټې اخستنې، استخراج او یا تصفیې په ګډون ) موخه کار واخلي ، لاسته راغلي عواید له افغاني سرچینو څخه ګڼل کیږي.

# دریم فصل

## د شتمنۍ د پلور، تبادلې او یا لېږدونې له لارې لاسته راغلې ګټه او تاوان

## له۲۱مادې نه تر۳۰ پورې#

پر عایداتو د مالیاتو تابع ګټه
یوو بشتمه ماده:
د ثابتو شتمنیو د پلورلو یا تبادلې له درکه ګټه او په کسب او سوداګرۍ کې پانګونه پر عایداتو باندې د مالیاتو تابع ده.

۱.۲۱ دثابتو شتمني ګانو له پلور او یا تبادلې څخه لاسته راغلې ګټه دعوایدو په توګه ګڼل کیږي او د مالیه ورکوونکي د شتمنۍ د لګښتونو او لاسته راغلو پیسو ترمنځ توپیر ( یا داستهلاک نه وروسته لګښت او یا دپلورله درکه اړوند لګښتونه) د عوایدو په توګه ګڼل کیږي چې د ټولو اشخاصو ،سهامي او محدودالمسؤلیت شرکتونو او ټولو نهادونو لخوا باید په راپور کې شامل کړل شي.

۱ بېلګه: لس سهمونه چې خاوند ته یې په ۱۰۰۰۰ افغانۍ تمام شوي دي او خاوند یې پنځه کاله وروسته دغه سهمونه په ۱۰۰۰۰ افغانۍ پلوري. داسې ګڼل کیږي چې له دغې معاملې څخه نه ګټه او نه د مالیې وړ کوم عواید ترلاسه شوي دي.

۲ بېلګه: دیوه سهامي شرکت لخوا یو افغان مېشت شخص ته دسوغات په توګه لس سهمونه ورکول کیږي.نوموړي مېشت شخص ته د دغو سهمونو په اړه د صفر په اندازه لګښت هم نه رسیږي. که چېرې افغان مېشت شخص نوموړي سهمونه په ۵۰۰۰۰ افغانۍ وپلوري په داسې حال کې چې دغه شخص ۵۰۰۰ افغانۍ د سهمونو د پلور په موخه د فیس په توګه ورکوي ، نو په دغه صورت کې داسې ګڼل کیږي چې نوموړي افغان مېشت شخص ۴۵۰۰۰ افغانۍ ګټه لاسته راوړې ده.

۳ بېلګه: یو سهامي شرکت د۱۳۸۲ لمریزکال دکب په ۲۹ نېټه د خپل دفتر تعمیر په ۱۳۰۰۰۰۰ افغانۍ پلوري . نوموړی تعمیر د۱۳۸۲ لمریزکال دوري په لومړۍ نېټه په ۱۰۰۰۰۰۰ افغانۍ پېرودل شوی ؤ. د دغه تعمیر د کلنی استهلاک لپاره ۲۰۰۰۰ افغانۍ وضع شوي دي چې دپنځو کالو وضع شوی مجموعي استهلاک یې ۱۰۰۰۰۰ افغانیو ته رسیږي. د تعمیر د پلور لګښت ۵۰۰۰۰ افغانۍ ده او له دغې معاملې څخه لاسته راغلې ګټه په لاندې توګه محاسبه کیږي:

| | | |
|---|---|---|
| دپلور بیه | | ۱۳۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| اصلي بیه | | ۱۰۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| منفي استهلاک | ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ | ۹۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| | | ۴۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| منفي(-) دپلور لګښت | | ۵۰۰۰۰ افغانۍ |
| دپلور له درکه لاسته راغلې ګټه | | ۳۹۵۰۰۰۰ افغانۍ |

۲.۲۱ د مالیاتو قانون د احکامو د تطبیق په موخه د "ثابتې شتمنۍ" اصطلاح د هغې شتمنۍ لپاره کارول کیږي چې د مالیه ورکونکي لخوا پرته له دې چې د نومړي له سوداګرۍ او یا له سوداګریزو فعالیتونو سره تړاو ولري او که نه، ساتل کیږي، ولې هغه وندې چې د مالیه ورکوونکي له سوداګریز فعالیت سره تړاو لري او یا نورې ورته شتمني ګانې چې د کال په پای کې د شتمنۍ په موجودي کې شامليږي، یا هغه شتمني چې د مالیه ورکوونکي لخوا پیرودونکو ته د پلور په موخه د عادي سوداګریز فعالیت لپاره ساتل کیږي، په ثابته شتمنۍ کې نه شامليږي.

##
د مالي کال د مالیې وړ ګټه
دوه و یشتمه ماده:
د سهامي شرکت یا محدودالمسؤلیت شرکت د شتمنۍ د پلورلو یا تبادلې له درکه ترلاسه شوې ګټه، د هغه مالي کال د مالیې وړ ګټه ده چې په ترڅ کې یې د شتمنۍ لیږدیدو صورت موندلی وي.

۱.۲۲ د یوه سهامي شرکت اویا محدودالمسؤلیت شرکت شتمني له لیږدونې څخه لاسته راغلې ګټه د مالیې وړعوایدو په توګه ګڼل کیږي.

۲.۲۲ په یوې مالي اجاره کې (د ۱۸مې مادې په ۵مه ماده کې درج شوې) د اجاره شوې شتمنۍ لیږدول له خاونده مستاجر ته چې د اجارې د مودې په پای کې ترسره کیږي، د اصلي خرڅلاو د پای په توګه بلل کیږي چې د مالي اجارې په پیل کې ترسره کیږي. له دېکبله، هیڅ ګټه مستاجر ته د شتمنۍ د مالکیت د واقعي انتقال پرمهال مالک پورې اړه نه نیسي.

۳.۲۲ د شتمنۍ له پلور څخه لاسته راغلې ګټه د نوموړې شتمني د پلور په کال کې د مالیې وړعوایدو په توګه ګڼل کیږي ولو که د ګټې ارزښت په تدریجي توګه په څو کالو کې ترلاسه کړل شي.

بېلګه: لس کاله کیږي چې یو محدودالمسؤلیت شرکت یو اپارتمان په ملکیت کې لري. په دغو لسو کلنو کې د جایداد ارزښت د لوړیدو په حال کې ؤه. دغه محدودالمسؤلیت شرکت په ۱۳۸۵ لمریزکال کې نوموړی جایداد پلوري او ۱۰۰۰۰۰۰ افغانۍ ګټه ترلاسه کوي. لاسته راغلې ګټه په لسو کلنو کې د دغه جایداد د مجموعي ارزښت لوړوالی څرګندوي. په ۱۳۸۵ مالي کال کې (د اپارتمان د پلور کال) ۱۰۰۰۰۰۰ افغانۍ د مالیې وړګټې په توګه ګڼل کیږي.

#

د ملکیت له لېږدېدو څخه مالیه

دروېشتمه ماده:

(1) دلاندې شتمنیو د پلورلو، تبادلې یا د ملکیت د نورو هر ډول لیږدیدو له درکه ترلاسه شوې ګټه، د مالیې ورګټه پیژندل کیږي:

1. د سرقلفۍ په شمول د کسب یا سوداګرۍ پرېښودل،
2. فابریکه د تجهیزاتو، ماشین آلاتو، ودانیو، ځمکې (اراضي) او یا د هغو د اجزاوو په شمول،
3. هغه تجهیزات چې په سوداګریزکار اوفعالیت داشخاصو او مالونو په لېږد رالېږد کې استعمالیږي، او
4. په سهامي یا محدودالمسؤلیت شرکت کې ونډې.

(2) له میراثه د رامنځته شوې منقولې اوغیرمنقولې شتمنۍ له لیږدیدو څخه لاسته راغلې ګټه د دې مادې په (۱) فقره کې له درج حکم څخه مستثني ده.

۱.۲۳ د حکمي اشخاصو د شتمنۍ د خرڅلاو له درکه لاسته راغلې ګټه پر عایداتو د مالیاتو د قانون د ۲۲مې مادې لمخې د حکمي اشخاصو د مالیو تابع عواید بلل کیږي. ۲۳مه ماده عمدتاً د انفرادي اشخاصو په څېر اشخاصو باندې پلې کیږي. د هغې غیر منقولې شتمنۍ د مستثنی کولو حکم (دفابریکو په استثنا سره) چې د یوه انفرادي شخص ملکیت دی له هغې شتمنۍ څخه چې پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون په ۲۳ ماده کې درج ده یوازې په هغو اشخاصو باندې تطبیقیږي چې د خپلې شخصي استفادې لپاره دغه ډول شتمني ساتي. نوموړی حکم هغو اشخاصو ته معافیت نه ورکوي چې کسب یې د ودانیو پلورل او ودانول دي او د تعمیرونو له آبادولو او پلورلو څخه ګټه ترلاسه کوي. نوموړی حکم همدارنګه هغو کمېشن کارانو او نمایندګیو ته هم مالیاتي معافیت نه ورکوي چې د غیر منقولو شتمنیو د پلور له درکه کمېشن ترلاسه کوي.

بېلګه: وحید د استوګنې کورونه جوړوي. نوموړی له خپلې کورنۍ سره په کابل کې اوسیږي. د ۱۳۸۷ لمریز کال په اوږدو کې وحید په هرات ولایت کې درې کورونه جوړوي او خپل اوسنی کور چې په کابل کې موقعیت لري پلوري او خپله کورنۍ یو له هغو درې کورونو ته لیږدوي چې په هرات کې یې جوړ کړي دي. نوموړی په یوه کورکې په خپله اوسیږي او دوه نور کورونه پلوري. په هرات کې د دوه کورونو پلور څخه د وحید لاسته راغلې ګټه د دې مادې د حکم لمخې پر عایداتو باندې د مالیاتو تابع ګرځي ولې هغه ګټه چې وحید یې په کابل کې د خپل کور له پلور څخه ترلاسه کوي پر عایداتو باندې د مالیاتو تابع نه ګرځي.

۲.۲۳ د هغو شتمنیو له پلور څخه لاسته راغلې ګټه چې انفرادي اشخاصو پورې اړه لري او پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون د ۲۳ مادې تر حکم لاندې نه راځي، د کلنیو عوایدو مالیې نه تابع کیږي. له دې سره سره، د یوه انفرادي شخص لخوا د منقولې او غیر منقولې شتمنۍ خرڅلاو د ۳۰مې مادې د ۱ بند لمخې د ثابتې مالیې تابع ده.

ببلګه: د هغه جنراتور له پلور او یا تبادلې څخه لاسته راغلې ګټه چې د شخصي استفادې لپاره ورڅخه کار اخیستل کیږي پر عایداتو باندې د مالیاتو تابع نه ګرځي ولې که چیرې له نوموړي جنراتور څخه د سوداګرۍ او یا نورو فعالیتونو لپاره وکارول شي، نو لاسته راغلې ګټه د مالیې وړ عوایدو په توګه ګڼل کیږي.

| | | |
|---|---|---|
| أ. | د پیرودنې بیه | ۱۲۵۰۰۰ افغانۍ |
| ب. | جمع د پلور لګښت | ۱۰۰۰ افغانۍ |
| ج. | د پلور تمام شوې بیه | ۱۲۶۰۰۰ افغانۍ |
| د. | د پلور بیه | ۱۵۰۰۰۰ افغانۍ |
| ه. | منفي د پلور تمام شوې بیه | ۱۲۶۰۰۰ افغانۍ |
| و. | ګټه | ۲۴۰۰۰ افغانۍ |

د انفرادي شخص لخوا لاسته راغلې ۲۴۰۰۰ افغانۍ ګټه د مالیې وړ نه ده ځکه چې له پلور شوې شتمني څخه په سوداګرۍ او یا کوم بل فعالیت کې استفاده نه ده شوې.

تبصره: که چیرې د پلور بیه له تمام شوې بیې څخه ټیټه وي، نو له دغه ډول معاملو څخه تاوان منځ ته راځي. دا چې نوموړی تاوان د سوداګریز فعالیت په وخت کې منځ ته نه دې راغلی (دا یو شخصي تاوان دې) نو د ضرر مبلغ لپاره مجرایي نه ورکول کیږي.

| |
|---|
| # <br> **د مالیې وړ عوایدو څخه د لګښت وضع کول** <br> **څلورویشتمه ماده:** <br> (د میراث په استثنی) د شتمنیو د پلورلو، تبادلې او لیږدولو عواید، په بشپړډول رپوټ ورکول کیږي او لدې عوایدو څخه د مالیې وړ ګټې د ټاکلو په ترځ کې د لاندې اقلامو وضع کول مجاز دي: <br> 1. پر مالیه ورکوونکي باندې د شتمنۍ تمام شوی لګښت او پلورل شوې پانګونه منفي هغه مجموعي مبلغ چې د استهلاک له درکه د هغو د ترلاسه کولو له نیټې څخه د معاملې تر وخته پورې د مجرایي وړ وي. <br> 2. د کمېشن په شمول د پلورنې لګښتونه، د اعلانونو لګښت، قانوني لګښتونه، د وثایقو لګښتونه او د شتمنیو د پلورنې او لیږدونې نور لګښتونه. |

1.24 د شتمني له پلور، تبادلې او لیږدونې څخه لاسته راغلې ګټه (له میراث او یا د ۱۴مادې د حکم لمخې د نوي تنظیم نه پرته) په لاندې ډول ټاکل کیږي: هغه لګښتونه چې د قانون لمخې د کسر وړدي د پلورل شوو، تبادله شوو او لیږدول شوو شتمنیو له بازاري ارزښت څخه منفي کیږي. منځ ته راغلی تفاوت له لاسته راغلې ګټې

ځخه عبارت دي. د مجرايي وړ لګښتونه عبارت دي له: د د شتمني د لاسته راوړلو وخت کې د د ارايي په بدل کې تاديه شوې بيه جمع د شتمني د ښه والي په موخه نور اضافي اساسي لګښتونه منفي مجاز استهلاک. د مجرايي وړ لګښتونه له هغو لګښتونو ځخه عبارت دي چې د شتمني د پلور ، تبادلې او يا د ليږدونې په موخه مصرفيږي. مجاز استهلاک عبارت دی له:

أ. هغه مبلغ چې د ماليا تو قانون د تطبيق په موخه د استهلاک د لګښت په توګه مجاز دې.
ب. که چيرې د استهلاک لګښتونه پر عايداتو باندې د ماليا تو د تطبيق په موخه سنجول شوي وي.

بېلګه: په ۱۳۸۵ لمريز کال کې يو شرکت خپل موټر په ۳۵۰۰۰۰ افغانۍ پلورې. نوموړی موټر په ۱۳۸۲ لمريز کال کې په ۴۲۰۰۰۰ مجموعي بيه پېرودل شوی اوله پلور ځخه يې وړاندې د نوموړې موټر ځلور حلقې ټايرونه په ۲۰۰۰۰ افغانۍ تبديل شوي وه. که د موټر پلورونکی شرکت د ۱۳۸۲، ۱۳۸۳ او ۱۳۸۴ کلونو لګښت د استهلاک د ۲۵٪ نورم پر اساس محاسبه کړي او د پلور او ليږدونې لګښت ۲۰۰ افغانۍ وي ، د ماليې وړ عوايد په لاندې توګه محاسبه کيږي:

| | | |
|---|---|---|
| أ. | د پيرودنې بيه | ۴۲۰۰۰۰ افغانۍ |
| ب. | د درې کلونو مجموعي استهلاک (۳×۱۰۵۰۰۰) | ۳۱۵۰۰۰ افغانۍ |
| ج. | د استهلاک له وضع کولو نه وروسته د موټر ارزښت | ۱۰۵۰۰۰ افغانۍ |
| د. | د ټايرونو مجموعي بيه | ۲۰۰۰۰ افغانۍ |
| ه. | د پلور لګښت | ۲۰۰ افغانۍ |
| و. | د پلور په وخت کې تمام شوې بيه | ۱۲۵۲۰۰ افغانۍ |
| ز. | د پلور بيه | ۳۵۰۰۰۰ افغانۍ |
| ح. | د پلور په وخت کې منفي تمامه شوې بيه | ۱۲۵۲۰۰ افغانۍ |
| ط. | لاسته راغلې ګټه | ۱۸۴۴۰۰ افغانۍ |

##

**د ورځې د بيې لمخې د ماليې ټاکل**

**پنځه وېشتمه ماده:**

(د ميراث په استثنی) د منقولو او غيرمنقولو شتمنيو د ليږدونې د هرډول معاملې په ترځ کې د ورځې بيه ، د ماليې د سنجش او تثبيت بنسټ دی.

۱.۲۵ هغه تبادله چې د سوداګرۍ په موخه ديوې شتمنۍ د ارزښت له مخې صورت مومي او يا هغه تبادله چې د ترلاسه شوؤ تاديا تو د پيسو يوه برخه جوړه کړي، له دغې لارې ځخه لاسته راغلې ګټه د ماليې وړ ده. د تبديل شوې شتمني د استهلاک د بيې د منفي کولو او د ترلاسه شوو اقلامو په بدل کې د دغوې د ورځنۍ بيې له مخې د غه ګټه ثابتيږي.

بېلګه: یوانفرادي شخص دیوه شرکت ۱۰۰۰ سهمونه د یوه کور په بدل کې چې دنوموړي کور خاوند هم یوانفرادي شخص دې تبادله کوي. سره د دې چې دپورتنۍ تبادلې له کبله دونډې ګټه په مناسبه توګه تادیه کیږي، په نوموړو سهمونو کې هېڅ ډول سوداګریز فعالیت وجود نه درلود او په دې اړه هېڅ ورځنی نرخ وجود نه لري. نوموړي سهمونه لس کاله وړاندې چې د یوه سهم بیه ۲۰۰ افغانۍ ؤه پېرودل شوي وه. که چیرې یو استوګنځی له ۲۰۰۰۰۰ افغانیو څخه زیات ارزښت ولري ، نو څرګندیږي چې د تبادلې په وخت کې هرسهم له ۲۰۰ افغانیو څخه ډېرارزښت لري. که چیرې دمالیې وزارت ثابته کړي چې نوموړی جایداد ۱۰۰۰۰۰۰ افغانۍ ارزښت لري اوپه همدغه بیه پلورل شوی دي او د سهمونود لیږد لګښت ۲۰۰۰ افغانۍ دي، په دغه صورت کې کیدای شي چې ترلاسه شوې ګټه د سهمونو دخاوند لخوا په لاندې ډول وټاکل شي:

| | | |
|---|---|---|
| أ. | دورځني نرخ پر اساس د جایداد(کور) ارزښت | ۱۰۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| ب. | منفي دلیږدول شوؤسهمونو بیه (۱۰۰۰×۲۰۰ افغانۍ) | ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| ج. | د سهمونو له لیږد نه لاسته راغلې ګټه | ۸۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| د. | منفي د سهمونو دلیږد لګښت | ۲۰۰۰ افغانۍ |
| ه. | د سهمونو له تبادلې څخه لاسته راغلې خالصه ګټه | ۷۹۸۰۰۰ افغانۍ |

د استوګنځي د ترلاسه کوونکي شخص ( د سهم پخوانی خاوند ) چې د اسهامو له تبادلې څخه کومه ګټه لاسته راوړي ۷۹۸۰۰۰ افغانۍ ده او نوموړی شخص مکلف دې چې د دغې ګټې له درکه پرعایداتو باندې مالیات تادیه کړي.

##
د لېږدونې هغه ډول چې د مالیاتو پر مکلفیت اغېزه ونه لري
شپږ وېشتمه ماده:
(د میراث په استثنی) له نوموړې لیږدونې څخه د ترلاسه شوې ګټې پر مالیې ورکونې باندې د منقولې اوغیرمنقولې شتمنۍ د لیږدونې ډول اغېزه نه لري.

۱.۳۲ پرته له دې چې دلیږدونې ډول په نظرکې ونیول شي دیوې شتمنۍ له لیږدونې څخه لاسته راغلې ګټه د مالیې وړده مګرداچې لیږدونه د میراث او یا د هغې معاملې له لیارې صورت ومومي چې په نسبي اویا په بشپړه توګه د(۱۴) مادې پر اساس له مالیاتو څخه معاف ده. نو د " دلیږدونې د ډول " اصطلاح لاندې معناوې لري :

أ. د پیسو دلاسته راوړنې په موخه د پلورله لیارې لیږدونه،
ب. د نورو شتمنیو دلاسته راوړنې لپاره د سوداګرۍ له لیارې لیږدونه،
ج. د نورو سرمایوي شتمنې ګانو د تبادلې په بدل کې د سوداګرۍ له لیارې لیږدونه،
د. نږدې خپلوانو او ملګرو ته د سوغات په توګه لیږدونه، او
ه. د تحفې د لاسته راوړونکي د هغوخدماتو په اړه لیږدونه چې په تیروخت کې ترسره شوي دي او یا په راتلونکې کې ترسره کیږي.

۲.۲۲ پرعایداتوباندي دمالیاتوقانون هغه ګټه چې د میراث له مخې  د شتمني له لیږدونې څخه لاسته راځي له مالیاتوڅخه معافوي. دغه معافیت پرټولوهغوګټوچې دمالکیت له لیږدونې اویا د مړشوي شخص له جایداد څخه لاسته راځي او همدارنګه پرهغوګټو باندې چې وارث یې له ترلاسه شوي جایداد څخه ترلاسه کوي تطبیقیږي.هره ګټه چې په پورته ډول د مالیې ورعوایدو په توګه وګڼل شي اوپرعایداتوباندې د مالیاتوقانون تابع وګرځي له مالیاتوڅخه معاف ده . نوموړی معافیت پرهغوځمکواو ودانیو باندې هم تطبیقیږي چې د میراث له لیارې ترلاسه کیږي.  سره له هغه څه چې پورته بیان شول،د میراثي جایداد لاسته راوړنکی باید نوموړی جایداد د صفر بیې پر اساس ترلاسه کړي.

۱ بېلګه: د مړشوي پلار جایداد دقانون لمخې د هغهٔ د ځامنو او لوڼو ترمنځ وېشل کیږي. په نوموړې شتمنۍ کې د وارثینو طبیعي حق د هغوی د پیدا ایښت له لومړۍ ورځې نه ټاکل کیږي. نو په دغه صورت کې د ۴ مادي سره سم پر عایداتو باندې مالیات محاسبه کیږي او د مالیاتو قانون د۳۰ مادې د (۱) فقرې لمخې د لیږدونې یو فیصد مالیه نه تطبیقیږي.

۲ بېلګه:  دیوه مړشوي شخص وروستۍ وصیت پاڼه دمنلووړ ده او د هغهٔ حقیقي وراثین د نوموړې وصیت پاڼې لمخې شتمنۍ په میراث اخلي. په وصیت پاڼه کې د پلارلخوا شتمنۍ په نامساوي توګه پر وارثینوباندې وېشل کیږي. د دې وصیت پاڼې پر اساس یو وارث داسې یوه ټوټه ځمکه په میراث اخلي چې ارزښت یې له هغې شتمنۍ څخه چې نورو وراثینوترلاسه کړې ده ډېر زیات دې.  بیا هم هغه جایداد اوشتمنۍ چې دوراثینولخوا ترلاسه کیږي میراث ګڼل کیږي.دځمکې خاوند له څنګه چې یې په وصیت پاڼه کې بیان کړې ده له خپل قانوني حق څخه استفاده کوي او دخپلې خوښې سره سم خپله شتمنۍ پر وارثینو باندې وېشي. هغه شتمنۍ چې دمیراث له لیارې ترلاسه کیږي او په نامساوي توګه وېشل  کیږي ،  پرعایداتوباندې دمالیاتود قانون لمخې دمالیې تابع نه ده.

۳ بېلګه:  که چیرې دیوې شتمنۍ خاوند لکه څنګه چې په دویمه بېلګه کې څرګنده شوه خپله شتمنۍ په وصیت پاڼه کې په نسبې اویاپه بشپړه توګه دیوه شخص په نامه چې دنوموړي حقیقي وارث نه دې په میراث پرېږدي ( د بیلګې په توګه یوهٔ وفادار  کارکوونکي او یا یو ډېر نږدې ملګري ته ) ، د شتمنۍ داسې لیږدونه پرعایداتو باندې د مالیاتو د قانون د احکامو تابع ده. هره شتمنۍ چې په دغه ډول ولیږدول شي دغه شتمنۍ د لاسته راوړونکي شخص د مالیې وړ عوایدو په توګه ګڼل کیږي. هرهغه شخص چې د وفات شوي شخص شتمنۍ لاسته راوړي، د شتمنۍ لاسته راوړونکی شخص باید د ځمکې او یا د کور د لیږدونې له درکه د ورځنۍ بیې پر اساس یو فیصد مالیه تادیه کړي.

#

د مالیې وړ عوایدو څخه د رامنځته شوي تاوان وضع کول

اووه ویشتمه ماده:

د مالي کال به ترڅ کې په کسب یا سوداګرۍ کې دګټې اخستنې وړ ثابتو شتمنیو له پلورنې یا تبادلې څخه رامنځته شوی تاوان د مؤدي له مالیې وړ عوایدو څخه قابل د وضع دی.پدې شرط چې د نوموړې پلورنې او تبادلې ګټه اصلاً د مالیې وړ وي.

۱.۲۷ د ټاکل شؤو شرایطو سره سم مالیه ورکونکی په سوداګرۍ او یا په سوداګریز فعالیت کې د ثابتې شتمنۍ له پلور اویا لیږدونې څخه دخپل تاوان یوه برخه جبران کوي.د دغه کار د ترسره کولو لپاره نوموړی شخص باید په هغه کال کې چې ده ته په کې زیان رسیدلی دې داسې عواید ولري چې پرعایداتوباندې د مالیاتو قانون د(۴ ) مادې لمخې د مالیاتو تابع دي.که چیرې نوموړی شخص دغه ډول عواید ولري، نو نوموړی باید د مالیې وړ عوایدو د محاسبې په مهال د مجاز معافیتونو او کسراتو سره یوځای د ضرر د مبلغ لپاره مجرایي ترلاسه کړي.که چیرې نوموړی مالیه ورکوونکی په هغهٔ کال کې چې له ضرر سره مخ شوی دې د(۴ ) مادې لمخې دمالیې وړ هیڅ عواید ونه لري، نوپه دغه صورت کې دغه مالیه ورکوونکی نه شي کولای چې د رسیدلې تاوان لپاره مجرایي ترلاسه کړي.

تبصره: که چیرې هغه صنعتګر چې سوداګریز فعالیتونه یې د مالیاتو قانون د یوولسم فصل پر اساس د مالیې تابع ګرځي خپل ثابت مالیات د مالیاتو قانون څخه دپیروۍ په موخه تادیه کړي ، نوپه دغه صورت کې نوموړی نه شي کولای چې رسیدلی تاوان د هغې شتمنۍ د پلور اویا لیږدونې له لیارې جبران کړي چې په سوداګریزو فعالیتونو کې یې ورڅخه استفاده کړې ده.

۲.۲۷ که چیرې یوانفرادي شخص دغیرمنقولې شتمنۍ دپلورله کبله په داسې مهال له تاوان سره مخ شي چې له دغې شتمنۍ څخه یې په سوداګریزو فعالیتونو کې استفاده نه وي کړې ، سره له دې چې نوموړی شخص په هغه کال کې چې پلورنه په کې ترسره شوې ده د مالیې وړ عواید ولري ، نوموړی نه شي کولای چې د دغه ضرر وضع کړي.

بېلګه: یوانفرادي شخص په ۱۳۸۵ لمریزکال کې دسهمونو دپلورله درکه ۲۰۰۰۰۰افغانۍ دمالیې وړعواید ترلاسه کوي.نوموړی همدارنګه په هماغه کال کې دوندې له ګټې، معاشونواونورو څخه د مالیې وړ عواید ترلاسه کوي.نوموړی شخص په ۱۳۸۵ لمریزکال کې داستوګنې یوجایداد د۱۰۰۰۰۰ افغانیوپه تاوان سره پلوري.په دغه صورت کې نوموړی نه شي کولای چې دغه تاوان له نوروعوایدوڅخه وضع کړي ځکه له دغه جایداد څخه لاسته راغلې ګټه پرعایداتوباندې دمالیاتوتابع نه ده ، اما د دغه جایداد پلورنه پرعایداتوباندې مالیاتودقانون د(۳۰) مادې د احکامو پر اساس دثابتې مالیې تابع ګرځي.

۳.۲۷ هغهٔ زیان چې په دغې ماده کې ذکر شوی دې له هغه زیان څخه توپیر لري چې د ۱۸ مادې د (۱) فقرې په (۹ ) برخه کې یاد شوی دې.د شتمنۍ له پلور اویا له تبادلې څخه د رسیدلی زیان لپاره په هغه کال کې مجرایي غوښتل کیدای شي په کوم چې زیان منځ ته راغلی دې.د هغو زیانونو لپاره د مجرایي غوښتنه چې د ۱۸ مادې د (۱) فقرې په (۹ ) برخه کې یاد شو ي دي باید په درې کلونو کې صورت ومومي.

#

د مالیې وړ عوایدو څخه د اضافي ضرر نه وضع کیدل

اته ویشتمه ماده:

د سهم سندونو له پلورنې یا تبادلې څخه رامنځته شوی ضرر د وضع کولو وړندی، خوداچې دغه ضرر د سندونوله پلورنې یا تبادلې څخه ترلاسه شوې ګټې څخه چې په عین کال کې یې صورت موندلی دی نشئات کړی وي. که چېرې هغه ګټه چې پدې ډول ترلاسه کیږي له هغهٔ ضررڅخه چې له دغه ډول معاملې څخه عایدیږي زیاته وي. اضافګي مبلغ د مالیې تابع دی، که دغه ضرر له ګټې څخه اضافه وي، د ضرر اضافګي مبلغ د موضوعي وړندې.

۱.۲۸ که چیرې یوهٔ شخص ته د ونډې د اسنادو د پلوراو یا تبادلې له کبله تاوان ورسیږي، نوموړی شخص نه شي کولای چې دغه تاوان د خپلو مالیې وړعوایدو څخه وضع کړي، د هغو ونډو نه پرته (که چیرې شتون ولري) چې د ونډې اسنادو د پلوراو یا تبادلې څخه په همغه کال کې ګټه لاسته راغلې وي.

۱ بېلګه: یو انفرادي شخص ۱۰۰ سهمونه پلوري چې د هرسهم بیه ۱۲۰۰ افغانۍ ده. نوموړی شخص دوه کاله وړاندې هرسهم په ۲۰۰۰ افغانۍ پېرودلی وو. نوموړي شخص ته د ونډې د پلورکبله رسیدلی تاوان ۴۰۰۰۰ افغانۍ (۱۰۰× ( ۲۰۰۰-۱۲۰۰) دې. که چیرې نوموړي شخص په دغه مالي کال کې یواځې په همدغه اندازه پلور او لیږدونه ولري، نوپه دغه صورت کې نوموړی نه شي کولای چې دخپلو مالیې وړعوایدو څخه د دغه ډول معاملو له کبله رسیدلی تاوان وضع کړي، حتی که نوموړي شخص د مالیې زیات عواید له معاش، د ونډې له ګټې او نورو څخه ترلاسه کړي وي.

۲ بېلګه: یو انفرادي شخص ۱۰ سهمونه چې هر سهم ورته په ۲۰۰۰ افغانۍ تمام شوی دې پلوري. نوموړی په هر سم کې ۵۰۰ افغانۍ تاوان کوي او ټول سهمونه په ۵۰۰۰ افغانۍ پلوري. په همدغه کال کې نوموړی شخص په یو بل شرکت باندې ۲۰ سهمونه چې په هرسهم کې ۴۰۰ افغانۍ ګټه کوي پلوري اوټوله لاسته راغلې ګټه یې ۸۰۰۰ افغانیو ته رسیږي. نوموړی انفرادي شخص کولای شي چې د۸۰۰۰ افغانیو ګټې څخه ۵۰۰۰ افغانۍ رسیدلی تاوان وضع کړي ځکه ګټه اوتاوان دواړه په یوه کال کې منځ ته راغلي دي. د سهمونو له پلور څخه لاسته راغلې پاتې ۳۰۰۰ افغانۍ ګټه د مالیې وړعوایدو په توګه ګڼل کیږي.

۳ بېلګه: که چیرې نوموړی انفرادي شخص په دویمه بېلګه کې یواځې ۴۰۰۰ افغانۍ ګټه لاسته راوړي، نو په دغه صورت کې نوموړی کولای شي د ۵۰۰۰ افغانیو له مجموعي تاوان څخه یواځې ۴۰۰۰ افغانۍ وضع کړي. په دغه صورت کې داسې ګڼل کیږي چې نه دهغهٔ د مالیې وړعواید اونه هم د هغهٔ دتاوان دوضع کولوډېره برخه پاتې ده، نو دغه د۲۸ مادې د حکم تابع دې نه د۴۲ مادې.

۴ بېلګه: که چیرې په پورتنۍ دویمې بېلګې کې د ۵۰۰۰ افغانیو تاوان په یوه مالي کال کې منځ ته راشي او د ۸۰۰۰ افغانیو ګټه په بل مالي کال کې لاسته راوړل شي، نو په دغه صورت کې هېڅ یو تاوان د مجرايي وړنه دی اولاسته راغلې ټولې ګټې د مالیې وړدي.

۲.۲۸ د ونډې د اسنادو له پلور اویا تبادلې څخه لاسته راغلې ګټه او تاوان په لاندې ډول تعینیږي:

أ. هغه مبلغ چې ونډه (سهم ) په کې پلورل شوې وي ، یا د شتمنې لاسته راغلې ارزښت چې د ونډې له تبادلې څخه لاسته راغلی ترلاسه شوی وي او یا دورځنې نرخ پر اساس د ونډې د لیږدونې په وخت د هغې ارزښت ثبت شوی وي،
ب. د ونډې د خاوند لګښتونه د لیږدونې له لګښتونو سره جمع شوي وي،او
ج. د(ب) برخې لاسته راغلی مبلغ د(الف) برخې له لاسته راغلي مبلغ څخه منفي کیږي. د ونډې له پلور اویا تبادلې څخه د لاسته راغلې ګټې او تاوان ترمنځ توپیر و ښيي.

که چیرې د(ب) برخې مبلغ د(الف) له برخې څخه لږ وي، نومنځ ته راغلی توپیر لاسته راغلې ګټه څرګندوي.که چیرې د(ب) برخې مبلغ د(الف) له برخې څخه ډیر وي ،نوپه دغه صورت کې نوموړې معامله د تاوان ښکارندوی ده.

۱ تبصره: د یوې ونډې متوسطه بیه له هغه مجموعي مبلغ څخه عبارت دي چې د ټولو ونډو له کبله تادیه کیږي او پر هغو یو شمېر ونډو باندې وېشل کیږي چې د لیږدونې په وخت کې په ملکیت کې قرار ولري.

۲. تبصره: د یوې ونډې متوسطه بیه په لیږدول شوو ونډو کې ضربیږي او د خاوند د ونډو د تمام شوې بیې په توګه ګڼل کیږي.

۱ بېلګه: په ۱۳۸۵ لمریز کال کې یو انفرادي شخص خپل د ونډې ۱۰۰ قطعې اسناد چې د یوې ونډې بیه ۹۰۰ افغانۍ او د ټولو ونډو مجموعې بیه یې ۹۰۰۰۰ افغانۍ ده د لوګر د معدنو پر شرکت یې پلورې. نوموړی له دغه پلور څخه ۴۰۰۰۰ افغانۍ ګټه ترلاسه کوي او د پلور په دغه معامله کې هېڅ لګښت وجود نه لري. د ونډې دغه ټول اسناد عادي اسناد دي او د دغو ونډو بیه د همدغه سهامي شرکت نورو ونډو ته ورته ده. دغه ټولې ونډې د رایې اوعوایدو برابر حقوق لري. د ونډو خاوند دغه سندونه په مختلفو وختونو کې ترلاسه کړي دي او د ونډې د ۱۰۰ سندونو له پلور څخه وروسته بیا هم له نوموړي سره د ونډې ۲۰ نور سندونه پاتې دي.

| | تمامه شوې بیه | پلور | ګټه | لګښت | خالصه ګټه |
|---|---|---|---|---|---|
| د ونډو پېرودل | | | | | |
| ۱۳۷۹ د ونډې ۲۰ قطعې سندونه = ۱۰۰۰ | ۲۰۰۰۰ | | | | |
| ۱۳۸۱ د ونډې ۴۰ قطعې سندونه = ۱۰۰۰ | ۴۰۰۰۰ | | | | |
| ۱۳۸۳ د ونډې ۲۰ قطعې سندونه د ونډې ګټې په بدل کې | صفر | | | | |
| د ونډې ۱۲۰ سندونه =۵۰۰ افغانۍ | ۶۰۰۰۰ | | | | |
| د یوې ونډې د متوسط قیمت پر اساس یوه قطعه په ۵۰۰ افغانۍ | ۶۰۰۰۰ | | | | |
| پلورل شوې | | | | | |
| ۱۳۸۵ د ونډې ۱۰۰ قطعې سندونه | | | | | |
| یوه قطعه په ۹۰۰ افغانۍ | ۵۰۰۰۰ | ۹۰۰۰۰ | ۴۰۰۰۰ | | ۴۰۰۰۰ |
| پاتې برخه | | | | | |
| د ونډې ۲۰ قطعې سندونه | | | | | |
| د یوه سند متوسطه بیه ۵۰۰ افغانۍ | ۱۰۰۰۰ | | | | |

۲ بېلګه: په ۱۳۸۲ لمریزکال کې هماغه انفرادي شخص د۸۰۰ افغانیو په بیه د ونډې ۵۰ اضافي سندونه له (الف) شرکت څخه پیري. له دغې پیرودنې او هغه ۲۰ ونډې چې نوموړي ته د۱۳۸۵ لمریزکال څخه وروسته پاتې دي ، نوموړی شخص اوس مهال د(الف) په شرکت کې د۷۰ ونډې لري. که چېرې نوموړی شخص په ۱۳۸۷ لمریزکال کې د ونډې ۷۵ سندونه چې دهرسند بیه یې۱۰۰۰ افغانۍ ده وپلوري او دپلورلګښت ۳۰۰۰ افغانۍ وي ، د۲۴۰۰۰ افغانیو له درکه د نوموړي شخص د مالیې وړعواید په لاندې ډول محاسبه کیږي:

| | بیه | پلور | ګټه | لګښت | خالصه ګټه |
|---|---|---|---|---|---|
| د ۱ بېلګې پاتې برخه ۲۰ ونډې | ۱۰۰۰۰ | | | | |
| پېرودل شوې ونډې | | | | | |
| د ۱۳۸۲ دونډې ۵۰ قطعې سندونه | | | | | |
| یوه قطعه په ۸۰۰ افغانۍ | ۴۰۰۰۰ | | | | |
| پاتې برخه | | | | | |
| د ونډې ۷۰ سندونه | | | | | |
| یو ه قطعه په ۷۱۴ افغانۍ | ۵۰۰۰۰ | | | | |

خرڅې شوې ونډې
د ۱۳۸۷ د ونډې ۴۰ قطعې سندونه
یوه قطعه په ۱۰۰۰ افغانۍ

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| پاتې مجموعه | ۲۸۵۲۰ | ۴۰۰۰۰ | ۱۱۴۴۰ | ۳۰۰۰ | ۸۴۴۰ |
| د ونډې ۳۰ قطعې سندونه | | | | | |
| یوه قطعه په ۷۱۴ افغانۍ | ۲۱۴۴۰ | | | | |

#

**د شتمنۍ د ارزښت له زیاتېدو څخه د مالیې سنجش**

**نهه ویشتمه ماده:**

د شتمنۍ د ارزښت د زیاتیدو د مالیې د تثبیت او سنجش ډول ، په لاندې توګه دی:

1. د دې قانون په درویشتمه ماده کې درج ګټه چې په (۱۸) میاشتو یا له هغې څخه په زیاته موده کې د شخص په ملکیت کې وي ، د لاندې یوۀ یا څو شرطونو په لرلو سره تثبیت او سنجول کیږي:

- (د میراث په استثني) لیږدیدو د پلورنې په ډول صورت نه وي موندلي،
- لیږدول شوې شتمني پانګه ایزه شتمنۍ وي، او
- د شتمنۍ د پلورنې یا د کسب (پیسې) او سوداګری د انحلال په ترڅ کې لیږدول شوې وي.

2. د مالي کال په بهیر کې د شخص پر عایداتو باندې مالیات چې د دې مادې په (۱) جزء کې له درج شرایطو څخه دیوۀ لمخې ولیږدول شي، د دې مادې په (۳) جزء کې درج په موضوعه مخصوص نرخ له ټولو سرچینو څخه د هغۀ د مالیې وړ عوایدو له حاصل ضرب څخه عبارت دی.
3. پدې ماده کې درج موضوعه مخصوص نرخ په لاندې ډول ترلاسه کیږي.

- (د میراث په استثني) د شتمنۍ له لیږدیدو څخه ترلاسه شوې ګټه ، د هغو کلنو پر شمېر باندې تقسیمیږي چې شتمنۍ یې په ملکیت کې وي ،
- کلنۍ متوسطه ګټه یا لدې تګلارې څخه ترلاسه شوې ګټه له مالیې وړنورو عوایدو سره جمع او عجالتاً د دې قانون په څلورمه ماده کې د درج جدول د نرخ لمخې، سنجش او ترلاسه شوې(حاصله)مالیه پر هغۀ مبلغ باندې تقسیمیږې چې پرې سنجش شوی دی، مطلوب نرخ تثبیتوي، او
- که چیرې مطلوب نرخ له په سلو کې له لسو څخه لږ وي ،په هغۀ صورت کې د تطبیق وړ نرخ په سلو لس دی.

۱.۲۹ پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون د (۲۹) مادې موخه د یو انفرادي شخص له هغو عوایدو څخه په منصفانه توګه د مالیې راټولول دي چې په څو کلنو کې یې د پلور او یا تبادلې له درکه ترلاسه کړي دي ولې په یوه کال کې د مالیې وړګرځي. که چیرې د (۲۹) مادې احکامو موجود نه وای، نو لاسته راغلي عواید به د مالیې د لوړ نورم ( د مالیاتو قانون په (۴ ) ماده کې د درج شوی نورم ) تابع وای. دا چې له لاسته راغلو عوایدو څخه کال په کال مالیه نه اخستل کیږي (په عملي توګه ناشونې ده ) نو ټوله ګټه په یوه کال کې د مالیاتو تابع ګرځي او هر کله چې د مالیې وړ عوایدو مبلغ ډېر وي، نو د مالیې لوړ نورم باید تطبیق کړل شي. د ( ۲۹ ) مادې د حکم پر اساس لاسته راغلې مجموعي ګټه پر هغو کلنو تقسیمیږي چې دغه ګټه په کې لاسته راغلې ده. له دغې لیارې څخه چې کوم اوسط ترلاسه کیږي د هغه مالیاتي نورم په ټاکلو کې ورڅخه استفاده کیږي چې په بشپړ مجموعي عوایدو باندې باید تطبیق کړل شي.

د پانګې پر ګټې د مالیې د سنجش او ټاکنې طریقه

بېلګه: په ۱۳۸۸ لمریز کال کې یو انفرادي شخص د ونډو د پلورله درکه ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ ګټه ترلاسه کوي. دغه ونډې په اوسط ډول د (۴ ) کلنولپاره د پلورونکي په ملکیت کې وې. نو له ۱۰۰۰۰۰ افغانیو څخه په یوه کال کې لاسته راغلې ګټه پر څلورو کلنو باندې وېشل کیږي او د وېش حاصل یعنې ۲۵۰۰۰ افغانۍ د یوه کال ګټه ده. د دغو ونډو پلورونکي له ټولو سرچینو څخه د ۱۳۰۰۰۰۰ افغانیو په ارزښت د مالیې وړ عواید (د کسراتو له وضع کولو څخه وروسته) ترلاسه کړي دي. د نوموړي پلورونکي د۱۳۸۸ لمریز کال مالیه په لاندې ډول محاسبه کیږي:

| | | |
|---|---|---|
| أ. | په ۱۳۸۸ کال کې د مالیې تابع نور عواید | ۱۳۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| ب. | د هرکال اوسطه ګټه په هغه وخت کې چې سهمونه په ملکیت کې وو | ۲۵۰۰۰۰ افغانۍ |
| ج. | مجموعه | ۱۵۵۰۰۰۰ افغانۍ |
| د. | د مالیاتو قانون د (۴) مادې پراساس مؤقتي مالیه | ۱۷۶۸۰۰ افغانۍ |
| ه. | مخصوص نورم ۱۵۵۰۰۰۰ / ۱۷۶،۸۰۰ ٪۱۱.۴۰ | |
| و. | په ۱۳۸۸ کال کې د مالیې وړنور عواید | ۱۳۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| ز. | د سهمونو د پلور له درکه لاسته راغلي د مالیې وړعواید | ۱۰۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| ح. | د مالیې وړمجموعي عواید | ۲۳۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| ط. | مالیه(۲۳۰۰۰۰۰ × ٪۱۱.۴۰) | ۲۶۲۸۰۰ افغانۍ |

*لکه څنګه چې ٪۱۱.۴۰ مخصوص نورم له تشریح شوي ۲ فیصدۍ څخه لوړ دي، نو د ٪۱۱.۴۰ نورم د تطبیق وړ دی.

تبصره: که چیرې پورتنی امتیازي نورم نه تطبیقیږي، نو کیدای شي چې د ۲۳۰۰۰۰۰ افغانیو مالیه ۳۲۲۸۰۰ افغانیو ته ورسیږي.

۲.۲۹ سهامي اومحدودالمسؤلیت شرکتونه له پورتنۍ طریقې استفاده نه کوي. د ۲۹ مادې له احکامو څخه استفاده کول سهامي او محدودالمسؤلیت شرکتونوته کوم مالیاتي ګټه نه ورکوي ځکه د

نوموړوشرکتونو مالیه ثابته ده اود٪۲۰ نورم پراساس وضع کیږي اود ګټې اوسط نه شي کولای چې د نوموړوشرکتونو مالیاتي نورمونه بدل کړي.

۳.۲۹ له هغې شتمني څخه لاسته راغلې ګټه چې د ملکیت موده یې له 18 میاشتو نه کمه ده د دغې مادې د احکامو تابع نه ګرځي.

| |
|---|
| د منقولو او غیرمنقولو مالونو پر پلورنې مالیات<br>دېرشمه ماده:<br>(1) دمیراث له لارې د ملکیت د لیږد په استثني ، د دې قانون د دروېشتمې مادې د حکم لمخې ، دهغو مالونوبیه چې د غیرمنقولومالونود پلورنې یا لیږد له لارې ترلاسه کیږي ، پرعایداتوباندې د مالیاتو په عوض د ملکیت د لیږدیدوپه وخت کې په سلوکې د یوې ثابتې مالیې تابع ګرځي.<br>(2) د مالونو هغه بیه چې م منقولومالونواوهر ډول نقلیه وسایطو دپلورنې یا لیږد له لارې لاسته راځي،پر عایداتوباندې د مالیاتو په عوض دملکیت دلیږدیدو په وخت کې په سلو کې د دوو ثابتې مالیې تابع ګرځي. |

۱.۳۰ د هرې منقولې او غیر منقولې شتمنۍ لکه ګاډي او ځمکه چې د یوه انفرادي شخص، انفرادي اشخاص په یوه عادي تضامني شرکت یا کورنۍ پورې اړه ولري، د هغو پر خرڅلاو یا لېږد باندې پر عایداتو د مالیاتو قانون د ۳۰ مادې په ۱ بند کې اټکل شوې مالیه پلې کیږي. هغه اجاره چې له یوه کاله بل کال ته یا د لسو کالو یا له دې څخه د کمو کالو لپاره ادامه مومي، د دې مالیې د پلې کېدو لپاره، د ځمکې د حقونو او امتیاز د لېږد په توګه نه ګڼل کیږي. هغه مالیه چې د ۱۰ کالو څخه د زیاتې مودې لپاره وي، د انتقال په توګه شمېرل کیږي او د دغې مالیې تابع ګرځي.

۱ بېلګه: یو زمیندار خپله کرهنیزه ځمکه یوه بزګر ته په اجاره ورکوي او هر کال له بزګر څخه د اجارې په توګه د حاصلاتو یوه برخه ترلاسه کوي. په دغه حالت کې د مالیاتو قانون د (۳۰) مادې مالیه د تطبیق وړ نه ده.

۲ بېلګه: یو انفرادي شخص په یوه ښار کې یوه ټوټه ځمکه لري او د یو تجدید وړ قرارداد له مخې خپله ځمکه یوه شرکت ته د ۹۹ کالو لپاره په اجاره ورکړې ده. نوموړی شرکت غواړي چې په دغه ځمکه کې یوه صنعتي فابریکه آباده کړي. د ځمکې د لیږدونې دغه حقوق د مالیاتو د ورکړې تابع دي او مالیه یې په بازار کې د ځمکې د ارزښت له مخې یو فیصد ده.

۳ بېلګه: فیروز یو ګاډی په واک کې لري چې دوه کاله وړاندې یې په ۱۳۰۰۰۰ افغانۍ پېرودلی وو. فیروز موافقه کوي چې خپل موټر د۱۵۰۰۰۰ افغانیو په بدل کې پرنجیب وپلوري. فیروز چې کله موټر پلوري نو مکلف دې چې د ۱۵۰۰۰۰ افغانیو له درکه٪۱ ثابته مالیه تادیه کړي. د دغه مبلغ مالیه ۱۵۰۰ افغانۍ کیږي.

تبصره: دا چې فېروز د يوه حقيقي شخص (د انفرادي شخص) نه د حکمي شخص (لکه شرکت يا نورې ادارې) شتمنۍ پلوري، دی مکلف دی چې په خپل مالياتي اظهارليک کې ياد خرڅلاو محاسبه کړي. ۱ فيصده ثابته ماليه چې د خرڅلاو له درکه ورکول کيږي، وروستۍ ماليه ګڼل کيږي او د کلنيو عوايدو د ماليې پر ځای پلې کيږي.

۲.۳۰ که چيرې دوه انفرادي اشخاص خپل جايدادونه سره تبادله کړي، هر جايداد د يوې جلا معاملې په توګه د ماليې تابع ګرځي.

بېلګه: عزيز کابل ولايت کې يوه ټوټه ځمکه لري او نوموړی له دغې ځمکې څخه په سوداګرۍ او يا په خپلو نورو فعاليتونو کې ورڅخه استفاده نه کوي. وحيد هم په هرات ولايت کې يوه ټوټه ځمکه لري او دغې ځمکې څخه په سوداګرۍ او يا په خپلو نورو فعاليتونو کې ورڅخه استفاده نه کوي. عزيز او وحيد موافقه کوي چې خپلې ځمکې له يو بل سره تبادله کړي. دواړه عزيز او وحيد بايد د ليږدول شوې ځمکې د يو فصد ارزښت سره مساوي ماليه تاديه کړي.

۳.۳۰ د شراکت د ونډې انتقال د اصلي شتمنۍ د لېږد په توګه ګڼل کيږي چې د شراکت تر ملکيت لاندې قرار لري او دغه ډول لېږدونه هم پر عايداتو د مالياتو د قانون د ۳۰مې مادې په ۱ بند کې د درج شوو مالياتو تابع بلل کيږي.

بېلګه: عزيز يو افغان مېشت شخص دې چې په يوه افغاني شرکت کې ٪۱۰ ونډه لري. د شرکت ٪۹۰ پاتې برخه د وحيد ( د عزيز ورور) ونډه ده. وحيد هم يو افغان مېشت شخص دې. دغه افغان شرکت حقيقي شتمني په قندهار ولايت کې لري چې په سوداګريزو اونورو فعاليتونو کې ورڅخه استفاده نه کيږي. که چيرې عزيز خپله ٪۱۰ ونډه وپلوري، نو په دغه صورت کې داسې ګڼل کيږي چې نوموړي د شرکت حقيقي شتمنۍ پلورلې ده. پر عايداتو باندې د مالياتو قانون د ۳۰ مادې د ۱ فقرې لمخې د شتمنۍ د ليږدونې له کبله عزيز د ۱ فيصد ماليې تابع ګرځي.

۴.۳۰ پر عايداتو باندې د مالياتو قانون د ۳۰ مادې د ۲ فقرې لمخې، حکمي اشخاص پر عايداتو باندې د مالياتو قانون د ۲۳ مادې په رعايتولو سره په دې مکلف دي چې د خپلو منقولو او غير منقولو شتمنيو له خرڅلاو يا لېږد څخه ۱ فيصد ماليه ورکړي. د منقولو او غير منقولو شتمنيو د خرڅلاو يا لېږد له درکه د حکمي اشخاصو لخوا ورکړل شوې ماليه د وړاندې ورکړې په توګه بلل کيږي او پر کلنيو عايداتو د مالياتو په وړاندې نه مجرا کيږي.

بېلګه: د هوخست شرکت خپله لاری په ۱۳۸۸ مالي کال کې په ۲۰۰۰۰۰ افغانيو پلوري. ياد شرکت مکلف دی چې له پورته مبلغ څخه ۱ فيصد ماليه چې ۲۰۰۰ افغانۍ کيږي، د خرڅلاو پرمهال د دولت ځانګړې حساب ته وسپاري. دغه ماليه د ياد شرکت لخوا د وړاندې ورکړې په توګه ګڼل کيږي او د اظهارليک د وړاندې کولو پرمهال پر عايداتو د مالياتو پر وړاندې مجرا کيږي.

که چېرې د هوخست شرکت په ۱۳۸۸ مالي کال کې، د ۲۰۰۰۰۰ افغانيو په کچه خالص يا نګه عوايد ولري، په دې صورت کې د ورکړې وړ ماليه په ۱۳۸۸ کال کې د مالياتي اظهارليک د وړاندې کولو پرمهال په لاندې توګه ده:

| | | |
|---|---|---|
| نګه عواید | | ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| پر عایداتو د مالیاتو مکلفیت | (له ۲۰۰۰۰۰ افغانیو څخه ۲۰٪ فیصده) | ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| منفي ورکړل شوې مالیه | (د شتمنۍ د خرڅلاو له درکه) | ۲۰۰۰ افغانۍ |
| پر عایداتو د ورکړې وړ مالیات | | ۱۸۰۰۰ |

تبصره: ۳۰مه ماده دتشبثي فعالیتونو پر زیرمو نه پلې کیږي.

# څلورم فصل

## شرکتونه

## له ۳۱ مادې نه تر ۳۵ پورې

**تعریفونه**

یو دېرشمه ماده:

1. شراکت: د دوو یا له دوو څخه د زیاتواشخاصو یووالی (اتحاد) دی چې د اړوندې اساسنامې لمخې په ګډه سرکار او سوداګري کوي اوګټه اوضرر یې تقسیموي.
2. شریک: هغه شخص دی چې په شرکت کې سهم ولري.
3. د شراکت اساسنامه: د قواعدو مجموعه ده چې شریکانو هغه منلي او پربنسټ یې شرکت اداره کوي.
4. تضامني شرکت: هغه شرکت دی چې له شریکانوڅخه هر یو په انفرادي یا ټولیزه توګه د شرکت د ټولو پورونو او د یونو په ورکړه مکلف وي.
5. ګډ تضامني شرکت: هغه شرکت دی چې یو یا څوشریکانو پکې د شرکت د پورونواو دیونو په نسبت د تضامني اوغیرمحدودالمسؤولیت لرونکي وي او پاتې شریکان، په شرکت کې د هغوی د سهم په اندازې پورې د محدودالمسؤولیت لرونکي وي.
6. محدودالمسؤولیت شرکت: هغه شرکت دی چې شریکان پکې منفرداً د شرکت د پورونو او دیونو په نسبت مسؤول نه وي او د هرشریک مسؤولیت په شرکت کې د هغهٔ د سهم په اندازې پورې محدود وی.
7. سهمامي شرکت: هغهٔ شرکت دی چې پانګه یې ټاکلې او په اسهامو وېشل شوې وي او د هر شریک د مسؤولیت اندازه د هغهٔ د سهم په اندازې پورې محدوده وي.

۱.۳۱ د سهامي شرکت ونډې د انتقال وړدي او د نورو ونډوالوله خوښې او اجازې نه پرته د شرکت خاوند کولی شي دغه ونډې وپلوري. محدودالمسؤولیت شرکت توپیرلري او په یوه محدودالمسؤولیت شرکت کې د شریکانو ونډې (ونډه وال) د لیږد وړنه دي. داچې یو ونډه وال (شریک) خپلې ونډې پلورلی شي اوکه نه او خپلې ونډې په کوم شخص پلوري، دا هرڅه د شرکت لخوا تعینیږي. د یوه سهامي شرکت په شان یومحدودالمسؤولیت شرکت هم د مالیاتوتابع ګرځي. د مالیاتوقانون (۳۲) مادې اوهغوطرززالعملونو ته مراجعه وکړئ چې د دغې مادې پر اساس ددې لپاره چې محدود المسؤولیت شرکتونو تر مالیې لاندې راوستل شي صادر شوي دي.

۲.۳۱ د یوه شراکت د جوړولو په موخه دوه اویا له دووڅخه ډېراشخاص باید دیوې توافقنامې پراساس د سوداګریز فعالیت د پرمخ بیولولپاره سره یوځای شي او لاسته راغلې ګټه بایدد هر شخص د ونډې پر اساس ووېشل شي.

(الف) د یوه شراکت سهم لرونکي مکلف نه دي چې خپله توافقنامه په لیکلې توګه رسمي کړي.د شراکت "توافقنامه" د سهم لرونکود کارپه جریان کې منځته راتلای شي.

بېلګه: ادیب او وحید په کابل کې میوه پلوري.هغوی خپله توافقنامه هېڅکله په لیکلې توګه نه ده رسمي کړې. سره له دې چې ادیب هره ورځ د میوې کراچۍ آماده کوي او د نمایش لپاره پرې میوه ترتیب کوي او له دغې لیارې

مختلفو پلورونکو ته خدمات وړاندې کوي. وحید د پلورونکو لپاره میوه برابروي.ادیب ۶۰٪ او وحید ۴۰٪ ګټه (له لګښت نه وروسته) له خپل شراکت څخه ترلاسه کوي. سره له دې چې ادیب او وحید لیکلې رسمي توافقنامه نه لري دوې دواړه په یوه شراکت کې شریکان دي.

(ب) هغه جایداد چې د څوکسانو شریک ملکیت دې د شراکت د جوړولو لپاره کافي نه دې بلکه په شراکت کې باید شریکه ګټه او تاوان وجود ولري.

بېلګه: ادیب او وحیدورونه دي او هغوې ته د زابل په ولایت کې له خپل پلار څخه یوه ټوټه ځمکه په میراث پاتې ده.ادیب او وحید په ګډه د ددغې شتمنۍ مالکین دي اما د نوموړو شتمنۍ یوازې بایره ځمکه ده.ادیب او وحید تصمیم نه لري چې له دغې ځمکې څخه استفاده وکړي ولې هغوې په نظر کې لري چې دغه ځمکه د یوې مودې لپاره وساتي اوبیا یې وپلوري.کیدای شي چې هغوې نوموړې ځمکه په جلا اویا په یوځایي توګه وپلوري. له دغه حقیقت څخه داسې څرګندیږي چې ادیب او وحید په یوه شراکت کې شریکان نه دي.

۳.۳۱ د یوه تضامني شرکت انفرادي شریکان باید د مالیې ورکال په پای کې د نوموړي شرکت د عوایدو یا تاوان په اړه پرته له دې چې عواید وېشل شوي دي او که نه راپور ورکړي. هرشریک باید دخپلې وېشل شوې ونډې عواید اوتاوان وښیي.

۱ بېلګه: ادیب یوافغان مېشت شخص دې چې په یوه افغان سهامي شرکت کې ۱۵٪ ونډه لري. همدارنګه وحید هم یوافغان مېشت شخص دې او په یوه افغان سهامي شراکت کې ۸۵٪ ونډه لري. دهغوې شراکت دیوه کال په اوږدوکې ۱۰۰۰۰۰۰ افغانۍ ګټه ترلاسه کړې ده. ادیب او وحید دکال په اوږدوکې خپله ګټه نه ده وېشلې.ادیب باید ۱۵۰۰۰۰ افغانۍ ګټه او وحید باید ۸۵۰۰۰۰ افغانۍ ګټه په خپلومالیاتي اظهار لیکونو کې وښیي.

۲ بېلګه: ادیب یو افغان مېشت شخص دې چې په یوه افغان سهامي شرکت کې ۱۵٪ ونډه لري.همدارنګه وحید هم یوافغان مېشت شخص دې او په یوه افغان سهامي شرکت کې ۸۵٪ ونډه لري. د ادیب او وحید شراکت دیوه کال په اوږدوکې ۱۰۰۰۰۰۰ افغانۍ تاوان کړی دې او هغوې خپل دغه تاوان دکال په اوږدوکې نه دې وېشلی.ادیب باید ۱۵۰۰۰۰ افغانۍ تاوان او وحید باید ۸۵۰۰۰۰ افغانۍ تاوان په خپلو اظهارلیکونو کې وښیي.

پر محدود المسؤلیت او تضامني ګډ شرکت باندې د تطبیق وړ حکمونه

دوه دېرشمه ماده:

(۱) محدود المسؤلیت شرکت، د سهامي شرکتونو په هکله د دې قانون د تطبیق وړ حکمونو تابع دی. د دې قانون په منظور، د دغه ډول شرکت شریکان ، سهم لرونکي او د ګټې وېش ئې ، د سهم ګټه ګڼل کېږي.

(۲) تضامني ګډ شرکت ،د تضامني شرکتونو په هکله د دې قانون د تطبیق وړ حکمونو تابع دی.

۱.۳۲ د یوه سهامي شرکت د سهم لرونکو په اړه پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون حکمونه د یوه محدود المسؤلیت شرکت پر سهم لرونکو باندې هم د تطبیق وړدي. همد ارنګه هغه حکمونه چې د سهامي شرکت لخوا خپلو سهم لرونکو ته د ونډو د ګټو د وېش په اړه تطبیقیږي ، د محدود المسؤلیت شرکت سهم لرونکو ته د ګټې پر وېش باندې هم د تطبیق وړ دي.

بېلګه: یو محدود المسؤلیت شرکت د مالیې وړ په یوه کال کې ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ ګټه ترلاسه کړې ده چې له جملې څخه یې ۹۰۰۰۰ افغانۍ په نغده توګه سهم لرونکو ته توزیع شوې او۱۰۰۰۰ افغانۍ شرکت له ځان سره ساتي.د شرکت پرخالصو عایداتو ( ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ ) باندې ۲۰ ٪ مالیه یعنې ۲۰۰۰۰ افغانۍ ده او د ونډې له ګټې (۹۰۰۰۰ افغانۍ ) څخه ۲۰٪ وضع شوې مالیه ۱۸۰۰۰ افغانۍ کیږي.

۲.۳۲ هغه شریکان چې په یوه تضامني ګډ شرکت کې محدود مسؤلیت لري د مالیاتو قانون د یوولسم فصل د احکامو پر اساس د ثابتو مالیاتو په اړه هم محدود مکلفیت لري.ثابت مالیات د دغو شریکانو له ونډې ، د ونډو لرونکو له عوایدو (چې وېشل شوې وي اویا نه) او شتمنۍ او یا له هغو شریکانو څخه چې نامحدود مکلفیت لري، تادیه کیږي.

بېلګه: له پلټنې او ارزونې نه وروسته ثابته شوه چې یوګډ تضامني شرکت د ۱۳۸۵ کې د۱۰۰۰۰۰ افغانیو اضافي مالیاتو له درکه پوروړی دی. نوموړې شرکت په ۱۳۸۵ لمریز کال کې نه کومه ګټه ترلاسه کړې او نه یې د ونډې کومه ګټه وېشلې ده. هیڅ داسې کومه شتمني هم وجود نه لري چې د دغو اضافي مالیاتو په بدل کې تادیه کړل شي.په دغه حالت کې، هغه شریکان چې محدود مسؤلیت لري د نوموړې مالیې د هیڅ کومې برخې د تادیې لپاره ترپلټنې او ارزونې لاندې نه نیول کیږي، ولې هغه شریکان چې نامحدود مسؤلیت لري د دغو ټولو مالیاتو پرورکړه باندې مکلف دي.

تبصره: که چیرې یو شرکت د مالیې د ورکړې لپاره شتمني ولري او یا که چیرې نوموړی شرکت په همدغه کال شتمنۍ( عواید ) کې وو وېشي، د اضافي مالیاتو محاسبه د باقې پاتو شتمنیو او وېشل شوو شتمنیو له مخې په همدغه کال کې صورت مومي. که چیرې مالیاتي مکلفیت په بشپړه توګه نه وي ادا شوی،باقې پاتې هغه مالیات چې نه دي تادیه شوي د هغو شریکانو مکلفیت ګڼل کیږي چې په شرکت کې نامحدود مسؤلیت لري.

| |
|---|
| **د تضامني شرکت مالیات**<br>**دري د یرشمه ماده:**<br>تضامني شرکت د حکمي شخصیت په توګه پدې قانون کې درج پر عایداتو د مالیاتوتابع ندی. شریکان د حقیقي اشخاصوپه توګه په انفرادي ډول پرعایداتوباندې د مالیاتوتابع دي. د تضامني شرکت عایدات د شریکانود انفرادي عایداتوپه صورت چې دهغوهریومکلف دی د شرکت له عایداتوڅخه خپل سهم په خپلود مالیې ورعوایدوکې داخل کړي ، پرعایداتوباندې د مالیاتوتابع دي. |

۱.۳۳ د لاندې شرایطو په لرلو سره د تضامني شرکت عواید پرعایداتو باندې له مالیاتوڅخه معاف دي:

أ. له سوداګریزوفعالیتونو څخه لاسته راغلي عواید يې د ثابتومالیاتوتابع دي.
ب. دمالیاتوقانون دیوولسم فصل پر اساس پرعایداتوباندې دمالیاتوپر ځای دثابتومالیاتود موجودیت په صورت کې.

د تضامني شرکت دغه عواید پرته له دې چې آیا ونډه لرونکوته وېشل شوي دي او که نه، له مالیاتوڅخه معاف دي.

تبصره: یو سوداګریز شرکت پر عایداتوباندې د مالیاتوقانون دیوولسم فصل د حکمونو پر اساس د مالیاتوتابع ګرځي او د دغه شرکت مالکیت چې ثابته مالیه ورکوي د تضامني شرکت په اختیارکې دې اوفعالیتونه یې هم پرمخ وړي.دنوموړي شراکت دسوداګریزوفعالیتونوله درکه لاسته راغلې ګټه په ځینو کلنوکې ونډه لرونکوته وېشل کیږي او په ځینوکلنوکې نه وېشل کیږي. د شراکت لاسته راغلي عواید له مالیاتوڅخه معاف دي.

۲.۳۳ یو افغان مېشت ونډه لرونکی له مالیې څخه پرته په شرکت کې دخپلې ونډې په اندازه د ونډو ګټه په پیسو سره ترلاسه کولای شي.

۱ بېلګه: عزیز او وحید په یوه افغان شرکت کې په مساوي توګه ونډه لري. هریو عزیز او وحید د شرکت د جوړېدو په مهال ۵۰۰۰۰ افغانۍ په شراکت پانګه اچولې ده. نوموړی شرکت د کال په اوږدوکې ۲۰۰۰۰ افغانۍ ګټه کوي. د کال په پای کې د ونډو دګټو دوېش له ځېرنې څخه وړاندې د عزیز او وحید ونډې له ۵۰۰۰۰ افغانیوڅخه ۲۰۰۰۰ افغانیوته لوړیږي. د کال په اوږدوکې هرشریک ته ۵۰۰۰ افغانۍ وېشل کیږي. عزیز او وحید باید د شرکت دګټې له درکه لاسته راغلې ۱۰۰۰۰ افغانۍ د توزیع وړ ونډې په توګه وګڼي. همدارنګه عزیز او وحید نه شي کولای چې د کال په اوږدوکې هغوی ته ورکړل شوې ۵۰۰۰۰ افغانۍ د ونډې دګټې په توګه وګڼي. له وېش نه وروسته په شرکت کې د عزیزاو وحید ونډې ۵۵۰۰۰ افغانیوته راټیټیږي.

۲ بېلگه: عزیزاو وحید په یوه افغان شرکت کې په مساوي توګه ونډه لري. هر یو عزیز او وحید د شرکت د جوړیدو په مهال په شراکت کې ۵۰۰۰۰ افغانۍ پانګه اچولې ده. د کال په اوږدو کې نوموړی شرکت ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ ګټه ترلاسه کوي. عزیز او وحید باید په جلا توګه ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ د شراکت د وېش وړ ګټې په توګه وښیي. د کال په پای کې د عزیز او وحید سهمونه له ۵۰۰۰۰ افغانیو څخه ۲۰۰۰۰۰ افغانیو ته لوړیږي. د فعالیت په دویم کال کې نوموړي شرکت نه ګټه کړې او نه یې تاوان مګر هر ونډه لرونکي ته یې ۶۰۰۰۰ افغانۍ ور کړې دي.له وېش نه وروسته په شرکت کې د عزیز او وحید ونډې ۵۴۰۰۰ افغانیو ته راټیټیږي.

۳.۳۳ که چیرې یو ونډه لرونکی په شرکت کې د خپلې ونډې په پرتله زیاتې پیسې ترلاسه کړي، نوموړی باید دغه اضافي مبلغ په شرکت کې د خپلې ونډې څخه د لاسته راغلې ګټې په توګه وګڼي.

بېلګه: عزیز او وحید په یوه افغان شرکت کې په مساوي توګه ونډه لري.د هر یوهٔ ونډه ۲۰۰۰۰۰ افغانیو ته رسیږي. د چټک استهلاک د مجرايي پر اساس او له مالیې وړعوایدو څخه پرته ، نوموړی شرکت د پام وړنغدې مبلغ ترلاسه کوي. نوموړی شرکت د خپل فعالیت په لومړي کال کې عزیز او وحید ته په جلا توګه ۲۱۰۰۰۰ افغانۍ ورکوي. دواړه عزیز او وحید باید ۱۰۰۰۰ افغانۍ د ګټې په توګه وګڼي (۲۱۰۰۰۰ افغانۍ - ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ).

**د نګه (خالصو) عوایدو تاکل**

**څلور دېرشمه ماده:**

تضامني شرکت مکلف دی هرکال ټول ترلاسه شوي مبالغ ، اړوند لګښتونه او ورکړې (تأدیات) رپوټ ورکړي او خپل خالص عواید په انفرادي توګه وټاکي. شرکت مکلف دی په جلا ډول د هر شریک سهم په لاندې مواردو کې رپوټ ورکړي:

1. خالصه ګټه یا خالص ضرر،
2. د مالونو او منقول او غیرمنقول ملکیت د پلورنې یا تبادلې له درکه ګټه یا ضرر، او
3. معاش ، تکټ پولي ، د سهم ګټه ، پیشکي او هغو ته ورته.

۱.۳۴ ټول شرکتونه (تضامني او ګډ) دغه موضوع چې آیا نوموړي شرکتونه په هغو فعالیتونو کې بوخت دي او که نه چې پرعایداتو باندې د مالیاتو په عوض د ثابتو مالیاتو تابع ګرځي باید په خپل کلنی راپور شامله کړي. هر ونډه لرونکی باید د نوموړي شرکت لخوا د ترتیب شوي راپور یوه کاپي د مالیاتو هغه دفتر ته تسلیم کړي چرته چې نوموړی ونډه لرونکی د خپل مالیاتي اظهار لیک په وړاندې کولو باندې مکلف دې.

۲.۳۴ هغه انفرادي شخص چې په داسې اقتصادي فعالیتونو کې بوخت دې چې په دوه اویا له دوو څخه په ډېرو هغو ځایونو کې د ثابتو مالیاتو تابع دې چې د مختلفو مالیاتي دفترونو لخواتر مالیاتو لاندې راځي ،نو وموړی انفرادي شخص باید د هرهغه ځای مالیه د هماغه ځای په مالیاتي دفترکې تادیه کړي چیرته چې د هغهٔ شرکت موقعیت لري.که چیرې دغه شخص د مالیاتي اظهار لیک پر بشپړولو مکلف وي،نوهغه باید لومړی مالیاتي اظهارلیک بشپړ او بیایې خپل هغه مالیاتي دفتر ته تسلیم کړي چې دده استوګنځي ته نږدې دې او یا یې باید هغه مالیاتي دفترته تسلیم کړي چې دهٔ ورڅخه د سوداګرۍ جواز ترلاسه کړی دې. دغه

مقرره د هغه شخص په اړه هم د تطبيق وړ ده چې په يوه شرکت کې ونډه لري او دمالياتي اظهار ليک پربشپړولو او وړاندې کولو باندې مکلف دې.

۳.۳۴ سره له دې چې يو شرکت په مالي کال کې دماليې وړ عو ايد نه لري ، نوموړی شرکت بايد خپل کلنی راپور وړاندې کړي. د ماليې کال په پای کې د شرکت هر ونډه لرونکی پرته له دې چې د ونډې ګټه وېشل شوې ده او که نه په شرکت کې دخپلې ونډې دګټې په اړه د راپور په وړاندې کولو باندې مکلف دې.

> **د ترلاسه شوو مبالغو وېشنه**
> **پنځه دېرشمه ماده:**
> د تضامني شرکت ترلاسه شوي مبالغ ، لګښتونه او خالصه ګټه داسې ګڼل کيږې چې په اړونده اساسنامه کې د درج شرايطو لمخې ، د شريکانو په واسطه تقسيم شوې وي.

۱.۳۵ که چيرې د شراکت توافقنامه شفاهي (يا مبهمه) وي او شريکان هم د عوايدو پر وېش باندې موافقه ونه لري، نوپه دغه صورت کې به د ماليې وزارت شتمنی، مکلفيتونه او نا توزيع شوي عوايد په مساويانه ډول ووېشي مګر دا چې حقايق او حالات نوموړې موضوع په بل ډول ونېيي. هغه عوامل چې د ماليې وزارت د هغو شموليت په نظر کې لري، اما ترهغو پورې محدود نه دي، په لاندې ډول دي:

أ. د شريکانو د شتمنيو ورځنی ارزښت،
ب. هغه تګلاره چې په تيرو کلنو کې يې له مخې ګټه او تاوان وېشل شوی دې، او
ج. هغه روش چې له مخې يې د شريکانو ترمنځ د ونډې ګټه وېشل شوې ده.

بېلګه: جمال او د هغهٔ ورور وحيد موافقه کوي چې کابل ښارکې د ګلدانيو او لاسي صنايعو د پلور فعاليت پيل کړي. جمال اجازه ورکوي چې دغه سوداګريزفعاليت دده په دوکان کې چې په نوي ښارکې موقعيت لري پرمخ يوړل شي او وحيد هغه مختلف ګلدانونه چې د پلورنځي لپاره يې جوړکړي دي ليږدوي دغه دوکان ته ليږدوي. نوموړو ورونو خپل دغه توافق ديو سند په ډول نه دې ليکلی. پلورنځی د۴۰۰۰۰۰ افغانۍ او د وحيد ګلدانونه د۱۰۰۰۰۰ افغانۍ ارزښت لري. د لومړي کال په پای کې د پلورنځي سوداګريزفعاليت بريالی وو. نوموړي ورونو ترمنځ په دې اړه چې کوم فعاليت له چا پورې اړه لري او هر شريک د کوم مقدار عوايدو مستحق دې مخالفت پيدا شو.په دغه شان يو حالت کې د ماليې وزارت (د بيلګې په توګه) د دواړو ورونوشراکت ترخيړنې لاندې نيسي او په پای کې پريکړه کوي چې په نوموړي شرکت کې جمال ٪۸۰ او وحيد ۲۰٪ ونډه لري او له دغې لارې د هغوې ترمنځ را ولاړ شوی مخالفت له منځه وړي.

# پنځم فصل

## د محاسبې قواعد

## له ۳۶ مادې څخه تر ۴۱ پورې

د سندونو ترتيبول او ساتنه
شپږ دېرشمه ماده:
د ماليې ور عوايدو لرونکي (حقيقي او حکمي) اشخاص مکلف دي د خپلو منقولو او غيرمنقولو مالونو او عوايدو ټول سندونه او دفترونه او د معاملو صورت حساب په اړوند مالي کال کې ترتيب او وساتي، دغوښتنې په صورت کې يې د ماليې وزارت د اړوندو مؤظفينو په واک کې ورکړي.

۱.۳۶ ټول سهامي، محدودالمسؤليت او تضامني شرکتونه پرته له دې چې د ماليې ورعوايد لري او که نه د خپلو اسنادو پرساتلو باندې مکلف دي.

۲.۳۶ هغه انفرادي اشخاص چې د ماليې ورعوايد نه لري، پرعايداتو باندې د مالياتو قانون د هېڅ يوې حکم پر اساس هغوې د خپلو اسنادو پرساتلو باندې مکلف نه دي. دغه اشخاص عبارت دي له:

أ. الف. هغه انفرادي اشخاص چې يوازې هغه عوايد يې پرعايداتو باندې د مالياتو پرځای د ثابتو مالياتو تابع دي چې له سوداګريزو فعاليتونو څخه يې ترلاسه کړي دي،

تبصره: هغه کوچني دوکانونه چې پر عايداتو د مالياتو قانون د يوولسم فصل د حکم پر اساس ماليه ورکوي.

ب. هغه انفرادي اشخاص چې يوازې له کرهنيزو فعاليتو څخه عوايد لاسته راوړي،
ج. هغه انفرادي اشخاص چې عوايد يې له خپل شخصي معافيت يعنې د مياشتې له ۵۰۰۰ افغانيو (په کال کې ۶۰۰۰۰) څخه لږ وي، او
د. هغه انفرادي اشخاص چې له ماليو څخه معاف سرچينو نه عوايد لاسته راوړي ، يا هغه انفرادي اشخاص چې له ماليې نه د معاف عوايدو پرته په مياشت کې نور داسې عوايد ترلاسه کوي چې له ۱۲۵۰۰ افغانيو څخه لږ وي.

بېلګه: يو انفرادي شخص د خپلو شخصي ځمکو نه د غنمو له پلور څخه ۱۲۰۰۰ افغانۍ او د انګورو له پلور څخه ۲۵۰۰۰ افغانۍ ترلاسه کوي. نوموړی همدارنګه د ميوې له هغه پلورنځي څخه چې پرعايداتو باندې د مالياتو قانون د يوولسم فصل پر اساس د مالياتو تابع دي عوايد لاسته راوړي. د نوموړي شخص د عوايدو دريېيم ه سرچينه د هغهٔ مياشتنی ۱۰۰۰ افغانۍ معاش دې.

لکه څنګه چې د نوموړي شخص د مالياتو وړ يوازيني عوايد د هغهٔ معاش دې. د نوموړي کلنی معاش ۱۲۰۰۰ افغانۍ کيږي چې له شخصي معافيت څخه لږ دې. په دغه صورت کې نوموړی شخص د دغه قانون لمخې د اسنادو پرساتلو باندې مکلف نه دې.

۳.۳۶ سره له دې چې يوانفرادي شخص له خپل عادي کار او فعاليت څخه د ماليې ورعوايد نه تر لاسه کوي نوموړی شخص د نورو هغو معاملو داسنادو او دفاترو پرساتلو باندې مکلف دې چې کيدای شي له درکه يې د ماليې وړ ګټه ترلاسه شي.

بېلګه: یو دوکاندار د مالیاتو قانون د یوولسم فصل د احکامو لمخې هر کال ثابته مالیه ورکوي او د هغو سهمونو له درکه چې د هغهٔ په اختیارکې دي د ونډې ډېره ګټه ترلاسه کوي.د نوموړي شخص د ونډې ګټه پرعایداتو باندې دمالیاتو تابع ګرځي. سره له دې چې نوموړی انفرادي شخص د خپل دوکان د فعالیتونو له درکه د اسنادو پرساتلو باندې مکلف نه دې مګر د هغو ونډو د ګټو له درکه چې نوموړی یې ترلاسه کوي د اسنادو پرساتلو باندې مکلف دې.

۴.۳۲ اسناد او دفاتر باید وساتل شي مګر تسلیمول یې ضروري نه دي. ولې هغه شخص اویا نهاد باید دغه اسناد او دفاتر برابر کړي چې د اسنادو او دفاترو پرساتلو باندې مکلف دي څکه که چیرې د مالیې وزارت د دغو اسنادو په اړه کومه پلټنه ،څېړنه کوي او یایې د یوې کاپي غوښتنه وکړي ، نو نوموړي اسناد باید موجود وي.

بېلګه: له هغه شرکت څخه چې د خپلو خالصو عوایدو له درکه دمالیاتو تابع دې و غوښتل شو چې خپل کاري اسناد مالیې وزارت ته واستوي. کېدای شي نوموړی شرکت مالیې وزارت د خپلو اصلي اسنادو له تسلیمولو څخه ډډه وکړي، مګرخپل ټول اسناد اودفاتر باید د شرکت په دفتر کې هغه وخت له ځان سره ولري چې د مالیې وزارت مفتشین پلټنه ، تفتیش ، تکثیر اونور کارونه تر سره کوي او شرکت څخه لیدنه کوي.

۵.۳۲ هغه دفاتر او اسناد چې یوهٔ مالي کال پورې اړه لري باید د نوموړي کال له پای نه وروسته د **۵** کالو لپاره وساتل شي.

| |
|---|
| د محاسبې وروستۍ طریقه<br>اووه دېرشمه ماده:<br>سهامي اومحدودالمسؤولیت شرکتونه مکلف دي خپل عواید د محاسبې د وروستۍ طریقې په کارولو سره محاسبه کړي کوم چې د ورکړې وړ عواید او لګښتونه تثبیتوي. |

۱.۳۷ " د محاسبې وروستۍ طریقه " د دوه ګوني اندراج هغه محاسبوي سیستم دې چې په یوه موده کې عواید په جلا توګه او په مشخص وخت او نېټه کې مالي وضعیت په صراحت سره ښیي.

۲.۳۷ سهامي اومحدودالمسؤولیت شرکتونه باید د منل شوو محاسبوي اساساتو لمخې د محاسبې له وروستۍ طریقې څخه استفاده وکړي. دیوې ښې او با کفایته اداري لپاره د محاسبې یوه رښتنې او دقیقه لیکل شوې طریقه ضرور ده.

بېلګه: یو سهامي شرکت له ٪۸ ټکټاني سره ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ پور ورکوي. د پور اصلي پیسې او ټکټانه د پور له ورکړې نه یوکال وروسته ترلاسه کېږي. مخکې له دې چې پوروړی پوراو ټکټانه بیرته تادیه کړي مالي کال پای ته رسیږي. د محاسبې د وروستۍ طریقې پر اساس د هجري لمریزکال په پای کې ترلاسه شوې ټکټانه د هماغه کال په بشپړه عوایدو کې ښودل کیږي. که چېرې د **۱۳۸۵** لمریزکال د غوایي ( ثور ) په پای کې پور روړي ته پور ورکړل شوی وي ، د **۱۳۸۵** لمریزکال د غوایي میاشتې د پای نه د کب میاشتې ترپایه پورې د

ټکټانې له درکه لاسته راغلی عاید ( د ۱۳۸۵ لمریزکال د لسو میاشتو عواید دي) سره له دې چې په ۱۳۸۵ لمریزکال کې نه دي ترلاسه شوي د همدغه کال په عوایدو کې شاملیږي.
د ټکټانې له کبله لاسته راغلی عاید په لاندې ډول محاسبه کیږي:

أ. لکه څرنګه چې په هرکال کې د ټکټانې نورم اته فیصده دې،د یوه کال ګټه د ۱۳۸۵ لمریزکال د غوایي له پای نه د ۱۳۸۲ لمریزکال د غوایي تر پایه پورې له ۱۰۰۰۰۰ افغانیو سره مساوي دې چې په اته فیصده ټکټانه کې ضربیږي ،یعنې: ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ× ۱۰۰\۸=۸۰۰۰ افغانۍ.

ب. دا چې په ۱۳۸۵ لمریزکال له ۱۲ میاشتو نه یوازې د ۱۰ میاشتو ټکټانه ښودل شوې ده، د۱۳۸۵ لمریزکال لپاره د ۱۰ میاشتو ټکټانه په نظر کې نیول کیږي چې مساوي ده له: ۸۰۰۰ افغانۍ×۱۲\۱۰=۶۶۶۷ افغانۍ.

۳.۳۷ یو مالیه ورکونکی هغه وخت خپل عواید ښودلی شي چې د عوایدو دلاسته راوړلو لپاره داسې اجرات وکړي چې ددغو عوایدو لاسته راوړلو حق ثابت کړي او نوموړی مبلغ په پوره دقت سره و ټاکل شي.

أ. په عام ډول د اجناسو او خدماتو لپاره د امانت په توګه له وړاندې څخه ورکړه (پیش پرداخت) تر هغه وخته چې جنس و پلورل شي او خدمات عرضه کړل شي په عوایدو کې نه شاملیږي. امانتي پیسې هغه مبلغ ته ویل کیږي چې له وړاندې څخه تادیه شوې وي ، ولې که چیرې د امانت لاسته راوړونکی د ضروري اجناسو په برابرولو او د خدماتو عرضه کولو کې پاتې راشي ، نو امانتي پیسې بیرته ورکول کیږي.

بېلګه: یو افغان سهامي شرکت په مزارشریف کې مختلفو شرکتونو او دکورونو خاوندانو ته د رنګمالۍ خدمات عرضه کوي. نوموړی افغان سهامي شرکت د یوستر تعمیر د رنګولو لپاره معمولاً ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ د امانت ( پیس پرداخت ) په توګه ترلاسه کوي. نوموړی شرکت توقع لري چې د شپږو میاشتو په دوران کې وروسته له دې چې د تعمیر رنګمالي پای ته ورسیږي ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ لاسته راوړي.نوموړی شرکت د رنګمالۍ له سرته رسولو نه وروسته باید دغه عواید د ګټې په توګه ونه ګڼي.

ب. که چیرې یو مالیه ورکونکی له یوه کال نه د ډېر وخت لپاره خدمات عرضه کړي ، نو نوموړی مالیه ورکونکی مکلف دې چې د هغو عوایدو د تشخیص لپاره چې د پروژې سره تړاو لري او د هرکال په پای کې تعینیږي د فیصدۍ د اکمال له میتود څخه استفاده وکړي. د فیصدۍ د اکمال د طریقې له مخې نوموړی مالیه ورکونکی هغه ټول لګښتونه چې د قرارداد په دوران کې یې په مصرف ورسوي په سمه توګه تخمینوي. مالیه ورکونکی د لګښت هغه مقدارچې د مالي کال په اوږدو کې یې په مصرف رسولي دي ټاکي. نوموړی مالیه ورکوونکی د مالي کال په اوږدو کې د لګښت هغه مقدارچې دۀ په مصرف کړی دې د پروژې پر ټولو تخمیني لګښتونو باندې تقسیموي. د تقسیم حاصل له پروژې څخه پر متوقعه لاسته راتلوونکو عوایدو کې ضربیږي.

۱ بېلګه: یو افغان سهامي شرکت په هرات کې دیوه تعمیرد ودانولو قرارداد لاسلیک کوي. د نوموړی تعمیر ودانول په درې کالو کې سرته رسیږي. نوموړی افغان سهامي شرکت د دغه تعمیرد ودانولو لپاره د ۳۰۰۰۰۰۰ افغانیو لګښت تخمینوي. په قرارداد کې څرګنده ده چې د تعمیر د ودانولو پیسې د قرار داد په ټاکلي وخت کې د

نوبتي قسط په توګه ورکول کيږي. کيداى شي هغه مبلغ چې د قرارداد په موده کې افغان سهامي شرکت تاديه کيږي ۴۰۰۰۰۰۰ افغانيو ته ورسيږي. داچې نوموړی شرکت بايد د قرارداد له مخې ساختماني کارونه له يوه کال څخه په ډېره موده کې ترسره کړي، دغه شرکت بايد د قرارداد په لمخې د خپلو عوايدو د لوړلولپاره د فيصدۍ د اکمال له ميتود څخه استفاده وکړي.

که چېرې افغان سهامي شرکت په لومړي کال کې ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ مصرف کړې وي، نو نوموړی شرکت بايد ۵/۱ (۲۰۰۰۰۰/۳۰۰۰۰۰۰) عوايد چې قرارداد پورې اړه لري او يا ۸۰۰۰۰۰ افغانۍ د ترلاسه کيدونکو عوايدو په توګه وګڼي. په دې توګه، ترلاسه شوې ګټه په لومړي کال کې د ۲۰۰۰۰۰ افغانيو معادل (۲۰۰۰۰۰-۸۰۰۰۰۰) کيږي.

۲ بېلګه: د دغې بيلګې حقايق د لومړۍ بيلګې سره ورته دي مګرپه دې توپير سره چې افغان شرکت خپلو لګښتونو ته بيا کتنه کوي. اوس دا ورته جوته کيږي چې د پروژې د بشپړتيا مجموعي لګښت ۳۵۰۰۰۰۰ افغانۍ کيږي. په بل کال کې ياد شرکت د ۵۰۰۰۰۰ افغانيو لګښت پر غاړه اخلي. ياد شرکت د ۱/۷ (۳۵۰۰۰۰۰/۵۰۰۰۰۰) عوايدو معادل يا لږ تر لږه ۵۷۱۴۰۰۰ افغانۍ لاسته راوړي. نو په دې توګه، په دويم کال کې لاسته راغلې ګټه د ۵۷۱۴۰۰۰ افغانيو معادل کيږي.

تبصره: کوچني قراردادونه مکلف نه دي چې د فيصدۍ د اکمال له طريقې څخه استفاده وکړي. يو کوچنی قرارداد هغه قرارداد ته ويل کيږي چې لمخې يې له ۱۵۰۰۰۰۰ افغانيو څخه لږ مقدار پيسې ترلاسه کيږي.

۴.۳۷ هغه ماليه ورکونکی چې د محاسبې له وروستۍ طريقې څخه استفاده کوي د لګښت هر قلم په هغه صورت کې ښودلی شي چې (۱)، دنوموړي مکلفيت ثابت شي او (۲)، ټول هغه اجراآت تر سره شوي وي چې له مخې يې د مکلفيت مقدار او ډول ټاکل کيږي.

أ. مکلفيت هغه وخت ثابتيږي چې اجراء يې يقيني کړل شي.

۱ بېلګه: يو افغان سهامي شرکت په هرات کې د کمپيوټرو يوپلورنځی پرمخ وړي.نوموړی شرکت د ۱۳۸۲ لمريز کال په اوږدو کې لس پايې کمپيوټر په هغه شرکت باندې په ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ پلوري چې په هرات کې فعاليت کوي. نوموړی پيرودونکی د ۱۳۸۲ کال د کب په وروستۍ ورځ افغان سهامي شرکت ته خبرورکوي چې يوه پايه کمپيوټر يې کومه ستونزه لري او د۲۰۰۰ افغانيود بيرته ورکړې غوښتنه کوي.افغان سهامي شرکت له دغه مکلفيت څخه انکارکوي.افغان سهامي شرکت نه شي کولای چې د ۱۳۸۲ کال په مالياتې اظهارليک کې د۲۰۰۰ افغانيو لپاره د مجرايي غوښتنه وکړي ځکه د ۲۰۰۰ افغانيو په اړه مکلفيت نه دې ثابت شوی.

۲ بېلګه: د دغې بيلګې پيل دلومړۍ بيلګې سره ورته دي مګرپه دې استثني سره چې افغان سهامي شرکت اوپيرودونکی د ۱۳۸۷ کال دغوايې په لسمه ورځ موافقه کوي چې پيرودونکی د۱۰۰۰ افغانيود بيرته اخستنې مستحق دې. سره له دې چې موافقه له دې نه دمخه چې افغان سهامي شرکت د ۱۳۸۲ کال لپاره خپله مالياتې اظهارليک بشپړ کړي صورت موندلی دې نوموړی شرکت نه شي کولای چې دغه لګښت وضع کړي ځکه د ۱۳۸۲ مالي کال په اوږدو کې مکلفيت نه دې ثابت شوی.

ب.	ټول هغه اجراآت چې د مکلفیت د ډول او د مقدار پیژندلو لپاره لازم دي هغه وخت ترسره کیږي چې ټول اجراآت د ارایه شوي مکلفیت د معلومولو لپاره ترسره شوي وي.

۱ بېلګه: یو افغان سهامي شرکت په هرات کې د یو دوکان له لیارې سوداګریز فعالیت پرمخ وړي. د دوکان د کرکیو د وینځلو لپاره نوموړی شرکت په میاشت کې یو ځل یو افغان مېشت شخص استخداموي. نوموړی شرکت دغه افغان مېشت شخص د ۱۳۸۲ کال د کب میاشتې په نیمایي کې په دنده ګماري. د لومړي ځل لپاره د کړکیو وینځل د ۱۳۸۷ کال د وري ترلسمې ورځې پورې صورت نه مومي. نو نوموړی شرکت د ۱۳۸۲ کال د لومړي ځل وینځلو لګښت نه شي کولای وضع کړي حتی که شرکت نوموړي مېشت شخص ته له وړاندې نه یوڅه پیسې هم ورکړې وي ځکه ټول هغه اجراآت چې د مکلفیت د رامنځته کیدو (د کړکیو وینځل) سبب ګرځي تر راتلونکي کال پورې صورت نه مومي. تر څو چې ً کړکۍ ګانې وینځل شوې نه وي ، د نوموړي شرکت مکلفیت نه پیل کیږي.

۲ بېلګه: یو افغان شرکت په کابل کې په سوداګریز فعالیت بوخت دی. یاد شرکت کوچني او باروړونکي موټرپلوري. افغان شرکت د نمایش په ځای (نمایشګاه) کې د ایرکنډیشن د نصبولو لپاره یو افغان مېشت شخص په کار ګوماري. نوموړی شرکت او افغان مېشت شخص موافقه کوي چې ایرکنډیشن باید د ۱۳۸۵ کال د کب ترپایه نصب کړل شي. هغوی همدارنګه موافقه کوي چې د ایرکنډیشن د نصبولو نه وروسته شرکت نوموړي شخص ته د دستګاه له تکمیله وروسته تر ۴۵ ورځو پورې پیسې نه ورکوي. له غوښتنې سره سم نوموړی مېشت شخص ایرکنډیشنونه نصبوي ولې خپله دنده د ۱۳۸۵ کال د کب تر وروستۍ ورځې پورې نه شي بشپړولی. سره له دې چې افغان شرکت د ایرکنډیشن د نصبونکي پیسې تر ۱۳۸۲ کاله پورې نه ورکوي مګر نوموړی شرکت د هغو لګښتونو د وضع کولو مستحق دې چې د ایرکنډیشن په نصبولو پورې اړه لري ځکه د شرکت مکلفیت " ثابت " او "ټول اجراآت" د ۱۳۸۵ کال ترپایه پورې ترسره شوي دي.

| |
|---|
| **د محاسبې نقدي طریقه**<br>**اته دېرشمه ماده:**<br>مالیه ورکوونکی مکلف دی خپل د مالي وړعواید د محاسبې د نقدي طریقې لمخې ، هغه وخت چې د عوایدو او لګښتونو ورکړه صورت مومي، تثبیت کړي. مالیه ورکوونکی کولای شي د مالیې وزارت په موافقه د خپلو عوایدو د تثبیت لپاره وروستۍ طریقه هم وټاکي.<br><br>سهامي او محدودالمسؤولیت شرکتونه لدې امر څخه مستثني دي، د استهلاکاتو وضع پر عایداتو باندې د مالیاتو د تعلیماتنامې لمخې صورت مومي. |

۱.۳۸	د محاسبې د نغدي طریقې پراساس د مجرایي وړ ټول لګښتونه او تادیه شوي مبالغ د مالي کال په اوږدو کې له ټولو لاسته راغلو نغدي مبالغو (اویا د هغه معادل) څخه منفي کیږي او د (۱) د کال له پیل نه د کال ترپایه پورې په موجوده اجناسوکې د بدلون او (۲) د کال په اوږدوکې د وضع شوي استهلاک په ګډون عواید محاسبه کیږي.

۱ بېلګه: که چېرې يو سوداګر د محاسبې د نغدي طريقې پر اساس خپل اسناد وساتي، د نوموړي سوداګر د شرکت د خالصو نغدي عوايدو د لاسته راوړلو په موخه بايد لاندې اقدامات ترسره شي:

أ. ټول نغدي عوايد بايد د هغوې د لاسته راوړلو په وخت کې په اسنادو کې ثبت کېږي او د ماليې ور کال خرڅلاو سره جمع کېږي: ۱۵۷۲۰۰۰ افغانۍ،

ب. د کال په پيل کې بايد د شتمني ارزښت (موجودی) ثبت کړل شوي وي: ۱۱۰۰۰ افغانۍ،

ج. د بيا پلور لپاره پېرودل شوې شتمني د بايد د هغې د تاديې په وخت کې ثبت او د ماليې ورکال لپاره جمع کېږي: ۴۶۰۰۰۰ افغانۍ،

د. د (ب) او (ج) برخو پورتني مبالغ سره جمع کېږي: ۷۴۱۰۰۰، او

ه. د کال په پای کې د شتمنۍ د ارزښت موجودي (د کال د پای موجودي) ۸۷۰۰۰ افغانۍ تعين ټاکل شوې ده ترڅو د کال په اوږدو کې د ېرښت (يا کمښت) معلوم شي (لکه څنګه چې پرعايداتو باندې د ماليات قانون ۴۰ ماده حکم کوي).

تبصره: د کال وروستۍ موجودي (شتمني) د راتلونکي کال د پيل موجودي ده.

و. د (د) برخه له پورتني بشپړلاسته راغلي مبلغ څخه د (ه) برخې پورتنی لاسته راغلی مبلغ منفي کېږي ترڅود هغوا جناسوارزښت ترلاسه کړل شي چې د کال په اوږدو کې پلورل شوي دي: ۳۸۴۰۰۰ افغانۍ،

ز. د (و) برخې لاسته راغلی مبلغ د (الف) برخې له مبلغ څخه منفي کېږي ترڅود ناخالصې نغدي ګټې مجموعه ترلاسه شي: ۱۱۸۸۰۰۰ افغانۍ،

ح. د سوداګريزفعاليت له کبله ټول نغدي لګښتونه د هغود ورکړې په وخت کې ثبتيږي او د کال لپاره جمع کېږي: ۲۶۰۰۰ افغانۍ،

ط. د تجهيزاتو، وسايلو، ودانيو اونورو هغو توکو د استهلاک مجموعې لګښت چې په سوداګريز فعاليت کې ورڅخه استفاده کيږي بايد (سره له دې چې نغدي لګښت نه دې) محاسبه کړل شي (مګريواځې په هماغه اندازه چې د کال په اوږدوکې مجاز دې): ۱۸۰۰ افغانۍ،

ي. د (ح) او (ط) د برخو لاسته راغلي مبالغ سره جمع کېږي: ۲۷۸۰۰ افغانۍ، او

ک. د (ی) برخې لاسته راغلی مبلغ ۲۷۸۰۰ افغانۍ له مجموعي ناخالصې ګټې څخه (هغه مبلغ چې په (ز) برخه کې ترلاسه شوی دې) منفي کيږي ترڅوخالص نغدي عوايد ترلاسه کړل شي: ۱۱۲۰۲۰۰ افغانۍ.

لاندې جدول د پورتنيو بيلګو لنډيز دی:

| | | |
|---|---|---|
| أ. | له پلورڅخه لاسته راغلي مجموعي عوايد | ۱۵۷۲۰۰۰ افغانۍ |
| ب. | لومړنۍ شتمنۍ (ابتدايي موجودي) | ۱۱۰۰۰ افغانۍ |
| ج. | د پيريدنې لپاره تاديه شوې پيسې | ۴۶۰۰۰۰ افغانۍ |
| د. | د (ب) او (ج) برخو دجمعې حاصل | ۴۷۱۰۰۰ افغانۍ |
| ه. | د کال د پای موجودي | ۸۷۰۰۰ افغانۍ |
| و. | د کال په اوږدوکې د پلورل شوو اجناسولګښتونه (د - ه) | ۳۸۴۰۰۰ افغانۍ |
| ز. | ناخالصه نغدې ګټه (الف-و) | ۱۱۸۸۰۰۰ افغانۍ |

| | | |
|---|---|---|
| ح. | د سوداګریزو فعالیتونو نغدي مجموعي لګښتونه | ۲۶۰۰۰ افغانۍ |
| ط. | استهلاک (غیرنغدي لګښت) | ۱۸۰۰ افغانۍ |
| ي. | د(ح او ط) برخو د جمع حاصل (ح+ ط) | ۲۷۸۰۰ افغانۍ |
| ک. | خالص نغدي عواید (ز-ی) | ۱۱۲۰۲۰۰ افغانۍ |

۲.۳۸ د یوه مالیه ورکونکي لپاره د محاسبې له وروستۍ طریقې څخه استفاده د اهمیت وړ ده. هرهغه شخص ته چې غواړي له نوموړې طریقې څخه استفاده وکړي او یا ورڅخه استفاده کولای شي باید اجازه ورکړل شي چې خپل عواید د نوموړې طریقې پر اساس محاسبه کړي.

۳.۳۸ که چېرې عواید له هغه سوداګریز فعالیت څخه ترلاسه شي چې د اجناسو، تولیداتو، موادو اونورو موجودې ته اړتیا ونه لري او له هغووسایلو، تجهیزاتو، ودانیو اونورو څخه چې خاوند یې انفرادي شخص دې استفاده ونه شي، د محاسبې دنغدي طریقې له مخې خالص عواید له هغونغدي پیسو څخه عبارت دي چې د سوداګریز فعالیت په پایله کې ترلاسه شوي وي او له هغونغدې پیسوڅخه منفې کیږي چې د سوداګریز لګښت لپاره تادیه شوي دي.

بېلګه: یو کمېشن کار پر مالکینو باندې حقیقي شتمنۍ پلوري او خپل کمېشن د نوموړو شتمنیو د ترلاسه شوي قیمت له مخې لاسته راوړي. نوموړی کمېشن کار کاري لګښت لري لکه په ورځپاڼو کې داعلانونو نشرول، دمالکینو او پیرودونکو سره داړیکو د ټینګولو لپاره د ټکسي کرایه، دموادو د چاپ لګښت، د دفتر کرایه، د ټیلفون او برېښنا لګښت، د دفترد مستخدم معاش اوداسې نو ورته لګښتونه. که چېرې د مالي کال په اوږدو کې ټول لاسته راغلی کمېشن ۳۰۰۰۰۰ افغانیو ته او ټول تادیه شوی لګښت ۲۵۰۰۰ افغانیوته ورسیږي، د نوموړي شخص نغد عواید ۲۷۵۰۰۰ افغانۍ دې او د محاسبې دنغدي طریقې پراساس دغه مبلغ دنوموړي شخص له خالصو عوایدو څخه ګڼل کیږي. سره له دې چې د ۳۰۰۰۰۰ افغانیو یوه برخه د تیر کال په اوږدو کې لاسته راغلې ده، نو د محاسبې دنغدې طریقې پراساس چې کله عواید ترلاسه شي راپور یې باید ورکړل شي.

۴.۳۸ یو مالیه ورکونکی له مالیې وزارت څخه د یو غوښتن لیک له لیارې د محاسبې دوروستۍ طریقې د بدلون لپاره د اجازې غوښتنه کوي. که چیرې د مالیې وزارت لخوا د محاسبې د وروستۍ طریقې بدلون ومنل شي، د مالیه ورکونکي هغه عواید چې په تیروکلنو کې یې ګټلي دي مګر نه دي ترلاسه شوي باید جمع او هغه لګښتونه چې نوموړي په تیروکلنو کې په مصرف رسولي مګرتادیه شوي نه دي باید وضع کړل شي. د دغو بدلونونو په اړه په هغه وروستي کال کې راپور ورکول کیږي چې د محاسبې له نغدي طریقې څخه په کې استفاده شوې وه.

بېلګه: یوۀ واردونکي چې خپل د مالیې وړعواید (۱۵۰۰۰۰ افغانۍ) یې په ۱۳۸۵ لمریز کال کې د محاسبې د نغدي طریقې پر اساس محاسبه کړي دي غواړي چې د راتلونکي کال (۱۳۸۶) د مالیې وړ عوایدو د محاسبې لپاره د محاسبې د وروستۍ طریقې له مخې د راپور ورکولو اجازه ترلاسه کړي. مخکې له دې چې نوموړی شخص د ۱۳۸۶ لمریز کال لپاره خپل مالیاتي اظهارلیک د محاسبې د وروستۍ طریقې پر اساس بشپړه کړي ، نوموړی مکلف دی چې د بدلون رامنځ ته کولو او د ۱۳۸۶ کال ترپیل پورې د معاملو په نظرکې نیولو سره د ۱۳۸۵ کال تعدیل شوی مالیاتي اظهارلیک بشپړ او ارائه کړي.

فرضه کړي چې د ۱۳۸۲کال د نوي محاسبوي سیستم د رامنځ ته کولو په وخت کې د نوموړي شخص لومړنی بېلانس لاندې شتمنۍ او مکلفیتونه ښیي:

| شتمنۍ | | مکلفیتونه | |
|---|---|---|---|
| ترلاسه کېدونکي حسابونه | ۲۰۰۰۰ افغانۍ | نا تادیه شوې پیرودنې | ۳۲۰۰۰ |
| د پور له اسنادو څخه هغه تشخیص شوې ټکټانې چې ترلاسه کیدای شي | ۲۰۰۰ افغانۍ | له ټکټانې څخه ترلاسه کیدونکي لګښتونه | ۳۰۰۰ |
| له وړاندې نه بیمې ورکړه | ۷۰۰۰ | د کرایې له درکه لاسته راتلونکي لګښتونه | ۱۵۰۰ |
| | | د کارکونکو هغه ترلاسه کیدونکي معاشونه چې تادیه شوي نه دي. | ۷۵۰۰ |

هغه تعدیل شوی مالیاتي اظهارلیک چې باید بشپړ او ارائه کړل شي، په لاندې ډول دي:

أ. د ۱۳۸۵ مالي کال د مالیې وړعواید ۱۵۰۰۰۰ افغانۍ
ب. جمع هغه عواید چې تشخیص شوي دي ولې ترلاسه شوي نه دي:

1. ترلاسه کیدونکي حسابونه ۲۰۰۰۰ افغانۍ
2. تشخیص شوې ټکټانې چې ترلاسه کیدای شي ۲۰۰۰ افغانۍ
3. د هغوعوایدو مجموعه چې نه دي ترلاسه شوي ۲۲۰۰۰ افغانۍ

أ. هغه عواید چې تحقق یې موندلی او ترلاسه کېدونکي دي (الف) + (ب) ۲۱۲۰۰۰ افغانۍ
ب. د هغو لګښتونو اضافه کول چې تادیه او وضع شوي دي اما تراوسه نه دي مصرف شوي:
ج. له وړاندې نه د بیمې ورکړه ۷۰۰۰ افغانۍ
د. د (ج) او (د) د برخو مجموعه ۲۲۳۰۰۰ افغانۍ
ه. منفي د تادیې وړ حسابونه

1. نا تادیه شوې پیرودنې ۳۲۰۰۰
2. د تشخیص شوې ټکټانې لګښت ۳۰۰۰
3. د تشخیص شوې کرایې لګښت ۱۵۰۰
4. دکارکونکو معاشونه چې تشخیص شوي دي ولې تادیه شوي نه دي ۷۵۰۰

| | | |
|---|---|---|
| أ. | د تاديې وړ مجموعې حسابونه | ۴۴۰۰۰ |
| ب. | د ماليې وړعوايد لکه څنګه چې تعديل شوي دي (ه) منفي (و) | ۱۷۹۰۰۰ |
| ج. | حد تعديل شوي اظهارليک لمخې مجموعي ماليه (۲۰٪) | ۳۵۸۰۰ |
| د. | د اصلي اظهارليک پر اساس پرعايداتو باندې تاديه شوي ماليات | ۳۰۰۰۰ |
| ه. | اضافي ماليه | ۵۸۰۰ |

**۵.۳۸** هر ډول اضافي ماليه چې د محاسبې د طريقې او يا د وخت د بدلون له درکه ترلاسه کيږي بايد له تعديل شوي اظهارليک سره يوځای تاديه کړل شي. په مالياتو کې هرډول لږوالی چې د تعديل شوي اظهارليک پر اساس ارايه شوي او له نومړي بدلون سره تړاو لري، د راتلونکو کلونو له مالياتو څخه بايد منفي کړل شي.

بېلګه: د ۱۳۸۵ کال تعديل شوی اظهار ليک د ۱۳۸۲ کال له لومړي اظهارليک سره يو ځای چې د محاسبې د وروستی طريقې پر اساس جوړشوی او د وږي (سنبلې) په مياشت کې ارايه شوی دې. هر ډول ماليه چې په تعديل شوي اظهارليک کې محاسبه کيږي په هماغه وخت کې د تاديې وړ ده او که چيرې دغه ماليه د ۱۳۸۷ کال د دريمې مياشتې له پای نه د مخه تاديه شي ، نو هېڅ ډول جريمه او يا اضافي ماليه نه وضع کيږي. هر هغه مالياتي کمښت چې په تعديل شوي اظهار ليک کې ښودل شوی د ۱۳۸۲ کال له مالياتو څخه منفي کيږي او که چيرې د ۱۳۸۲ کال لپاره هېڅ د ذمت ماليه وجود ونه لري ، اويا که چيرې په هماغه مياشت کې د ذمت ماليه له کم شوي مقدار څخه لږوي، د وروستيو کلونو له مالياتو څخه وضع کيږي.

**۶.۳۸** د محاسبې په طريقه کې دبدلون د رامنځته کيدو لپاره بايد ټول ماليه ورکونکي د مالي کال له پای ته رسيدونه ۳۰ ورځې دمخه د ماليې وزارت ته يوليکلی غوښتن ليک وسپاري.

| |
|---|
| **د سندونو او دفترونو ډول او محتوي**<br>**نهه د برشمه ماده:**<br>د ماليې وزارت کولای شي پرعايداتو باندې د مالياتو د سالمې اداري ، د واقعي عوايدو د تثبيت او له هغو څخه د سم (درست) رپوټ د وړاندې کولو په منظور ، د ماليه ورکوونکي د سندونو او دفترونو ډول او محتوي تثبيت کړي. |

**۱.۳۹** پرعايداتو باندې دمالياتو قانون د (۳۹) مادې پر اساس د ماليې وزارت واک لري چې هغه اسناد او راپور چې د ماليه ورکوونکي او يا دماليه ورکوونکود يوې ډلې ملکفيت دې تشريح او توضيح کړي. دماليې وزارت دا واک هم لري چې د د ماليه ورکوونکي د اسنادو د تفتيش په موخه د اسنادو پر بشپړتيا او دقيق اندراج باندې تاکيد وکړي. ټولو سهامي او محدود المسؤليت شرکتونو ته توصيه کيږي چې د اندراج له هغه دوه ګونې سيستم څخه استفاده وکړي چې د محاسبې دمسلکي اشخاصو لخوا تثبيت شوی او هغوې ته د منلو وړ دي. د معاملود ثبتولو سره يوځای بايد محاسبوي اسناد د تل لپاره جاري وساتل شي.محاسبې بايد په داسې بڼه وي چې مالياتي اسناد په ټاکلې نېټه (بېلانس) د شرکت مالي وضعيت او په ټاکلې موده کې (د ګټې او ياضرر بېلانس ) د شرکت فعاليتونه څرګند کړي.

۲.۳۹ د ماليې وزارت ټول هغه سهامي او محدود المسؤليت شرکتونه او ټول هغه نهادونه چې پرعايداتو باندې د کلنۍ ماليې په ورکړه مکلف دي ، د لاندې اسنادو په ساتلو باندې مکلف ګڼي:

أ. هغه کتاب چې ورځني فعاليتونه په کې ثبتيږي ( ژورنال ) ،
ب. لوی دفتر(ليژر) ،
ج. د موجودي او په ګودام کې د شتو اجناسو اسناد ،
د. د شتمنيو د ثبت اسناد ،
ه. د بانکي او مالي معاملو په اړه معلومات،
و. د قرارداد په ګډون قانوني اسناد ،
ز. د حساب شرحه ( صورت حساب )، د لګښت اسناد او رسيدونه،
ح. د ګټې او تاوان بېلانس، او
ط. د بېلانس ورقه.

| |
|---|
| **د کال اخره موجودي**<br>**څلورېښتمه ماده:**<br>اجناس ، محصولات او هغه مواد چې په کار او سوداګرۍ کې تر ګټې اخستنې لاندې نيول کيږي ، د هر مالي کال په آخر کې موجودي کيږي او بيه اېښودنه يې د تمامې شوې بيې يا د بازار د بيې (هره يوه چې لږ وي) پر بنسټ صورت مومي ، هغه ماليه ورکوونکي چې په صنايعو ، سوداګرۍ يا په نورو کارونو بوخت وي مکلف دی د خپلو اجناسو ، محصولاتو او اړوندو موادو موجودي د ماليې وزارت د ترتيب شوې کړنلارې لمخې اجراء کړي. |

۱.۴۰ موجودي د ټولو اقلامو له شمېرنې او د مالونو، اجناسو، محصولاتو او هغو موادو له مقدار څخه عبارت دې چې په يوه ټاکلي وخت کې موجود وي. د محاسبې په موخه موجودي د پيسو د ارزښت پر اساس ښودل کيږي. پرعايداتو باندې دمالياتو قانون(۴۰) ماده حکم کوي چې د موجودي ارزښت بايد "د تمام شوې بيې اويا د بازارد بيې پر اساس چې هريولږ وي " له مخې وټاکل شي. د بازار له بيې څخه هدف هغه بيه ده چې يومالک په مناسبه توګه داسې وګڼي چې کولی شي د عادي کاراو سوداګريزفعاليت په پايله کې نوموړی جنس په هغه بيه وپلوري. ديوې عمومي قاعدې پر اساس د موجودي په لست کې د موجودو ټولو هغو شيانو اومقدايرو بيه د هغوې د تمام شوې بيې پر اساس ټاکل کيږي. دغه تمامه شوې بيه د بيمې د حمل او نقل له مجموعي لګښت ،محصول، او نورو څخه عبارت دي چې مالک تاديه کړي دي.د بازار ارزښت معمولاً له تمام شوې بيې نه لوږ وي نوځکه د استفادې ورنه دې لاندې هغه بېلګې دي چې د بازاربيه د بازار له ارزښت څخه لوړه او مستثنی ده:

أ. که چيرې اوس مهال هم يوډېرورته جنس د هغه له اصلي بيې څخه په ټيټه بيه وپيريدل شي،
ب. که چيرې يوبشپړشوی جنس په داسې بيه ترلاسه کړل شي چې د موجوده جنس د بازاري ارزښت د ټيټوالی سبب وګرځي،
ج. که چيرې يوجنس د خپلې تمام شوې بيې په بدل کې د پلور وړنه وي .دغه حالت هغه مهال رامنځ ته کيږي چې يو سوداګر د جنس په اړوند د پيرودونکو غوښتنو په هکله ناسمه پريکړه وکړي،

د. که چیرې یو جنس تخریب او له منځه تللی وي او یا له موډه لویدلی وي،
ه. که چیرې د مالک لخوا د اجناسوله درکه د ورکړل شوې مالیې تادیه دوام ونه مومي اویا په کې کموالی رامنځ ته شي - لکه ګمرکي محصولات،او
و. که چیرې داسې حالات رامنځ ته شي چې متوقعه قیمت له تمام شوي قیمت څخه لږ وي.

سمه موجودي او په واقعي توګه د بیې ټاکنه د هر ډول خالصو عوایدو په ټاکلو کې مهم او اساسي رول لري.

۲.۴۰ مالیه ورکونکی باید د هرکال په پای کې موجودي ترسره کړي اود موجودي اسناد باید د هغه ارزښت د ثابتولو په موخه له ځان سره وساتي چې نوموړې یې په خپل مالیاتي اظهارلیک کې رپوټ کوي. هرجنس او هر ډول مواد باید د کمیت اوکیفیت له نظره توضیح کړل شي. د اجناسو د واحد بیه او یا د هرجنس بیه باید یادښت او د ټولواجناسوارزښت باید په سند کې شامل کړل شي. د مجودي په لست کې د شاملو اجناسومجموعه د کال په پای کې د موجودو اجناسو له ارزښت څخه عبارت ده.

بېلګه:

| شمېر | د اجناسو توضیح | د هر واحد بیه | بازاري ارزښت که چیرې لږ وي | مجموعي ارزښت (په افغانیو) |
|---|---|---|---|---|
| ۶ | ۱۵۰۲۲ نمبر فلپس راډیو | ۱۲۰۰ | | ۷۲۰۰ |
| ۲۲ | ۲۱۵۴۱۲ نمبرکاندنسر | ۱۲ | | ۲۶۴ |
| ۱ | ۱۲۸نمبر 2 ثبتونکي فلپس ټیپونه | ۱۰۴۰۰ | | ۱۰۴۰۰ |
| ۱ | له کاره لویدلی ګرامافون - ۱۹۵۵ | ۷۵۰۰ | ۲۵۰۰ | ۲۵۰۰ |
| ۱۱۲ | آرسي ډي سي ډي ګانې | ۱۸۰ | | ۲۰۱۶۰ |
| ۲۳۱ | وي ويندې سي ډي ګانې | ۶۰ | | ۱۳۸۶۰ |
| | لیږدول شوې مجموعه | ....... | .......... | ۵۴۳۸۴ |

۳.۴۰ موجودي باید د هرمالي کال په پای کې ترسره شي .د ټولواجناسولست اود هغواوسنی کمیت باید د مالي کال د کارې ورځې په پای کې پیل اوترهغه وخته پورې دوام مومي چې ټول اجناس په لست کې درج او وشمېر ل شي ، د ټولوموادو اندازه او اوسنی کمیت یې باید ثبت کړل شي. موجودي باید د کال د وروستیو معاملو له بشپړیدو نه وروسته او د نوي کال له پلور او پیرودنې نه د مخه پیل شي. کله چې شمېر نه ترسره شي ، د سوداګریزومالونوګودام ته باید نه کوم شی داخل کړل شي او نه ورڅخه باید کوم شی وایستل شي.

بېلګه: د ۱۳۸۵ کال د کب تر۳۰ نیټې پورې یودوکان دسوداګریزو فعالیتونولپاره خلاص دي. نوموړی دوکان د راتلونکو دوه ورځولپاره تړل کیږي او هېڅ سوداګریز فعالیت نه ترسره کیږي. په دوکان کې د ټولو موجودو اجناسوشمېر نه د دغو دوه ورځو په جریان کې ترسره او د موجودي په لست کې شاملیږي. مخکې له دې چې د دوکان سوداګریز فعالیت په دریېم ه ورځ پیل شي په دوکان کې موجود ټول اجناس ثبت شوي دي ترڅو په دې ترتیب د مالي ورکال په اوږدوکې د پلورل شو اجناسو بیه وټاکل شي. د پلور له ثبت نه وړاندې د نوي کال لپاره هېڅ ډول ثبت شوی پلور نه ښودل کیږي.

تبصره: که چیرې مالیه ورکونکی و توانیږي چې خپلې شتمنۍ داسې موجودي کړي چې دکال په پای که به په کومه اندازه شتمنۍ ولري او دده په شتمنیو کې به کوم اجناس شامل وي ، نوپه دغه صورت کې نوموړی مالیه ورکونکی په عملي توګه د خپلو سوداګریزوفعالیتونوپر تړلوباندې مکلف نه دې.

۴.۴۰ د اجناسو پیرودنه د محاسبې د مطلوب سیستم له غوښتنو سره سم ترسره کیږي، ولې د پلورل شوو اجناسوبیه باید په هغو پیرودنوکي شامل نه کړل شي چې په موجودي ثبت او تر دې دمه نه ده ترلاسه شوې مګرداچې د دغه ډول پیرودنو په اړه بدلون صورت ومومي.

بېلګه: یو افغان انفرادي مېشت شخص په وارداتي سوداګریزوفعالیتونوکې بوخت دې او د ۱۳۸۵ لمریزکال په پای کې د لاندې وضعیت لري. داچې دغه سوداګریزفعالیت د یوه انفرادي شخص لخوا پرمخ وړل کیږي ، نو د محاسبې له نغدي طریقې څخه استفاده کیږي.

په همدغه کال کې د نوموړي انفرادي شخص د نغدي پیریدنې مجموعه ۲۰۰۰۰۰ افغانیوته رسیږي. په دغه مجموعه کې هغه ۴۰۰۰۰ افغانۍ شاملې دي چې د هغواجناسود پیرودنې لپاره په نغدې توګه تادیه شوي چې تراوسه نه دي رارسیدلې او د موجوده اجناسوبرخه نه تشکیلوي.دغه مقدار د نوموړي شخص د وروستۍ مجودي په لست کې په لاندې ډول شاملیږي:

| | | |
|---|---|---|
| أ. | د ۱۳۸۵ لمریزکال په پای کې د مجموعي شتمنۍ ارزښت | ۲۷۵۰۰ افغانۍ |
| ب. | په ۱۳۸۵ لمریزکال کې د اجناسود لیږدونې لپاره له وړاندې نه ورکړل شوي تادیات چې د کال ترپایه نه دي ترلاسه شوي، | ۴۰۰۰۰ افغانۍ |
| ج. | د موجودي مجموعه جمع د ۱۳۸۴ لمریزکال په پای کې له وړاندې ورکړل شوی مبلغ | ۱۰۷۵۰۰ افغانۍ |

د ۱۳۸۴ لمریزکال په پای کې د۲۰۰۰۰۰ افغانیوپه ارزښت د اجناسود پیرودنې سره د موجودي د جمع کولو او بیا له هغه څخه د ۱۰۷۵۰۰ افغانیو د منفي کولو له لیارې نوموړی شخص کولای شي چې په ۱۳۸۵ کال کې د پلورل شوو اجناسو بیه ترلاسه کړي. نوموړی کولای شي چې د ۱۳۸۲ لمریز کال (د راتلونکي کال) په پای کې د ۱۰۷۵۰۰ افغانیو څخه د لومړي کال د موجودي په توګه استفاده وکړي. په ۱۳۸۲ کال کې د اجناسو د لیږدونې اضافي لګښتونه لکه د وارداتو محصول، په بار وړونکو نقلیه وسایطو او لاریو کې د اجناسو د بارولو او داسې نور لګښتونه هغه مهال ثبتیږي چې تادیات صورت ومومي.

د دوو یـا زیـاتو سوداګریزو مؤسسو د عوایدو ټاکل

یو څلویښتمه ماده :

په هغهٔ صورت کې چې دوه یا زیاتې سوداګریزې مؤسسې یا اقتصادي تصدیانې، په مستقیمه یا غیرمستقیمه توګه د عین حقیقي یا حکمي اشخاصو ملکیت وي یا یې تر تصرف لاندې وي، د مالیې وزارت کولای شي، د مالیې وړ عوایدو د معلومولو او لـه تیښتې څخه یې د مخنیوي په مقصد ، ترلاسه شوی مبلغ ، کسرات ، اعتبارات یا مجرایې ګانې د هغـو ترمنځ تقسیم اووېشي.

۱.۴۱ پرعایداتوباندې د مالیاتوقانون د (۴۱) مادې د حکم پر اساس دمالیې وزارت اختیار لري چې د هغو نهادونو او مؤسسو مالیاتې موقف وټاکي چې د یوهٔ شخص لخوا اداره کیږي که چیرې دغه ډول عمل د مالیې د پټوني (کتمان) د مخنیوي لپاره ضروري وي.

دغه عمل باید په احتیاط سره ترسره شي.که چیرې له مالیې څخه د تیښتې ویره موجوده نه وي،نوپه دغه صورت کې مؤسسې په جلا توګه مجاز ګڼل کیږي او هغه تخصیص او وېش ته اړتیا نه لیدل کیږي چې په اړه یې د مالیاتوقانون د (۴۱) د مادې پر اساس صلاحیت ورکړل شوی دی.

۱بېلګه: د (الف) شرکت ونډه لرونکي د (ب) شرکت د پلورل شوي ونډې په خپل اختیار کې لري .د نوموړو شرکتونو کنټرول په مساویانه ډول ترسره کیږي او د دواړو شرکتونو د مدیره هیئت ډېرې غړې ورته اشخاص دي. هرشرکت جلا اداره او فعالیتونه لري ولې د مالیې هېڅ ډول پس انداز شتون نه لري.که چیرې د دواړو شرکتونو لاسته راغلې ګټې سره یوځای شي، نو مالیاتې نورم به یې بیا هم سره یو شان وي. د هېڅ یوهٔ شرکت لپاره معافیت وجود نه لري نو د جلا مؤسسو مالیات په داسې ډول وضع کیږي چې ګویا د دواړو شرکتونو فعالیتونه دیوه شرکت لخوا پرمخ وړل کیږي. په دغه ډول حالاتو کې د مالیې وزارت لازم نه ګڼي چې د (الف) او (ب ) شرکتونو عواید د دوهم ځل لپاره ووېشي.

۲ بېلګه: عزیز یو افغان مېشت شخص دی چې د (الف) او(ب) شرکتونو ټولې پلورل شوې ونډې په واک کې لري. دواړه شرکتونه د محصولاتو د راټولولو او د چارتراش لرګیو د برابرولو په فعالیتونو کې بوخت دي. د (الف) شرکت د (ب) شرکت په پرتله اغېزمن فعالیت ترسره کړی دی. د (الف) شرکت تل ډېره ګټه لاسته راوړي مګر د (ب) شرکت له خالص عملیاتي تاوان سره مخ دی چې راتلونکو کلنو ته یې لیږدوي. د (الف) شرکت پریکړه کوي چې چارتراش لرګي هغه لرګي چې پروسس شوي نه دي د خپل شرکت له بیې څخه په ټیټه بیه د (ب) پرشرکت وپلوري ترڅو د (ب) شرکت د نوموړو لرګیو د پروسس له درکه یو څه ګټه ترلاسه کړي او خپل خالص عملیاتې تاوانونه پرې جبران کړي. د دغو حقایقو په نظرکې نیولو سره د مالیې وزارت صلاحیت لري چې د (ب) شرکت عواید یوځل بیا د (الف) شرکت لپاره ځانګړي کړي.

۲.۴۱ که چیرې د یوهٔ مالک اویا څو مالکینو لخوا د مالیې د ورکړې په موخه د هغو جلا مؤسسو ترمنځ د سوداګریزو فعالیتونو د وېش پر اساس چې د ورته مالک او مالکینو لخوا کنټرول او اداره کیږي پس انداز صورت ومومي، نو له مالیې څخه د تیښتې د مخنیوي په موخه د مالیې وزارت صلاحیت لري چې د مؤسسې عواید د مؤسسې مالکینو ته ځانګړي کړي.

د عوایدو له ځانګړي کیدو نه وړاندې باید لاندې حقایق د سمو څېړنو له لیارې مشخص کړل شي:

أ. د هرنهاد د ونډه لرونکو او یا شریکانو پیژندنه،
ب. په هرنهاد کې د هر ونډه لرونکي او یا شریک د ونډو شمېر (او یا د پانګې اندازه) ،
ج. د هرنهاد د مدیره هیئت د غړو پیژندنه (هویت) ،
د. د هر نهاد د اداري پرسونل پیژندنه،
ه. د هر نهاد د فعالیت ډول (د یوه نهاد فعالیت د بل نهاد له فعالیت سره څه توپیر لري، آیا د هرنهاد فعالیت له یوه کال نه بل کال ته په دوام داره توګه دوام مومي ؟ ) ،
و. محدودالمسؤلیت شرکت د موجودیت په صورت کې هغه محدودیت چې هر انفرادي شریک یې د شرکت په اداره او په ځانګړو فعالیتونو کې لري ،
ز. هغه مبلغ چې په هر نهاد کې د پانګې په توګه اچول شوی دی، او
ح. د هرې جلا مؤسسې لپاره مالي توجیه.

عوا ید هغه وخت ځانګړي کیږي چې د تحقیقاتو له مخې لاندې مسایل څرګند کړل شي:

أ. د هرې جلا مؤسسې لپاره ناکافي توجیه او یا هېڅ مالي توجیه وجود نه لري او د مؤسسې له جلا کولو نه پرته پانګه وجود ولري. خطر، اقتصادي فعالیتونه، بازار او د اومه موادو سرچینې اونور داسې موارد د دغې اصلي نهاد لپاره یو شان دي ،
ب. د دوه ورتو مؤسسو کنټرول او اداره کول،
ج. اداري سیستم یا منجمنټ سره ورته او یو شان وي او یا هم یوه پالیسي تعقیبوي، او
د. که چیرې یو نهاد محدودالمسؤلیت شرکت وي، د نوموړي نهاد کنټرولونکی یو انفرادي شخص او یا یو نهاد وي او نور ټول شریکان په غلي او خاموش ، غیرفعال او یا هم په شرکت اجرائیوي صلاحیت نه لري.

۳.۴۱ که چیرې یو کورنی شرکت د یوه بهرني شرکت د مستقلې نماینده ګۍ په توګه فعالیت وکړي اود نوموړي بهرني شرکت چې په عملي توګه خپل تولیدات په افغانستان کې پلوري د تل پاتې نماینده ګۍ په توګه پاتې شي، د مالیې د وضع کولو په موخه به د مالیې وزارت د بهرني شرکت له ګټې څخه یوه برخه کورني شرکت ته ځانګړې کړي.

بېلګه: یو کورنی شرکت چې د یو بهرني شرکت فعالیتونه پرمخ وړي د نوموړي بهرني شرکت تولیدات پلوري.کورنی شرکت ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ خالصه ګټه ښیي او ۲۰۰۰۰ افغانۍ مالیه ورکوي. له تحقیقاتو نه وروسته معلومیږي چې د کورني شرکت ډېری پلور د بهرني شرکت محصولات تشکیلوي . همدارنګه له تحقیقاتو څخه داسې څرګندیږي چې هغه پیریدونې چې له بهرني شرکت سره صورت موندلی دی "د حقیقي پیرودنې په ډول" دهغوبیو په ډول نه ده چې په بازار کې سیالي وکړي. د مالیې وزارت د بهرني شرکت د ګټې یوه برخه د نوموړي بهرني شرکت حساب ته ځانګړې کوي او له ځانګړتیا څخه لاسته راغلي اضافي عواید د شرکت لپاره محاسبه کوي.که چیرې په مالي کال کې د بهرنې شرکت پلور د دغه شرکت پر کورني نماینده ګۍ(کورنی شرکت) باندې ۴۰۰۰۰۰۰ افغانۍ وي او د بهرنې شرکت مجموعي ګټه د پلور شپږ فیصده تشکیل کړي، نو د ۲۴۰۰۰۰ افغانیو اضافي عوایدو په نظر کې نیولو سره محاسبه کیږي (۴۰۰۰۰۰۰×۶فیصده =۲۴۰۰۰۰ ). ۴۸۰۰۰ افغانۍ اضافي مالیه به پر شرکت باندې وضع کړل شي(۲۴۰۰۰۰×۲۰فیصده).

تبصره: که چیرې د تړاو لرونکو اشخاصو ترمنځ له معاملې څخه داسې تادیه شوی او یا د تادیې وړ مبلغ لاسته راشي چې د نوموړو تړاو لرونکو اشخاصو د معاملې له درکه د تادیه شوو او د تادیې وړ مبلغ څخه توپیر ولري، ۹۷ ماده د مالیې وزارت ته اجازه ورکوي چې د تړاو لرونکو اشخاصو ترمنځ تادیه شوی او یا د تادیې وړ مبلغ تعیین کړي. هغه طرزالعمل ته مراجعه وکړي چې د دغې تعلیماتنامې په ۹۷ ماده کې پرې بحث شوی دی.

# شپږم فصل

## د سهامي او محدود المسؤلیت شرکتونو په اړه ځانګړي حکمونه

## له ۴۲ مادې څخه تر ۴۷ پورې##

د عملیاتي ضرر مجرایي

دوه څلوېښتمه ماده:

(1) په هغۀ صورت کې چې سهامي شرکت یا محدودالمسؤولیت شرکت په یوۀ مالي کال کې عملیاتي خالص ضرر ولري ، دغه ضرر په درېوراوروسته کلونوکې او هر کال د ضرر درېیمه (ثلث) برخه د هغۀ له مالیې وړعوایدو څخه مجرایي ورکول کیږي. د دې قانون د اووه څلوېښتمې مادې په (۴) فقره کې درج حکم لدې امر څخه مستثني دی.

(2) که چیرې په هېواد کې مېشت شرکت له هغې سرچینې څخه چې له افغانستان بهر فعالیت لري د عوایدو د ترلاسه کولو په منظور ، خپل د مالیې وړ عواید د دې قانون په دوولسمه ماده کې د درج حکم لمخې یا د دې مادې په (۱) فقره کې درج عملیاتي خالص زیان د هغو فعالیتونو له په پام کې نیولوسره چې په افغانستان کې دننه له یوې سرچینې څخه د عوایدو د تولید په منظور اوهغۀ فعالیتونه چې له افغانستان څخه په بهر کې دعوایدو د تولید په منظور وي ، په جلا توګه ثبت او وړاندې کړي ، له هغو فعالیتونو څخه عملیاتي خالص ضرر چې له افغانستان څخه په بهر سرچینه کې رامنځته کیږي د هماغې بهرنۍ سرچینې له عوایدو څخه د کسر وړ دی او لیږدول کیږي ، نوموړی ضرر له هغومالیې وړ عوایدو څخه چې سرچینه یې په افغانستان کې وي د کسر وړ ندی.

۱.۴۲ پر عایداتو د مالیاتو د قانون سره سم، نګه عملیاتي تاوان عبارت دی د عملیاتي عوایدو له مقدار څخه چې د کسراتو له مجرا کولو څخه وروسته په مالي کال کې دېر وی او یوازې په هغه مالي کال کې چې په هغه کې ګټه وجود ولري، تاوان یې جبیره کیږي.

عملیاتي تاوان چې په مالي کال کې چې یو سهامي یا محدودالمسؤلیت شرکت چې ثبت شوي نه وی، پر غاړه اخلي (د ۴۷مې مادې لمخې، تاوان وروستیو کالو ته لېږدول کیږي) د هغه د دریو پرله پسې کالونو د مالیې وړ عوایدو پر وړاندې جبیره کیږي.

بېلګه: په ۱۳۸۵ لمریز کال کې یو سهامي شرکت د ۱۲۰۰۰۰ افغانیو خالص عملیاتي ضرر سره مخ کیږي. لکه څنګه چې د مالیاتو قانون د ۴۲ مادې په (۱) فقره کې راغي ، دغه ډول ضرر په درې کلنو کې د سهامي شرکت له مالیې وړ عوایدو څخه وروسته د مجرایي وړ دي. یعني په هر کال کې د ضرر یو پر درېیمه برخه د مجرایۍ وړ ده. په دې توګه، د ۱۳۸۲، ۱۳۸۷ او ۱۳۸۸ کالونو له ګټو څخه ۴۰۰۰۰ افغانۍ د یاد شوي ضرر په توګه د مجرایۍ وړ بلل کیږي. ولې پورتني مبالغ باید په هېڅ یو پورتنیو کلنو کې د همدغو کلونو د عملیاتي ضرر د یوې برخې په توګه ونه ښودل شي. نو په هغه صورت کې، نوموړی سهامي شرکت په ۱۳۸۲ لمریزکال کې هېڅ ګټه ترلاسه نه کړي، نو د ۴۰۰۰۰ افغانیو مبلغ جایز نه ده. که چیر سهامي شرکت په دغو درې پرله پسې کلونو (۱۳۸۲، ۱۳۸۷ ،۱۳۸۸) کې ګټه ترلاسه نه کړي، نو د ۱۲۰۰۰۰ افغانیو د هېڅ یوې برخې لپاره باید مجرایي ورنه کړل شي. که چیرې نوموړي سهامي شرکت په ۱۳۸۲ او ۱۳۸۷ کلونو کې ګټه نه وي ترلاسه کړې مګر په ۱۳۸۸ لمریز کال کې یې ډېره ګټه ترلاسه کړې وي، د ضرر ډېره برخه چې په نوموړي کال ( ۱۳۸۸) کې یې باید مجرایي ورکړل شي ۴۰۰۰۰ افغانۍ ده او هغه مبالغ به له منځه ولاړ شي چې په ۱۳۸۲ او ۱۳۸۷ کلونو کې یې د مجرایي غوښتنه کیږي.

۲.۴۲ يو سهامي يا محدود المسؤليت شرکت په پرله پسې کلنو کې له مالي تاوانونو سره مخ کيږي. که چيرې اړول شوي تاوانونه په پرله پسې توګه منځ ته راشي، منځ ته راغلي تاوانونه بايد له يو بل سره جمع کړل شي.

۱ بېلګه: يوه سهامي شرکت ته لاندې تاوانونه اوښتي دي:

| د تاوان کال | مجموعي تاوان | هغه کلونه چې تاوان بايد په کې ولېږدول شي | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | ۱۳۸۵ | ۱۳۸۶ | ۱۳۸۷ | ۱۳۸۸ | ۱۳۸۹ |
| د ۱۳۸۴ کال تاوان | ۱۲۰۰۰۰ | ۴۰۰۰۰ | ۴۰۰۰۰ | ۴۰۰۰۰ | صفر | صفر |
| د ۱۳۸۵ کال تاوان | ۱۵۰۰۰۰ | صفر | ۵۰۰۰۰ | ۵۰۰۰۰ | ۵۰۰۰۰ | صفر |
| د ۱۳۸۶ کال تاوان | ۶۰۰۰۰ | صفر | صفر | ۲۰۰۰۰ | ۲۰۰۰۰ | ۲۰۰۰۰ |
| په هر کال کې د تاوان د اکثر حد مجاز مجرايي | | ۴۰۰۰۰ | ۹۰۰۰۰ | ۲۹۰۰۰۰ | ۲۵۰۰۰۰ | ۲۰۰۰۰ |

په دې بېلګه کې ماليه ورکونکی کولای شي د پورته جدول لمخې د ۱۳۸۶ ، ۱۳۸۷ او ۱۳۸۸ کلونو اوښتي تاوانونه سره جمع کړي او د مجرا وړ تاوانونو مقدار په يوه ټاکلي کال کې له لاسته راغلو عوايدو څخه وټاکي.

۲ بېلګه: فرض کړئ چې په لومړۍ بېلګه کې سهامي شرکت په ۱۳۸۸ لمريز کال کې ۲۵۰۰۰۰ افغانۍ ګټه ترلاسه کړې ده. لکه څنګه چې ۱۳۸۸ لمريز کال له ۱۳۸۴ لمريز کال نه څلور کاله وروسته راځي، نو د ۱۳۸۴ لمريز کال تاوان د ۱۳۸۸ لمريز کال له لاسته راغلې ګټې څخه د مجرايي وړ نه دې. يعنې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې د تاوان د ليږد لوړ مجاز حد ۲۵۰۰۰ افغانۍ دي. د ۱۳۸۴ کال پورې اړوند ټول تاوانونه او د ۱۳۸۵ کال د تاوان دوه په دريمه برخه نه شي کېدای چې د ۱۳۸۸ کال د عوايدو لپاره د مجرا وړ تاوان په توګه وګڼل شي. قانون دا اجازه نه ورکوي چې په اړونده کال کې اوښتي زيان له دريو زياتو کالو ته ولېږدول شي.

۳ بېلګه: فرض کړئ چې په لومړۍ بېلګه کې ياد شوي سهامي شرکت ته په ۱۳۸۹ لمريز کال کې ۴۰۰۰۰۰ افغانۍ تاوان اوښتی دی. سره له دې چې د ۱۳۸۶ لمريزکال تاوان (۲۰۰۰۰ افغانۍ) د ۱۳۸۹ لمريزکال له عوايدو څخه نه دي وضع شوي، په راتلونکوکلونوکې د نوموړي مبلغ مجرايي نه ورکول کيږي.که چيرې شرکت په ۱۳۹۰ لمريزکال کې ګټه ترلاسه کړي ، د۱۳۸۶ لمريزکال پاتې تاوانونه چې چې له وړاندې نه يې مجرايي نه ده ورکړل شوې د مجرايي وړ نه دي ځکه چې ۱۳۹۰ لمريزکال د ۱۳۸۶ لمريزکال نه وروسته څلورم کال دې. قانون دا اجازه نه ورکوي چې په اړونده کال کې اوښتی زيان له دريو زياتو کالو ته ولېږدول شي.

۳.۴۲ له غير افغاني سرچينو څخه اوښتی تاوان له افغاني سرچينې څخه د لاسته راغلو ماليې وړ عوايدو د لږوالي سبب نه ګرځي او همدارنګه له افغاني سرچينو څخه اوښتی تاوان له غير افغاني سرچينو څخه د لاسته راغلو ماليې وړ عوايدو د لږوالي سبب نه ګرځي. د ۴۲مې مادې د ۲ بند لمخې، د يوه افغان شرکت عوايد يا تاوان چې د افغانستان له کورنيو يا بهرنيو سرچينو ترلاسه کيږي، په کار ده چې په جلا توګه محاسبه شي.

۱ بېلګه: یو افغان سهامي شرکت په افغانستان او پاکستان کې د غالیو د جلا جلا پلورنځي فعالیتونه پرمخ وړي. افغان پلورنځی په جلال آباد او پاکستاني پلورنځی د لاهور په ښار کې موقعیت لري. نوموړی شرکت په افغانستان کې جوړې شوې غالۍ رانیسي اود خپلو دوو پلورنځیو له لیارې یې په افغانستان اوپاکستان کې پلوري. په ۱۳۸۲ لمریز کال کې د جلال آباد ښار پلورنځی ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ د مالیې وړ عواید ترلاسه کوي ولې د لاهور ښار پلورنځی ۳۰۰۰۰۰ افغانۍ تاوان کوي. افغان سهامي شرکت باید د عایداتو له کبله ۲۰۰۰۰ افغانۍ (۱۰۰۰۰۰افغانۍ ×۲۰٪) مالیه په افغانستان کې له کورنۍ سرچینې څخه د مالیې وړ لاسته راغلو عوایدو څخه تادیه کړي. افغان سهامي شرکت نه شي کولای د هغو۳۰۰۰۰۰ افغانیو تاوان لپاره چې د لاهور ښار د غالیو په پلورنځي کې ورته اوښتی د جلال آباد ښار د پلورنځي له عوایدو څخه مجرایي ترلاسه کړي.

۲ بېلګه: د دغې بیلګې پیل لومړی بیلګې ته ورته دي ولې په دې بېلګه کې د افغان سهامي شرکت په ۱۳۸۷ لمریزکال کې د جلال آباد له پلورنځي څخه ۷۰۰۰۰۰ افغانۍ تاوان او د لاهور ښار له پلورنځي څخه ۸۰۰۰۰۰ افغانۍ ګټه ترلاسه کوي. د لاهور ښارله پلورنځي څخه لاسته راغلې ګټه د ۳۲۰۰۰۰ افغانیو پاکستاني مالیې تابع ګرځي. د لاهور ښار پلورنځی چې په ۱۳۸۲ لمریز کال کې کوم تاوان کوي د ۱۳۸۷لمریز کال له ګټې څخه د لیږد وړ دی. د ۱۳۸۲ لمریزکال تاوان د لیږد له مجرایي څخه وروسته لاسته راغلې خالصه ګټه ۵۰۰۰۰۰ افغانۍ ده.

تبصره: پر عایداتو د مالیاتو قانون د ۵ مادې پر اساس افغان سهامي شرکت کولای شي چې په پاکستان کې د تادیه شوومالیاتوپه بدل کې د بهرنیومالیاتو د مجرایي غوښتنه وکړي . نوموړی حد د ۱۰۰۰۰۰ افغانیو افغاني مالیې معادل دې چې پر ۵۰۰۰۰۰ افغانیوپاکستاني عوایدو باندې وضع کیږي. ۳۲۰۰۰۰ افغانۍ اضافي مالیه چې په پاکستان کې تادیه شوې ده له ۱۰۰۰۰۰ افغانیوڅخه چې د مجرایي په توګه یې غوښتنه کیږي په وروستیوکلونوکې د لیږد اومجرایي وړنه ده.

| |
|---|
| سهم لرونکو ته د شرکت د شتمنیو وېشل<br>دري څلوېښتمه ماده:<br>د سهم لرونکي یا شریک په واسطه د شرکت سهم لرونکو یا شریکانو ته د سهامي یا محدودالمسؤولیت شرکت د شتمنیو وېش د سهم د تمامې شوې بیې د تنقیص یابې په پانګه کې د تنقیص په توګه کیږي ،د سهم ګټه او د انحلال د وخت سهم لدې امر څخه مستثني دي. |

۱.۴۳ د سهامي او یا محدودالمسؤولیت شرکت د شتمنیو وېش د ونډې د ګټې په توګه ګڼل کیږي، مګر دا چې مالیه ورکونکی ثابته کړي چې شرکت د شتمنۍ د وېش په کال کې هېڅ عواید او یا اضافي پیسې لاسته نه دي راوړي.

۱ بېلګه: ادیب یو افغان مېشت شخص دي چې د یوۀ افغان سهامي شرکت ټول پلورل شوي سهمونه په اختیار کې لري. دغه شرکت په ۱۳۸۴ لمریزکال کې په فعالیت پیل کړی دې او د ۱۳۸۵ لمریزکال په اوږدوکې ادیب ته د هغۀ د ونډو له مخې ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ ورکوي. دغه ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ د ایب د مالیې وړ ونډې ګټې په توګه ګڼل کیږي مګر داچې د سهامي شرکت د اسنادونواودفترونو پراساس ادیب ثابته کړي چې شرکت په ۱۳۸۴ او۱۳۸۵کلونو کې ګټه نه ده ترلاسه کړې.

۲ بېلګه: اديب يو افغان مېشت شخص دي چې د يوۀ افغان سهامي شرکت ټول پلورل شوي سهمونه په اختيار کې لري. نومورې سهامي شرکت د فعاليت د لومړي کال (**۱۳۸۵**) د وري او غوايي په مياشتو کې هېڅ ګټه لاسته نه ده راوړې.د غوايي مياشتې په پای کې شرکت اديب ته ۱۰۰۰۰ افغانۍ وېشي. نومورې شرکت د **۱۳۸۵** لمريز کال په وروستيو مياشتو کې ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ ګټه ترلاسه کوي.اديب ته له ورانديې نه وېشل شوې ۱۰۰۰۰ افغانۍ د ونډې د ګټې په توګه ګڼل کيږي سره له دې چې شرکت د وېش پر مهال کوم عوايد نه درلودل ولې په کوم کال کې چې وېش صورت نيولی وه ، شرکت له وېشل شوو پيسو څخه يې ډېر عايد ترلاسه کړي دي.

۳ بېلګه: اديب يو افغان مېشت شخص دي چې د يوۀ افغان سهامي شرکت ټول پلورل شوي سهمونه په اختيار کې لري. افغان سهامي شرکت د فعاليت په لومړي کال کې هېڅ ګټه نه ده ترلاسه کړې مګر د غوايي مياشتې په پای کې يې ۱۰۰۰۰ افغانۍ اديب ته ورکړې دي .نومورې شرکت په **۱۳۸۲** لمريز کال کې ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ ګټه ترلاسه کوي.نو اديب ته ورکړل شوې ۱۰۰۰۰افغانۍ د ونډې د ګټې په توګه نه ګڼل کيږي.سره له دې چې ونډې د ګټې د وېش په وروستي کال (**۱۳۸۲**) کې سهامي شرکت عوايد ترلاسه کړي دي، دغه ډول عوايد د دې موضوع چې آيا د **۱۳۸۵** لمريز کال وېش د ونډې ګټه ده اوکه نه په معلومولو کې د ارزښت وړ نه دي.

**۲.۴۳** د وېشل شوې شتمنۍ ارزښت د بازار له مناسب ارزښت سره معادل دې.

۱ بېلګه: ا اديب يو افغان مېشت شخص دي چې د يوۀ افغان سهامي شرکت ټول پلورل شوي سهمونه په اختيار کې لري. نومورې افغان سهامي شرکت ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ عوايد ترلاسه کړی دې. اديب له افغان سهامي شرکت څخه غواړي چې ځينې تجهيزات ورته ورکړي. د نومړو تجهيزاتو بيه ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ ده مګر اصلي ارزښت يې **۱۵۰۰۰۰** افغانۍ دې . اديب ته د تجهيزاتو وېش د **۱۵۰۰۰۰** افغانيود ونډې ګټې په توګه ګڼل کيږي. نو څرګنديږي چې اديب د اصلي بيې (**۱۵۰۰۰۰** افغانيو ) په بدل کې تجهيزات لاسته راوړي دي.

۲ بېلګه: اديب يو افغان مېشت شخص دي چې د يوۀ افغان سهامي شرکت ټول پلورل شوي سهمونه په اختيار کې لري.نومورې افغان سهامي شرکت هېڅ عوايد نه دي ترلاسه کړي.اديب د شرکت د ونډې په اسنادو کې ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ پانګه اچولې ده. اديب له افغان سهامي شرکت نه غواړي چې تجهيزات ورته ورکړي.د نومړو تجهيزاتو بيه ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ ده مګر اصلي ارزښت يې **۱۵۰۰۰۰** افغانۍ دې ، اديب ته د تجهيزاتو وېش د **۱۵۰۰۰۰** افغانيو د بيا راګرځېدونکې پانګې په توګه ګڼل کيږي.اديب دغه تجهيزات د **۱۵۰۰۰۰** افغانيو په بدل کې چې د نومړو تجهيزاتو اصلي بيه ده ترلاسه کوي.

**۳.۴۳** ونډه لرونکو ته د شتمنيو وېش د هر ونډه لرونکي د ونډې د اسنادوارزښت د هغه مبلغ د ارزښت په اندازه چې ورته وېشل شوې دي ، کموي ( اما له صفر څخه يې ارزښت نه کميږي). دغه ډول عوايد د ونډو لرونکو د ماليې وړ عوايد نه دي ځکه لاسته راغلي مبالغ د هغې پانګې بيرته راګرځېدنه ده چې ونډه لرونکو د ونډې د اسنادو د پيرودنې پر مهال په شرکت کې د پانګې په توګه اچولې وه. د بيرته راګرځېدنې ( د بيا ورکړې ) پانګې د سند يو نقل بايد د ونډه لرونکي د ونډې اسنادو د لړوالي د توضيح په موخه وساتل شي.که چيرې ونډه لرونکی خپلې ونډې په پرله پسې توګه ولېږدوي، د ګټې او يا تاوان د لړوالي ارزښت د دغه ډول لېږد له مخې ټاکل کيږي.که چيرې د وېش ارزښت د ونډه لرونکي د ونډې د اسنادو له اصلي ارزښت څخه لوړ وي ، نو ونډه لرونکی بايد د اضافي مبلغ د وېش سره سره ګټه معلومه کړي.

سهم لرونکو ته د شرکت د شتمنیو وېش
ځلور ځلو ښتمه ماده:

د سهم لرونکي يا شرکت په واسطه د سهامي يا محدودالمسؤوليت شرکت د انحلال په وخت کې د شتمنيو وېش ، د دې قانون د درېيم فصل د مندرجاتو لمخې د شتمنيو د پلورنې يا تبادلې د وجهې په توګه ګڼل کيږي.

مبلغ يا نورې وېشل شوې شتمنۍ د وړځې د نرخ پر بنسټ منفي د سهم لرونکي د سهم تمامه شوې بيه يا د شرکت د پانګې مبلغ (چې وېش له هغې څخه صورت مومي) ، د سهم لرونکي يا شريک له ماليې وړ عوايدو څخه عبارت دي.

د جزئي يا کلي انحلال په صورت کې د سهامي يا محدودالمسؤوليت شرکت د شتمنيو وېشل ، د شرکت د ګټې يا ضرر په توګه نه ګڼل کيږي.

۱.۴۴ د ونډه لرونکو لخوا د شرکت د له منځه وړلو په وخت کې د شتمنۍ وېش لومړی د ګټې د بيا لاسته راوړنې په توګه ګڼل کيږي او بيا وروسته د هغې پانګې بيا د لاسته راوړنې په توګه ګڼل کيږي چې په کار اچول شوې ده. که چيرې د شتمنۍ وېش تر يوې اندازې پورې د ونډه لرونکي د هغې پانګې په توګه وګڼل شي چې په کار اچول شوې ده، د ماليې وړ عوايدو په توګه نه ګڼل کيږي ولې که چيرې د شمتنۍ وېش د ونډه لرونکي له پانګې څخه زيات وي، نو د شتمنۍ وېش د ونډه لرونکي د ماليې وړ ګټې د زياتوالي سبب ګرځي.

بېلګه: اديب د يوه افغان سهامي شرکت ټول پلورل شوې ونډې په اختيار کې لري. نوموړي د ونډې دغه اسناد په تيرو کلونو کې د ۱۰۰۰۰۰ افغانيو په بدل کې پېرودلي وو. نوموړی سهامي شرکت د خپلو ټولو شتمنيو له پلور نه وروسته د ۵۰۰۰۰ افغانيو په ارزښت عايد او ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ نغدې پيسې لاسته راوړي. اديب له شرکت نه غواړي چې له دې سره حساب ته حاضر شي او ټولې نغدې پيسې ده ته ورکړي. اديب د ماليې وړ ګټې په توګه ۵۰۰۰۰ افغانۍ لاسته راوړي. نورې ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ د پانګې بيا لاسته راوړنه ده او د اديب د عوايد و په توګه نه ګڼل کيږي. پاتې ۵۰۰۰۰ افغانۍ د اديب د ماليې وړ ګټې په توګه ګڼل کيږي ځکه چې دغه مبلغ د اديب د ونډو اسنادو له اصلي ارزښت څخه ډېر دي.

د پیسو یا نورو شتمنیو وېشل

پنځه څلوېښتمه ماده:

پیسې یا نورې هغه شتمنۍ چې د سهامي یا محدودالمسؤلیت شرکت په واسطه له ترلاسه شوو عوایدو څخه سهم لرونکیا شریکانو ته وېشل کیږي ، د سهم ګڼه ګڼل کیږي لاندې حالات پکې شامل دي:

(1) د هغهٔ سهامي یا محدودالمسؤلیت شرکت چې د هېواد د قوانینو لمخې جوړ شوی په واسطه له ترلاسه شوو عوایدو څخه په پیسو باندې د ورکړل شوي سهم ګټه ، دهغهٔ شرکت له عوایدو څخه چې ورکوي یې ، د دې قانون د اتلسمې مادې د (2) فقرې د (2) جزء په استثني ، د مجرایي وړ ده.

(2) که چیرې د سهم ګټه ، د سهم یا پور یا هغو ته د ورته سندونو په ډول ورکړل شي د سهامي یا محدودالمسؤلیت شرکت له عایداتو څخه د وضع کولو وړ نده.

(3) د هغهٔ سهم ګټه چې د پیسو په ډول ورکول کیږي، د ترلاسه کیدو په وخت کې ، د تر لاسه کیدونکي د مالیې وړ عایداتو په توګه ګڼل کیږي. د سهم هغه ګټه چې د پور د سهم د سندونو یا هغو ته د ورته په ډول ورکول کیږي د ترلاسه کیدو په وخت کې ، د ترلاسه کوونکي د مالیې وړ عوایدو په توګه نه ګڼل کیږي.

**۱.۴۵** که چیرې سهامي او یا محدود المسؤلیت شرکت د سهم هغه ګټه چې د قانون د (۱۸) مادې د (۲) فقرې د (۲) برخې لمخې د مجرایي وړ نه ده په دې خاطر تادیه کړي چې موضوعي مالیه نه ده تادیه شوې ، د دغه قانون لمخې نوموړی مبلغ د سهم د ګټې په توګه ګڼل کیږي. ونډه لرونکي مکلف دي چې د لاسته راغلې ونډې ګټې له درکه پر عایداتو باندې مالیات تادیه کړي.

**۲.۴۵** یو سهامي او یا محدودالمسؤلیت شرکت نشي کولای د هغو ارزښت لرونکو اسنادو لپاره مجرایي ترلاسه کړي چې د سهم د ګټې په توګه یې صادروي.

۱ بېلګه: هر یو ادیب او وحید د یو افغان سهامي شرکت پلورل شوي د سهم **۵۰** قطعي اسناد په اختیار کې لري. نوموړی شرکت یو اځې د سهم ۱۰۰ قطعې اسناد لري. نوموړی سهامي شرکت ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ ګټه لاسته راوړي او ادیب او وحید ته د سهم اضافي اسناد صادروي. د سهم د اسنادو د هرې قطعې ارزښت ۹۰۰۰ افغانۍ دې شرکت نه شي کولای دهغې لپاره مجرایي ترلاسه کړي.

۲ بېلګه: هر یو ادیب او وحید د یو افغان سهامي شرکت پلورل شوي د سهم **۵۰** قطعي اسناد په اختیار کې لري. نوموړی شرکت یو اځې د سهم ۱۰۰ قطعې پلورل شوي اسناد لري. نوموړی سهامي شرکت ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ ګټه لاسته راوړي او ادیب او وحید ته د پور اسناد صادروي. د سهم د اسنادو د هرې قطعې ارزښت ۱۰۰۰۰ افغانۍ دي. نوموړی شرکت نه شي کولای د پور د اسنادو لپاره د خپلو مالیې وړ عوایدو څخه مجرایي ترلاسه کړي.

۳ بېلګه: هر یو ادیب او وحید د الف سهامي شرکت پلورل شوي د سهم ۵۰ قطعي اسناد په اختیار کې لري. نوموړی شرکت یو اځې د سهم ۱۰۰ قطعې پلورل شوي اسناد لري او ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ ګټه یې لاسته راوړې ده. همدارنګه د الف سهامي شرکت د ب شرکت ۲۰۰ قطعي د سهم اسناد لري. د الف شرکت د ب شرکت ۲۰۰ قطعي د سهم اسناد وحید او ادیب ته وېشي. د ب شرکت د سهم اسنادو د هرې قطعې بیه ۱۰ افغانۍ ده. د الف شرکت کولای شي د ب شرکت د وېشل شوو اسنادو بیه له خپلو مالیې وړ عوایدو څخه مجرایي کړي. د ب شرکت د سهم اسناد د شرکت د نورو شتمنیو په توګه ګڼل کیږي.

۴ بېلګه: هر یو ادیب او وحید د الف سهامي شرکت پلورل شوي د سهم ۵۰ قطعي اسناد په اختیار کې لري. نوموړی شرکت یو اځې د سهم ۱۰۰ قطعې پلورل شوي اسناد لري او ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ ګټه یې لاسته راوړې ده. همدارنګه د الف سهامي شرکت د ب شرکت لخوا صادر شوي د پور اسناد لري. د پور اسناد ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ ارزښت لري. د الف شرکت د ۲۰۰۰۰۰ افغانیو په ارزښت د پور اسناد ادیب او وحید ته صادروي. د الف سهامي شرکت کولای شي چې د دوې لخوا د ب شرکت د صادرشوو پور اسنادو بیه له خپلو مالیې وړ عوایدو څخه مجرا کړي. د ب شرکت د پور اسناد یو اځي د شرکت د نورو شتمنیو په توګه ګڼل کیږي.

۳.۴۵ که چیرې ارزښت لرونکي اسناد د سهم د ګټې په توګه ترلاسه شي، نو دغه اسناد په هغه کال کې چې لاسته راغلي دي د مالیې وړ عوایدو په توګه نه ګڼل کیږي. د دغو ارزښت لرونکو اسنادو له پلور، تبادلې، بیا ورکړې او یا لیږد وني څخه لاسته راغلي عواید د مالیې وړ عوایدو په توګه ګڼل کیږي. دا چې لاسته راوړونکي د ارزښت لرونکو اسنادو له درکه هېڅ هم نه دي تادیه کړي، ټول عواید د مالیې وړ ګټې په توګه ګڼل کیږي.د پلور لګښت د مجرایي وړ دې.

۱ بېلګه: په ۱۳۸۴ لمریز کال کې یو ونډه لرونکی د سهم ۱۰ قطعي اسناد د سهم د ګټې په توګه ترلاسه کوي. نوموړی ونډه لرونکی په ۱۳۸۵ لمریز کال کې خپل د سهم ۱۰ قطعې اسناد په ۲۰۰۰ افغانۍ پلوري. نوموړی شخص د سهم د اسنادو د پلور له درکه هېڅ لګښت نه لري او ټولې ۲۰۰۰ افغانۍ عاید دې او په ۱۳۸۵ لمریز کال کې د مالیې تابع دي.

۲ بېلګه: د یوۀ سهامي شرکت یو ونډه لرونکی په ۱۳۸۴ لمریز کال کې د نوموړي سهامي شرکت لخوا صادر شوی د پور سند تر لاسه کوي. د سند اصلي بیه ۱۰۰۰۰ افغانۍ ده. نوموړی ونډه لرونکی چې کله سند لاسته راوړي نو په خپلو عوایدو کې یې باید شامل نه کړي. د ونډه لرونکي د پور سند -۰- افغانۍ ارزښت لري. که چیرې سهامي شرکت د پور د سند له درکه ۱۰۰۰۰ افغانۍ تادیه کړي، دغه تادیات په همغه وخت کې د ونډه لرونکي د عوایدو په توګه ګڼل کیږي او نوموړی باید ۱۰۰۰۰ افغانۍ په خپلو عوایدو کې شاملې کړي. ونډه لرونکی کولای شي ۱۰۰۰۰ افغانۍ د پور د سند پر اصلي بیې باندې ورزیاتې کړي. همدارنګه سهامي شرکت کولای شي د سهم د ګټې په توګه ۱۰۰۰۰ افغانیو لپاره مجرایي ترلاسه کړي.

د ماليې وضع کول
شپږ څلوېښتمه ماده:

(1) هغه انتفاعي یا غیر انتفاعي حکمي اشخاص چې د هېواد د قوانینو لمخې منځته راغلي وي ، په لاندې توګه پرعایداتو باندې د مالیاتو په وضع کولو مکلف دي.

1. د دې قانون د حکمونو لمخې د اړوندو کارکوونکو له معاشونو او مزدوریو ( دستمزد ) څخه د ماليې وضع.
2. ددې قانون د حکمونو لمخې له ټکټ پولۍ ، د سهم له ګټې ، حق الامتیاز او ورته عوایدو څخه په سلو کې د شلو ماليې وضع کول.

(2) په دې ماده کې درج وضع شوې مالیه د راتلونکې میاشتې تر لسمې نیټې پورې دولت ته ورکول کیږي.

(3) حکمي اشخاص چې ددې قانون د حکمونو لمخې له معاشونو او مزدوریو ( دستمزد ) څخه د ماليې وضع اجراء کوي ، مکلف دي د مالي کال په تیریدو سره د راتلونکي کال د لومړۍ میاشتې په ترځ کې هغو افرادو ته چې مالیه یې له معاش او مزد څخه وضع شویده، په هغهٔ ترتیب سره چې د ماليې وزارت یې تجویزوي ، دماليې د وضع، د معاش د اندازې او په نورو مواردو کې جزئیات ، کتبأ هغوی ته خبر ورکړي.

(4) هغه شخص چې مالیه وضع کوي، مکلف دی د میا شتنیو ورکړو ( تادیاتو ) او د ماليې وضع جزئیات د ماليې وزارت ته د راتلونکې میاشتې تر لسمې پورې په هغهٔ ترتیب سره چې د ماليې وزارت یې تجویزوي ، رپوټ ورکړي.

(5) که چیرې له یوې سرچینې څخه د ماليې صحیح مقدار ددې قانون د حکمونو لمخې وضع شوی وي. داسې ګڼل کیږي چې پر عایداتو مالیات بشپړ رفع شوي دي.

(6) هغه حقیقي اشخاص چې له یوې له زیاتو سرچینو څخه عواید ولري، د اظهار لیک په ډکولو ( خانه پرۍ ) او وړاندې کولو مکلف دي، مالیه یې ددې قانون د حکمونو لمخې سنجول کیږي، د مخه وضع شوي مبلغ له مالیاتو څخه د مجرایي وړ ګڼل کیږي.

۱.۴۲ انتفاعي او غیر انتفاعي حکمي اشخاص چې د نافذه قانون لمخې رامنځته شوي وي، د خپلو کارکوونکو پر معاشونو د موضوعي ماليې پر وضع کولو مکلف دی. د ویلو وړ ده چې د کارکوونکو له معاشونو د مالیاتو موضوعي کول پر عایداتو د مالیاتو د قانون په **۵۸**مه ماده کې اټکل شوی دی او سربېره پر حکمي اشخاصو ، حقیقي اشخاص یې هم دې ته مکلف کړي چې د کارکوونکو له معاشونو څخه موضوعي مالیه وضع کړي. د **۵۸**مې مادې احکام په دې اړه د ماخذ په توګه یادیږي.

۲.۴۲ انتفاعي او غیر انتفاعي حکمي اشخاص چې د نافذه قانون لمخې رامنځته شوي وي، د ونډې د ګټې پر تادیاتو ، حق الامتیاز، جایزو ، مکافاتو ، د پچه اچونې او بخششیانو د موضوعي ماليې پر وضع کولو مکلف دي. که چېرې دغه شان تادیات صورت مومي، تادیه کوونکی په دې مکلف دی چې ۲٪ مالیه ورکړي او د دولت بانکي حساب ته یې انتقال کړي.

۱ بېلګه: عزیزالله د ۲۰۰۰۰ افغانیو په مبلغ د ملي بانک د سپما په حساب کې اچوي. ملي بانک ۵٪ کلنۍ بانکي ګټه ورکوي. د مالي کال په پای کې، ملي بانک د اسې ژمنه کوي چې ۱۰۰۰۰ افغانۍ د سپما حساب د ګټې له درکه عزیزالله ته ورکوي. نو په دې توګه، ملي بانک ۲۰٪ بانکي ګټه چې ۲۰۰۰ افغانۍ کیږي، وضع کوي او د دولت بانکي حساب ته یې د ۱۰ ورځو په موده کې د هغې میاشتې له پایه وروسته چې مالیه په کې وضع شوې ده، سپاري.

۳.۴۲ په هغه صورت کې چې بانکونه پر هغو پورونو یا امانتونو ټکټانه ورکړي چې په افغانستان کې یې له نورو بانکونو ترلاسه کوي، دا مکلفیت لري چې د ټکټانې پر تادیاتو مالیه وضع کړي.

بېلګه: افغان بانک یو شرکت دی چې د بانکي خدماتو د وړاندې کولو لپاره رامنځته شوی دی. د کال په ترڅ کې، افغان بانک د هرات بانک په واک کې پور ورکوي او دغه بانک د پور مبلغ له ټکټانې سره یو ځای کابل بانک ته ورکوي. دا چې افغان بانک په افغانستان کې جوړ شوی دی نو په دې خاطر هرات بانک افغان بانک ته د ټکټانې د ورکړې له درکه د مالیه په وضع کولو مکلف نه دی.

۴.۴۲ که څه هم پر ټکټانې د مالیې وضع کول د شخصي ژمنې لمخې ترسره کیږي چې ټکټانه ورکول کیږي، خو په هغو مواردو کې چې د ټکټانې ترلاسه کوونکی د عوایدو د مالیې تابع نه وي، د مالیې د وضع کولو مکلفیت له منځه ځي. دغه چارې هله پلې کیږي چې مالي مؤسسې پر پورونو یا د پیسو پر سپارلو ټکټانه ورکوي.

له مالیې څخه معاف شوې ادارې چې د ۱۰مې مادې لمخې پر عوایدو د مالیاتو تابع نه ګرځي، نمایندګۍ، دولتي ادارې او ښاروالۍ د ۱۱مې مادې لمخې،

کله چې دغه شان تادیات ترسره کیږي، بانکونه دې د دغه شان ادارو د مالیاتي معافیت د حالت په اړه د عوایدو لوی ریاست له چارواکو سره خبرې وکړي او د دغه راز مالیاتي معافیت شواهد دې خوندي وساتي.

۵.۴۲ د ونډې له ګټې څخه وضع شوې مالیه د هغې میاشتې نه وروسته چې مالیه په کې وضع شوې ده د راتلوونکې میاشتې تر لمسې ورځې پورې دولت ته تادیه کیږي. د ونډې ټوله هغه ګټه چې شرکت یې ښیي د مالیې اندازه یې دولت او پاتې برخه یې ونډه لرونکي ته ورکول کیږي.

۱ بېلګه: هغه شرکت چې د ونډې له ګټې څخه د مالیې پر وضع کولو مکلف دې د خپلو ۵۰۰۰۰ د ونډې اسنادو له درکه د یوې ونډې ګټه ۱۰۰ افغانۍ چې مجموعي ګټه یې ۵۰۰۰۰۰ افغانۍ کیږي ښیي. دغه ۵۰۰۰۰۰ افغانۍ باید د ونډه لرونکو لخوا د مالیې وړ عوایدو په توګه ریپوټ کړل شي. له دغه مبلغ څخه باید ۴۰۰۰۰۰ افغانۍ (۸۰ ٪ ۵۰۰۰۰۰ افغانۍ) ونډه لرونکوته او ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ (۲۰ ٪ ۵۰۰۰۰۰ افغانۍ) باید د مالیې په موخه وضع کړل شي.

تبصره: له هغو تادیاتو څخه وضع شوې مالیه چې د موضوعي مالیې تابع دي، د دغې مادې سره سم د هغې میاشتې نه وروسته چې مالیه په کې وضع شوې ده د راتلوونکې میاشتې تر لمسې ورځې پورې د دولت بانکي حساب ته تادیه کیږي.

۶.۴۲ د پچې اچونې او جایزو پر عوایدو موضوعي مالیه پلې کیږي.

بېلګه: افغان بانک د بخت حساب له درکه د قرعې عواید ګټونکو ته د تلې په میاشت کې وېشي. افغان بانکپه دې اړ دی چې پر عایداتو د مالیاتو د قانون د ۴۲مې مادې د ۲ بند د حکم لمخې، مالیه وضع کړي او د هماغه کال د لړم په لسمه وضع کړې مالیه د دولت بانکي حساب ته وسپاري.

۷.۴۲ هر مهال چې د ونډې د ګټې له درکه مالیه وضع او د دولت بانکی حساب ته سپارل کیږي، شرکت مالیاتي اداري ته داسې رپوټ وړاندې کوي چې په هغه کې د ونډه لرونکي، د ونډې له ګټې د وضع شوي مبلغ او ونډه لرونکي یا شریک ته د تادیه شوي مبلغ په اړه ټول معلومات په کې شامل وي. رپوټ په ځانګړو فورمو کې اوډل او ترتیبیږي.

۸.۴۲ یو سهامي شرکت چې د ونډې ګټه خپل ونډه لرونکي ته وېشي، یو صورت حساب هم صادروي. یاد صورت حساب په درېیو نسخو کې صادریږي. د یاد سند درې کاپیانې چې په لاندې توګه وېشل شوې هم تر استفادې لاندې نیول کیږي:

د سند دوه کاپي ونډه لرونکي ته ورکول کیږي. د تادیه شوي مالیې په بدل کې د مجرایي د ترلاسه کولو په موخه ونډه لرونکی د سند اصلي کاپي له خپل مالیاتي اظهار لیک سره ضمیمه کوي او یوه کاپي له ځان سره ساتي. د سند درېیمه کاپي له راپور سره ضمیمه کیږي چې د شرکت لخوا د وضع شوې مالیې د ورکړې په وخت کې بانک ته ورکول کیږي.

تبصره: د ونډې ګټې پورې اړوند د ټولو تادیاتو لپاره د صورت حساب د صدور شرایط د ۴۲مې مادې د ۱ بند په ۲ جز کې د درج شوو نورو عوایدو د بېلانس د تادیاتو پر موضوعي مالیې په مساوي توګه پلې کیږي.

۹.۴۲ د ونډې له ګټې څخه وضع شوې مالیه سره له دې چې د شرکت لخوا ورکول کیږي، د ونډه لرونکي پر ګټو باندې له مالیې څخه عبارت ده. ونډه لرونکي کولی شي د لاسته راغلې د ونډې ګټې او وضع شوې مالیې په ګډون د خپلو مالیاتي مکلفیتونو په بدل کې مجرایي ترلاسه کړي. د وضع شوې او اضافي ورکړل شوې مالیې لپاره د مجرایي د ترلاسه کولو په موخه باید مالیه ورکوونکی یو مالیاتي اظهارلیک ډک کړي.

بېلګه: لاندې مورد په پام کې ونیسی:

أ. د ونډه لرونکي د مالیې وړ عواید ۵۰۰۰۰۰ افغانۍ

ب. برسیره پردې یاد ونډه لرونکی ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ نغدې د ۱۲۵۰۰۰ افغانیود ونډې له ګټې څخه ترلاسه کوي چې له دې څخه ۲۰ ٪ یعنې ۲۵۰۰۰ افغانۍ مالیه وضع شوې ده. ۲۵۰۰۰ افغانۍ

ج. د مالیې وړ عوایدو مجموعه ۲۲۵۰۰۰ افغانۍ

د. د مالیاتو قانون د ۴ مادې د نورم پر اساس پر عوایدو مالیه

| | | |
|---|---|---|
| پر ۲۰۰۰۰ افغانیو باندې مالیه | | (۰) افغانۍ |
| پر ۹۰۰۰۰ افغانیو باندې مالیه | | ۱۸۰۰ افغانۍ |
| پر ۴۷۵۰۰۰ افغانیو باندې مالیه | ۴۷۵۰۰ افغانۍ | ۴۹۳۰۰ افغانۍ(منفي) |
| د وضع شوې مالیې مجرايي | | ۲۵۰۰۰ افغانۍ |
| | | ۲۵۰۰۰ افغانۍ |
| د ذمت او ورکړې وړ مالیه | | ۲۴۳۰۰= افغانۍ |

#

د استهلاک او ضرر مجرايي

اووه څلوېښتمه ماده:

(1) هغه منظور شوي تشبثات چې د کورنۍ او بهرنۍ خصوصي پانګه اچونې د قانون د حکمونو لمخې ثبت او راجستر شوي وي، د ۱۳۸۳ کال د چنګاښ له ۱ نیټې څخه په لاندې ډول د ودانیو او تجهیزاتو د استهلاک د مجرايي مستحق ګڼل کیږي. د اتلسمې مادې د (1) فقرې په (7) جز کې درج حکم لدې امر څخه مستثني دی:

1. د ودانۍ لپاره څلور کاله موده،
2. د تجهیزاتو لپاره دوه کاله موده.

(2) د ودانیو او تجهیزاتو مجاز استهلاک په هر مالي کال کې په مساویانه توګه سنجش او مجراء ورکول کیږي. که چیرې د تشبث ثابته پانګه ، د مالي کال له نیمايي څخه کمه موده د هغۀ په واک کې وي ، په هماغه کال کې د کلني استهلاک له نیمې مجرايي څخه ګټه اخستی شي.

(3) د استهلاک مجرايي یوازې پر هغو ثابتو شتمنیو باندې چې د تشبث د منظورۍ یا ثبت او راجستر په کال ( هر یو چې لومړی صورت ومومي ) برابر یا پېرودل شوی او ترګټې اخستنې لاندې نیول شوی وي یوازې په هغۀ صورت کې محاسبې وړ ګڼل کیږي چې د تشبث دمنظورېدو په کال یا ترهغو را وروسته پو دوو کلونو کې ورڅخه ګټه اخستل شوې وي. هغه منظور شوي تشبثات چې د مالي کال په اوږدو کې له عملیاتي خالص ضرر سره مخامخ شوي وي ، د قانوني دفتر او سندونو په کتنې سره ، ددې قانون په څلیرېشتمه ماده کې د درج تشبثاتو په استثني د ۱۳۸۳ د سرطان له لومړۍ څخه په هر را وروسته ( راتلونکي) کال کې د رامنځته شوې ضرر تر بشپړ رفع کیدو پورې، له خپلو مالیې وړ عوایدو څخه مجرايي ترلاسه کوي. دمنظور شوو تشبثونو د وارده ضرر محاسبه ددې قانون په دوه څلویښتمه ماده کې د درج حکم لمخې صورت مومي. پدې قانون کې د درج استهلاک لګښتونه او د مالیاتي معافیت په معیاد ( مودې ) پورې اړوند نور لګښتونه او له منظورۍ د مخه میعاد لګښتونه ، د عملیاتي خالص ضرر په محاسبه کې نه شاملیږي.

۱.۴۷ د دې مادې پراساس د استهلاک د مجرايي د محاسبې په موخه باید مالیه ورکوونکي د استهلاک له مساویانه طريقې څخه استفاده وکړي. د استهلاک د مساویانه طریقې پر اساس په هرکال کې د استهلاک یو مساوي مبلغ وضع کیږي.

بېلګه: یو افغان سهامي شرکت د ۱۳۸۵ کال په پیل کې د ۱۰۰۰۰۰۰ افغانیو په ارزښت تجهيزات پیري. نوموړی سهامي شرکت کولای شي په ۱۳۸۵ لمريز کال کې د ۵۰۰۰۰۰ افغانیو استهلاک او په۱۳۸۶ لمريز کال کې د ۵۰۰۰۰۰ افغانیو د استهلاک غوښتنه وکړي.

۲.۴۷ هغه مالیه ورکوونکی چې د کال په هره موده کې شتمنۍ پیري کولای شي د شتمنۍ د استهلاک لپاره په هماغه کال کې غوښتنه وکړي. ولې که چیرې مالیه ورکوونکی د نیمايي کال نه د لږ وخت لپاره شتمني ولري ، نوموړی مالیه ورکوونکی یواځې په هماغه کال کې د شتمنۍ د استهلاک نیمه مجرايي ترلاسه کولای شي. په پایله کې که چیرې مالیه ورکوونکی د شتمنۍ د استهلاک مجرايي په ټاکلو 2 او یا 4 مالي کلنو کې وضع کړي، د پاتې استهلاک لپاره باید په راتلوونکي کال کې مجرايي ترلاسه کړل شي.

بېلګه: یو افغان سهامي شرکت د ۱۳۸۶ لمريز کال په وروستۍ میاشت کې د ۱۰۰۰۰۰۰ افغانیو په ارزښت تجهيزات پیري چې په ۱۳۸۷ او ۱۳۸۸ لمريز کلونو کې یې هم په اختیار کې لري. نوموړی شرکت د استهلاک مجرايي په مختلفو کلونو کې په لاندې ډول وضع کوي:

| مجرايي | |
|---|---|
| ۱۳۸۶ لمريز کال | ۲۵۰۰۰۰ افغانۍ |
| ۱۳۸۷ لمريز کال | ۵۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| ۱۳۸۸ لمريز کال | ۲۵۰۰۰۰ افغانۍ |

تبصره: د دې مادې د تفسیر او تطبیق په اړه د زیاتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره د " د پانګه اچونې لپاره معافیتونه او مالیاتي امتیازونه " تر سرلیک لاندې د مالیې وزارت د عامه سنجش د ۱۳۸۴ کال د ۴ میاشتې طرزالعمل ته دې مراجعه وشي.

۳.۴۷ هغه مالیه ورکوونکي چې مالیاتي معافیت یا امتیاز په واک کې لري د ۱۳۸۳ کال د چنګاښ د ۱ نېټې څخه د استهلاک وړ شتمنیو بیې محاسبه کړي. د کورنۍ او باندنۍ خصوصي پانګه اچونې د قانون لمخې، ثبت او تایید شوي تشبثات کولای شي د چټک استهلاک د مقرراتو لمخې د ثبت له نېټې یا د ۱۳۸۳ کال د سرطان له ۱ نېټې څخه د استهلاک وړ شتمنیو په برخه کې له استهلاک څخه برخه من شي. د چنګاښ یا سرطان د ۱ نېټې یا د ثبت د نېټې ترمنځ په موده کې، د استهلاک وړ شتمنیو په اړه یواځې معیاري استهلاک جواز لري. په ورته توګه، که چېرې یو تشبث ثبت نه وي، کولی شي د عادي استهلاک د مقرراتو لمخې د استهلاک وړ شتمنیو په برخه کې له عادي استهلاکه ګټه واخلي.

۴.۴۷ د ۴۷مې مادې لمخې، یواځې هغه مالیه ورکوونکي چې د کورنۍ او باندنۍ خصوصي پانګه اچونې د قانون لمخې په رسمیت وپېژندل شي او په افغانستان کې له پانګونې څخه د ملاتړ په اداره یا آیسا کې ثبت وي، د نګه عملیاتي زیان او د خسارې له جبرانه برخمن کېدای شي. که چېرې دغه تشبث په افغانستان کې له

پانگونې څخه د ملاتړ په اداره یا آیسا کې ثبت نه وي، دغه ضرر یوازې په درېیو کالونو کې د ضرر د انتقال د ستندرد طریقې لمخې یا د ۴۲مې مادې سره سم د انتقال وړ او مجاز ګڼل کیږي.

۵.۴۷ ټول ثبت شوي تشبثات د جبران لپاره د راتلونکو کالونو د ګټو پر وړاندې د عملیاتي ضرر د انتقال مستحق ګرځي تر هغې چې یاد شوی ضرر په بشپړه توګه جبران شي. په هر حال، ۴۷مه ماده لاندې محدودیتونه ټاکي:

- د راتلونکو کالونو د عوایدو پر وړاندې د جبران لپاره خالص عملیاتي ضرر د ۱۳۸۳ کال د سرطان له ۱ نېټې څخه یا په افغانستان کې له پانګونې څخه د ملاتړ په اداره یا آیسا کې د ثبت له نېټې څخه مجاز ګڼل کیږي.
- د مالیاتي معافیت یا امتیاز په ترڅ کې اوښتي عملیاتي ضررونه د انتقال وړ نه ګڼل کیږي.
- لاندې بېلګې د انتقال وړ خالص عملیاتي زیانونه د ثبت شوو تشبثاتو د عملیاتي ګټو پر وړاندې څرګندوي:

۱ بېلګه: د استقلال شرکت په ۱۳۸۲ کال کې ثبت شو، دغه شرکت د ۱۳۸۳ کال د سرطان تر ۱ نېټې پورې له مالیې معاف وو. په ۱۳۸۳ کال کې یې ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ عملیاتي زیان درلوده، په ۱۳۸۴ کال کې یې ۱۷۵۰۰۰ عملیاتي ګټه وکړه. یاد شرکت کولای شي د سرطان د لومړۍ نېټې تاوان د کب تر ۲۹مې پورې چې د عملیاتي ضرر (۷۵۰۰۰ افغانۍ) درېیو ربو یا برخو ته رسیږي، د ۱۳۸۴ کال د عملیاتي ګټې پر وړاندې جبران کړي او په ۱۳۸۴ کال کې د مالیې وړ ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ پاتې پاتې شي.

۲ بېلګه: آسمان شرکت د ۱۳۸۳ کال د وري په لومړۍ نېټه خپلې چارې پیل کړې او د ۱۳۸۳ کال د لړم په ۱ نېټه چې ددغه کال شپږمه مالیاتي میاشت کیږي، ثبت شو. دغه شرکت ته په ۱۳۸۳ کال کې د ۱۰۰۰۰۰ افغانیو عملیاتي تاوان ورواوښت او په ۱۳۸۴ کال کې یې ۱۷۵۰۰۰ افغانۍ عملیاتي ګټه وکړه. یاد شرکت کولای شي د لړم له میاشتې تر کبه یانې ۶ میاشتې د ۱۳۸۳ کال د ضرر نیمایي برخه کیږي او د ۱۳۸۴ کال د عملیاتي ګټو په وړاندې د ۵۰۰۰۰ افغانیو په مبلغ جبران کړي او د ۱۲۵۰۰۰ افغانیو په مبلغ خالصه ګټه پرېږدي.

۳ بېلګه: چمن سهامي شرکت چې د ۱۳۸۳ کال راهیسې د تشبث په توګه ثبت دی، په ۱۳۸۴ کال کې ورته ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ عملیاتي ضرر واوښت. دغه شرکت په ۱۳۸۵ کال کې ۱۵۰۰۰۰ عملیاتي ګټه وکړه. چمن شرکت کولای شي د ۱۳۸۵ کال په اظهارلیک کې د تېر کال ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ ضرر د ۱۳۸۵ کال د مالیې وړ له عوایدو کسر کړي او د مالیې وړ ۵۰۰۰۰ عواید باقي پرېږدي.

۴ بېلګه: د درېیمې بېلګې په توګه خو په دې توپیر چې په ۱۳۸۵ کال کې چمن شرکت ته ۵۰۰۰۰ افغانۍ ضرر اوښتی. چمن شرکت د دې مستحق دی چې د ۱۳۸۵ کال د مجرایۍ په توګه د ۱۳۸۴ کال د ضرر ادعا وکړي. د ۱۳۸۵ مالی کال ضرر ۱۵۰۰۰۰ افغانۍ (۱۰۰۰۰۰+۵۰۰۰۰) کیږي او په ۱۳۸۶ کال کې د مجرا وړ کسراتو په توګه ګڼل کیږي.

که څه هم چمن شرکت په ۱۳۸۶ کال کې له ۱۵۰۰۰۰ افغانیو څخه ډېره عملیاتي ګټه ترلاسه کړي، د تېر کال ضرر په بشپړه توګه جبرانیږي. که څه هم د چمن شرکت له عملیاتي ګټه به له ۱۵۰۰۰۰ افغانیو څخه ډېره نه وي، د تېرو کالونو اوښتی ضرر د مجرایۍ وړ ده او په ۱۳۸۷ کال کې د کسراتو په توګه انتقالیږي. د تېرو کالونو د اضرارو کسرات تر هغه مهاله ادامه مومي چې د چمن شرکت عملیاتي ګټه د تېر کال د تاوان په ترله ډېره شي.

**۵ بېلګه:** آرمان شرکت ته په **۱۳۸۴** کال کې د ۱۰۰۰۰۰ افغانیو تاوان اوړي او په **۱۳۸۵** کال کې د **۵۰۰۰۰** افغانیو په ارزښت عملیاتي ګټه کوي. یاد شرکت کولای شي د **۱۳۸۵** کال په مالیاتي اظهارلیک کې د ۱۰۰۰۰۰ افغانیو عملیاتي زیان د مجرایۍ ادعا وکړي او په پایله کې د **۵۰۰۰۰** افغانیو په مبلغ زیان په **۱۳۸۵** مالي کال کې رامنځته کیږي.

په **۱۳۸۲** مالي کال کې، آرمان شرکت ته د **۱۵۰۰۰۰** افغانیو ګټه رسیږي. دغه شرکت کولای شي د **۱۳۸۲** مالي کال په اظهارلیک کې د **۱۳۸۵** کال زیان ادعا وکړي چې په نتیجه کې د دغه شرکت د **۱۳۸۲** کال د مالیې وړ عواید ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ کیږي.

که څه هم آرمان شرکت ته په **۱۳۸۲** کال کې تاوان اوښتی دی، **۱۳۸۴** کال پورې اړونده تاوان په **۱۳۸۲** مالیاتي کال کې په کامله توګه نه مجرا کیږي. **۱۳۸۴** کال پورې اړونده تاوان په نورو نامعلومو کالونو کې انتقالیږي چې کله عملیاتي ګټه دغه تاوان جبران کړي.

# اووم فصل

## د بیمې شرکتونو مالیات

## له ۴۸ مادې نه تر ۵۳ پورې

د بیمې شرکتونو په هکله د تطبیق وړ حکمونه
اته څلوېښتمه ماده:

(1) د دې فصل په موادو کې درج شوي حکمونه د بیمې د شرکتونو په هکله د تطبیق وړ دي ، پدې شرط چې د لاندې شرطونو لرونکي وي:

1. د افغانستان د قوانینو لمخې د سهامي شرکتونو په ډول جوړې شوي وي.
2. د شرکت فعالیت د بیمې له یوې ساحې څخه زیاته لکه د پیښو او ضرر بیمه ، د ژوند بیمه او نورو بیموي فعالیتونو په شان په برکې ولري.
3. د بیمې د هرې ساحې او خپلو فعالیتونو لپاره د جلا محاسبې او زیرمې لرونکی وي.

۱.۴۸ لازم ده چې د بیمه شوو اشخاصو د غوښتنو په بدل کې د تادیې لپاره د بیمې شرکتونه سترې زیرمې ولري. پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون اووم فصل د بیمې شرکتونو ته اجازه ورکوي چې د دغه ډول زیرمو د رامنځته کولو په موخه له خپلو عوایدو څخه استفاده وکړي، ولې د دې په بدل کې بیا قانون له هغوې څخه غواړي چې د زیرمو د متفاوتو شرایطو په نظرکې نیولو سره د بیمې د هرې ساحې لپاره په جلاتوګه محاسبې ترسره کړي.

أ. د بیمې یو ډول د اور لیګدنې ، غلا ، پیښو ، ناروغی ، تلفاتو او هرد هغۀ خطر په بدل کې بیمه ده چې په اړه یې یو ډول بیمه وجود ولري.

په عام ډول د بیمه شوو اشخاصو لخوا د ضرر غوښتنه د بیمې شرکت د لګښت او ګټې په ګډون د بیمې له حق سره مساوي ده. په هغه صورت کې چې شرکت د بشپړضرر پر ورکولو باندې مکلف وي، نو په ځینو هغو کلونو کې چې مختلف مصیبتونه په یو ځل منځته راځي د کافي ذخیرو لرل ضروري دي. د بیمې په دغه برخه کې د غوښتنو لپاره زیرمې د نورو خطرونو په بدل کې د **۵۰**٪ زیرمې په ګډون د ټرانسپورټ له ۱۰۰٪ زیرمې سره مساوي ده چې په هماغه کې کال کې د مجرایي وړده.

بېلګه: که چیرې په **۱۳۸۵** لمریز کال د ټرانسپورټ د بیمې له درکه د بیمې لاسته راغلي عواید ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ او په هماغه کال کې د نورو خطرونو له بیمې څخه لاسته راغلي عواید ۱۰۰۰۰۰۰ افغانۍ وي ، د بیمې شرکت اجازه لري خپله ګټه تر هغې پورې اړوندې زیرمې ته ولیږدوي ترڅو چې نوموړې زېرمه ۶۰۰۰۰۰ افغانیو ته ورسیږي. دغه مبلغ د موټر له بیمې څخه د لاسته راغلي مبلغ (۱۰۰۰۰۰ افغانیو ) او د نورو خطرونو له بیمې څخه د لاسته راغلي مبلغ (۵۰۰۰۰۰ افغانیو ) د جمع کولو له لیارې لاسته راځي. د دې زیرمې نه برسیره ، د هغو ضررونو لپاره د یوې بلې زیرمې د لرلو اجازه هم شته چې د بیمې شرکت ته ورکړل شوي مبلغ له دوه برابره سره مساوي. د هرکال په پیل کې چې دواړه زیرمې حداکثر ته ورسیږي او د بیمې عواید زیات نه شي ، زیرمو ته د هغو عوایدو لیږدول جواز نه لري چې له مالیې څخه معاف دي.

په نوموړې بېلګه کې د یاد شوو حقیقي مسایلو پر اساس لاندې زیرمې معاف دي:

| بیمه | عاید | مجازه زېرمه | مجازه زېرمه |
|---|---|---|---|
| ټرانسپورټ | ۱۰۰۰۰۰ | د ۱۰۰۰۰۰ څخه ۱۰۰ فیصد | تادیه شوې ۲۰۰ فیصده |
| نور | ۱۰۰۰۰۰۰ | د ۵۰۰۰۰۰ څخه ۵۰ فیصد | |

ب. د بیمې بله برخه له هغه لیکلي قرارداد څخه عبارت ده چې بیمه شوو اشخاصو او یا دهغوی استازو ته ( د بیمې شوي شخص پر استازیتوب د بیمې لاسته راوړونکي ) د ګټې پر تادیې باندې حکم کوي. د ژوند معمولي بیمه او یا بشپړه تادیه ، تمویلي پلانونه د کلني تادیاتو قراردادونه او د پس انداز پلانونه چې د بیمې شرکت لخوا پیشنهاد کیږي د یادې شوې بیمې له بیلګو څخه دي. د هغو زیرمو پراختیا ضروري ده چې د ځانګړو پالیسیو پر اساس د نهایي تادیاتو ورکړه لازم ګڼي. د کلنۍ ورکړې د بیمې پیرودونکي هیله مند دې چې خپلې پیسې له ټکټانې سره یو ځل بیا په راتلونکي کې د میاشتني عاید په توګه لاسته راوړي. دغې غوښتنې یا هیلې ته د ځواب ویلو پر موخه باید د بیمې شرکت د نوموړي شخص د بیمې د تادیاتو له درکه لاسته راغلي عواید سرمایه ګذاري کړي. څرنګه چې د ژوند بیمه د بیمه شوي شخص د مړینې په وخت تادیه کیږي، بیمه باید پراخه کړل شي ځکه هغه مکلفیت چې شرکت یې له ادا کولو څخه په هېڅ وجه سرغړونه نه شي کولی ادا شوی دی. نو له دې کبله د بیمې د دغې برخې لپاره د زیرمو د جوړولو متفاوت مجاز اساس وجود لري. د بیمې ټول عواید معاف دي( یواځې هغه وخت د مالیې تابع ګرځي چې د بانکي امانت په توګه وجود ولري ). دا چې د بیمې عواید معاف دي، هغه لګښت چې په مستقیمه توګه د بیمې له عوایدو څخه ورکول کیږي د مجرایي وړ نه دي او همدارنګه بیمه شوو اشخاصو ته د ګټې( غوښتنې ) ورکړه هم د مجرایي وړ نه ده ځکه چې هغوی ته له هغو زیرمو څخه د بیمې عواید ورکول کیږي چې له مالیې څخه معاف دي.د بیمې د دوو برخو ترمنځ توپیر باید په څرګند ډول و پیژندل شي او د دواړو برخو محاسبه باید په جلا توګه صورت و مومي که نه نو د مالیې وړ عواید په سمه توګه نشي ټاکل کیدای.

بېلګه: یو شرکت د ټرانسپورټ او نورو خطرونو لپاره د ۵۰۰۰۰ افغانیو پانګې پر تادیې سره په انحصاري توګه ځان بیمه کوي. نوموړی شرکت د ۱۳۸۲ لمریز کال په پیل کې په ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ ګټه او ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ ضرر ( په فعالیت کې ) سره زېرمه جوړوي. د ۱۳۸۲ لمریز کال په اوږدو کې د ټرانسپورټ د بیمې له درکه د نوموړي شرکت د بیمې عواید ۴۰۰۰۰۰ افغانیو او د نورو خطرونو( ضرر او پیښنو ) د بیمې له درکه یې د بیمې عواید ۴۱۰۰۰۰ افغانیو ته رسیږي. د شرکت په زېرمه کې د هر ډول زیاتوالي نه دمخه د نوموړي شرکت خالصه ګټه ۵۴۰۰۰ افغانیو ته رسیږي.

نوموړی شرکت کولای شي په خپله زېرمه کې په لاندې ډول زيات والي راوړي:

أ. د کال په پای کې مجازې زيرمې: *

1. د ضرر لپاره : ۵۰۰۰۰۰ افغانۍ په ۲ کې ضرب ۱۰۰۰۰۰۰ افغانۍ

2. د بيمې د ادعا لپاره (ګټې): ۴۰۰۰۰۰ افغانۍ (ټرانسپورټ) په ۱۰۰ فيصدو کې ضرب ۴۰۰۰۰۰ افغانۍ

۴۱۰۰۰۰۰ افغانۍ (د نورو خطرونو له درکه ) په ۵۰ فيصدو کې ضرب ۲۰۵۰۰۰۰ افغانۍ

د کال په پای کې د مجازې زيرمې مجموعه ۳۴۵۰۰۰۰ افغانۍ

*تبصره: شرکت کولای چې هر موجوده مبلغ په خپلو زيرمو کې ورزيات کړي. ولې که چيرې د شرکت زېرمه له مجاز اندازې نه زياته شي ، نو د ماليې وړ عوايدو د محاسبې په وخت کې د اضافه شوي مبلغ لپاره مجرايي نه ورکول کيږي.

ب. د بيمې شرکت د ۳۰۰۰۰۰ افغانيو زيرمې په لرلو سره کال پيل کوي. په دهغه صورت کې يوائې د ۴۵۰۰۰ افغانيو لپاره مجرايي ورکول کيږي. که چيرې دغه مبلغ د ۱۳۸۲ لمريز کال په زېرمه کې اضافه کړل شي ، د ۵۴۰۰۰ خالصې ګټې څخه چې ۹۰۰۰ افغانۍ دماليې وړ عوايد ورڅخه لاسته راځې ،مجرايي ورکول کيږي ( يعنې د ۵۴۰۰۰ او ۴۵۰۰۰ افغانيو ترمنځ متفاوت مبلغ دي.

۲.۴۸ که چيرې د بيمې يو شرکت له څنګه چې په ۱ . ۴۸ مقرره کې ياده شوې ده له يوه څخه په زياتو بيموي فعاليتونو کې بوخت وي ، شرکت بايد د بيمې د هرې برخې لپاره جلا محاسبه ولري. په دې معنې چې عايد ، لګښت ، د زيرمې جوړول ، د زيرمې له پانګې څخه لاسته راغلي عوايد او نور بايد د بيمې د هرې برخې لپاره په جلا محاسبوي اسنادو کې ثبت کړل شي. ځينې اداري لګښتونه د ثابت اوکره بنسټ له مخې ځانګړې کيداى شي. د ضرر بيمه ، د بيمې سند د ليکلو لپاره ورکړل شوى کمېشن ، بيمه شوو اشخاصو ته د ضرر د بيمې ورکړه ، د پيسو د غوښتنې ( پولي ادعا ) لپاره د ضرر زېرمه ، له دغو زيرمو څخه ترلاسه شوي عوايد ، د ضرر د بيمې لپاره ځانګړې شوې تادياتي پانګه او داسې نور بايد د محاسبې په مختلفو او جلا اسنادو کې ثبت کړل شي او له هغو ورته عوايدو ، لګښت ، زيرمو او پانګې سره بايد يو ځای نه کړل شي چې د بيمې له نورو برخو سره تعلق لري.

له پورتني ترتيب نه په استفادې سره، د بيمې له هرې برخې څخه لاسته راغلې ګټه او ضرر ټاکل کيږي. د بيمې د هرې برخې زېرمه په ځانګړې توګه د هماغې برخې د لاسته راغلو عوايدو او ګټې له کبله زياتيږي. د بيمې د هرې برخې ګټې او ضرر لپاره بايد جلا بېلانس او اسناد برابر او د ماليې وزارت ته وليږل شي. د شرکت د ماليې وړ عوايد د شرکت د ټولو سوداګريزو فعاليتونو پر اساس ټاکل کيږي.

بېلګه: هغه شرکت چې د ضرر، د ژوند او دکلنۍ ورکړې په بيمو کې په فعاليت بوخت دې د بيمې د هرې برخې لپاره جلا زېرمه او محاسبه لري. په ۱۳۸۲ لمريز کال کې د ضرر له بيمې څخه دنوموړی شرکت لاسته راغلې خالصه ګټه هغې زيرمې ته ليږدول کيږي چې د غوښتنو( ادعاو ) لپاره ده او د هغه حد نه چې عايد له ماليې څخه معافيږي کم دې.

که چیرې نوموړی شرکت په همدغه کال کې د ژوند او کلنۍ ورکړې له بیمې څخه ۲۵۰۰۰ خالصه ګټه لاسته راوړي ، د دغې خالصې ګټې هېڅ برخه د مالیې وړ عوایدو څخه نه شي مجرا کیدای ولو که دغه ګټه په قانوني زیرمو کې هم اچول شوي وي. نوموړی مبلغ هغه وخت په بشپړه توګه د شرکت د مالیې وړ عوایدو په توګه ګڼل کیږي چې د ونډې ګټې په بڼه نه وي وېشل شوی او یا هم هغه وخت چې د ونډه لرونکو د مالیې وړ عواید د مالیې تابع و ګرځي.

| |
|---|
| د بیمو د شرکتونو پر عایداتو د مالیاتو تابع عواید<br>**نهه څلویښتمه ماده:**<br>د بیمې د شرکتونو لاندې عواید پرعایداتو باندې د مالیاتو تابع دي:<br>1. د پولي ټکټ، د سهم د ګټې، د کرایې عواید او نور هغه عواید چې له پانګونې او ملکیت څخه لاسته راځي،<br>2. له غیر بیمې فعالیتونو څخه ترلاسه شوي عواید ،<br>3. د حریق ، غلا ، د ناروغۍ د پیښو ، زیانونو یا هغهٔ ضرر چې بیمه یې د یوې ټاکلې مودې لپاره وي او بیمه کیدونکی د هغې د مودې له تیریدو وروسته پولي ادعا و نکړای شي ، په مقابل کې د بیمې له حق څخه ترلاسه شوي عواید ، او<br>4. له پانګه ایزو معاملو څخه ترلاسه شوي عواید. |

۱.۴۹ هغه عواید چې د ضرر له بیمې څخه ترلاسه کیږي په عام ډول په عوایدو کې شاملیږي او د مالیې تابع ګرځي، ولې د بیمې عواید چې د مالیاتو قانون په 50 ماده کې تشریح شوي دي د مالیې تابع نه ګرځي.

بېلګه: هغه شرکت چې د ضرر بیمه برابروي له بیمې څخه لاسته راغلي ټول عواید شاملوي ، د بیمه شوو اشخاصو د پولي ادعاو له درکه ټول تادیات ، کمېشن ، د بیمې د پلور نور لګښتونه او اداري لګښتونه د خالصې ګټې د معلومولو په موخه وضع کوي.

د شرکت د عوایدو او لګښتونو ساده اظهار لیک ( د فعالیت سند ) به په لاندې بڼه وي:

أ. عواید :

| | | |
|---|---|---|
| 1. | د بیمې عاید | ۲۵۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| 2. | منفي د پولي ادعاو تادیه | ۱۶۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| 3. | ناخالصه ګټه ( د پورتنیو دوه قلمونو توپیر ) | ۹۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| 4. | نور عواید ( پولي ټکټ ، د سهم ګټه او داسې نور ) | ۷۵۰۰۰ افغانۍ |
| 5. | له لګښت نه وړاندې عواید | ۹۷۵۰۰۰ افغانۍ |

ب. لګښتونه:

1. د پلورونکو فیس او کمېشن ۳۰۰۰۰۰ افغانۍ
2. د پولي ادعاوو د لګښت منظم کول ۷۵۰۰۰ افغانۍ
3. نور اداري لګښتونه ۱۷۵۰۰۰ افغانۍ
4. په رامنځته شوو زیرمو کې مجاز زیاتوالی ۱۷۵۰۰۰ افغانۍ
5. د وضع وړ لګښت مجموعه ۷۲۵۰۰۰ افغانۍ

ج. د مالیې وړ خالص عاید ۲۵۰۰۰۰ افغانۍ

۲.۴۹ د ژوند ډله ایزه بیمه باید په لاندې مواردو کې د ضرر د بیمې په توګه وګڼل شي.

أ. که چیرې بیمه د شخص د عمر دزیاتوالي په صورت کې د بدلون وړ ي.
ب. که چیرې اشخاص له ډلې څخه و وځي ، نو هغوی نه شي کولای په هغه ډول بیمه ترلاسه کړي په کوم ډول یې چې په ډله کې شامل اشخاص د عمر له محدودیتونو سره سره لاسته راوړي.

بېلګه: د یو سهامي شرکت ټولو کارکوونکو ته په دې شرط د ټیټ نورم بیمه پیشنهاد کیږي چې د کارکوونکو یو شمېر بیمه کړل شي. د بیمې ترټولو ټیټ نورم د شرکت د ځوانو کارکوونکو لپاره او د بیمې ترټولو لوړ نورم د شرکت د ډېر عمر لرونکو کارکوونکو لپاره دي. دغه نورم د عمر پر اساس ټاکل کیږي نه د انفرادي شخص پر اساس. نو دهغو کسانو د بیمې نورم چې عمر ونه یې له ۴۱ نه تر ۵۰ کالو پورې وي باید دهغو کسانو د بیمې له نورم څخه زیات وي چې عمرونه له ۳۱ نه تر ۴۰ کالو پورې دي او کله چې د یو شخص عمر 41 کالو ته رسیږي ، نو لوړه بیمه باید تادیه کړي، او په دغه صورتکې په بیمه کې ډېر ضرر څرګندیږي. همدارنګه هغه کسان چې له ډلې ( ګروپ ) څخه وزي د ډله ایزې بیمې له پالیسي څخه خارجیږي ولې کولای شي د لوړ نورم په بدل کې د بیمې د بلې پالیسي پر اساس ځان بیمه کړي. په دغو دواړو حالاتو کې داسې څرګندیږي چې دغه بیمه هغه وخت د یو کارکوونکي د مرګ د ګوابنونو په بدل کې ده چې کارکوونکی د یوې ډلې غړی وي. په دغه حالت کې د هغو کسانو زیرمې مشخص کیږي چې د ( د مرګ او ژوبلې د خطر ) بیمې لاندې قرار لري. د بیمې هغه عواید چې له ډله ایزې بیمې څخه لاسته راغلي دي دمالیې تابع دي او بیمه شوو ته تادیه شوې پولي ادعاوې د مجرایي وړ دي.

۳.۴۹ څرنګه چې د یو سهامي او یا محدودالمسؤلیت شرکت د ثابتې شتمنۍ له پلور او یا تبادلې څخه ټوله لاسته راغلې خالصه ګټه د مالیې تابع ګرځي، د پورتنیو شرکتونو په شان د هغو ټولو پانګو او جایدادونو له پلور او تبادلې څخه لاسته راغلې ګټه چې د بیمې شرکت ملکیت دې ، د مالیې تابع ګرځي.

د بیمه شوو مالیاتي معافیت
پنځوسمه ماده:
د بیمې هغه حق چې د لیکلي قرارداد د عقد په موجب اخستل شوی او بیمه شوو یا دهغو منتفعو اشخاصو ته د مشخصې ګټې وروستی ورکړه ایجاب کړي ، پرعایداتو باندې له مالیاتو څخه معاف دی.

۱.۵۰ د معمولي بیمې او د ژوندانه بیمي له بشپړ ورکړې سره سره د مستمري معاش پلانونه، د تقاعدي قراردادونه د پس انداز له پلان سره یوځای د مختلف الډول ژوندانه بیمه له هغې بیمې څخه عبارت ده چې په دغو مواردو کې د بیمې شرکت لخوا د بیمې د ترلاسه شوي حق له مالیې څخه معاف دي. د بیمې هره پالیسي چې صادریږي له صنف بندۍ نه وړاندې باید بررسي کړل شي. د بیمې حق یوائې په هغه وخت کې معاف کیدای شي چې د بیمې شرایط لاندې شرایط ولري:

أ. د ګټې له ورکړې نه پرته د بیمه شوو لخوا د بیمې د حق په ورکړه پاتې راتلل پالیسي له څنګه چې په پالیسي کې وجود لري د شرکت لخوا له منځه نه شي وړل کیدای،
ب. د بیمې هغه حق چې په پالیسي کې تثبیت دې د بیمې شرکت لخوا زیات نه شي،
ج. پرته له دې نه چې آیا بیمه شوی شخص په یوه ډله کې د غړیتوب په لرلو سره سره کوم کارو اوبار لري او که نه ، صادر شوې پالیسي په خپل حالت پاتې شي،
د. د بیمه شوو د بیمې حق په زیرمه کې علاوه او پانګې اچونې ته اماده کړل شي. د بیمې له لاسته راغلي حق څخه یوائې د پلور ځانګړی کمېشن ورکول کیږي،
ه. د بیمه شوو زیرمې باید د هغو عوایدو په ذریعه تقویه شي چې له پانګې اچونې او د پیسو له قانوني زیرمو څخه لاسته راځي، او
و. بیمه شوو او یا د هغوې لخوا د دوې ټاکل شوو استازو ته دهغوی د ګټې له تادیې نه پرته ، له زیرمې څخه باید هېڅ لیږدونه صورت و نه مومي.

د بیمې د شرکتونو د غیر مجرایي وړ تادیات
یو پنځوسمه ماده:
(1) په بیمې پورې اړوند لاندې لګښتونه او ورکړې چې د بیمې حق یې د دې قانون په پنځوسمه ماده کې د درج حکم لمخې له مالیاتو څخه معاف دی ، د مجرایي وړ نه دي:
1. د بیمې د صادریدو کمېشن او نور لګښتونه
2. مشترکینو یا نورو ذینفعو اشخاصو ته یې د بیمې د ګټو ورکړه.

۱.۵۱ د کمېشن لګښت او نور هغه لګښتونه چې د بیمې حق یې له مالیې څخه معاف دي ، د دغه ډول بیمې د ګټو ورکړه د مجرایي وړ لګښت په توګه نه ګڼل کیږي. دغه ډول لګښت د بیمې له حقه څخه د لاسته راغلو عوایدو (که چیرې د پلور کمېشن مطرح وي) او یا له هغو زیرمو څخه ورکول کیږي چې له مالیې څخه معاف

دي. سره له دې چې دبيمې له حق څخه ترلاسه شوي عوايد له ماليې څخه معاف دي او پورتني لګښتونه او بيا ورکړې د مجرايي وړ نه دي ، د بيمې شرکت بايد د پورتنيو اجناسو او زيرمو په اړه په هغه رپوټ کې چې د ماليې وزارت يې ورليږي بشپړ معلومات ورکړي.

بېلګه: هغه ساده رپوټ چې زيرمې او فعاليتونه په کې شامل دي په لاندې ډول ښودل کيږي:

د بيمه شوو د زېرمو په اړه معلومات:

أ. زېرمه دکال په پيل کې ۱۰۰۰۰۰۰ افغانۍ

ب. د کال په اوږدو کې د زيرمې زياتوالی:

1. د کال په اوږدو کې لاسته راغلی د بيمې حق ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ

2. لګښت

ورکړل شوي کمېشنونه ۱۰۰۰۰ افغانۍ

د کال په اوږدو کې د زېرمې زياتوالی (۱۰۰۰۰-۲۰۰۰۰۰) ۱۹۰۰۰۰ افغانۍ

أ. د (الف) او (ب) د برخو جمع ۱۱۹۰۰۰۰ افغانۍ

ب. د کال په اوږدو کې پولي ادعاوي او ورکړل شوې ګټې ۱۵۰۰۰۰ افغانۍ

ج. د (ج) او (د) د برخو توپير ۱۰۴۰۰۰۰ افغانۍ

د. * د پانګې دعوايدو له درکه د زيرمې زياتوالی ۲۲۰۰۰ افغانۍ

ه. يرمه د کال په پای کې ۱۰۶۲۰۰۰ افغانۍ

* تبصره: په زيرمو کې پورتنی زياتوالی پرعايداتو باندې د مالياتو له وضع کولو نه وروسته منځته راغلی دی.

د عوايدو او لګښتونو په اړه معلومات:

أ. دماليې تابع عوايد ټکټانه او د سهم ګټې په برکې نيسي ۶۰۰۰۰ افغانۍ

ب. د پانګې ګټې د کال په اوږدو کې اوسي.

ج. د مجرايي وړ لګښت:

1. پر انتفاعي معاملو باندې ماليه ۲۰۰۰ افغانۍ

2. اداري لګښت ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ

3. د مجرايي وړ مجموعي لګښت ۲۰۲۰۰۰ افغانۍ

4. د ماليې وړ عوايد (د (الف) او (ب) د برخو ترمنځ توپير) ۳۹۸۰۰۰ افغانۍ

د بيمې د شرکتونو د مجرايي وړ ورکړې

دوه پنځوسمه ماده:

(1) د بيمې د شرکتونو، لاندي لګښتونه او ورکړې د هغو له عوايدو څخه د مجرايي وړ دي:

1. له هغې بيمې څخه رامنځته ورکړل شوی مبلغ چې د بيمې حق د هغې له درکه د مالياتو تابع وي.
2. کمېشن او د صادريدو نور لګښتونه چې د بيمې حق د هغو له درکه د مالياتو تابع وي.
3. د بيا بيمې لګښتونه چې د بيمې حق د هغو له درکه د ماليې تابع وي.
4. د ادعاګانو د زيان د جبران په غرض په زيرمو کې زياتوالی، پدې شرص چې هغه ډول زيرمې د حمل او نقل د بيمې د حق له سل په سلو کې او د هغو زيانونو او پيښو د امکاناتو د بيمې د حق له پنځوس په سلو کې څخه چې د مالي کال په اوږدو کې لاسته راغلی، تجاوز ونکړي.
5. د هغې بيمې چې په هغې پورې دبيمې اړوند حق د ماليې تابع وي، د عملياتو د ضرر په زيرمو زياتيدل. پدې شرط چې دغه زيرمې د نوموړې بيمې په ساحه کې د پانګې اچول شوي مبلغ له دوه چنده څخه تجاوز ونکړي.
6. د دې قانون په دوه يم فصل کې درج د کار او عملياتو نور اړين لګښتونه او د دې قانون په يو پنځوسمه ماده کې درج لګښتونه لدې امر څخه مستثني دي.

(2) د دې مادې د (1) فقرې په (4 او 5) جز کې له درج زيرمو څخه ليږدونه يا ورکړه، په اړوند مالي کال کې دماليې وړ عوايد جوړوي، له ادعاګانو يا حقيقي زيانونو يا په پيسو باندې د سهم له ګټې څخه رامنځته شوې ليږدونه او ورکړه له دې امر څخه مستثنې ده.

۱.۵۲ د **۵۲**مې مادې د ۱ جز لمخې، کومه بيمه چې د بيمې د حق له درکه يې عوايد د ماليې تابع دي د ضرر او پېښو له بيمې سره تړاو لري. د يادونې وړ ده چې د پيښو او ضرر بيمو د لګښت عوايد له نورو فعاليتونو سره ورته دي. نو له دې کبله د بيمې د هغه حق په ګډون چې پرعايداتو باندې د مالياتو تابع دي ټول عوايد او د ورکړل شوو ادعاګانو په ګډون چې دکار او فعاليت ضروري او قانوني لګښت ګڼل کيږي، ټول تاديات د عوايدو د محاسبې پرمهال د مجرايي وړ ماليې تابع دي. اووم فصل په اصل کې د پيښو او د ضرر بيمو او په زيرمو کې د زياتوالي په اړه، له څنګه چې د **۵۲** مادې (۱) فقرې په (**۴** او **۵**) برخه کې راغلي دي، حکم کوي.

۲.۵۲ سره له دې چې پرعايداتو باندې د مالياتوقانون د **۵۲** مادې د (۱) فقرې په (**۴** او **۵**) برخو کې تشريح شوی هغه زياتوالی چې په زيرمو کې منځ ته راځي د مجرايي وړ دي، هرهغه ليږدونه چې د ادعاګانو او ضرر له تادياتو نه پرته دنورو موخو لپاره صورت و مومي پرعايداتو باندې د مالياتو تابع ګرځي. که چيرې د سهم ګټه سهم لرونکو ته ورکړل شي، پرعايداتو باندې د مالياتو قانون د **۴۲** مادې پراساس د سهم له دغې ګټې څخه بايد ماليه وضع او حکومت ته و سپارل شي. که چيرې له مالي وجوه دهغې احتياطې پانګې اچونې نه پرته چې په سمه توګه نغدې ګټه لري د نورو اهدافو لپاره ګټه واخيستل شي، دغه ګټه اخيستنه هم له

زیرمې څخه د لیږد په ډول ګڼل کیږي او پرعایداتو باندې د مالیاتو تابع ګرځي. دهغه قانون د نه موجودیت په صورت کې چې پراساس یې د بیمه شرکت پانګه اچونه اداره کړل شي ، د مالیې وزارت باید د زیرمې موخه او د زیرمې د هرې پانګې اچونې ډول ترغور لاندې ونیسي. که چیرې داسې وي چې نا اټکل شوي او غیر معمولي ضررونه ترپوښښ لاندې راشي ( چې د دغو زیرمو له جوړولو څخه موخه همدغه امردې) ، نو د پیښو د بیمې ادعاګانې او ضرر په مقابل کې باید نغدي زیرمې وجود ولري. په یو ه مناسب وخت کې د پیسو په بدل کې د پانګې اچونې پلور او تبادله باید د پانګې اچونې په اړوند د ادعاګانو د حل لپاره د مالیې له وزارت سره مرسته وکړي. که چیرې د پانګې اچونه له نغدي شرایطو سره برابر وي ، له زیرموڅخه لیږدونه صورت نه مومي ولې که چیرې له دغه ډول شرایطو سره برابر نه وي ، داسې ګڼل کیږي چې له زیرموڅخه لیږدونه صورت نیولی دې او د مالیې تابع ګرځي.

بېلګه: د پیښو بیمې یو شرکت د خپل دفتر، نورو دفترونو او دوکانونو د جوړولو په موخه یو ودانۍ اباد وي. د ادعاګانو په زیرمو کې د موجوده پیسو ډېره برخه په د دغه جایداد په جوړولو کې په مصرف رسیدلې ده. پاتې لګښت یې هغه بانک په غاړه اخلي چې د پانګې اچونې په چارو کې مالي پور ورکوي. د پور مبلغ تقریباً د هغه مبلغ ډېره برخه ده چې د دغې ودانۍ لپاره په پور ورکړل شوی دې. هغه پیسې چې په دغه کار کې په مصرف رسیدلې دي باید له زیرمې څخه د لیږدونې په توګه وګڼل شي او د مالیې تابع ګرځي. د ودانۍ دغه معامله له مالي پور نه برعلاوه په اسانۍ سره په نغدو پیسو باندې نه تبدلیږي او د زیرمې مقاصد نه شي استفاده کیدای. په بل عبارت ، که چیرې ټول لګښت او یا د جایداد بیه د ادعاګانو د زیرمې له پیسو څخه په بشپړه توګه ورکړل شوې وای ، د بیمې شرکت کولای شول له یو بانک څخه د مالي پور تعهد لیک ترلاسه کړي. په تعهد لیک کې موجوده مقدار داسې ګڼل کیده چې د زیرمې شرایط په کې شامل دي او داسې منل کیده چې د مجموعي لګښت او تعهد لیک ترمنځ توپیر لیږدول شوی دې ، نو له دغه کبله د مالیې تابع ګرځي.

۳.۵۲ د ادعاګانو د زیرمو او د بیمه شوو ګټې د بیمې له هغه معاف حق څخه چې پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون په **۵۰** ماده کې درج دي ، په زېرمه کې معمولاً د بیمې د حق او د وجوه له پانګې اچو نې څخه د لاسته راغلو عوایدو له کبله غښتلی کیږي. سره له دې چې د مالیې له ورکړې نه پرته له پانګې اچونې څخه د لاسته راغلو عوایدو له کبله په دغه زېرمه کې د زیاتوالي لپاره د مجرایي اجازه نه ورکوي ، د بیمې له حق څخه هغه ترلاسه شوي عواید چې په دغه ډول زیرمو کې جمع شوي دي د هغو عوایدو په توګه ګڼل کیږي چې له مالیې څخه معاف دي. د دغه توپیر دلیل دا دې چې د بیمه شوو او یا نورو اشخاصو او یا دهغوی د استازو لخوا ترلاسه شوې ګټه پرعایداتو باندې د مالیاتو تابع نه ده. دغه ګټه په نظري توګه پېرودل شوې او هغوی ته د بیمه شوو لخوا ورکړل شوې ده. دا چې د دغې ګټې یوه برخه د پانګې اچونې څخه ترلاسه کیږي ، په دغه ګټه کې یو عوایدي عنصر وجود لري او د هغۀ پرلاسته راوړونکي باندې په مستقیمه توګه د مالیې وضع کول ناشونی بریښي. د بیمې نوموړی شرکت د پانګې اچونې د هغو عوایدو له درکه چې په نوموړې زېرمه کې ور اضافه شوي دي د مالیې تابع دې او بیا وروسته لاسته راوړونکي ته لیږدول کیږي. د عوایدو لاسته راوړونکی د پانګې اچونې له هرې برخې څخه د لاسته راغلو عوایدو له درکه په نا مستقیمه توګه د مالیې تابع ګرځي.

د بیمې د بهرنیو شرکتونو د مالیې وړ عواید و تثبیتول

دري پنځوسمه ماده:

د بیمې له هغهٔ حق څخه رامنځته شوي عواید چې د بیمې شرکت په واسطه د افغانستان له دننه څخه لاس ته راځي، په لاندې توګه پر عایداتو د مالیاتو تابع دي:

1. د بیمې د هغهٔ حق د مبلغ اندازه چې شرکت یې د مالي کال په ترځ کې د هېواد له دننه څخه لاس ته راوړي، معلومه کړي.
2. د بیمې د هغهٔ حق د ټول مبلغ اندازه چې شرکت د مالي کال په ترځ کې له مختلفو هېوادونو څخه لاس ته راوړي دي، وټاکل شي.
3. پرعایداتو باندې د مالیاتو او دسهم د ګټې له ورکړې د مخه په نورو هېوادونو کې له خپلو فعالیتونو څخه د شرکت د خالصو عوایدو اندازه، تثبیت شي.
4. په (1) جز کې درج ټاکلی مبلغ په (2) جز پر درج ټاکلی مبلغ باندې تقسیم، په (3) جز کې له درج ټاکلي مبلغ سره ضرب، د مالیې له وړ عوایدو څخه عبارت دي.

۱.۵۳ د یوهٔ افغان مېشت حقیقي شخص او یا د هغهٔ حکمي شخص لخوا چې د افغانستان د قوانینو پر اساس جوړ شوی، د بیمې یوهٔ بهرني شرکت ته تادیه شوی د بیمې حق د هغو عوایدو په توګه ګڼل کېږي چې په افغانستان کې د کورنیو سرچینو څخه لاسته راغلي دي او پرعایداتو باندې د مالیاتو تابع ګرځي. د بیمې هغه نوی حق هم په دغه امر کې شامل دې چې د یوه افغاني بیمه شرکت لخوا بهرني بیمه شرکت ته تادیه کېږي. د افغانستان له کورنیو سرچینو څخه د یوهٔ بهرني شرکت د مالیې وړ عواید په لاندې ډول ټاکل کېږي:

أ. د بیمې له حق څخه د لاسته راغلو مجموعي عوایدو معلومول چې په همدغه مالي کال کې د بهرني بیمه شرکت هغه لاسته راغلي عواید دي چې له ټولو هېوادونو څخه یې ترلاسه کړي دي.

ب. له ټولو سرچینو څخه د بهرني شرکت د ناخالصو مجموعي عوایدو معلومول.

ج. بیمه شوو ته د خسارې د تادیه شوي مجموعي جبران معلومول.

د. د بیمه شوو په زیرمو کې د زیاتوالي معلومول. (په زېرمه کې د زیاتوالي نه موخه د کال له پیل نه د کال ترپایه پورې په زېرمه کې خالص زیاتوالی دې).

ه. د فعالیت د پرمخ وړلو لپاره ضروري مجموعي لګښت (پرعایداتو باندې له مالیاتو، ونډه لرونکو ته د ونډې له ورکړل شوې ګټې او په زیرمو کې له زیاتوالي نه پرته).

و. په (ج)،(د) او (ه) په برخو کې معلوم شوي مبالغ سره جمع کېږي.

ز. له ټولو هېوادونو څخه د بهرني شرکت ترلاسه شوي عواید د (و) په برخه کې لاسته راغلي مجموعه د کال په اوږدو کې د نورو هېوادونو له سرچینو څخه د لاسته راغلو مجموعي عوایدو (چې د ب په برخه کې ترلاسه شوي دي) د منفي کولو له لیارې معلومول.

ح. په هماغه مالي کال کې له افغانستان څخه د بیمې د لاسته راغلو مجموعي عوایدو معلومول.

ط. له ټولو هېوادونو څخه د بهرني شرکت لاسته راغلي خالص عوايد ( د " ز " برخه ) د نومړي شرکت پر هغو عوايدو تقسيم چې د بيمې د حق له درکه يې له نورو هېوادونو څخه لاسته راوړي دي (د "الف "برخه).

ي. د تقسيم پورتنی حاصل له ټولو هېوادونو څخه د بيمې د حق له درکه هغه عوايد ښيي چې خالص عوايد دي.

ک. په افغانستان کې د بيمې له حق څخه د لاسته راغلو مجموعي عوايد د ( ط ) برخې په حاصل کې ضربيږي.

ل. د ضرب حاصل د افغانستان له کورنيو عوايدو څخه د ماليې وړ عوايد دي او د 20٪ نورم پر اساس د ماليې تابع ګرځي.

تبصره: د يادونې وړ ده چې د ماليې وړ له هغو عوايدو چې د ( ط ) په برخه کې ياد شوي دي هېڅ ډول کسرات مجاز نه دي ځکه چې د نومړې برخې فورمول ټول کسرات د حد اوسط پر اساس ترتيبوي.

بېلګه: په افغانستان کې د يوه بهرني بيمه شرکت نمايندګی په ۱۳۸۴ کال کې يو بهرني شرکت ته ۲۰۰۰۰ افغانی د بيمې حق ورکوي. په افغانستان کې د بهرني شرکت د ماليې وړ عوايد په لاندې ډول محاسبه کيږي:

أ. په ۱۳۸۴ لمريز کال( هغه ميعاد چې له ۱۳۸۴ کال سره لمخبت ولري ) کې د بهرني شرکت د بيمې له حق څخه لاسته راغلي مجموعي عوايد ۲۵۰۰۰۰۰ امريکايي ډالرو ته رسيږي.

ب. له ټولو سرچينو څخه د بهرني شرکت لاسته راغلي ناخالص عوايد ۳۰۰۰۰۰۰ امريکايي ډالرو ته رسيږي.

ج. بيمه شوو ته د خسارې لپاره د تاديه شوي جبران مجموعه ( لکه ادعاګانې او ګټې ) ۱۹۰۰۰۰۰ امريکايي ډالرو ته رسيږي.

د. د بيمه شوو په زيرمو کې زياتوالی ۷۰۰۰۰۰ امريکايي ډالرو ته رسيږي.

ه. د فعاليت د ترسره کولو لپاره ضروري لګښت ۱۵۰۰۰۰ امريکايي ډالرو ته رسيږي.

و. د (ج) ، (د ) او (هـ ) برخو مجموعي ارقام په لاندې ډول ټاکل کيږي:

د (ج ) برخه ۱۹۰۰۰۰۰ امريکايي ډالر
د (د ) برخه ۷۰۰۰۰۰ امريکايي ډالر
د ( هـ ) برخه ۱۵۰۰۰۰ امريکايي ډالر
مجموعه ۲۷۵۰۰۰۰ امريکايي ډالر

ز. له ټولو هېوادونو څخه د بهرني شرکت لخوا لاسته راغلي مجموعي عوايد بايد معلوم کړل شي. نو د (و) په برخه کې لاسته راغلی مبلغ چې ۲۷۵۰۰۰۰ امريکايي ډالرو ته رسيږي بايد د (ب) برخې له مبلغ څخه منفي کړل شي.

د بيلګې په ډول:

امريکايي ډالر – ۲۷۵۰۰۰۰ امريکايي ډالر = ۲۵۰۰۰۰ امريکايي ډالر

ح. د هغو لاسته راغلو عوایدو مجموعه باید معلوم کړلي شي چې په ۱۳۸۴ لمریزکال کې په افغانستان کې لاسته راغلي دي. په دغه بېلګه کې لاسته راغلی مبلغ ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ دي.

ط. د ( ز ) برخې لاسته راغلی مبلغ باید د ( الف ) برخې پر مبلغ باندې وو بېشل شي.

ي. ۲۵۰۰۰۰۰ امریکایي ډالر ÷ ۲۵۰۰۰۰۰ امریکایي ډالر = ۱/۱۰

ک. له ټولو هېوادونو څخه د بیمې د حق له درکه لاسته راغلي اوسط عواید ۱/۱۰ دي.

ل. د ( ط ) برخې له محاسبې څخه څرګندېږي چې په افغانستان کې د بیمې د حق لاسته راغلي ۱/۱۰ عواید باید دخالصو وایدو په توګه وګڼل شي. له افغاني سرچینو څخه لاسته راغلي د بهرني شرکت د مالیې وړعواید په لاندې ډول دي: ۱/۱۰ × ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ = ۲۰۰۰۰ افغانۍ

هغه مالیه چې باید د بهرنی شرکت لخوا د ۲۰۰۰۰ افغانیو خالصو عوایدو له درکه په افغانستان کې تادیه کړل شي د دغه مبلغ ۲۰٪ ده او یا هغه مالیه چې باید د خالصو عوایدو له درکه په افغانستان کې تادیه کړل شي ۱۲۰۰۰ افغانۍ ده.

تبصره: نمایندګي هم د هغې ګټې له کبله چې د بیمې د پلور له درکه یې لاسته راوړي پرعایداتو باندې د مالیاتو تابع ګرځي.

##

##

# اتم فصل#

## د بانکونو، سهامي شرکتونو، پور او پانګه اچونې مالیه

## له ۵۴ مادې نه تر ۵۷ پورې

مالیاتو ته تابع ګټې او فایدې
ځلور پنځوسمه ماده:
له پانګه ایزو معاملو څخه د سهم د ګټې ، پولي ټکټ، تخفیف یا تنزیل، کرایې، فیس، کمېشن او ګټې له درکه د بانکونو، سهامي شرکتونو، پور او پانګې اچونې عایدات ګټې له درکه د بانکونو، سهامي شرکتونو، پور او پانګې اچونې عایدات، پر عایداتو باندې د مالیاتو تابع دي.

۱.۵۴ امانات او هغه پانګې چې د بانکونو ، رهني او پانګه ایزو شرکتونو لخوا ترلاسه کیږي پر عایداتو د مالیاتو او پر انتفاعي معاملو باندې د مالیاتو تابع نه دي.

بېلګه: یو بانک د مالي کال په اوږدو کې له خپلو پېرودونکو څخه د جاري او پس انداز په حسابونو کې د تحویلي له درکه ۲۰۰۰۰۰۰ افغانۍ لاسته راوړي. نوموړی بانک د همدغه کال په اوږدو کې د تادیه شوي پور د ټکټانې له درکه ۵۰۰۰۰۰ افغانۍ لاسته راوړي. په دغه حالت کې تحویل شوې ۲۰۰۰۰۰۰ افغانۍ پرعایداتو باندې د مالیاتو او پرانتفاعي معاملو باندې د مالیې تابع نه ګرځي. یوازې ۵۰۰۰۰۰۰ افغانۍ د دواړو مالیو ( پرعایداتو باندې مالیات او پر انتفاعي معاملو باندې مالیات ) تابع ګرځي. د قانون لمخې د مالیې وړ عواید هغه دي چې د ۵۰۰۰۰۰ افغانیو نه د مجرایي وړ لګښت له منفي کولو نه وروسته پاتې کیږي.

۲.۵۴ د افغانستان د دولت او یا ښاروالیو د اسنادو له درکه ترلاسه شوي عواید پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون د(14) مادې د (۱۲) فقرې پراساس له مالیاتو څخه معاف دي. دغه حکم د پور د اسنادو د صادرولو له کبله د بانکونو ، رهني او پانګه ایزو شرکتونو پرعوایدو باندې هم د تطبیق وړ دي.

بېلګه: د کال په اوږدو کې یو سوداګریز بانک ۵۰۰۰۰۰ افغانۍ د ټکټانې د عوایدو په توګه لاسته راوړي دي. د دغو پیسو له جملې څخه ۴۰۰۰۰۰ افغنۍ د دولتي اسنادو له درکه ترلاسه شوي دي. نوموړی مبلغ پرعایداتو باندې له مالیاتو څخه معاف دې. د ټکټانې مجموعي عواید چې ۵۰۰۰۰۰ افغانۍ دي باید د لاسته راغلو عوایدو په توګه رپوټ کړل شي. د سوداګریز بانک د مالیې وړ عوایدو د معلومولو په موخه باید ۴۰۰۰۰۰ افغانۍ له نوموړي مبلغ څخه وضع کړل شي.

د اړینو لګښتونو مجرائي
پنځه پنځوسمه ماده:
د دې قانون په ځلور پنځوسمه ماده له درج عوایدو څخه د کار اړین لګښتونه د مجرایي وړ دي. د پانګه ایزو معاملو له درکه زیاتونه، د پورونو او په پیسو باندې د سهم د ګټې د ورکړې له درکه د زیانونو په وړاندې پر زیرمې باندې زیاتوالی هم د مجرایي وړ دی.

۱.۵۵ د بانکي امانتونو د خاوندانو او یا د پانګه اچوونکو لخوا له بانک او یا له رهني او د پانګې اچونې له شرکتونو څخه اخستنه د هغوی له عوایدو څخه د مجرایي وړ نه دي. بانکي امانتونه او پانګه اچونه د هغوی د تادیې په وخت کې د بانک ، رهني او یا د پانګې اچونې شرکت د عوایدو په توګه نه ګڼل کیږي ، د

بانکي امانتونو خاوندانو او یا پانګه اچوونکو ته د بانک او یا د پور او پانګې اچونې د شرکت لخوا د بیا ورکړې په وخت کې نوموړی مبلغ د لګښت په توګه هم نه شمېرل کیږي:

بېلګه: د بانکې اماناتو له درکه د یو بانک صورت حساب لاندې ارقام ښیي:

أ. د کال په پیل کې امانتونه ۲۰۰۰۰۰۰ افغانۍ
ب. د کال په اوږدو کې امانتونه

1. د کال په اوږدو کې لاسته راغلي امانتونه ۲۰۰۰۰۰۰ افغانۍ
2. د کال په اوږدو کې اخستنه ۱۵۰۰۰۰۰ افغانۍ
3. د کال په اوږدو کې خالص امانتونه
( د لوموړي او دویم قلم ترمنځ توپیر ) ۵۰۰۰۰۰ افغانۍ

ج. د کال په پای کې امانتونه ۲۵۰۰۰۰۰ افغانۍ

هرډول زیاتوالی نه عواید او نه هم لګښت دې. دغه صورت حساب یوائې د حساب خاوندانو ته د بانک پورونه ښیي. پر پورتنیو مبالغو باندې نه پرعایداتو باندې مالیات او نه هم د انتفاعي معاملو مالیه تطبیقیږي.

۲.۵۵ د بانک او پانګه اچوونکي شرکت لخوا د بانکي اماناتو او پانګه اچونې خاوندانو ته تادیه شوې ټکټانه د بانک او یا د پانګه اچوونکي شرکت له عوایدو څخه د مجرایي وړ دي. پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون د( ۱۸ ) مادې( ۴ ) فقره حکم کوي چې "د سوداګریزو پورونو ټکټانه " د مجرایي وړ ده. د بانک ، د رهني او پانګه اچوونکو شرکتونو فعالیتونه په لاندې ډول دي: له ټکټانې څخه د عوایدو د ترلاسه کولو په موخه د اماناتو له درکه د پیسو منل ، د هغوی ساتل او بیا ورکړه پور اخستونکو ته. هغه ټکټانه چې د بانک او یا د پانګه اچونکي شرکت لخوا ورکول کیږي ، د دغه ډول فعالیت د پرمخه وړلو لپاره یو اړین لګښت دې او هغه کسان چې اضافي وجوه په اختیار کې لري دې ته هڅوي چې نوموړې وجوه په بانک او یا د پانګې اچونې په شرکت کې د امانت په ډول وساتي.

بېلګه: یو بانک د یوهٔ مالي کال په اوږدوکې د ټکټانې ، د ونډې ګټې ، له پور او پانګې اچونې نه د ترلاسه شوې ګټې له درکه ۵۰۰۰۰۰ افغانۍ لاسته راوړي. د همدغه کال په اوږدو کې د بانکي امانتونو هغو خاوندانو ته چې د پس انداز په حساب کې یې پیسې اچولي دي د ټکټانې په توګه ۳۵۰۰۰۰ افغانۍ ورکوي او یا په نظر کې ده چې ورېې کړي. له عوایدو څخه ۳۵۰۰۰۰ افغانۍ د نورو اړینو لګښتونو په شان د کاري اړین لګښت په توګه دمجرایي وړ دي.

۳.۵۵ " له پانګه ایزو معاملو څخه د رامنځ ته شوي ضرر " څخه عبارت خساره ده چې د بانک او یا پانګه اچوونکي شرکت لخوا د پور د اسنادو او د ونډې د پلور په وخت کې رامنځته کیږي. د ونډې اسنادو له پلور ، پور او پانګې څخه د ترلاسه شوي مبلغ او داسې نور او د هغه مبلغ ترمنځ توپیر چې د بانک او پانګه اچوونکي شرکت لخوا د ضمانت په توګه تادیه شوي دي ، له ضرر څخه عبارت دې.

بېلګه: یو بانک دپور هغه ګڼ شمېر اسناد چې د دولت لخوا په ۱۳۸۵ لمریز کال کې صادرشوي دي د 4٪ کلنۍ ټکټانۍ سره پیرېدلي دي. د پور د هر سند په بدل کې نوموړی شرکت ۱۰۰۰ افغانۍ ( چې د صادرېدو او پېړودلو په وخت کې د هرسند اصلي بیه وه ) تادیه کړي دي. بانک په خپلو محاسبوي اسنادو کې د هر سند بیه ۱۰۰۰ افغانۍ ثبت کړې ده. په ۱۳۸۷ لمریز کال کې دولت د پور یو شمېر اسناد له څلور نیم فیصده کلنۍ ټکټانۍ صادر کړل. د غې صادرونې په بازار کې د پور د هغو اسنادو ارزښت را ټیټ کړ چې په ۱۳۸۵ لمریز کال کې له ۴٪ ټکټانۍ سره صادر شوي وه. نوموړی بانک په ۱۳۸۵ لمریز کال کې د صادرشوو پور اسنادو څخه ۱۰۰ قطعې په ۹۰۰۰۰ افغانۍ مجموعي بیې سره پلوري. نوموړي اسناد چې د یوۀ سند بیه ۱۰۰۰ افغانۍ او یا د ۱۰۰ قطعو اسنادو مجموعي بیه چې ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ ده په اسنادو کې ثبت شوې ده په ۱۰۰۰۰ افغانۍ تاوان (ضرر) و پلورل شول. دغه ضرر د بانک د لګښت په توګه په ۱۳۸۷ مالي کال کې د مجرایي وړ دې.

زیرمو کې زیاتوالی

شپږ پنځوسمه ماده:

د پورونو له درکه د زیانونو په وړاندې پر زیرمې باندې زیاتوالی په هغۀ شرط د مجرایي وړ دی چې د مالي کال په پای کې د نه ورکړل شوو اصلو پورونو په سلو کې له پنځه وېشتو څخه تجاوز و نکړي. ( د هغې په استثني چې د زیرمې په هدف وي ) له نوموړې زیرمې څخه هره لیږدونه یا ورکړې د هغۀ مالي کال چې پکې لیږېدنې یا ورکړې صورت موندلی دی ، د مالیې د ورکړې وړ عایدات جوړوي.

۱.۵۲ که چیرې د مالي کال په پای کې د پور له درکه د رامنځته شوي ضرر په مقابل کې زېرمه د نا تادیه شوو پورونو له کبله له 25٪ څخه تجاوز و نکړي او په دغه ډول زیرمو کې زیاتوالی هم د مالي کال په اوږدو کې صورت موندلی وي، یواځې هغه مبلغ په زېرمه کې د زیاتوالي په توګه د مجرایي وړ دې چې د کال په پای کې نوموړې زېرمه د نا تادیه شوو پورونو ۲۵٪ ته ورسوي.

۱ بېلګه: د ۱۳۸۵ لمریز کال په نیمایي کې یو بانک له پور څخه درا منځته کیدونکو ضررونو لپاره په خپله زېرمه کې ۲۰۰۰۰ افغانۍ ور زیاتې کړې. د کال پای کې نا تادیه شو ي پورونه کمیږي او د ضرر زېرمه د نادیه شوو پورونو له ۲۵٪ څخه زیاتیږي. نو په زېرمه کې د زیاتوالي هغه برخه چې د کال په لومړیو کې صورت موندلی وه دمجرایي وړ نه دي. که چیرې د ۱۳۸۵ لمریز کال په پیل کې له پور څخه د رامنځته کیدونکي ضرر په مقابل کې زېرمه ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ وي او د ۱۳۸۵ کال په پای کې نا تادیه شوي پورونه ۲۴۵۰۰۰۰ افغانیو ته ورسیږي ، د مجرایي وړ مبلغ د لاندې محاسبې له مخې معلومیږي:

| | | |
|---|---|---|
| أ. | د تاوان په مقابل کې زېرمه - د ۱۳۸۵ کال په پیل کې | ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| ب. | په زېرمه باندې زیاتوالی - د ۱۳۸۵ کال په نیمایي کې | ۲۰۰۰۰ افغانۍ |
| ج. | د ۱۳۸۵ لمریز کال په پای کې زېرمه | ۲۲۰۰۰۰ افغانۍ |
| د. | د ۱۳۸۵ لمریز کال په پای کې نا تادیه شوي پورونه | ۲۴۵۰۰۰۰ افغانۍ |
| ه. | ۲۵٪ نا تادیه شوي پورونه | ۶۱۲۵۰۰ افغانۍ |
| و. | په زېرمه باندې زیاتوالی ( ۶۱۲۵۰۰−۲۲۰۰۰۰ ) | ۷۵۰۰۰ افغانۍ |

ز. په ۱۳۸۵ کال کې په زېرمه باندې زیاتوالی چې د مجرایي وړ دې ۱۲۵۰۰۰ افغانۍ
ح. (۲۰۰۰۰ – ۷۵۰۰۰)

سره له دې چې ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ د مالي کال په اوږدو کې په نوموړې زېرمه باندې زیاتې شوي دي ، د مالیې وړ عوایدو د محاسبې په وخت کې یوازې ۱۲۵۰۰۰ افغانۍ د مجرایي وړ دي.

۲ بېلګه: که چیرې عین بانک داسې لومړنۍ زېرمه او زیاتوالی په داسې یو توپیر سره ولري چې د کال په پای کې نا تادیه شوي پورونه ۲۴۰۰۰۰۰ افغانیو او یا هم له هغه څخه لږ مبلغ ته ورسیږي ، د ۲۰۰۰۰۰ افغانیو زیاتوالي هېڅ برخه چې د کال په نیمایي کې یې صورت موندلی دې ، د مجرایي وړ نه ده ځکه د ناتادیه شوو پورونو ( ۲۴۰۰۰۰۰ افغانۍ) د ضرر په مقابل کې ۲۵ ٪ مجاز زېرمه ۲۰۰۰۰۰ افغانیو ته رسیږي چې دغه مبلغ د زیاتوالي له منځته راتلو نه وړاندې د زیرمې په توګه شتون درلود .

**۲.۵۲** که چیرې د پور د ضرر په مقابل کې زېرمه د قانون لمخې د زیرمې له مجوزې اندازې څخه تجاوز وکړي ، بانک او یا پانګه اچوونکی شرکت کولای شي اضافي وجوه ولیږدوي او له پور څخه د رامنځته شوو ضررونو نه پرته د نورو موخو لپاره ورڅخه استفاده وکړي. که چیرې دغه دغه مبالغ د زیرمې د پخواني لیږدونه د هغه زیاتوالي څخه زیات نه وي چې د مجرایي وړ نه دي ، نو د مالیې تابع نه ګرځي. که چیرې له هغه وجوه زیاتوالی صورت ومومي چې د مالیې وړ نه دي (هغه زیاتوالی چې له عوایدو څخه د مالیې له وضع کولو نه وړاندې کسر شوی وي) ، دغه ډول لیږدونه هم د مالیې تابع ګرځي. دغه ډول لیږدول شوي مبالغ په هغه کال کې د عوایدو په توګه د مالیې وړ دي چې له زیرمې څخه اخستل شوي دي.

۱ بېلګه: د پورونو د ضرر په مقابل کې د یو بانک زېرمه له هغې زیرمې څخه زیاته ده چې د قانون او یا د بانک د جواز لیک پر اساس جواز لري. نوموړې زېرمه ۱۰۰۰۰۰۰ افغانۍ دي چې له دې جملې څخه ۸۰۰۰۰۰ پر عایداتو د مالیاتو د محاسبې پرمهال له عوایدو څخه د وضع شوو زیاتونو له جملې څخه ګڼل کیږي. یاد بانک ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ له دې زېرمې څخه بانک ته د نوې ودانۍ د جوړولو لپاره انتقالیږي. دغه انتقال پر عایداتو د مالیاتو تابع نه دی ځکه مخکښنۍ زېرمې کې ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ وې چې زېرمې ته یې له زیاتوالي څخه مخکې د مالیې تابع وه.

۲ بېلګه: د پورونو د ضرر په مقابل کې د یو بانک زېرمه له هغې زیرمې څخه زیاته ده چې د قانون او یا د بانک د جواز لیک پر اساس جواز لري. نوموړې زېرمه د هغو زیاتونو له کبله منځته راغلې ده چې له عوایدو څخه وضع شوي دي. په بل عبارت ، د دغې زیرمې ټول وجوه پرعایداتو باندې د مالیاتو له تادیې نه پرته راجمع شوي دي. نوموړی بانک د تجهیزاتو د پېرودلو په موخه له زیرمې څخه ۲۵۰۰۰۰ افغانۍ لیږدوي. دا چې دغه لیږدونه د زیرمې په موخه نه ده ترسره شوې ، نوموړی مبلغ په هغه کال کې چې دغه لیږدونه په کې تر سره شوې ده د مالیې وړ نه دي. ۲۵۰۰۰۰ په ټولو مالیې وړ عوایدو باندې ور زیاتیږي او د ۲۰ ٪ مالیې تابع ګرځي.

| |
|---|
| **په ارزښت کې زیاتوالی/ لږوالی**<br>**اووه پنځوسمه ماده:**<br>د شتمنۍ په توګه د سهم ، پور او هغو ته د ورته سندونو په ارزښت کې زیاتوالی یا لږوالی د دې قانون د حکمونو لمخې، ترهغۀ وخته پورې چې د پلورنې یا تبادلې له لارې یې ځانته د واقعیت څېره نیولې نه وي ، د اعتبار وړ ندی کله چې ګټه یا زیان د نوموړې شتمنۍ د پلورنې یا تبادلې په لارې تحقق و مومي دغه ګټه یا زیان د هغۀ کال عایدات یا ضرر جوړ وي چې پکې پلورنې یا تبادلې صورتموندلی دی. |

**۱.۵۷** هغه ارزښت لرونکي اسناد او ونډې چې له یو بانک او یا د پانګې اچونې له نورو شرکتونو سره و جود لري، دهغوې ارزښت باید د د قانون او تجاربو له په پام کې نیولو سره د بل ځل لپار ه و ټاکل شي. د ارزښت له دغې بیا ټاکنې څخه رامنځته شوي ضررونه او لاسته راغلې ګټې پرعایداتو باندې د مالیاتو د محاسبې په وخت کې په نظر کې نه نیول کیږي. که چیرې یو ارزښت لرونکی سند وپلورل او یا تبادله شي ، د مالیې وړ عوایدو په مقابل کې باید ګټه او ضرر رپوټ کړل شي.

**۱ بېلګه:** د ۵۰۰۰۰۰ افغانیو په بدل کې یو بانک د یوۀ سهامي شرکت سهمونه پیرې. د ۱۰ کالو په اوږدو کې نوموړي اسناد خپل ارزښت له لاسه ورکوي او سهامي شرکت له ماتې سره مخ کیږي. په پایله کې نوموړي اسناد د امانت اینبودنې ځانګړې پروسې له مخې د ناکام شوي سهامي شرکت څخه چې اسهام یې صادر کړي دي پېرودل کیږي. په لسم کال کې د شرکت د شتمني د له منځه تلو نه وروسته نوموړی بانک ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ لاسته راوړي. ۴۰۰۰۰۰ افغانۍ ضرر په هغه کال کې د بانک لخوا د مجرایي وړ دې چې اسهام بیرته ورکړل شوي ، البته له دغه وخت نه وړاندې د مجرایي وړ نه دې.

**۲ بېلګه:** یو بانک د ۵۰۰۰۰۰ افغانیو په بدل کې ارزښت لرونکي اسناد پیري چې ارزښت یې په تدریجي ډول زیاتیږي. له پیرودنې څخه ۵ کاله وروسته ،نوموړی بانک دغه ارزښت لرونکي اسناد د ۷۵۰۰۰۰ افغانیو په بیه پلوري. ۲۵۰۰۰۰ افغانۍ لاسته راغلې ګټه په هغه کال کې د مجرايي وړ ده چې دغه اسناد په کې پلورل شوي دي.

###

# نهم فصل

## د عايداتو له سرچينو څخه د مالياتو وضع کول

## له ۵۸ مادې نه تر ۶۳ پورې

د ماليې وضع کول او تاديه کول

اته پنځوسمه ماده:

هغه حقيقي او حکمي انتفاعي او غير انتفاعي اشخاص چې د کارکوونکو شمېر يې د کال په يوې مياشتې کې دوه تنه يا له هغو څخه زيات وي او ټول وزارتونه، تصدۍ، ښاروالۍ او نورې دولتي ادارې مکلف دي د دې قانون په څلورمه ماده کې د درج حکمونو له په پام کې نيول سره، له د ورکړې وړ ټولو معاشونو او مزدوريو څخه ماليه وضع او د دولت د عوايدو حساب ته يې و ليږدوي.

۱.۵۸ هغه انفرادي او حکمي اشخاص چې افراد استخداموي، له ورکړل شوو معاشونو او مزدوريو څخه د ماليو پر وضع کولو باندې مکلف دي.

۱ بېلګه: يو انفرادي شخص د ودانيو د ابادولو پر فعاليت بوخت دې او له **۵** نه تر **۱۵** پورې داسې کار کوونکي يې په کار ګمارلي دي چې د ماليې وړ عوايد لاسته راوړي. نوموړی شخص مکلف دې چې د خپلو کارکوونکو له معاشونو او مزدوريو څخه ماليه وضع کړي.

۲ بېلګه: په لومړۍ بېلګه کې ياد شوی شخص د پانګې د ډېروالي او د ساختماني سترو پروژو د ترلاسه کولو په موخه له يو بل شخص سره د شراکت قرارداد لاسليک کوي. نوموړی شراکت مکلف دې د خپلو هغو کارکوونکو له معاشونو او مزدوريو څخه ماليه وضع کړي چې د معاش اندازه يې د ماليې وړ عوايدو سره برابره ده.

۲.۵۸ هغه اشخاص کارکوونکي نه ګڼل کيږي چې په څرګند ډول د معاشونو په جدول کې شامل نه دي ولې د ځينو خدماتو د ترسره کولو لپاره داسې پيسې ترلاسه کوي چې معاش او مزدوري ورته نه شي ويل کيدای. د دغه ډول اشخاصو مزدوري د موضوعي ماليې تابع نه ګرځي.

۱ بېلګه: يو شرکت په زيرمو کې د شته برېښنا مزو د ترميم لپاره د برېښنا يو کارپوه شخص (مستري) استخداموي. نوموړی شخص (مستري) موافقه کوي چې د نورو هغو موادو د لګښت سره چې د ترميم په چارو کې ورڅخه استفاده کوي، د ترميم دغه کار ۲۰۰۰ افغانيو په بدل کې ترسره کړي. دا چې دغه کارګر د دغه شرکت د معاشونو په جدول کې د کارکوونکي په توګه ثبت نه دې او يو ناپيلی قراردادي دې، نو نوموړی شرکت مکلف نه دې چې دغه شخص ته له ورکړل شوو پيسو نه ماليه وضع کړي.

۲ بېلګه: يو شرکت د خپل دفتر د نلونو د نصبولو لپاره يو نلدوان استخداموي. نوموړی نلدوان د ټولو ترميمونو د بيې په لاسته راوړلو، د نلونو د نښلولو او نصبولو، کاري لګښت او د ګټې د يوې ځانګړې فيصدۍ په لاسته راوړلو په بدل کې استخدام شوی دې. شرکت نلدوان ته د هغو بيلونو او رسيدونو له مخې پيسې ورکوي چې نلدوان يې شرکت ته ورکوي. نوموړی شرکت د ماليات پر وضع کولو مکلف نه دې ځکه چې نلدوان يو مستقل قراردادي دې.

۳ بېلګه: یو شرکت له ښتو جوړېدونکي د هغه دیوال د ودانولو لپاره مزدوران په کار ګماري چې د هغهٔ انګړ چاپېر ودانیږي چېرته چې شرکت خپل مالونه زخیره کوي. شرکت دغو مزدورانو او باشي ته ورځنۍ مزدوري ورکوي. سره له دې چې یاد شوي مزدوران د شرکت په معاشونو کې په موقتي ډول شامل شوي دي ، شرکت د مالیې پر وضع کولو ملکف دې.

د کورونو او ودانیو پر کرایې موضوعي مالیه
نهه پنځوسمه ماده:

(1) هغه کورونه او ودانۍ چې د سوداګریزو یا کاري دفترونو د فعالیتونو د سرته رسولو په منظور حقیقي یا حکمي اشخاصو ته په کرایه ورکول کیږي، د کور کرایه د موضوعي مالیاتو د ورکړې تابع په لاندې توګه وي:

1. په هغهٔ صورت کې چې میاشتنۍ کرایه یې له ۱۰ زرو څخه تر ۱۰۰۰۰۰ افغانیو پورې وي، مالیه ٪۱۰ فیصده ده،
2. په هغهٔ صورت کې چې میاشتنۍ کرایه یې له ۱۰۰۰۰۰ زرو څخه پورته وي، مالیه ٪۱۵ فیصده ده.

(2) د دې مادې په ( 1 ) فقره کې د درج کورونو او ودانیو مستاجرین مکلف دي د عوایدو مالیه د هغې کرنلارې لمخې چې د مالیې وزارت په واسطه وضع شوی، ورکړي.
(3) پدې ماده کې درج مالیه چې د مؤجر د مالیاتي مسؤلیت په توګه د مستاجر په واسطه وضع کیږي هغه کرایه ګڼل کیږي چې مؤجر ته ورکړل شوې ده، دغه مالیه د مؤجر د مالیاتي مسؤلیت وړاندې ورکړه حسابیږي او د مالیې د ورکړې په وخت کې مجرایي ورکول کیږي. د کرایې د ورکړې په اړه د مؤجر او مستاجر ترمنځ د شخړې د رامنځته کیدو په صورت کې ،مستاجر کولای شي د وضع شوو مالیاتو سند د کرایې د ورکړې د سند په توګه اړوندو مقاماتو ته وړاندې کړي.
(4) هغه ورکړې چې له جایداد څخه د ګټې اخستنې په بدل کې ترلاسه کیږي، لاندې ډولونه پکې شامل دي :

1. هر ډول پولي واحد ، مالونه ، خدمتونه او هر ډول ګټه چې شخص یا اشخاص یې د ملکیت د په کرایې ورکولو له لارې لاسته راوړي.
2. د هغو ترمیماتو او بیا جوړونې لګښتونه چې د مستاجر په لګښت ، په ملکیت کې صورت مومي.

(5) په هغهٔ صورت کې چې د ملکیت کرایه د هغهٔ له واقعي ارزښت څخه لږ وي ، د مالیې وزارت کولای شي کرایه د ورځې د نرخ لمخې د واکمن هیئت په واسطه تثبیت کړي.
(6) د معاملو د لاربښوونې دفترونه مکلف دي د قرار داد د عقدولو په وخت کې د منعقده قرارداد یوه کاپي د مالیې وزارت ته ورکړي د معاملو د لاربښوونې لخوا د ځنډ یا په سندونو کې د تزویر په صورت کې ، د مالیې وزارت د څېړنې په منظور ، موضوع رسماً د عدلیې وزارت ته خبر ورکړي.

(7) که چیرې ثابته شي چې کرایه د ورځې له نرخ څخه په سلو کې شل لږ تثبیت شوې ده ، د دې مادې د (5) فقرې د حکم له په پام کې نیولو سره اجراات صورت مومي. د کرایې د تثبیت په هکله د اختلاف په صورت کې ، مؤجر مکلف دی ثابت کړي چې د مالیې وزارت لخوا ټاکل شوی نرخ صحت نلري، د غه حکم هغه وخت د تطبیق وړ ګڼل کیږي چې د مالیې وزارت د اسې دلایل او سندونه راوړي چې په قرارداد کې د درج شوې کرایې مقدار له هغۀ څخه لږ دی چې ورکول کیږي. پدې صورت کې د مالیې وزارت کولای شي مؤجر مکلف کړي څو د قرارداد په ختم کې ، خپل ملکیت په دمخه قرارداد کې د درج شوې بیې لمخې د دمخني قرارداد د مودې دوه برابره ، د مالیې وزارت په واک کې ورکړي.

(8) که چیرې د ورکړې وړ مالیه د ټاکلې نیټې وروسته په پنځلسو ورځو کې ور نکړل شي ، لاندې اجراات صورت مومي:

1. له جایداد څخه د ګټې اخستنې په بدل کې د پیسو د ترلاسه کولو لپاره ، د کرایې په یوۀ موافقه لیک یا قرارداد کې د شخص مؤجر حق د اسې عملي کیږي چې پورته ذکر شوی حق ، د دولت د استازي په صفت د مالیې وزارت له لیکلي یادښت وروسته مؤقتاً مالیې وزارت ته لیږدول کیږي.
2. که چیر ې مستاً جر د ورکړې وړ مالیه د مالیې وزارت د یادښت له ترلاسه کولو وروسته په (۳۰) ورځو کې تحویل نکړي ، د کرایې په قرارداد یا ورته قراردادونو کې د مؤجر حق، د کرایې د نه ورکولو له امله د کرایه نشین د ایستلو لپاره پداسې ډول عملي کیږي چې نوموړی حق د دولت د استازي په توګه د مالیې وزارت ته ولیږدیږي.
3. دغه حالت ترهغۀ وخته پورې باقي پاتې کیږي چې د مالیې وزارت له کرایې او د دې قانون په شپاړلسم فصل کې درج د ورکړې وړ هر ډول اضافي مالیې څخه را پیدا شوي عواید ترلاسه کړي.

۱.۵۹ هغه حکمي او حقیقي اشخاص چې له یوې ودانۍ څخه د اقتصادي او یا دفتري فعالیتونو لپاره کار اخلي او په بدل کې کرایه ورکوي، په دې مکلف دي چې په **۵۹**مه ماده کې د مندرج لمخې موضوعي مالیه وضع کړي که چیرې کرایه له ۱۰۰۰۰ افغانیو څخه زیاته وي. که چیرې د کرایې مجموعي ورکړه په میاشت کې ۱۰۰۰۰ افغانۍ او یاهم ورڅخه لږه وي، نو په دغه صورت کې هیڅ ډول موضوعي مالیه د ورکړې وړ نه ده. پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون د ( 4 ) مادې سره سم د کرایې له درکه عواید پر عایداتو د مالیاتو تابع دي.

۱ بېلګه: نجیب الله د کابل په وزیر اکبرخانه مېنه کې د دفتر لپاره یو ځای په کرایه نیسي او په بدل کې یې هره میاشت ۲۰۰۰۰ افغانۍ کرایه ورکوي. نجیب الله باید ۲۰۰۰ افغانۍ په هره میاشت کې له کرایې څخه وضع او هغه ټاکلي حساب ته یې وسپاري چې د مالیې وزارت لخوا ټاکل شوی دی.

۲ بېلګه: اکور مؤسسه د وزیر اکبرخان په **۱۵** سړک کې یو اپارتمان په کرایه نیسي او په بدل کې یې هر ه میاشت **۵۰۰۰** ډالر کرایه ورکوي. د یوه ډالر د تبادلې نرخ **۵۰** افغانۍ ده چې د کرایې د مجموعي مبلغ **۲۵۰۰۰۰** افغانۍ کیږي. په دې توګه، د یاد کور کرایه په لاندې توګه محاسبه کیږي:

۲۵۰۰۰ افغانۍ = د ماليې وړ موضوعي عوايدو مجموعه
۱۵٪ = پر کرايې د موضوعي مالياتو نورم
د تحصيل وړ ماليات ۲۵۰۰۰ X ۱۵٪=۳۷۵۰

۳ بېلګه: عزيز په شهرنو سيمه کې يو کور په کرايه نيسي. د دغه کور مياشتنۍ کرايه ۳۰۰۰۰ افغانۍ ده. دا چې د کرايې تاديات د شخصي استفادې لپاره ترسره کيږي او د اقتصادي فعاليتونو د ترسره کولو لپاره نه کارول کيږي، له دې کبله، دی هېڅ ډول مکلفيت نه لري چې د کرايې د تادياتو له درکه ماليه ورکړي.

تبصره: که چېرې عزيز له تادياتو څخه د مالياتو پر وضع کولو مکلف نه وي، ولې د اپارتمان خاوند د هغو کرايوي عوايدو له درکه چې لاسته يې راوړي پر عايداتو باندې د مالياتو پر ورکړه مکلف دې او د قانون د حکم لمخې، خپل مالياتي اظهارليک په مفصله توګه ډک کړي او د ورکړې وړ خپل ماليات چې د کرايې او نورو منابعو د عوايدو له درکه راټوليږي، ورکړي.

۲.۵۹ هغه حقيقي او حکمي اشخاص چې له کرايوي تادياتو څخه د ماليې پر وضع کولو مکلف دي بايد ماليه د راتلونکي مياشتې (چې ماليه پکې تاديه شوې ده) تر پنځلسمې ورځې پورې يو واکمن بانک ته تاديه کړي.

بېلګه: نجيب الله د خپل فعاليت د ترسره کولو لپاره يو ځای په کرايه نيسي چې د ياد ځای کرايه ۲۰۰۰۰ افغانۍ ده. لومړۍ تاديه د جوزا يا غبرګولي په مياشت کې ترسره کيږي. نجيب الله ۱۸۰۰۰ افغانۍ د کور خاوند ته ورکوي او ۲۰۰۰ افغانۍ ترې وضع کوي. وضع شوې ۲۰۰۰ افغانۍ ماليه دې د چنګاښ تر پنځلسمې ورځې پورې د وزارت ماليې لخوا معرفي شوي بانکي حساب ته وسپارل شي.

۳.۵۹ د مستاجر لخوا وضع شوی مبلغ د کور د خاوند د کرايوي عوايدو له درکه د نومړي د مالياتي مکلفيت د پيش پرداخت په توګه ګڼل کيږي. د وضع شوو مالياتو د مجرايي د غوښتنې لپاره بايد د کور خاوند مالياتي اظهار ليک بشپړ کړي.

بېلګه: يو افغان شرکت له ويس نه چې يو مېشت افغان شخص دې او د تعمير خاوند هم دې، يو دفتر په کرايه نيسي. افغان سهامي شرکت بايد د کال په اوږدو کې ۳۰۰۰۰۰ افغانۍ کرايه تاديه کړي. د شرکت لخوا له نومړی مبلغ څخه ۲۵۵۰۰۰ افغانۍ ويس ته ورکول کيږي او پاتې ۴۵۰۰۰ افغانۍ له کرايې څخه وضع او د دولت بانکي حساب ته تاديه کيږي. ويس د هماغه کال مالياتي اظهار ليک بشپړ او ارائه کوي چې ۳۰۰۰۰۰ افغانۍ په کې د خپلو کرايوي عوايدو په توګه درج کوي. ويس نور عوايد نه لري او د ۱۰٪ يانې ۳۰۰۰۰ افغانيو د وضع وړ لګښت لپاره مجرايي ترلاسه کوي. د ويس عوايد ۲۷۰۰۰۰ افغانيو ته رسيږي او پرعايداتو باندې د مالياتو قانو ن د (۴) مادې لمخې ويس مکلف دی چې ۱۳۸۰۰ افغانيۍ ماليه د ۲۷۰۰۰۰ افغانيو له مجموعي مبلغ څخه ورکړي. . ځرنګه چې ويس له وړاندې نه له کرايوي عوايدو څخه ۴۰۰۰۰ افغانۍ وضع کړي دي، نوموړی مستحق دې چې ۲۲۲۰۰ افغانۍ بيرته ترلاسه کړي. د دغې بيا لاسته راوړنې (پس پرداخت) لپاره ويس بايد مالياتي اظهار ليک بشپړ او وړاندې کړي.

تبصره: په هغه صورت کې چې د ځای خاوند د کرایې پر عوایدو سربېره، نور عواید هم ولري، مکلف دی چې په خپل مالیاتي کال کې یې درج او د ټولو عوایدي منابعو له درکه د مالیاتي مجموعه ثابته کړي او د موضوعي مالیې مجموعه به د مالیاتي مکلفیت له مجموعې څخه کسر شي.

۴.۵۹ د مستاجر لخوا د ورکړل شوې بیا رغاونې په ګډون هره هغهٔ ګټه چې د نوموړي لخوا جایداد ته رسول کیږي، د کرایې په تادیاتو کې شاملیږي. بېلګه: یو افغان سهامي شرکت له ویس څخه یو ګودام په کرایه نیسي. نو موړی شرکت په هره میاشت کې ویس ته ۲۰۰۰۰ افغانۍ کرایه ورکوي. د ګودام د مرکز ګرمي د بیارغاونې لپاره سهامي شرکت د چنګابس په میاشت کې ۵۰۰۰۰ افغانۍ ورکوي. دغه لګښت د ویس لخوا نه دی ورکړل شوی. ورکړل شوې ۵۰۰۰۰ افغانۍ د شرکت لخوا ویس ته د اضافي کرایې د ورکړې په توګه ګڼل کیږي او ځکه د موضوعي مالیې تابع ګرځي. د ۵۰۰۰۰ افغانیو موضوعي مالیه ۱۰۰۰۰ افغانۍ ده او د ۲۰۰۰۰ افغانیو د کرایې د تادیاتو موضوعي مالیه ۴۰۰۰ افغانۍ ده. په دې توګه، افغان سهامي شرکت مکلف دی په دې میاشت کې ۱۴۰۰۰ افغانۍ د موضوعي مالیې په توګه د خپلې کرایې له تادیاتو څخه وټاکي او مالیې یې د دولت بانکي حساب ته وسپاري.

۵.۵۹ که چېرې د مالیې وزارت ته داسې جوته شي چې د کور یا جایداد کرایه د مارکېټ له نرخه ټیټه ده، پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون د (۹۷) مادې سره سم، وزارت واک لري چې د مارکېټ له نرخ سره سمه له مخکې ټاکل شوې کرایه لوړه کړي.

بېلګه: عزیز د خپل زوی نجیب الله د اقتصادي چارو د ترسره کولو لپاره یو دفتر په کرایه نیسي چې میاشتنۍ کرایه یې ۱۲۰۰۰ افغانۍ ده. دغه راز، عزیز د نورو ډلو لپاره هم یو ځای د میاشتنې په ۲۰۰۰۰ افغانۍ په کرایه نیسي. د مالیې وزارت دا واک لري چې نجیب الله مکلف کړي چې د هرې میاشتې عینې ۲۰۰۰ افغانۍ مالیه وضع کړي په دې چې د نورو نااړونده ډلو لپاره پر کرایې مالیه هماغه ۱۲۰۰۰ افغانۍ ده که څه هم یواځې نجیب الله یې د میاشتنې ۱۲۰۰۰ افغانۍ ورکوي. په دې دلیل چې د کرایې مبلغونه حقیقي نه دي، ځکه د مالیې وزارت حق لري چې د کرایې په تادیاتو کې زیاتوالی راولي.

۶.۵۹ که چېرې وزارت مالیه په دې باور وی چې د جایداد کرایه چې له ٪۲۰ څخه ډېره او د ورځې له نرخه ټیټه وی، د مالیې وزارت د ۵۹مې مادې د ۵ بند سره سم پر اقدام لاس پورې کوی. که چېرې د کور خاوند د ورځې نرخ چې د مالیې وزارت لخوا ټاکل شوی ونه مني، د کور خاوند مکلف دی چې داسې ثبوت وړاندې کړي چې آیا د وزارت لخوا ټاکل شوی ارزښت سم دی که نه. که چېرې د کور خاوند په دې ونه توانېږي چې د وزارت لخوا د ټاکل شوي ارزښت د نه منلو لپاره کره ثبوت وړاندې کړي، د مالیې وزارت د کور پر خاوند نوره اضافي مالیه هم وضع کوي چې مبلغ یې د ټاکل شوې مالیې دوه برابره وي.

بېلګه: نثار احمد د کابل ښار په کارته چهار کې یو کور د ماشومانو د ملاتړ مؤسسې ته په کرایه ورکوي چې میاشتنۍ کرایه ۸۰۰۰۰ افغانۍ کیږي. دواړه خواوې د دې لپاره چې له مالیې څخه تېښته وکړي د ۴۰۰۰۰ افغانیو په ارزښت د میاشتنۍ کرایې یو جعلي قرارداد جوړوي او اړونده مالیاتي دفتر ته یې د مالیې د وضع کولو لپاره استوي. دغه راز، یاد مستاجر له ۴۰۰۰۰ افغانیو څخه موضوعي مالیه د ٪۱۰ نورم لمخې چې ۴۰۰۰ افغانۍ کیږي، وضع کوي او د دولت ځانګړي بانکي حساب ته یې سپاري. د مالیې وزارت د څېړنو په پایله کې په دې وتوانېد چې د قرارداد اصلي کرایه ومومي او د ځای خاوند د مالیې وزارت د

ادعا د نه منلو لپاره هیڅ دلایل نه شي وړاندې کولای. په پای کې، مستاجر مکلف دی چې ۸۰۰۰۰ افغانۍ یانې په قرارداد کې د پټ شوي مبلغ ۴۰۰۰۰ افغانیو دوه برابره، د اضافي مالیې په توګه تادیه کوي.

۷.۵۹ هغه حقیقي او حکمي اشخاص چې د ګټې د لاسته راوړولو په موخه د ځمکو او ودانیو د کرایه ورکولو په فعالیت کې بوخت دي، مکلف دي چې هر یو لاسلیک شوی تړون د مالیې وزارت (د عوایدو لوی ریاست ته) او یا د هغه محل مالیاتي دفتر ته چې د ځمکې خاوند په کې ژوند کوي د کرایې د تړون له لاسلیکولو نه ۳۰ ورځې وروسته وړاندې کړي.

۸.۵۹ که چیرې د کرایې موضوعي مالیه په ټاکلو 15 ورځو کې تادیه نه کړل شي ، لاندې اقدام ترسره کیږي:

1. د مالیې وزارت په خپله خوښه مستاجر ته یو لیکلی یادښت استوي او دا موضوع په کې څرګندوي چې د مؤجر هغه حق چې تادیات ترلاسه کولی شي د دولت د استازي په توګه د مالیې وزارت ته لیږدول شوی دي.
2. مستاجر له څنګه چې په لومړۍ فقره یې یادونه شوې ده د یادښت د ترلاسه کولو نیټې له پیل ۳۰ ورځې وخت لري چې د ذمت خپله مالیه تادیه کړي. که چیرې مالیه په سمه توګه تادیه نه کړل شي ، د کور د خاوند هغه حق چې د مالیې د نه ورکړې په صورت کې مستاجر له کور څخه ایستلی شي باید د افغانستان د دولت د استازي په توګه د مالیې وزارت ته ولیږدول شي.

د مالیاتو د ورکړې او لیږدېدو موده (میعاد)

شپېتمه ماده:

هغه کار فرما چې د دې قانون په اته پنځوسمه ماده کې د درج شوي حکم لمخې ، د مالیې په وضع کولو باندې مکلف دی ، وضع شوی مبلغ د راتلونکي میاشتې تر لسمې پورې هغۀ ټاکلي بانکي حساس ته چې د مالیې وزارت لخوا معرفي کیږي، په بانک کې تحویلوي. کار فرما مکلف دی د مالیاتو د وضع کولو ریوټ پرعایداتو باندې د مالیاتو د تعلیماتنامې لمخې اړوندو مالیاتي ادارو ته وړاندې کړي.

۱.۶۰ یو کار فرما باید د خپلو کارکوونکو له معاشونو او مزدوریو څخه مالیه پر عایداتو د مالیاتو د قانون د ۴مې مادې په ۳ بند کې د مندرج جدول لمخې سنجش او وضع کړي. خو کارفرما مکلف نه دې چې له هغو تادیاتو نه مالیه وضع کړي چې ناپېیلو قراردادیانو ته ورکول کیږي، بلکې موضوعي مالیه د نورو تادیاتو څخه پر عایداتو د مالیاتو قانون د نورو احکامو لمخې وضع کیږي.

تبصره: د دې لپاره چې جوته شي چې یو شخص خپلواک قراردادي دی او که یو کارکوونکی، د ۱۳۸۵ کال د ۵ میاشتې د عامه سنجش طرزالعمل (د معاش د موضوعي مالیې د پلې کولو لپاره خپلواک قراردادي کارکوونکی) ته دې مراجعه وشي.

۲.۲۰ هغه کار فرما چې پر عایداتو د مالیاتو قانون د **۵۹**مې مادې د حکم لمخې مکلف دې چې مالیات وضع کړي، په کار ده چې مالیه د لاندې جدول لمخې وسنجوي.

د میاشتني معاش جدول

| لږ عواید | ډېر عواید | مالیه |
|---|---|---|
| 0 افغانۍ | **۵۰۰۰** افغانۍ | 0 افغانۍ |
| له**۵۰۰۱** افغانۍ څخه | تر **۱۲۵۰۰** افغانۍ پورې | **۵۰۰۰** افغانیو څخه**۲**٪ مالیه |
| **۱۲۵۰۱** افغانۍ څخه | ۱۰۰۰۰۰ پورې | له**۱۲۵۰۱** افغانۍ څخه تر ۱۰۰۰۰۰ افغانیو پورې ۱۰٪+ **۱۵۰**افغانۍ |
| ۱۰۰۰۰۱ افغانۍ څخه | له دې پورته | له ۱۰۰۰۰۰ افغانیو څخه پورته ۲۰٪ مالیه+ ۸۹۰۰ افغانۍ |

د پنځلس ورځني معاش جدول

| لږ عواید | ډېر عواید | مالیه |
|---|---|---|
| له صفر افغانیو څخه | تر **۲۵۰۰** افغانیو پورې | صفر (۰) افغانۍ |
| له**۲۵۰۱** افغانیو څخه | تر **۲۲۵۰** افغانیو پورې | د **۲۵۰۰** افغانیو څخه د زیات مبلغ لپاره ۲ ٪ |
| له**۲۲۵۱**افغانیو څخه | تر **۵۰۰۰۰** افغانیو پورې | له**۲۲۵۰** افغانیو څخه د زیات مبلغ لپاره ۱۰٪ + **۷۵** افغانۍ |
| له**۵۰۰۰۱** افغانیو څخه | له دې پورته | د **۴۴۵۰** افغانیو سربېره، له**۵۰۰۰۰** افغانیو څخه د زیات مبلغ لپاره ۲۰ ٪ |

د دوه اونیز معاش جدول

| لږ عواید | ډېر عواید | مالیه |
|---|---|---|
| له صفر افغانیو څخه | تر **۲۳۰۸** افغانیو پورې | صفر افغانۍ |
| له **۲۳۰۹** افغانیو څخه | تر **۵۷۶۹** افغانیو پورې | له **۲۳۰۸** افغانیو څخه د زیات مبلغ لپاره ۲ ٪ |
| له**۴۶۱۵۵** افغانیو څخه | پورته | د **۴۱۰۸** افغانیو سربېره، له **۴۶۱۵۵** افغانیو څخه د زیات مبلغ لپاره ۲۰ ٪ |

د اونیز معاش جدول

| لږ عواید | ډېر عواید | مالیه |
|---|---|---|
| له صفر افغانیو څخه | تر **۱۱۵۴** افغانیو پورې | صفر افغانۍ |
| له**۱۱۵۵** افغانیو څخه | تر **۲۸۸۵** افغانیو پورې | د **۱۱۵۴** افغانیو نه د ډېر مبلغ لپاره ۲ ٪ |
| له**۲۸۸۶** افغانۍ څخه | تر **۲۳۰۷۷** افغانیو پورې | **۲۰۵۴** افغانۍ+ د هغه مبلغ ۲۰ ٪ چې له **۲۳۰۷۷** افغانیو څخه زیات دی |

بېلګه: عزيز د خپلو ساختماني فعاليتونو پرمخ وړلو لپاره د نجيب الله او وحيد په نامه دوه کسان استخداموي. نجيب الله او وحيد کارکوونکي دي نه قراردادیان. نجیب الله په یوه ورځ کې ۳۲۰۰ افغانۍ او وحید په یوه اونۍ کې ۲۴۰۰۰ افغانۍ ګټي. عزيز بايد د نجيب له معاشه د ورځې ۳۵۰ افغانۍ او د وحيد له معاشه د ورځې ۲۲۳۹ افغانۍ وضع کړي.

۳.۲۰ استخدام کوونکی باید وضع شوی مبلغ د هغې میاشتې له پایه ۱۰ ورځې وروسته چې مالیه په کې وضع شوې ده، د مالیې وزارت لخوا ټاکل شوي معین حساب ته وسپاري. یو واکمن بانک ته تحویل کړي چې نوموړی مبلغ په کې وضع شوې ده. هره تحویلي باید د کار فرما لخوا د موضوعي مالیې له رپوټ او د بانک تحویلي فورمې سره تصدیق کړل شي. دغه فورمې له مالیې وزارت څخه ترلاسه کیدای شي.

د برېښنالیک له لیارې هم پیسې لیږدول کیدای شي. د مالیې وزارت په انټرنټ پاڼه کې شپږم لارښود ته مراجعه وکړي.

| |
|---|
| د صورت حساب برابرول<br>یو شپېتمه ماده:<br>(1) کار فرما مکلف دی د مالیې وزارت د لارښود لمخې د اړوندو کارکوونکو د معاش او مالیې صورت حساب په انفرادي توګه برابر او د راتلونکي کال د لومړۍ میاشتې تر پایه پورې یې د مالیې وزارت یا مالیاتي څانګو او اړوندو کار کوونکو ته وړاندې کړي.<br>(2) د دې مادې په ( 1 ) فقره کې کار فرما مکلف دی له معاشونو او مزدوریو څخه د وضع شوو کلنیو مالیاتو توحیدي رپوټ د ځای او وخت په څرګندولو سره چې د مالیې وزارت لخوا تثبیتیږي ، وړاندې کړي. |

۱.۲۱ د مزدوري او معاش موضوعي ماليې په اړه د رپوټ ورکول دکار فرما او کارکوونکي مکلفيت دې او لاندې موارد باید مراعات کړل شي:

أ. کارفرما باید په هرکال کې د هغهٔ کارکوونکي د معاش او مزدورۍ په اړه کلنی رپوټ برابر کړي چې د مالیې تابع دي. کله چې کارکوونکی له خپلې دندې لاس پسر کیږي ، د دندې په پای کې باید کارفرما هغه ته د هغهٔ د کلني معاش او کلنۍ وضع شوې مالیې صورت حساب ورکړي.

ب. پر دې برسیره کارفرما باید د معاش د موضوعي مالیې کلنی رپوټ او د مالیې د رپوټ د لیږدیدو فورمه برابره کړي. د دغې فورمې له برابرولو څخه موخه داده چې د هغو ټولو مبالغو په اړه چې د کار فرما لخوا له خپلو کارکوونکو څخه د کال په اوږدو کې وضع شوي دي د مالیې وزارت معلومات ترلاسه کړي.

د صورت حساب د وړاندې کولو موده

دوه شپېتمه ماده:

(1) مؤدي مکلف دی د خپل کلني معاش او ماليې د صورت حساب رپوټ ، د مالي کال له پايته رسيدو يوه نيمه مياشت وروسته ، اړوندو مالياتي ځانگو ته وړاندې کړي.

(2) که چيرې د لاندې شرايطو لرونکی مؤدی د خپل کلني معاش او ماليې صورت حساب ، د کارفرما له تطبيق وروسته د مالي کال له پايته رسيدو وروسته د يوې نيمې مياشتې په ترڅ کې وړاندې کړي ، د جلا اظهارليک له وړاندې کولو څخه معاف دی.

1. ماليه ورکوونکی له معاش يا مزد پرته چې ماليه ورڅخه وضع شوې وي دمالي کال په ترڅ کې بل عايد و نلري.
2. ماليه ورکوونکی د مالي کال په اوږدو کې له يوۀ کارفرما څخه د زياتو لخوا استخدام شوی نه وي.
3. وضع شوې ماليه د دې قانون د څلورمې مادې په ( 3) فقره کې له درج شوی نورم سره سمون ولري.

۱.۲۲ هر هغه ماليه ورکوونکی چې داسې يو کارکوونکی هم دې چې د معاش موضوعي ماليې تابع گرځي بايد له خپل کارفرما څخه د معاش موضوعي ماليې يوه سپين رنگه فورمه او يوه شين رنگه فورمه ترلاسه کړي.

۲.۲۲ که چيرې لاندې اړتياوې ترلاسه شي ، ماليه ورکوونکی اړتيا نه لري چې مالياتي اظهار ليک بشپړ او وړاندې کړي. ولې ماليه ورکوونکی بايد دمعاش موضوعي ماليې پورې اړونده سپين رنگه فورمه بشپړه او سيمه ايز مالياتي دفتر ته وسپاري.

أ. که ماليه ورکوونکی دهغه معاش نه پرته چې ماليه ورڅخه وضع شوې ده ، د مالي کال په اوږدو کې د ماليې وړ بل هېڅ ډول عوايد و نه لري.

ب. که ماليه ورکوونکی د مالي کال په اوږدو کې له يوې ادارې څخه د زياتو ادارو لخوا نه وي استخدام شوی.

ج. که ماليه پرعايداتو باندې د مالياتو قانون د (۴) مادې په (۳) فقره کې د تشريح شوي مالياتي نورم پر اساس وضع شوې وي.

۳.۲۲ که چيرې د ۲۲ مادې په (۲) فقره کې مندرج شرايط ترلاسه نه شي ، نو ماليه ورکوونکی بايد پرعايداتو باندې د مالياتو قانون د ۲۳ مادې پر اساس مالياتي اظهار ليک بشپړ او وړاندې کړي.

۴.۲۲ که چيرې د ۲۲ مادې په (۲) فقره کې مندرج شرايط ترلاسه شي او ماليه ورکوونکی د د هغو ضررونو د مجرايي لپاره ادعا ولري چې د (۱۸) مادې د (۱) فقرې په (۹) جز کې تشريح شوي دي ، نوموړی بايد د ۲۳ مادې پر اساس مالياتي اظهار ليک بشپړ او وړاندې.

د اظهار لیک وړاندې کول

درې شپېتمه ماده:

(1) هغه مؤدي چې د مالیاتو د وضع له تابع معاشونو او مزدوریو څخه له یوه کارفرما څخه له زیاتو د عوایدو لرونکی وي او یا هم له معاشونو او مزدوریو پرته له نورو سرچینو څخه عواید ولري، مکلف دی پرعایداتو باندې د مالیاتو خپل اظهار لیک د دې قانون د حکمونو لمخې وړاندې کړي. د مالیې وضع شوي مبلغ مؤدي ته د مجرایي وړ دی.

۱.۲۳ هغه شخص چې پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون د (۲۲) مادې له شرایطو سره برابر وي او له خپلو معاشونو څخه د موضوعي مالیې په توګه پرعایداتو باندې مالیات تادیه کړي وي، نوموړی پرعایداتو باندې د مالیاتو اظهارلیک بشپړ او وړاندې کړي. ولې نوموړی باید چمتو وي چې هغه فورمه او کلنی معاش چې له خپل کارفرما څخه یې ترلاسه کړي دي ځرګند کړي او داسې باید و ښیي چې پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون د (۲۲) مادې له مندرجو شرایطو سره برابر دې.

۲.۲۳ د موضوعي مالیې مبلغ چې د معاش موضوعي مالیې په فورمه کې ښودل شوی دې د کارکوونکي د ذمت مالیې د پیش پرداخت په توګه ګڼل کیږي نه د کارکوونکي د نهایي مالیې په توګه. د مالیه ورکوونکي مالیاتي اظهار لیک د نوموړي شخص د نهایي مالیې مکلفیت څرګندوي. که چیرې وضع شوی مبلغ له هغه مبلغ څخه زیات وي چې د مالیه ورکوونکي په مالیاتي اظهار لیک کې ښودل شوی دې، نو په دغه صورت کې مالیه ورکوونکی د بیا ورکړې (بازپرداخت) د ترلاسه کولو مستحق دې. که چیرې وضع شوی مبلغ له هغه مبلغ څخه لږ وي چې د مالیه ورکوونکي په مالیاتي اظهار لیک درج دې، نو مالیه ورکوونکی باید د مالیې د ورکړې په موخه ډیرې پیسې تادیه کړي.

بېلګه: یو افغان سهامي شرکت وحید په کارګماري. نوموړی شرکت وحید ته په میاشت کې ۱۵۰۰۰ افغانۍ او یا په یو کال کې ۱۸۰۰۰۰ افغانۍ ورکوي. افغان سهامي شرکت ۲۲۲۸۰ افغانۍ مالیه وضع کوي. برسیره پر معاش، وحید د ترلاسه کولو وړ سند له درکه ۲۰۰۰۰ افغانۍ ترلاسه کوي. د وحید مالیاتي مکلفیت په لاندې ډول دې:

| | |
|---|---|
| معاشونه | ۱۸۰۰۰۰ افغانۍ |
| د پانګه اچونې عواید | ۲۰۰۰۰ افغانۍ |
| مجموع | ۱۸۲۰۰۰ افغانۍ |
| د ورکړې وړ پر عایداتو مالیات | ۲۳۰۸۰ افغانۍ |
| وضع شوي مالیات | ۲۲۲۸۰ افغانۍ |
| د تادیې وړ خالصه مالیه | ۴۰۰۰ افغانۍ |

###

# لسم فصل

## د انتفاعي معاملو ماليه

## له ۶۴ مادې نه تر ۶۷ پورې

د خدمتونو د وړاندې کولو او انتفاعي معاملو ماليه

ځلور شپېتمه ماده:

انتفاعي ماليه: هغه ماليه ده چې پر ټولو ناخالصو عوايدو مخکې له دې چې د دغه قانون په ۲۲مه ماده کې د مندرجو نرخونو سره سم کسرات وضع شي، پلې کيږي.

1. هغه حکمي شخص چې توکي او خدمات د بيې په مقابل کې وړاندې کوي، د انتفاعي معاملې د ماليې په ورکړه مکلف دی.
2. هغه حقيقي اشخاص چې توکي او خدمات د بيې په مقابل کې وړاندې کوي او د دغو عوايد په هره ربعه کې ۷۵۰۰۰ افغانۍ يا له دې ډېر وي، د انتفاعي معاملې د ماليې په ورکړه مکلف دی. د دغه قانون په ۲، ۳، ۴ او ۵مه ماده کې درج شوي اشخاص له دې حکمه مستثنی دي.
3. هغه اشخاص چې اموال توليدوي د ګمرکي محصولاتو په ګډون د وارد شوو اموالو پر تمامې شوې بيې ۲ فيصده د انتفاعي معاملو ماليې ته تابع ده او د انتفاعي معاملو د ماليې د وړاندې ورکړې په توګه ګڼل کيږي.
4. د دې مادې په ۳ بند مندرجه ماليه په هغه ګمرک کې اخيستل کيږي چې مالونه محصوليږي.
5. له يوه کاري واحده د ترلاسه شوو عوايدو مجموعه د تجزيې وړ نه ده.
6. که چېرې د خدماتو او اموالو د عرضې بيه نغدې پيسې، اموال او خدمات په بر کې ولري، د اموالو او خدماتو ارزښت د ترلاسته شوو اموالو او خدماتو د بازاري بيې سره سم محاسبه کيږي.

۱.۲۴ د انتفاعي معاملو ماليه په عمومي توګه پر محدودالمسؤليت، سهامي او تضامني شرکتونو او مؤسسو باندې تطبيقيږي. د انتفاعي معاملو ماليه پر انفرادي اشخاصو باندې نه تطبيقيږي مګر داچې د 64 مادې په 2 فقره کې يې حکم شوی وي.

۱ بېلګه: د منصور سوداګريز انحصاري شرکت چې يو سوداګريز شرکت دی او د صادراتي او وارداتي چارو په برخه کې بوخت دی، ياد شرکت د خپلو فعاليتونو له اړخه عوايد ترلاسه کوي چې دغه عوايد پر عايداتو د مالياتو قانون په ۲۲مه ماده کې د درج شوي نورم لمخې د انتفاعي معاملو د ماليې تابع دي.

۲ بېلګه: د ملي بس تصدي چې دولتي تصدۍ ده د ښار په ترانسپورتي خدماتو بوخته ده. ياده تصدي هر کالې د خپلو فعاليتونو له درکه عوايد ترلاسه کوي چې دغه عوايد پر عايداتو د مالياتو قانون په ۲۲مه ماده کې د درج شوي نورم لمخې د انتفاعي معاملو د ماليې تابع دي.

۳ بېلګه: په کابل کې يوه مېشته هندي کورنۍ په هندوستان کې د يو سهامي شرکت په توګه فعاليت کوي او په افغانستان کې هم ياد شرکت فعاليت لري. د ياد سهامي شرکت عوايد پر عايداتو د مالياتو قانون په ۲۲مه ماده کې د درج شوي نورم لمخې د انتفاعي معاملو د ماليې تابع دي.

۴ بېلګه: د سبز ګروپ کرنيز کوپراتيف بزګرو ته د اصلاح شوي تخم او کيمياوي موادو د خرڅلاو له لارې عوايد ترلاسه کوي. دغه عوايد پر عايداتو د مالياتو قانون په ۲۲مه ماده کې د درج شوي نورم لمخې د انتفاعي معاملو د ماليې تابع دي.

۲.۲۴ هغه حقيقي اشخاص (انفرادي سوداګر او نور حقيقي اشخاص چې د مالياتو تابع عوايد ولري) چې عوايد يې په ربعه واره توګه ۷۵۰۰۰۰ افغانۍ يا له دې ډېر وي، پر عايداتو د مالياتو قانون په ۲۲مه ماده کې د درج شوي نورم لمخې د انتفاعي معاملو د ماليې تابع دي.

۱ بېلګه: احمد يو انفرادي سوداګر دی او کاري جواز هم لري او اوس د حقوقي خدماتو په برخه کې بوخت دی. احمد ګل د خپلو خدماتو له درکه هر کالې ۳۲۵۰۰۰۰ افغانۍ عوايد ترلاسه کوي چې دغه عوايد پر عايداتو د مالياتو قانون په ۲۲مه ماده کې د درج شوي نورم لمخې د انتفاعي معاملو د ماليې تابع دي.

۲ بېلګه: عزيز احمد د کابل په مندوي کې هټۍ لري چې جامې او لباسونه په کې پلوري. دی د جامو د خرڅلاو له لارې د ۱۳۸۷ کال په څلورو ربعو يا برخو کې په لاندې توګه عوايد ترلاسه کوي:

| | | | |
|---|---|---|---|
| لومړۍ برخه يا ربعه: | ۸۵۰۰۰۰ افغانۍ | دويمه برخه: | ۹۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| درېيمه برخه: | ۸۲۰۰۰۰ افغانۍ | څلورمه برخه: | ۷۹۰۰۰۰ افغانۍ |

د عزيز احمد دغه عوايد پر عايداتو د مالياتو قانون په ۲۲مه ماده کې د درج شوي نورم لمخې د انتفاعي معاملو د ماليې تابع دي.

۳ بېلګه: فرزانه د انځورګرۍ او ميناتورۍ په برخه کې يوه نامتو هنرمنده ده او د اطلاعاتو او فرهنګ په وزارت کې د رسمي کارکوونکي په توګه دنده ترسره کوي او له دولتي دندې څخه يې عوايد په يوه کال کې ۶۰۰۰۰ افغانۍ کيږي. دغه راز، نومورې له رسمي چارو وروسته، په خپله هټۍ کې په هنري چارو بوخته ده. فرزانه د خپلو تابلوګانو د خرڅلاو له لارې په کال کې لږ تر لږه ۴۰۰۰۰۰۰ افغانۍ ګټي. څرنګه چې د فرزانې عوايد د هغې د هنري کارونو له لارې په هره ربعه کې له ۷۵۰۰۰۰ افغانيو څخه ډېر دي، نو په دې توګه، د نومورې عوايد پر عايداتو د مالياتو قانون په ۲۲مه ماده کې د درج شوي نورم لمخې د انتفاعي معاملو د ماليې تابع دي.

تبصره: د اشخاصو د معاشونو له لارې عوايد پر عايداتو د مالياتو قانون د ۲۵مې مادې د ۸ جز لمخې د انتفاعي معاملو د ماليې تابع نه دي او له ورکړې معاف دي. کله چې د کار فرما لخوا معاش وېشل کيږي، د معاش له عوايدو څخه ماليه وضع کيږي او د دولت ځانګړي بانکي حساب ته سپارل کيږي.

بېلګه: شګوفه د انځورګرۍ او ميناتورۍ په برخه کې يوه نامتو هنرمنده ده او په يوې هټۍ کې د انځورګرۍ او ميناتورۍ خدمات وړاندې کوي. دغه راز، فرزانه د خپلو هنري چارو او توکو د خرڅلاو له لارې په کال کې لږ تر لږه ۱۰۰۰۰۰۰ افغانۍ ګټي. څرنګه چې د شګوفه عوايد د هغې د هنري کارونو له لارې په هره ربعه کې له ۷۵۰۰۰۰ افغانيو څخه لږ دي، نو په دې توګه، د نومورې عوايد پر عايداتو د مالياتو قانون په ۲۲مه ماده کې د درج شوي نورم لمخې د انتفاعي معاملو د ماليې تابع نه دي.

تبصره: پر عایداتو د مالیاتو قانون د ۷۴ او ۷۵مې مادې لمخې، شګوفه مکلفه ده چې د خپلو تشبثي چارو څخه مالیه ورکړي.

۳.۲۴ پر عایداتو د مالیاتو قانون د ۲۴ مې مادې د ۳ بند لمخې، پر وارداتي اموالو د انتفاعي معاملو مالیه پلې کیږي او د ګمرکي محصولاتو په ګډون د وارداتي اموالو پر ارزښت محاسبه کیږي. د انتفاعي معاملو مالیه چې پر وارداتي اموالو وضع کیږي، د وړاندې ورکړې مالیې په توګه پېژندل کیږي او د ورکړې پرمهال په ربعه واره توګه یې مجرایي ورکول کیږي.

۱ بېلګه: د قاري خلیل الله سوداګریز شرکت د ګاډو په وارداتو بوخت دی او هر کال د نړۍ له بېلابېلو کمپنیو څخه راز راز ګاډي راواردوي. د ۱۳۸۸ کال د مرغومي په میاشت کې، یاد شرکت ۱۰ عرادې نوي کرولا ډوله ګاډي وارد کړي دي چې په افغانستان کې تر سرحدي ګمرکه پورې له ترانسپورتي لګښتونو سره یې د پېر بیه ۳۰۰۰۰۰۰ افغانۍ کیږي.

ګمرکي محصول د اټکلي نورم لمخې ۵٪ ده چې ۱۵۰۰۰۰ افغانۍ کیږي. د ګمرکي محصولاتو په ګډون د ګاډو بیه ۳۰۱۵۰۰۰۰ افغانۍ کیږي. یاد شرکت

یاد شرکت د ګمرکي محصولاتو د ورکړې سربېره، په لاندې توګه د انتفاعي معاملو د مالیې تابع دی:

په ګمرک کې د پېر بیه د انتفاعي معاملو د مالیې تابع ده منفي ۳۰۱۵۰۰۰۰ افغانۍ

د انتفاعي معاملو نورم منفي ۲٪
په ګمرک کې د انتفاعي معاملو د تادیې وړ مالیه = ۳۰۱۵۰۰۰۰ افغانۍ x ۲٪ = ۶۰۳۰۰۰ افغانۍ

تبصره: د ۶۰۳۰۰۰ افغانیو مبلغ چې په ګمرک کې اخیستل کیږي، د یاد شرکت د انتفاعي معاملو مالیې د وړاندې ورکړې په توګه ګڼل کیږي او په ربعواره انتفاعي مالیې د ورکړې او د شرکت د اظهارلیک د وړاندې کولو پرمهال مجرایي ورکول کیږي.

۲ تبصره: څرنګه چې یاد شرکت وارداتي ګاډي خرڅوي، د ۲۷مې مادې د ۲ بند سره سم، د وارداتي ګاډو د انتفاعي معاملې د مالیې له درکه ۶۰۳۰۰۰ افغانۍ ورکول کیږي او د محاسبې پرمهال د دغه شرکت خالص عواید د مجرایي وړ دي.

۴.۲۴ د انتفاعي معاملو د مالیې له وضع کولو څخه موخه دا ده چې د انتفاعي معاملو مالیه د ګمرکي ادارو لخوا چې وارداتي اموال له هغه ځایه هېواد ته داخلیږي، وضع کیږي. هره سرحدي اداره یا ګمرکي دفترونه چې ګمرکي محصولات وضع او راټولوي، پر وارداتو د تطبیق وړ انتفاعي معاملو مالیې هم راغونډوي.

۵.۲۴ د یوه تشبث ټول عواید د تجزیې وړ نه دي. په دې مانا چې یو تشبث په جعلي توګه نه شي کولای یو خپل کاري واحد په جلا توګه وویشي تر څو د نورو برخو عواید د مالیې وړ کچې څخه ټیټ څرګند شي.

بېلګه: داود له خپل ورور سره د کورونو د رنګمالۍ پر چارو بوخت دی. د دوی ربعوار عواید ۸۵۰۰۰ افغانۍ کیږي چې له نیمایي برخه څخه لږ عاید یې د رنګونو د توکو د خرڅلاو له درکه دي او له نیمایي برخې څخه ډېر یې د رنګمالۍ له درکه شمېرل کیږي. دغه راز، داود او وحید یوې پرېکړې ته سره رسیږي چې خپلې چارې په دوو برخو ووېشي چې داود پېرودونکو ته رنګونو چمتو کوي او وحید به د رنګمالۍ چارې پر مخ وړي. دواړه ورونه داسې ادعا کوي چې د انتفاعي معاملو له مالیې معاف دي ځکه هر یو یې له ۷۵۰۰۰ افغانیو څخه لږ یاني د مالي وړ عوایدو له کچې ټیټ عاید په یوه ربعه کې ترلاسه کوي او دوی حقیقي اشخاص هم دي. په داسې حال کې چې داود او وحید ادعا لري چې د دوی فعالیتونه جلا او قانوني بڼه لري، د سوداګرۍ له اړخه، دواړه برخې یو واحد تشبث ګڼل کیږي. پیرودونکي نه شي کولای دغه دوه برخې سره توپیر کړي. که څه هم د د رنګ د موادو صورت حساب د رنګمالۍ له هغه سره ډېر توپیر لري خو د رنګ د توکو او رنګمالۍ کار دوی یو خدمت ګڼي. د دې لپاره چې د ۲۴مې مادې د ۵ بند حکم پلی شي، د مالیې وزارت دغه ټول عواید یوځای کوي او د واحد تشبث د عوایدو په توګه یې چې ډېر عواید لري، بولي.

۲.۲۴ که چېرې د یوه تشبث عواید د اجناسو یا خدماتو په توګه ترلاسه شي، یاد عواید د اجناسو یا خدماتو د ورځې د نرخ لمخې سنجول کیږي.

بېلګه: آریانا د خوراکي توکو د تولید شرکت په ۱۳۸۸ کال کې په خپله فابریکه کې د جوړو شوو خوراکي توکو د خرڅلاو له درکه ۵۰۰۰۰۰ افغانۍ عواید لاسته راوړي دي. دغه راز، د همدغه کال په ترځ کې، یاد شرکت د پامیر د موټر پلورنځي پر شرکت باندې د ۵۰۰ ګرامو خوراکي توکو د خرڅلاو په بدل کې یو کرولا ډوله ګاډی لاسته راوړی دی. د یاد کرولا ډوله ګاډي بیه ۲۵۰۰۰۰ افغانۍ کیږي. په دې توګه، د یاد شرکت د مالیاتو تابع عواید د نغد خرڅلاو او د هغه ګاډي د بیې څخه عبارت دي چې د ۵۰۰ ګرامو خوراکي توکو د خرڅلاو په بدل کې لاسته راوړی دی او په لاندې توګه محاسبه کیږي:

مجموعي عواید = ۵۰۰۰۰۰ + ۲۵۰۰۰۰ = ۷۵۰۰۰۰ افغانۍ

۷۵۰۰۰۰ افغانۍ د یاد شرکت مجموعي عواید پر عایداتو د مالیاتو قانون د ۲۲مې مادې د نورم لمخې د انتفاعي مالیاتو تابع ګرځي.

د انتفاعي معاملو د مالیې معافېدل
پنځه شپېتمه ماده:
لاندې عواید د د انتفاعي معاملو له مالیې معاف دي:

1. د ټکټانې د راټولولو له درکه لاسته راغلي عواید،
2. د اسعارو د تبادلې څخه لاسته راغلي فیس، د بانکي حساب فعالیت او سپما، له بانکي حسابه د اماناتو په اړه معاملې او د هغوی اخیستنه، د چک یا تضمین لیکونو صادرول، د انټرنټ له لارې بانکداري، د پورونو چمتو کول یا ګروي او تدریجي کرېډټونو ارایه،
3. په راتلونکې کې، د نغدي موکول قرارداد په ټاکلې نیټه،

4. په راتلونکي کې، د موکول قرارداد عقدول او په قرارداد کې د مندرج اجناسو له فزيکي انتقال سره،
5. د هر ډول بيمې د مجدد بيمې له درکه حق البيمه،
6. د هغې ونډې ګټه چې سهم لرونکی يې د سهامي ، محدود المسؤليت يا تضامني شرکت څخه د ونډې يا د شراکت د ټکټانې له درکه اخلي،
7. د اجناسو او خدماتو له درکه لاسته راغلی عوايد ،
8. د دغه قانون په ١٢ او ١٧مه ماده کې د مندرجو خدماتو د وړاندې کولو له درکه لاسته راغلي عوايد ،
9. حقيقي شخص ته د رهايشي جايداد له کرايې يا اجارې څخه لاسته راغلي عوايد په هغه صورت کې چې مستاجر له جايداده د خپلې استوګنې په توګه په يوه مالي کال کې له ٢ مياشتو څخه ډېره استفاده کړې وي،
10. د حقيقي شخص د جايداد د خرڅلاو له درکه لاسته راغلي عوايد چې د ياد شخص د سوداګريز فعاليت له معمولي دود څخه بهر وي. دغه شان خرڅلاو په هغه صورت کې د حقيقي شخص د سوداګريز فعاليت له معمولي دوده بهر ګڼل کيږي چې دغه خرڅلاو په منظمه او دوامداره توګه ترسره نه شي.

**١.٢٥** په دې ماده کې د نوو بدلونونو لمخې، د يو شمېر منابعو عوايد د پانګه اچونې د ملاتړ لپاره، د پانګه اچونې د اسانتيا لپاره د بانکدارۍ له فعاليته ملاتړ، د هېواد له صادراتو ملاتړ او د کورنيو توليداتو د هڅولو لپاره د بيمې په برخه کې له پانګه اچونې څخه ملاتړ، د انتفاعي معاملاتو د مالياتو له ورکړې څخه معاف ګڼل شوي دي.

**٢.٢٥** په بانکونو يا مالي نهادونو کې د سپما له حسابونو يا پانګه اچونې څخه يا له بل هر شخصه د ټکټانې لاسته راغلي عوايد د انتفاعي معاملاتو د مالياتو له ورکړې څخه معاف دي.

**١ بېلګه:** نجيب الله د ملګرو ملتو په دفتر کې کار کوي چې ٢٠٠٠٠٠ افغانۍ د مياشتې معاش اخلي او د ملي بانک د سپما په حساب کې يې اچوي. ملي بانک هر کالې نجيب الله ته ٨٪ ټکټانه ورکوي. د نجيب الله عوايد د بانک د ټکټانې له درکه د انتفاعي معاملاتو د مالياتو له ورکړې څخه معاف دي.

**٢ بېلګه:** يو بانک د امانتونو له درکه په يوهٔ مالي کال کې ٢۴٠٠٠٠٠٠٠ افغانۍ لاسته راوړي. دغه لاسته راغلي امانتونه د انتفاعي معاملو د ماليې وړ عوايدو په توګه نه ګڼل کيږي. د دغو امانتونو په کار اچولو څخه د بانک لخوا ترلاسه شوې ګټه او ټکټانه د انتفاعي معاملو د ماليې وړ عوايدو په توګه نه ګڼل کيږي.

تبصره: د بانک لخوا ترلاسه شوي عوايد پر عايداتو د مالياتو د ماليې وړ عوايدو په توګه ګڼل کيږي.

**٣ بېلګه:** که چيرې يو بانک د مالي کال په اوږدو کې له خپلو پوروړو څخه د خپلو اصلي پورونو له بيا ورکړې څخه ١٣٠٠٠٠٠٠٠ افغانۍ ترلاسه کړي ، ياد شوي عوايد د ماليې وړ نه دي. ولې له يادو پورونو څخه لاسته راغلې ټکټانه پر عايداتو د مالياتو قانون د **٢٥**مې مادې د حکم لمخې د د انتفاعي معاملو د ماليې تابع ګڼل کيږي.

تبصره: د بانک لخوا ترلاسه شوې ټکټانه پر عایداتو د مالیاتو د مالیې وړ عوایدو په توګه ګڼل کیږي.

۳.۲۵ د اسعارو د تبادلې له درکه، د بانکي فعالیتونو (سپما، معیادي او نور بانکي امانات، د اقتصادي او پانګه اچونې نورو برخو لپاره د پورونو د ورکړې له لارې د بانک پانګه اچونه) له درکه، د چک صدور، د تضمین لیکونو د صدور له درکه عواید، د انټرنټ له لارې د بانکدارۍ عواید، د ګروۍ د معاملاتو له درکه عواید، د پورونو عواید او د تدریجي کرېډټ د ارایې له درکه عواید (د لټر آف کرېډټ له درکه عواید) دغه ټول عواید د انتفاعي معاملو د مالیې له ورکړې معاف ګڼل کیږي.

۱ بېلګه: جمشېد د کابل په شهزاده سرای کې د صرافۍ په چارو بوخت دی چې هر کالې ۴۰۰۰۰۰ افغانۍ عواید د اسعارو د تبادلې له درکه لاسته راوړي. یاد مبلغ د انتفاعي معاملو د مالیې له ورکړې معاف دی.

۲ بېلګه: پشتني بانک د بانکدارۍ له فعالیتونو سره سره، د اسعارو د تبادلې معاملې هم ترسره کوي. یاد بانک له دغو فعالیتونو څخه په هر کال کې خورا ډېر عواید لاسته راوړي. دغه عواید پر عایداتو د مالیاتو قانون د ۲۵مې مادې د حکم لمخې د د انتفاعي معاملو د مالیې څخه معاف ګڼل کیږي.

۳ بېلګه: د ګلستان سوداګریز شرکت د وارداتو او صادراتو د اقتصادي فعالیتونو سره بېره، لږ څه پیسې په یوه سوداګریز بانک کې د سپما په توګه اچوي. یاد شرکت د سپما له دغې معاملې څخه په هر کال کې ټکټانه لاسته راوړي. د دغه شرکت د بانکي سپما له درکه عواید د انتفاعي معاملو د مالیې تابع نه ګڼل کیږي.

۴ بېلګه: بهار ودانیز شرکت د دې لپاره چې د بهار د پېرودلو یو مرکز ورغوي، له رهني او تعمیراتي بانکه ۳۵۰۰۰۰۰ افغانۍ په کال کې د ۱۵٪ نورم د ټکټانې لمخې پور اخلي. د ۱۵٪ ټکټانې ترلاسه کول د یوه بانک لپاره هغه عواید دي چې د انتفاعي معاملو د مالیې له ورکړې معاف دي.

۴.۵۲ د راتلونکې نغدي قرارداد له صدور څخه او د راتلونکي قرارداد له عقد څخه لاسته راغلي عواید او په قرارداد کې د مندرجو اجناسو له فزیکي انتقال سره د انتفاعي معاملو د مالیې له ورکړې معاف دي.

راتلونکي قرارداد یو داسې تړون دی چې د یوې ټاکلې بیې محصولات په راتلونکي کې په یوې ټاکلې نېټه یا له هغې مخکې پېري یا یې خرڅوي. په عمومي توګه، په راتلونکې کې ترسره کېدونکي قراردادونه له مصرفي اجناسو سره اړیکه لري لکه ځانګړي خوراکي توکي (بوره، جواری، قهوه او داسې نور) د سون توکي، ګران فلزات، د خزاینو بهاداره اوراق، اسعار او داسې نور په تېره په هغه ځای کې چې غوښتنه او د اجناسو بیې د وخت په تېرېدو سره توپیر لري.

بېلګه: د سرو یو پلورونکی د جواهراتو د تولید لپاره سره په کار اچوي. دغه پلورونکی په دې اګاه دی چې د سرو بیه تل بدلون مومي او د اجناسو بیه هم بدلون مومي. د دې لپاره چې د سرو پلورونکی په راتلوکي کال کې په یوه ثابته بیه سره لاسته راوړي، د سرو له عرضه کوونکي سره په راتلونکي کال کې د یوه کیلو ګرام په مقدار او د ۵۰۰ ډالرو په بیه د في اونس (۱،۳۵ ګرام) یو تړون لاسلیک کړي. د سرو بیه په راتلونکي کال کې کېدای شي له ټاکلې بیې یا کښته یا لوړه شي، خو ورکړې له شرایطو سره سمې ترسره کیږي.

په راتلونکې کې ترسره کېدونکې قراردادونه کېدای شي د اسهامو د تبادلې طریقې ته ورته وپېژندل او خرڅ شي. دغه قراردادونه کېدای شي مخکې له تاکلې نېټې څخه د ورځې په هغه نرخ وپېژندل او خرڅ شي چې د قرارداد د عقد کولو پر مهال د سرو د ارزښت د توقع لمخې د یاد قرارداد ارزښت منعکسوي البته په هماغه وخت کې د سرو د بیې په مقایسې سره.

په راتلونکې کې له ترسره کېدونکو قراردادونو څخه په ترلاسه شوو عوایدو د انتفاعي معاملو مالیه نه پلې کیږي بلکې په راتلونکې کې له ترسره کېدونکو قراردادونو څخه په ترلاسه شوو عوایدو او پر تبادله یې پلې کیږي. د دغو قراردادونو خرڅلاو د کمېشن کارانو یا مالي نهادونو له لارې له ثابت فیس سره ترسره کیږي. د دغو کمېشن کارانو یا مالي نهادونو لخوا اخیستل شوی فیس هم د انتفاعي معاملو د مالیې نه معاف دي.

بېلګه: ABC بانک د سرو د تبادلې په یوه تړون کې برخه اخلي. یاد د دغو خدماتو د وړاندې کولو لپاره فیس اخلي. دغه فیس د انتفاعي معاملې له مالیې څخه معاف دی. ABC بانک په دې مکلف دی چې د دغه فیس د سوداګریز فعالیت په توګه پر عایداتو مالیات ورکړي.

**۵.۲۵** پر عایداتو د مالیاتو قانون د **۲۵**مې مادې د حکم لمخې، د بیمې د خدماتو د فعالیتونو او د مجددې بیمې له درکه عواید د انتفاعي معاملو د مالیې له ورکړې نه معاف دي. په دغې ماده کې له مجددې بیمې څخه مراد د بیمې د یوه شرکت په واسطه د بیمې له دویم شرکت څخه د بیمې څخه عبارت دی.

۱ بېلګه: د افغان ملي بیمې شرکت د سوځېدو او ټکر د پېښو د بیمې د خدماتو له درکه په **۱۳۸۸** کال کې **۲۵۰۰۰۰۰۰** افغانۍ عاید راټولوي چې د دغې مادې د حکم لمخې د انتفاعي معاملو د مالیې له ورکړې نه معاف دي.

۲ بېلګه: دغه پېښې له ۱ بېلګې سره ورته والی لري خو یوازې په توپیر چې پورته یاد شرکت سربېره پر دې چې د بیمې خدمات خپلو مشتریانو ته وړاندې کوي، په عیني وخت کې د بیمې د نړیوال شرکت لخوا چې د لندن د بیمې د شرکت په نامه یادیږي، بیمه شوی دی چې یاد نړیوال شرکت د افغان ملي بیمې شرکت لخوا د خدماتو په وړاندې په کال کې **۱۵۰۰۰۰۰** افغانۍ عواید ترلاسه کوي. لندن د بیمې شرکت د هغو عوایدو له درکه چې د افغان ملي بیمې شرکت څخه یې ترلاسه کوي، د انتفاعي معاملو د مالیې له ورکړې نه معاف دي.

**۶.۲۵** د **۲۵**مې مادې د ۱ بند د **۲** جز د حکم لمخې، په سهامي، محدود المسؤلیت او تضامني شرکتونو کې د اشخاصو له ونډې څخه د ونډې او ټکتانې ګټې د انتفاعي معاملو د مالیې له ورکړې نه معاف دي.

۱ بېلګه: افغان سهامي تولیدي شرکت **۵۰** تنه سهم لرونکي لري. یاد شرکت د خپلو حسابونو له تصفیې وروسته، **۵۰۰۰۰۰** افغانۍ لري چې خپلو سهم لرونکو ته یې وویشي. یاد تولیدي شرکت د سهم د ګټې موضوعي مالیه کسروي او له دې وروسته هر سهم دار ته خپله ونډه ورسپاري. د سهم لرونکو د ونډو ګټې د انتفاعي معاملو د مالیې له ورکړې نه معاف دي.

تبصره: که چېرې د یوه شرکت سهم لرونکی په خپله هم سهم لرونکی وي، د هغه سهم پر ګټې د انتفاعي معاملو مالیه چې دی یې ترلاسه کوي، د پلې کېدو وړ نه دي.

۷.۲۵ پر عایداتو د مالیاتو قانون د ۲۵مې مادې د ۷ بند د حکم لمخې، له صادراتو څخه ترلاسه شوي عواید د انتفاعي معاملو د مالیې له ورکړې نه معاف دي.

۱ بېلګه: شېر محمد سوداګریز شرکت د مېوې او سبزیو په صادرولو بوخت دی. دغه شرکت په ۱۳۸۸ کال کې د مېوې او سبزی، د صادراتو له درکه ۴۵۰۰۰۰۰۰ افغانۍ عاید لاسته راوړي. یاد شرکت مکلف دی چې خپل مالیاتي اظهارلیک او د عوایدو مالیاتي مکلفیتونه وړاندې کړي خو د انتفاعي معاملو د مالیې له ورکړې نه معاف دي.

۸.۲۵ پر عایداتو د مالیاتو قانون د ۲۵مې مادې د ۸ بند لمخې، پر عایداتو د مالیاتو قانون په ۱۲ او ۱۷مه ماده کې درج شوي عواید د معاش او مزدورۍ، د ونډې ګټې، ټکټانې، حق الامتیاز، قرعه کشۍ او بخششیانو له درکه عواید څرګندوي. له دغو سرچینو څخه ترلاسه کېدونکي عواید د انتفاعي معاملو د مالیې له ورکړې نه معاف دي.

۱ بېلګه: ذکریا په اکبر مؤسسه کې کار کوي چې د میاشتې ۲۰۰۰۰ افغانۍ عاید لاسته روا ړي چې پر عایداتو د مالیاتو قانون د د دغې مادې د حکم لمخې، د انتفاعي معاملو د مالیې له ورکړې نه معاف دي.

۲ بېلګه: په دې مثال کې ذکریا په اکبر شرکت کې چې ودانیز شرکت دی، کار کوي. ذکریا دروازې او د پخلنځي وسایل تولیدوي. اکبر شرکت له ذکریا سره د ۳۰۰۰۰۰ افغانیو په ارزښت یو قرارداد ترسره کوي چې لمخې یې دروازې او د پخلنځي وسایل دهغه کور لپاره تیار کړي چې تر رغونې لاندې دی. تادیات په مساوي قسطونو د میاشتې لمخې ورکول کېږي او دروازې او پخلنځي دواوړه په میاشت کې یو ځلې د قرارداد د شپږو میاشتو په موده کې تیارېږي. ذکریا یو خپلواک قراردادی ګڼل کېږي. د اکبر له شرکت سره د ذکریا له قرارداده عواید د هغو وسایلو په لګښتونو کې شاملېږي چې د نوموړي لخوا کارول کېږي البته د ده د کار او مهارت څخه پرته. ذکریا ټول احتمالي خطرونه پر غاړه اخلي او د ده خالص عواید چې ۳۰۰۰۰۰ افغانۍ کېږي، د انتفاعي معاملو د مالیې تابع دي.

۳ بېلګه: پېغله پلوشه چې یو نامتو تاریخ لیکونکې ده چې په دې برخه کې یو لړ کتابونه کښلي دي. د دغې تاریخ لیکونکې لخوا کښل شوي یا لیکل شوي کتابونه د خاوران خپروندویه ټولنې لخوا له چاپه راوتلي او د خرڅلاو لپاره بازار وړاندې کېږي. یاده مېرمن د کتاب له هر جلده ۱٪ حق الامتیاز له پورته یادې خپروندویې ټولنې څخه ترلاسه کوي. د یادې مېرمنې دغه عواید د انتفاعي معاملو د مالیې له ورکړې نه معاف دي.

۹.۲۵ د استوګنې د کورونو له کرایې او اجارې څخه لاسته راغلي عواید د انتفاعي معاملو د مالیې له ورکړې نه معاف دي په دې شرط چې مستاجر له یاد جایداد څخه د استوګنې لپاره په یوه کال کې له شپږو میاشتو زیاته استفاده وکړي.

۱ بېلګه: احمد ګل خپله یوه حویلۍ چې د کابل په نوي ښار کې موقعیت لري، الفت خان ته یې د میاشتې په ۱۰۰۰ افغانۍ په کرایه ورکوي. الفت خان د یادې حویلۍ څخه د استوګنې لپاره ګټه اخلي، نو په دې توګه، د دغې مادې د حکم لمخې احمد ګل د کرایې له درکه لاسته راغلي عواید یې د انتفاعي معاملو د مالیې تابع نه ګرځي.

تبصره: که چېرې مستاجر یو حقیقي شخص وي، د انتفاعي معاملو د مالیې معافیت د کور پر خاوند نه پلی کیږي. په هغه صورت کې چې خاوند یو حقیقي شخص وي، د هغه مستاجر لخوا چې حقوقي شخص ګڼل کیږي، د کرایې له درکه لاسته راغلي عواید د انتفاعي معاملو د مالیې تابع ګرځي البته په دې شرط چې د ۲۴مې مادې شرایط پوره کړي.

۱۰.۲۵ د یوه حقیقي شخص د جایداد د خرڅلاو له درکه لاسته راغلي عواید چې د سوداګرۍ له عام دوده بهر دي، د انتفاعي معاملو د مالیې نه دي. په دې مانا چې خرڅوونکی شخص خپل جایداد د سوداګریز فعالیت لپاره نه پلوري او دغه خرڅلاو په منظمه او دوامداره توګه ترسره نه شي، بلکې د اړتیا لمخې، دغه شخص خپل شته ملکیت پلوري.

۱ بېلګه: شفیق احمد خپل اپارتمان چې د کابل په مکروریانو کې موقعیت لري او له پلاره ورته په میراث پاتې دی، د اړتیا لمخې یې په ۲۵۰۰۰۰۰ افغانۍ پلوري. دا چې دغه پلور د سوداګریزې فعالیت لپاره نه دی ترسره شوی او د نوموړي فعالیت هم د اپارتمان رانیول او پلورل نه دي، د دغې مادې د حکم لمخې د انتفاعي معاملو د مالیې له ورکړې معاف دی.

۲ بېلګه: حسین علي یو ټکسي ګاډی په ۱۳۸۲ کال کې د ټکسي چلونې لپاره رانیولی وو. دا چې د یادې ټکسي موډل ډېر زوړ دی، نو غواړي چې په ۱۳۸۸ کال کې یې وپلوري. په اصل کې، د ده دنده د ګاډو رانیول او پلورل نه دي او دغه کار له کلونو وروسته ترسره کیږي. په دې توګه، پر عایداتو د مالیاتو قانون د ۲۵مې مادې د حکم لمخې، د حسین علي دغه عواید د انتفاعي معاملو د مالیې له ورکړې معاف دی.

د انتفاعي معاملو د مالیاتو نورمونه
شپږ شپېتمه ماده:

(1) د دغه قانون د ۲۴مې مادې په ۱ او ۲مه فقره کې د مندرجو اشخاصو له هر ډول انتفاعي فعالیت څخه ترلاسه شوي ۲٪ عواید (د کسراتو له وضع کېدو مخکې) پرته له هغو اشخاصو چې د دې مادې په ۲ او ۵مه فقره کې درج دي،
(2) د هوټلونو، مېلمستونونو او رستورانتونو له خدماتو څخه د ترلاسه شوو عوایدو ۲٪ (د کسراتو له وضع کېدو مخکې) چې په هره میاشت کې له هغې کچې لږ عواید ولري چې د دغه قانون د ۲۴مې مادې په ۲مه فقره کې درج ده،
(3) د هوټل او مېلمستون خدمات د دغه قانون په رڼا کې د خوب د ځای او د خدماتو (ډوډۍ، نوشابې، د جامو مینځل او مخابراتي خدمات) تهیه کول دي چې اشخاص کولای شي د لنډې مودې لپاره هلته واوسي.
(4) د هوټلونو، مېلمستونونو او رستورانتونو له خدماتو څخه د ترلاسه شوو عوایدو ۵٪ (د کسراتو له وضع کېدو مخکې) چې په هره میاشت کې له هغې کچې پورته عواید ولري چې د دغه قانون د ۲۴مې مادې په ۲مه فقره کې درج ده،
(5) د رستورانت خدمات د دغه قانون په رڼا کې د ډوډۍ او خوړو او نوشابې د خدماتو وړاندې کول دي چې د هوټل د کارکوونکو لخوا مراجعینو ته چمتو کیږي،
(6) د صالونونو او کلوپونو له خدماتو څخه چې د ودونو محافل ترسره کوي، د ترلاسه شوو عوایدو ۵٪ (د کسراتو له وضع کېدو مخکې)،
(7) د مخابراتو، هوایي ترانسپورت، هوټلونو او رستورانتونو له خدماتو څخه چې لوړ خدمات وړاندې کوي، د ترلاسه شوو عوایدو ۱۰٪ (د کسراتو له وضع کېدو مخکې)،
(8) مخابراتي خدمات او هوایي خطوط د دغه قانون په رڼا کې له هغو مخابراتي او مسافربري خدماتو (د ټلیفون، فکس او انټرنټ هر ډول خدمات) څخه عبارت دي چې د الوتنې یا پرواز پیل یې له افغانستانه وي،
(9) که چېرې د دغې مادې په ۳، ۴ او ۵مه فقره کې درج شوی مالیه ورکوونکی دا سې ادعا وکړي چې د خپلو خدماتو له درکه یې د یوې یا څو میاشتو لپاره په دغو فقرو کې د درج مالیې له کچې سره سم عواید نه دي ترلاسه کړي، مکلف دی چې دغه موضوع په رسمي توګه د مالیې وزارت ته د خپل مالیاتي اظهارلیک سره یوځای واستوي. که چېرې دغه ادعا ومنل او تایید شي، په پورته فقرو کې د درج مالیې په ورکړه مکلف نه دی. که چېرې د نوموړې ادعا ناسمه جوته شي، د دغې مادې په ۳، ۴ او ۵مه فقره کې د درج شوی مالیې په ورکړه سربېره، د دغه قانون د ۹۸مې مادې د ۲ فقرې د حکم لمخې د اضافي مالیې پر ورکړه هم مکلف دی، او
(10) د مالیې وزارت د دې لپاره چې دغه ماده په سمه توګه پلې او معیارونه یې وټاکل شي، یو طرزالعمل رامنځته او عملي کوي یې.

۱.۲۲ له کسراتو مخکې، د هغو حکمي او حقیقي اشخاصو لخوا چې په هره ربعه کې یې عواید ۷۵۰۰۰۰ افغانۍ یا له دې ډېر وي، د اجناسو او خدماتو د خرڅلاو له درکه لاسته راغلي عواید د انتفاعي معاملو د ۲٪ مالیې تابع ګرځي مګر دا چې پر عایداتو د مالیاتو قانون ۲۲مه ماده په بل ډول حکم وکړي.

۱ بېلګه: يو افغان سهامي شرکت په چين کې له يو نا اړوند سهامي شرکت څخه برقي جنراتورونه رانيسي. افغان سهامي شرکت نوموړي جنراتورونه په افغانستان کې پر خپلو پېرودونکو باندې پلوري. د جنراتورونو له پلور څخه لاسته راغلي عوايد له انتفاعي معاملو څخه د ترلاسه شوو عوايدو په توګه ګڼل کيږي او د انتفاعي معاملو ماليې تابع ګرځي.

۲ بېلګه: يو افغان سهامي شرکت په چين کې له يو سهامي شرکت څخه برقي جنراتورونه رانيسي او په ايران کې يې پر يو نا اړونده ډلې باندې پلوري. سره له دې چې جنراتورونه د شرکت لخوا په ايران کې پلورل شوي دي، د جنراتورونو له پلور څخه لاسته راغلي عوايد له انتفاعي معاملو څخه د لاسته راغلو عوايدو په توګه ګڼل کيږي.

۳ بېلګه: يو افغان سهامي شرکت په چين کې له يو نا اړونده توليد کوونکي څخه د موټرو پرزې رانيسي او د سلنسر هر واحد ورته په ۳۵۰۰۰ افغانۍ تمام شوی دې. نوموړی شرکت د سلنسر هر واحد په ۴۰۰۰۰ افغانۍ پلوري. ټولې لاسته راغلې ۴۰۰۰۰ افغانۍ له انتفاعي معاملو څخه د لاسته راغلو عوايدو په توګه ګڼل کيږي او د 2 ٪ انتفاعي معاملو ماليې تابع ګرځي. د پلورل شوو اجناسو د لګښت لپاره مجرايي جواز نه لري.

۴ بېلګه: يو افغان شرکت د ځمکې له خاوند سره موافقه کوي چې د کابل په وزيراکبرخان مينه کې د هغه د ځمکې د آبادولو لپاره ساختماني خدمات ترسره کړي. نوموړی شرکت د ځمکې له خاوند سره موافقه کوي چې په نوموړې ځمکه باندې يو څلور پوړيزه وداني جوړه کړي. د ځمکې مالک او شرکت د ودانۍ د ابادولو په موخه ترخپل منځ کوم قرارداد نه ليکلی. هغه عوايد چې د شرکت لخوا د ودانۍ له جوړولو څخه لاس ته راځي د انتفاعي معاملو څخه د لاس ته راغلو عوايد و په توګه ګڼل کيږي او د 2 ٪ انتفاعي ماليې تابع ګرځي.

۵ بېلګه: خالد يو انفرادي سوداګر او د وارداتو او صادراتو په چارو بوخت دی. په ۱۳۸۸ کال کې، نوموړی سوداګر د راز راز توکو د صادراتو او وارداتو له درکه ۲۵۰۰۰۰۰ افغانۍ عوايد ترلاسه کوي چې دغه عوايد د ۲۵۰۰۰۰۰ افغانيو له درکه د انتفاعي معاملو د ۲٪ ماليې تابع ګرځي.

۶ بېلګه: عبدالصبور په هرات ولايت کې د مبايلونو د مغازې خاوند دی. دی د ۱۳۸۸ کال په څلور واړو ربعو کې د مبايلونو د خرڅلاو له درکه په لاندې توګه عوايد ترلاسه کوي:

| | | | |
|---|---|---|---|
| لومړنۍ ربعه: | ۸۵۰۰۰۰ افغانۍ | دويمه ربعه: | ۹۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| دريمه ربعه: | ۸۸۰۰۰۰ افغانۍ | څلورمه ربعه: | ۹۲۰۰۰۰ افغانۍ |

پورته ناخالص عوايد پر عايداتو د مالياتو قانون د ۲۴ او ۲۲مې مادې د حکم لمخې، د انتفاعي معاملو د ۲٪ ماليې تابع ګرځي.

۷ بېلګه: يو بانک چې له پورونو څخه د ټکټانې له درکه، د لاسته راغلو عوايدو، د اسعارو د تبادلې، د بانکي حسابونو له ترسره کېدو او د چک له صدور او د اعتبارنامې له ورکولو څخه چې کوم عوايد ترلاسه کوي، د دغه قانون د ۲۵مې مادې د حکم لمخې د انتفاعي معاملو د ماليې له ورکړې معاف دی او له نورو منابعو

ځخه د بانک عواید لکه د بانک د چک د کتابچې پلور، د پانګه اچونې یا د اماناتو د صندوق په اړه د سلا او مشورې له درکه د انتفاعي معاملو د ۲ ٪ مالیې تابع ګرځي.

۲.۲۲ د هغو شرکتونو ترمنځ د معاملو عواید چې د پلور او کمېشن په موخه اجناس ترلاسه کوي او د هغو شرکتونو ترمنځ چې د پلور په موخه اجناس رانیسی، د انتفاعي معاملو د ٪۲ مالیې ته تابع دي.

۱ بېلګه: د سفر کولو یوه نمایندګي د مختلفو هوايي شرکتونو ټکټونه پلوري او د هر پلورل شوي ټکټ په بدل کې د کمېشن په توګه یو مبلغ ترلاسه کوي. نوموړې شرکت همدارنګه د خرڅلاو له درکه د کمېشن په بدل کې د سوغات امانتي اجناس پلوري. دغه راز، یاده نمایندګي په خپله د بیا پلور لپاره کوم اجناس رانیسي، بیا یې هم پلوري. د سفر نوموړې نمایندګۍ د ټکټ د پلور له درکه له مجموعي عوایدو ځخه د انتفاعي معاملو ٪۲ مالیه ورکوي. پورته شننو او توضېحاتو ته په پام سره، یاده نمایندګي د ۱۳۸۸ کال په لومړۍ ربعه کې له بېلابېلو سرچینو ځخه په لاندې توګه عواید ترلاسه کوي او د د انتفاعي معاملو د مالیې په ورکړه مکلفه ده:

۲۵۰۰۰۰ افغانۍ - (منفي) پر خرڅ شوو ټکټونو د کمېشن له درکه ترلاسه شوي عواید

۱۰۰۰۰۰ افغانۍ - (منفي) پر خرڅ شوو سوغاتي اجناسو د کمېشن له درکه ترلاسه شوي عواید

۱۲۰۰۰۰ افغانۍ - (منفي) د اجناسو د بیا خرڅلاو له درکه ترلاسه شوي عواید

د انتفاعي معاملو د تادیې وړ مالیه = ۴۷۰۰۰۰افغانۍ x ٪۲ =۹۴۰۰

۲ تبصره: که څه هم د سفر نمایندګۍ د هوایي شرکتونو د ټکټونو له پلور ځخه د لاسته راوړې کمېشن له درکه د انتفاعي معاملو د ۲ ٪ مالیې تابع ګرځي، پر عایداتو د مالیاتو قانون د ۲۲مې مادې د ۵مې فقرې سره سم، هوايي شرکتونه په خپله هم د ټکټونو له پلور ځخه د ترلاسته شوو عوایدو له درکه د انتفاعي معاملو د ۱۰ ٪ مالیې تابع ګرځي البته که د د پرواز سرچینه په افغانستان کې وي.

۳.۲۲ هغه عواید چې د عامه تفریح ځایونو لکه سینما، تیاتر، کنسرتونو، ننداراتونونو او لوبو ځاینو ته د ننوتو د ټکټ له پلورلو ځخه لاس ته راځي د انتفاعي معاملو ځخه د لاس ته راغلو عوایدو په توګه ګڼل کیږي او د ٪۲ مالیې تابع دي.

۱ بېلګه: یو افغان شرکت په ښهر نو کې یو سینما لري او د هر ټکټ د پلور په بدل کې ۱۵۰ افغانۍ لاسته راوړي. هغه عواید چې د ټکټونو له پلورلو ځخه لاس ته راځي د انتفاعي معاملو ځخه د لاس ته راغلو عوایدو په توګه ګڼل کیږي او د انتفاعي معاملو د مالیې تابع ګرځي. دا چې په تیاتر کې ګډون کوونکي افغانان دي او که نه د مالیې له موضوع سره تړاو نه لري.

۴.۲۲ هغه شخص چې د اجناسو د خرڅلاو له درکه البته پرته له مسترد شوو اجناسو، عواید ترلاسه کوي، د خپلو عوایدو له درکه د انتفاعي معاملو د ٪۲ مالیې په ورکولو مکلف دی. د پېرودونکو لخوا مسترد شوي اجناس د لګښت په توګه نه بلکې د مسترد شوي خرڅلاو په ډول بلل کیږي. بیا ورکړه چې د مسترد

شوو اجناسو له کبله ورکول کيږي، د انتفاعي معاملو د ۲٪ ماليه له پلې کېدو مخکې د عوايدو له مجموعي څخه تفريق کيږي.

بېلګه: د سرويس موټرو يو ګرځندوی شرکت د مسافرينو د کرايې له درکه مکلف دی چې د انتفاعي معاملو د ماليې تابع ګرځي. که چيرې د کرايې مجموعي عوايد په يوه کال کې ۲۵۰۰۰۰۰ افغانۍ وي، خو د ګرځندوی د يوې ډلې د لغوه کېدول لکبله، د ټکټونو عوايد چې ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ کيږي، بېرته مستردېږي. ټول عوايد منفي مسترد شوی مبلغ د انتفاعي معاملو د ماليې تابع دی.

| | |
|---|---|
| د مسافرينو د کرايې له درکه ټول عوايد | ۲۵۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| منفي مسترد شوی مبلغ | ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| د انتفاعي معاملو د ماليې تابع عوايد | ۲۳۰۰۰۰۰ افغانۍ |

**5.۲۲** پر عايداتو د مالياتو قانون د ۲۲مې مادې د ۲ فقرې سره سم، هغه هوټلونه او رستورانتونه چې په هره ربعه کې له ۷۵۰۰۰۰ افغانيو څخه لږ عايد ولري مخکې له دې چې هر ډول کسرات وضع شي، د انتفاعي معاملو د ۲٪ ماليې تابع دي.

۱ بېلګه: روزي خان د کابل ښار په ميوند جاده کې يو رستورانت لري چې د ۱۳۸۸ کال په لومړۍ ربعه کې د خپلو تهيه شوو خواړو د خرڅلاو له درکه په هره مياشت کې په لاندې توګه عوايد ترلاسه کوي: د وري په مياشت کې ۱۴۵۰۰۰ افغانۍ، د غويي په مياشت کې ۲۲۰۰۰ افغانۍ او د غبرګولي په مياشت کې ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ. د مياشتنيو عوايدو لمخې، د ياد رستورانت ماليه په لاندې توګه سنجول کيږي:
د غبرګولي عوايد ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ + د غويي عوايد ۲۲۰۰۰ افغانۍ + د وري عوايد۱۴۵۰۰۰ افغانۍ = مجموعي عوايد

د رستورانت د مياشتنيو عوايدو لمخې، ماليه په لاندې توګه محاسبه کيږي:

د ربعې مجموعي عوايد = ۱۴۵۰۰۰+ ۲۲۰۰۰۰ +۲۰۰۰۰۰= **۵۲۵۰۰۰**

د انتفاعي معاملو د تاديې وړ ماليه = **۵۲۵۰۰۰** x ۲٪ = ۱۱۳۰۰ افغانۍ

۲ بېلګه: د کابل هوټل او مېلمستون چې په کابل ښار کې موقعيت لري د خوړو د خرڅلاو او د کرايي خونو د کرايې له درکه د ۱۳۸۸ کال په دويمه برخه کې په ترتيب سره د چنګاښ په مياشت کې ۲۲۵۰۰۰ افغانۍ، په زمري مياشت کې ۲۴۳۰۰۰ افغانۍ او په وږي مياشت کې ۲۵۰۰۰۰ افغانۍ عوايد ګټي. د ياد هوټل مسول پر عايداتو د مالياتو قانون د ۲۲مې مادې د ۲ فقرې د حکم سره سم، د خپلو ټولو عوايدو له درکه مکلف دی چې د هر ډول کسراتو له وضع کېدو مخکې د انتفاعي معاملو ۲٪ ماليه سنجش کړي او د دغه قانون د ۸۸مې مادې د ۵مې فقرې له حکم سره سمه ماليه تاديه کړي.

د ربعې ټول عوايد = ۲۲۵۰۰۰ افغانۍ + ۲۴۳۰۰۰ + ۲۵۰۰۰۰ = ۷۱۸۰۰۰ افغانۍ په يوې ربعه کې د انتفاعي معاملو مالياتي مکلفيت = ۷۱۸۰۰۰ افغانۍ x ۲٪ = ۱۴۳۶۰ افغانۍ

تبصره: په لومړۍ بېلگه کې، په میوند جاده کې د مېشت رستورانت خاوند چې یو حقیقي شخص دی، د نوموړي له رستورانته ترلاسه شوي عواید په کال کې د هرې ربعې لپاره له ۷۵۰۰۰ افغانیو څخه لږ دي. که چېرې دی د ۷۴ او ۷۵مې مادې سره سم د ثابتو مالیو لاره غوره کړي، مکلف نه دی چې له رستورانته د ترلاسه شوو عوایدو له درکه د انتفاعي معاملو مالیات ورکړي خو د دې پر ځای، دی مکلف دی چې د عوایدو مالیې په بدل کې ثابته مالیه او په پر عایداتو د مالیاتو قانون په ۲۸مه ماده کې د مندرجو انتفاعي معاملو مالیات ورکړي.

۶.۲۲ پر عایداتو د مالیاتو قانون د ۲۲مې مادې د ۳ فقرې د حکم سره سم، هغه هوټلونه، مېلمستونونه او رستورانتونه چې په هره میاشت کې له ۷۵۰۰۰ افغانیو څخه ډېر عواید ولري مخکې له دې چې هر ډول کسرات وضع شي، د انتفاعي معاملو ۵٪ مالیاتو ته تابع گرځي.

۱ بېلگه: شاندېز رستورانت چې د کابل ښار په وزیر اکبر خانه مېنه کې مېشت دی د ۱۳۸۸ کال په لومړۍ ربعه کې په ترتیب سره په وري میاشت کې ۲۶۵۰۰۰ افغانۍ، په غویي میاشت کې ۲۸۵۰۰۰ افغانۍ او په غبرگولي میاشت کې ۲۵۱۰۰۰ افغانۍ عواید لاسته راوړي، د قانون د ۲۲مې مادې د ۳ فقرې د حکم سره سم، د انتفاعي معاملو مالیات په لاندې توگه سنجش کېږي:

۲۶۵۰۰۰ افغانۍ + ۲۸۵۰۰۰ +۲۵۱۰۰۰ = ۸۰۱۰۰۰ = د لومړۍ ربعې ټول عواید په افغانیو

۸۰۱۰۰۰ x ۵٪ = ۴۰۰۵۰ = د لومړۍ ربعې د انتفاعي معاملو مالیات

۲ بېلگه: میوند هوټل او مېلمستون چې په هرات ولایت کې موقعیت لري، د خوړو او د مسافرینو د استوگنې لپاره د کرایې خونو خدماتو د چمتو کولو سربېره، د ټلیفون، جامو مینځلو او نوشابو خرڅولو خدمات هم وړاندې کوي. د ۱۳۸۸ مالي کال په درېیمه ربعه کې، یاد هوټل په ترتیب سره په تلې میاشت کې ۳۸۷۵۰۰ اافغانۍ، په لړم میاشت کې ۳۹۸۵۰۰ افغانۍ او په لیندۍ میاشت کې ۳۷۵۲۰۰ افغانۍ عواید ترلاسه کوي. یاد عواید په لاندې توگه د انتفاعي معاملو د مالیې تابع گرځي:

په درېیمه ربعه کې د مالیې تابع ټول عواید = ۳۸۷۵۰۰ افغانۍ + ۳۹۸۵۰۰ افغانۍ ۳۷۵۲۰۰+ = ۱۱۶۱۲۰۰ افغانۍ.

په درېیمه ربعه کې د انتفاعي معاملو د تادیې وړ مالیه = ۱۱۶۱۲۰۰ افغانۍ x ۵٪ = ۵۸۰۸۰ افغانۍ.

۳ بېلگه: میوند رستورانت چې د کابل ښار په نوي ښار کې موقعیت لري، د برگر، شیریخ، ژالې، ایس کریم او داسې نورو خدمات پېرودونکو ته وړاندې کوي. یاد رستورانت د ۱۳۸۸ کال په لومړۍ ربعه کې په ترتیب سره عواید ترلاسه کوي. په اوري میاشت کې ۲۹۵۰۰۰ افغانۍ، په غویي میاشت کې ۳۲۵۰۰۰ افغانۍ او غبرگولي میاشت کې ۳۵۰۰۰۰ افغانۍ عواید ترلاسه کوي. یاد عواید په لاندې توگه د انتفاعي معاملو د مالیې تابع گرځي

له پورته عوايدو څخه په لاندې توګه ماليه وضع کيږي:

د اوري مياشت عوايد + د غويي مياشت عوايد + د غبرګولي عوايد = ۹۷۰۰۰۰ افغانۍ

د انتفاعي معاملو د تاديې وړ ماليه = ۹۷۰۰۰۰ افغانۍ x ٪۵ = ۴۸۵۰۰ افغانۍ.

7.۲۲ د ودونو د محافلو د صالونونو او کلوپونو د عوايدو مجموعه چې په عام ډول د ودونو د رستورانت په نامه ياديږي، د ۲۲مې مادې د ۴ فقرې د حکم لمخې د عوايدو د ټاکلي حد څخه پرته له خپلو مجموعي عوايدو څخه د هر ډول کسراتو له وضع کېدو مخکې د انتفاعي معاملو د ٪۵ ماليې تابع ګرځي.

بېلګه: شام پاريس رستوارنت چې په کابل ښار کې موقعيت لري د ودونو، شيرينخورۍ او داسې نورو محافلو د ترسره کېدو له درکه د ۱۳۸۷ کال په ۴مه ربعه کې په دې ترتيب سره عوايد ترلاسه کړي دي: په مرغومي مياشت کې ۵۰۰۰۰۰۰ افغانۍ، په سلواغې مياشت کې ۵۵۴۵۰۰۰ افغانۍ او په کب مياشت کې ۴۸۰۰۰۰۰ افغانۍ. د شام پاريس رستورانت خاوند د پورتني حکم لمخې مکلف دی چې د هر ډول کسراتو له وضع کېدو مخکې له خپلو مجموعي عوايدو څخه د انتفاعي معاملو ٪۵ ماليه سنجش او تاديه کړي. د رستورانت د پورته عوايدو له درکه د انتفاعي معاملو ماليه په لاندې توګه محاسبه کيږي:

د مرغومي مياشت عوايد + د سلواغې مياشت عوايد + د کب مياشت عوايد = د ماليې تابع ټول عوايد.

۵۰۰۰۰۰۰ + ۵۵۴۵۰۰۰ + ۴۸۰۰۰۰۰ = ۱۵۳۴۵۰۰۰ افغانۍ

۱۵۳۴۵۰۰۰ افغانۍ x ٪۵ = ۷۶۷۲۵۰ افغانۍ د پورته عوايدو څخه د انتفاعي معاملو ماليه
په ۴مه ربعه کې، شام پاريس هوټل مکلف دی چې د انتفاعي معاملو ماليه ۷۸۷۲۵۰ افغانۍ ورکړي.

8.۲۲ پر عايداتو د ماليات قانون د ۲۲ مې مادې د ۵ فقرې د حکم لمخې، د مخابراتي خدماتو، د هوايي ترانسپورت خدمات، د هوټل او رستورانتونو لوړ او معياري خدماتو له درکه ترلاسه شوي عوايد د انتفاعي معاملو ٪۱۰ ماليې ته تابع دي. په دې وروستيو بدلونونو کې د ٪۱۰ مالياتو د ټاکلو لپاره کوم مالياتي حد په پام کې نه دی نيول شوی. په دې توګه، د دغه قانون د ۲۲مې مادې په ۵ فقره کې د مندرجو خدماتو له درکه ټول ترلاسه شوي عوايد د هر ډول کسراتو له وضع کېدو مخکې د ٪۱۰ نورم لمخې د انتفاعي معاملو د ماليې تابع کيږي.

د هغو هوټلونو او رستورانتونو د پېژندلو لپاره چې معياري او د لوړ کيفيت خدمات وړاندې کوي او له دې درکه د ٪۱۰ نورم لمخې د انتفاعي معاملو د ماليې تابع دي، بايد لاندې ځانګړنې او معيارونه په نظر کې ونيول شي:

1. هوټلونه او رستورانتونه بايد د سه ستاره يا له دې پورته معيار او شرايط ولري،
2. هوټلونه او رستورانتونه چې د مرکز ګرمۍ، ټليفون او انټرنټ او کاليو مينځلو خدمات، د دوو يا زياتو ډولونو لرونکي کيفيت خواړو اسانتياوې ولري، او

3. د دغو هوټلونو او رستورانتونو مراجعين هغه اشخاص وي لکه بهرنيان، ګرځندويان، سوداګر او داسې نور اشخاص چې ډېر عوايد ولري.

۱ بېلګه: افغان هوايي شرکت د خپلو کورنيو او بهرنيو الوتنو له درکه چې پيل يې له افغانستانه وي، په ۱۳۸۸ کال کې ۸۵۲۸۵۲۰۰۰ افغانۍ عوايد لاسته راوړي. ياد عوايد د انتفاعي معاملو د ۱۰٪ ماليې تابع دي. د افغان هوايي شرکت انتفاعي ماليات د پورتنيو عوايدو له درکه په ربعه واره توګه سنجش کيږي او د دولت ځانګړي بانکي حساب ته سپارل کيږي.

۲ بېلګه: ښاري هوټل چې په کابل ښار کې يو ډېر نامتو هوټل دی، په ځانګړې توګه بهرنيو اتباعو ته د لوړ کيفيت خدمات وړاندې کوي. ښاري هوټل د خپلو خدماتو د وړاندې کولو له درکه لکه (خواړه، د خونو کرايه، ټليفون، انټرنټ او داسې نور خدمات) د ۱۳۸۸ کال په لومړۍ ربعه کې په هره مياشت کې په ترتيب سره په وري مياشت کې ۴۵۲۵۰۰۰ افغانۍ، په غويي مياشت کې ۵۲۰۰۰۰۰ افغانۍ او په غبرګولي مياشت کې ۵۵۰۰۰۰۰ افغانۍ عوايد لاسته راوړي. ياد عوايد د قانون د ۲۲مې مادې د ۵ فقرې سره سم، د انتفاعي معاملو د ۱۰٪ ماليې تابع دي چې په لاندې ډول محاسبه کيږي:

د اوري مياشت عوايد + د غويي مياشت عوايد + د غبرګولي عوايد = ۱۵۲۲۵۰۰۰ افغانۍ

د تاديې وړ انتفاعي ماليه = ۱۵۲۲۵۰۰۰ افغانۍ x ۱۰٪ = ۱۵۲۲۵۰۰ افغانۍ

۳ بېلګه: هندوکش مخابراتي شرکت د خپلو مخابراتي خدماتو له درکه لکه د کرېډټ کارت، د ټليفوني اړيکو اجرا او انټرنټي اسانتياوو د خرڅلاو څخه په مالي کال کې ۵۰۰۰۰۰۰۰ افغانۍ او د سيم کارت او ټليفون د سيټ له درکه ۲۵۰۰۰۰۰۰ افغانۍ عوايد لاسته راوړي. ياد شرکت د ټليفوني خدماتو له درکه (د ټليفوني اړيکو اجرا او انټرنټي اسانتياوو د خرڅلاو څخه) د ۱۰٪ انتفاعي ماليې تابع او د سيم کارت او ټليفون د سيټ د عوايدو له درکه د ۲٪ انتفاعي ماليې تابع دي. هندوکش مخابراتي شرکت مکلف دی چې خپل انتفاعي ماليات سنجش او د دولت بانکي حساب ته يې وسپاري.

۹.۲۲ که چېرې پر عايداتو د مالياتو قانون د ۲۲ مې مادې په ۷ فقره کې د درج شوو اشخاصو عوايد د يوه مالي کال په يوې يا څو مياشتو کې له هغې مشخصې کچې څخه لږ وي، د لړوالي له عواملو سره دې يوځای اړونده ادارې ته خبر ورکړي چې د اړوندې مالياتي ادارې لخوا يې په اړه څېړنه او تصديق وشي.

تبصره: پر عايداتو د مالياتو قانون د ۹۳ مې مادې د ۵ فقرې د حکم لمخې، د انتفاعي معاملو ماليات په ربعه واره توګه د بلې ربعې د راتلونکې مياشتې تر ۱۵مه د دولت ځانګړي حساب ته سپارل کيږي.

**د انتفاعي معاملو د مالياتو پلي کول**

**اووه شپیتمه ماده:**

(1) له ټولو ترلاسه شوو عوایدو څخه د انتفاعي معاملو مالیه پرته له دې چې مالیه ورکوونکی د روان کال یا تېرو کلنو په اوړدو کې تاوان کړی یا ګټه، د تادیې وړ دي.

(2) هغه مبالغ چې د انتفاعي معاملو د مالیې له درکه ورکړل شوې، د اړوند کال د مالیې وړعایداتو د سنجولو په وخت کې د لګښت د قلم په توګه د مجرایي وړ دي.

(3) د دې قانون د ۲۴ مادې په ۳ فقرې کې درج مالیه د مالیې وړعایداتو د سنجولو په وخت کې د مجرایي وړ دي. که چېرې ورکړل شوی مبلغ د تادیې وړ انتفاعي معاملې د مالیې څخه ډېر وي، اضافي مبلغ په راتلونکو دورو کې د مجرایي وړ نه دی.

۱.۲۷ د انتفاعي معاملو د تادیې وړ مالیې مقدار په دې نه اغېزمن کېږي چې مالیه ورکوونکي په روان کال کې په خپل انتفاعي خدماتو کې ګټه یا تاوان کړی. د مالیې د مبلغ اندازه د شرکت د ټولو عوایدو لمخې په مالي کال کې ټاکل کېږي.

بېلګه: الف شرکت د یوه مالي کال په ترځ کې ۵۰۰۰۰ افغانۍ ټول عواید لاس ته راوړي او د انتفاعي معاملو د مالیې تابع هم دی، خو په همدې مالي کال کې ۱۵۰۰۰ افغانۍ تاوان وراوړي. نوموړي شرکت همدارنګه په بل مالي کال کې د تېر کال د تاوان په اندازه عواید ترلاسه کړي چې د انتفاعي معاملو د مالیې تابع دی. یاد شرکت د تاوان پر ځای ۱۵۰۰۰ افغانۍ ګټه کړې ده. په دواړو حالاتو کې شرکت یوشان انتفاعي مالیه د ټولو عوایدو له درکه چې ۵۰۰۰۰ افغانۍ کېږي تادیه کوي. دا چې ګټه ډېره ده که تاوان د انتفاعي معاملو پر مالیه کومه اغېزه نه بښندي.

۲.۲۷ پر عایداتو د مالیاتو قانون د ۲۷مې مادې د ۲ فقرې لمخې، د انتفاعي معاملو مالیه د یوه تشبث د عادي او لازمي لګښت په توګه ګڼل کېږي او د عوایدو د مالیاتي مکلفیت د محاسبې پرمهال له مالیې وړ عوایدو څخه مجرا کېږي.

بېلګه: یو افغان سهامي شرکت کورونو رنګوي او په یوه کال کې ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ عواید ترلاسه کوي. یاد شرکت د معاشونو له درکه ۴۰۰۰۰ افغانۍ او د نورو لګښتونو له درکه یې ۲۵۰۰۰ افغانۍ لګولي دي. یاد افغان سهامي شرکت خپل د مالیې وړ عواید په لاندې توګه محاسبه کوي:

| | |
|---|---|
| مجموعي عواید | ۱۰۰۰۰۰ |
| اداري او عملیاتي لګښت | ۴۰۰۰۰ |
| عملیاتي لګښت | ۲۵۰۰۰ |
| د انتفاعي معاملو مالیه | ۲۰۰۰ |
| د مجرایي وړ ټول لګښت | ۶۷۰۰۰ |
| پر عایداتو د مالیې وړ عواید | ۳۳۰۰۰ |

۳.۲۷ د انتفاعي معاملو هغه ماليه چې په ګمرکاتو کې له وارداتي اموالو څخه اخيستل کيږي، د انتفاعي معاملو د مالياتو د سنجول شوي مکلفيت پر وړاندې په اړونده مالي کال کې د مجرايي وړ ده. که چېرې د انتفاعي معاملو ماليه چې له وارداتي اموالو څخه اخيستل کيږي په مالي کال کې د انتفاعي مالياتو له مکلفيته ډېر وي، دغه اضافي مبلغ په راتلونکي مالي کال کې د مجرايي ماليې په توګه د انتقال وړ وي. خو د ورکړل شوو انتفاعي مالياتو مجموعه پر عايداتو د مالياتو لپاره د ماليې وړ عوايدو د سنجش پرمهال د مجرايي وړ مصرف په توګه ګڼل کيږي.

بېلګه: امېد سوداګريز شرکت په ۱۳۸۸ مالي کال کې د **۵۰۰۰۰۰** افغانيو په ارزښت له بهر ملکه البسه او جامې واردوي. د ياد شرکت ګمرکي محصولات د پورت يادو جامو د واردولو له درکه **۴۰۰۰۰** افغانۍ کيږي. د پورته يادو توکو انتفاعي ماليات په لاندې توګه سنجش کيږي:

واردات **۵۰۰۰۰۰** + ګمرکي محصولات **۴۰۰۰۰** = د انتفاعي معاملو د مالياتو لپاره د وارداتو ارزښت، **۵۴۰۰۰۰** افغانۍ

امېد شرکت له وارد شوو توکو څخه د ۸۰۰۰۰۰ افغانيو په ارزښت اموال پلوري.
د انتفاعي معاملو د ماليې مکلفيت په لاندې توګه محاسبه کيږي:

۸۰۰۰۰۰ افغانۍ x ۲٪ = ۱۶۰۰۰ افغانۍ

د **۲۷**مې مادې د **۳** فقرې د حکم سره سم، د ۱۰۸۰۰ افغانيو تاديه شوی مبلغ د انتفاعي معاملو د ماليې په مقابل کې چې ۱۶۰۰۰ افغانۍ دي، د مجرايي وړ ګڼل کيږي. امېد سوداګريز شرکت مکلف دی چې د **۵۲۰۰** افغانيو توپير د انتفاعي معاملو د ماليې د فورمې د سپارلو پرمهال تاديه کړي.

تبصره: امېد سوداګريز شرکت د تاديه شوې انتفاعي معاملو ماليې په مقابل کې پر عايداتو د مالياتو مستحق ګرځي. په دې توګه، ياد شرکت مستحق دی چې د ماليې وړ خالصو عوايدو د سنجش پرمهال د ۱۶۰۰۰ افغانيو د مجرايي غوښتنه وکړي.

# يوولسم فصل

## ثابت مالیات

## له ۶۸ مادې نه تر ۷۶ پورې

**د ثابتو مالیاتو تابع انتفاعي فعالیتونه**
**اته شپېتمه مادﻪ:**
**هغه اشخاص چې د دې فصل په حکمونو کې درج انتفاعي فعالیتونه ترسره کوي، پر عایداتو د مالیاتو او انتفاعي مالیاتو پر ځای د ثابتو مالیاتو د ورکړې تابع دي.**

۱.۲۸ په عمومي ډول ثابت مالیات پرعایداتو باندې د مالیاتو او د انتفاعي مالیاتو پرځای وضع کیږي. له دې سره سره، د دې فصل ټولې مادې پر عایداتو باندې د مالیاتو او د انتفاعي مالیاتو پرځای د ثابتې مالیې د وضع کېدو په اړه حکم نه کوي. سربېره پر دې، ټول ثابت مالیات وروستني مالیات نه دي. یو شمېر ثابت مالیات پر عایداتو باندې د مالیاتو او د انتفاعي مالیاتو د کلنۍ تادیې لپاره د مجرایي په توګه ورڅخه کار اخیستل کیږي. د دغه فصل مادې د ثابتې مالیې ماهیت او حدود ټاکي.

۲.۲۸ کیدای شي چې ثابت مالیات پر انفرادي اشخاصو، شراکتونو، محدودالمسؤلیت او سهامي شرکتونو باندې تطبیق کړل شي.

**د ثابتو مالیاتو ورکړې**
**نهه شپېتمه ماده:**
**د مالي کال په ترڅ کې ثابته مالیه د ورکړې وړ ده مګر دا چې په قانون کې په بل ډول حکم شوی وي.**

۱.۲۹ په دې اړه د زیاتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره چې په دغه فصل کې درج ثابت مالیات کوم وخت د ذمت مالیه او د ورکړې وړ ده، په لومړۍ مرحله کې هغې اړوندې مادې ته مراجعه وکړۍ چې ثابت مالیات په کې تشریح شوي دي. که چیرې نوموړې ماده په دې اړه صراحت ولري چې نوموړې مالیه باید کله وضع او تادیه کړل شي، نو په دغه صورت کې ۹۳مې مادې ته مراجعه وکړۍ.

د وارداتي مالونو ثابته ماليه
اويايمه ماده:

(1) هغهٔ اشخاص چې د سودا ګریز جواز لرونکي دي او د مالونو په واردولو لاس پورې کوي، د هغو د ګمرکي محصول په شمول د وارد شوو مالونو د تمامې شوې بیې ٪۲ ثابته مالیه ورکوي. ورکړل شوې مالیه د هغوی پر کلنیو عایداتو باندې د مالیاتو د مخه ورکړې په توګه ګڼل کیږي او دغه ډول ورکړې ، د دې قانون د حکمونو لمخې ، د نومړو اشخاصو د تادیاتي مکلفیت په وړاندې په پام کې نیول کیږي.

(2) هغه اشخاص چې د سوداګریز جواز له لرلو پرته د مالونو په واردولو لاس پورې کوي، پرعایداتو باندې د مالیاتو په عوض د هغو ګمرکي محصول په شمول د واردو شوو مالونو د تمامې شوې بیې په سلو کې د دریو ثابتې مالیې د ورکړې تابع دي.

(3) هغه اشخاص چې مؤقت سوداګریز جواز لیک لري، د سوداګریزو مالونو په واردولو لاس پورې کوي او مالیاتي اظهارلیک د مالیې وزارت ته نه وړاندې کوي ، پرعایداتو باندې د مالیاتو په عوض د هغو د ګمرکي محصول په شمول د واردو شوو مالونو د تمامې شوې بیې په سلو کې د دریو ثابتې مالیې د ورکړې تابع ګڼل کیږي.

(4) د دې مادې په فقرو کې درج مالیات په هغهٔ ګمرک کې اخستل کیږي چې مالونه هلته محصول کیږي.

۱.۷۰ هغه مالیه ورکوونکي چې سوداګریز جواز لري د خپلو وارداتي توکو له درکه د مالیې تابع دي. نومړې مالیه د وارد شوو توکو له ٪۲ فیصدو سره برابره ده. دغه ٪۲ فیصده مالیه پرعایداتو باندې د ذمت مالیې له وړاندې څخه ورکړه ( پیش پرداخت ) ده او د ورکړې وړ ده. کیداشي دغه مالیه د مالیه ورکوونکي له مالیاتو څخه لږ او یا ډېره وي. د وارد شوو توکو د ۲ ٪ مالیې ورکړه د مالیاتي اظهار لیک له وړاندې کولو څخه مالیه ورکوونکی نه معاف کوي.

۱ بېلګه: یو افغان سهامي شرکت د ۱۳۸۵ لمریز کال په اوږدو کې د ۲۰۰۰۰۰۰ افغانیو په ارزښت اجناس وارد کړي دي. ګمرګي محصولات هم په ۲۰۰۰۰۰۰ افغانیو کې شامل دي. نوموړی شرکت باید د ګمرکي محصولاتو برسیره ۴۰۰۰۰ افغانۍ تادیه کړي. نوموړی سهامي شرکت مکلف دی چې د ۱۳۸۵ لمریز کال له پای نه وروسته مالیاتي اظهارلیک وړاندې کړي. په نوموړي مالیاتي اظهارلیک کې باید لاندې موضوعات څرګند شوي وي:

| | | |
|---|---|---|
| عوایدا | | ۱۰۰۰۰۰۰۰افغانۍ |
| د انتفاعي معاملو مالیه | | (۲۰۰۰۰۰) افغانۍ |
| عملیاتي لګښتونه | | (۴۰۰۰۰۰۰) افغانۍ |
| د ټکتهاې لګښت | (۱۸۰۰۰۰۰) افغانۍ | (۲۰۰۰۰۰۰) افغانۍ |
| | | |
| د مالیې وړ عواید | | ۴۰۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| لومړنۍ مالیه(۲۰ ٪) | | ۸۰۰۰۰۰ افغانۍ |

| | |
|---|---|
| له مخکې نه ورکړل شوې ماليه | (۴۰۰۰۰۰) افغانۍ |
| د ورکړې وړ ماليه | ۷۶۰۰۰۰ افغانۍ |

۲ بېلګه: يو افغان سهامي شرکت د ۱۳۸۵ لمريز کال په اوږدو کې د ۴۰۰۰۰۰۰ افغانيو په ارزښت اجناس واردوي. نوموړي سهامي شرکت بايد د ګمرکې محصول برسيره ۸۰۰۰۰ افغانۍ تاديه کړي. نوموړی سهامي شرکت مکلف دی چې د ۱۳۸۵ لمريز کال له پای نه وروسته مالياتي اظهارليک وړاندې کړي. په نوموړي مالياتي اظهارليک کې بايد لاندې موضوعات څرګند شوي وي:

| | |
|---|---|
| عوايد | ۱۰۰۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| د انتفاعي معاملو ماليه | (۲۰۰۰۰۰) افغانۍ |
| عملياتي لګښت | (۸۴۰۰۰۰۰) افغانۍ |
| د ټکتاني لګښت (۱۱۰۰۰۰۰) افغانۍ | (۹۷۰۰۰۰۰) افغانۍ |
| د ماليې وړ عوايد | ۳۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| لومړنۍ ماليه (۲۰ ٪) | ۶۰۰۰۰ افغانۍ |
| له مخکې نه ورکړل شوې ماليه | (۸۰۰۰۰) افغانۍ |
| د بيا ورکړې وړ مبلغ | (۲۰۰۰۰) افغانۍ |

تبصره: د يادونې وړ ده چې که چيرې افغان سهامي شرکت مالياتي اظهار ليک وړاندې نه کړي ، نو نوموړی شرکت د خپل بيا ورکړې وړ مبلغ (۲۰۰۰۰ افغانيو) د ترلاسه کولو مستحق نه دی.

۲.۷۰ هغه ماليه ورکوونکي چې سوداګريز جواز نه لري ( يا هغه اشخاص چې مؤقت سوداګريز جواز لري او دماليې وزارت ته يې مالياتي اظهارليک نه دی وړاندې کړی ) د وارد شوو اجناسو د ماليې تابع دي. نوموړې ماليه دوارد شوو اجناسو د ارزښت له 3 ٪ سره برابره ده او پرعايداتو باندې د مالياتو پر عوض د ورکړې وړ ده.

د عراده جاتو ماليات

يو اويايمه ماده:

هغۀ اشخاص چې د موجودو وسايطو په واسطه د سودا ګريز فعاليت په مقصد د مالونو په ليږدولو او د اشخاصو په حمل لاس پورې کوي، د جواز سير له نوي کولو د مخه په لاندې توګه د کلنۍ ماليې په ورکړه مکلف ګڼل کيږي:

(1) بار وړونکي ګاډي د ټن په اساس:

1. له يوۀ څخه تر دوو ټنو پورې ، دوه زره او شپږ سوه افغانۍ ،
2. له دوو څخه زيات تر دريو ټنو پورې ، درې زره او څلو سوه افغانۍ ،
3. له دريو څخه زيات تر څلورو ټنو پورې ، څلور زره او دوه سوه افغانۍ ،
4. له څلورو څخه زيات تر پنځو ټنو پورې ، پنځه زره افغانۍ ،
5. له پنځو څخه زيات تر شپږو ټنو پورې ، شپږ زره افغانۍ ،

6. له شپږو څخه زیات تر اتو ټنو پورې ، اووه زره افغانۍ،
7. له اتو څخه زیات تر لسو ټنو پورې ، نهه زره افغانۍ ،
8. له لسو څخه زیات تر دوو لسو ټنو پورې ، لس زره افغانۍ ،
9. له دوو لسو څخه زیات تر څوارلسو ټنو پورې ، دوولس زره افغانۍ ،
10. له څوارلسو څخه زیات تر شپاړسو ټنو پورې ، دیارلس زره افغانۍ،
11. له شپاړسو څخه زیات تر اتلسو ټنو پورې ، پنځلس زره افغانۍ،
12. له اتلسو څخه زیات تر شلو ټنو پورې ، شپاړس زره افغانۍ،
13. له شلو څخه زیات تر پنځه وېشتو ټنو پورې اتلس زره افغانۍ،
14. له پنځه وېشتو ټنو څخه زیات په اتلس زره او پنځه سوه افغانیو برسیره في ټن پنځه سوه افغانۍ، او
15. د تریلر د مجاز وزن له مجموع څخه زیات ، له پنځه سوه کیلو ګرامه څخه اضافه في ټن ، دوه سوه افغانۍ.

(2) مسافر وړونکي ګاډي:

1. له دریو څخه تر پنځو تنو پورې په ظرفیت ټکسي ، دوه زره افغانۍ،
2. د پنځو تنو له ظرفیته پورته ( لوړ ) تکسي په دوه زره افغانیو برسیره في څوکۍ دوه سوه افغانۍ،
3. څوارلس څوکۍ مکروبس ، دوه زره او شپږ سوه افغانۍ،
4. له پنځلسو څخه تر یوو وېشتو څوکیو پورې هر ډول بس ، څلور زره افغانۍ،
5. له دوه وېشتو څخه تر نهه وېشتو څوکیو پورې ، اووه زره افغانۍ،
6. له څلوېښتو څخه تر نهه څلوېښتو څوکیو پورې اوو زره او پنځه سوه افغانۍ،
7. له پنځوسو څخه تر شپېتو څوکیو پورې ، اته زره افغانۍ ، او
8. له شپېتو څوکیو څخه زیاتې له اتو زرو افغانیو بر سیره ، في څوکۍ دوه سوه افغانۍ.

(3) عراده جات د سلنډر لمخې:

1. څلور سلنډره عراده جات ، فی عراده ، یو زر او پنځه سوه افغانۍ،
2. شپږ سلنډر عراده جات ، فی عراده ، دوه زره افغانۍ،
3. اته سلنډره عراده جات ، فی عراده ، درې زره افغانۍ، او
4. له اتو سلنډرو څخه زیات عراده جات له درې زره افغانیو برسیره في سلنډر ، پنځه سوه افغانۍ.

(4) رېکشا:

1. د موټر سایکل ریکشا ، فی عراده ، پنځه سوه افغانۍ ،او
2. ریکشا فی عراده ، یو زره افغانۍ.

۱.۷۱ پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون په ۷۱ مادې کې درج مالیات د نقلیه وسایطو له هغو خاوندانو څخه اخستل کیږي چې له نومړو وسایطو څخه د اشخاصو او اشیاوو د لیږد په فعالیتونو (چې په دغه ماده کې شامل دي) کار اخلي.

۱ بېلګه: پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون د ۷۲ مادې پر اساس له هغه شخص څخه چې دوه ټکسي موټر لري په هر کال کې ۴۰۰۰ افغانۍ د ټکسي موټر د فعالیت د ثابتې مالیې په توګه اخستل کیږي.

۲ بېلګه: هغه شخص چې دوه ټنه وزن لیږدونکی یو باروړونکې موټر لري، د موټر د ثابتې مالیې په توګه باید په هرکال کې ۲۲۰۰ افغانۍ تادیه کړي.

۳ بېلګه: د یوې نقلیه واسطې ثابته مالیه د هغهٔ د تشریح له مخې له کتګورۍ یا صنف پورې نه محدودیږي ولې کیدای شي چې له هغې څخه د ګټې اخستنې پر اساس له یوهٔ بل صنف پورې مربوط کړل شي.

هغه بار وړونکی موټر چې یو ټن وزن لیږدولی شي او عام ډول د ۲۲۰۰ افغانیو مالیې تابع دې د مسافرینو د لیږد او رالیږد په موخه د ټکسې په توګه د یو بس په شان ورڅخه ګټه اخستل کیدای شي. د یوهٔ عراده بس په شان د نومړي موټر ثابته مالیه هم ۴۰۰۰ افغانۍ ده.

۴ بېلګه: هغه شخص چې یوه ګاډۍ ( له هغې څخه د پیسو په بدل کې د اشخاصو او اموالو په لیږد کې کار اخلي ) لري او له هغې څخه د ریکشا په ډول استفاده کوي، نومړی باید ۱۰۰۰ افغانۍ د ګاډۍ د ثابتې مالیې په توګه تادیه کړي.

۲.۷۱ پر دغه ډول عراده جاتو باندې پرعایداتو باندې د مالیاتوقانون په ۷۲ ماده کې د درج ثابتې مالیې پر عوض مالیات پرعایدات وضع شوي دي. که چې د نقلیه واسطې خاوند داسې نور عواید ولري چې پرعایداتو باندې د مالیاتو تابع ګرځي، لاسته راغلي عواید چې په ۷۲ ماده کې ذکر شوي دي باید ثبت کړل شي ولېد نومړي په مالیاتي اظهارلیک کې باید شامل نه کړل شي.

۳.۷۱ پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون په ۷۱ ماده کې درج ثابته مالیه په هغه سیمه ایز مالیاتي دفتر کې ورکول کیږي په کومه چې د نقلیه واسطې خاوند ژوند کوي. که چیرې هغه ځای چې د موټر خاوند په کې اوسیږي له هغه ځای څخه توپیر ولري چې د لویو لارو جواز په کې صادریږي، نو ثابته مالیه په هغه سیمه ایز مالیاتي دفتر کې ورکول کیږي چیرته چې د لویو لارو جواز صادریږي.

د قرار دادیانو موضوعي مالیه
دوه اویایمه ماده:

(1) هغه اشخاص چې د سوداګریز جواز لرونکي ندي، له دولتي ادارو سره د موادو ، لوازمو، خدمتونو یا ودانیزو چارو قرارداد وکړي، پرعایداتو د مالیاتو په عوض د ۷٪ ثابتې مالیې په ورکړې مکلف ګڼل کیږي، ثابته مالیه له ورکړې وړ وجوهو څخه وضع کیږي.

(2) هغه جواز لرونکي اشخاص چې له پورته یادو نهادونو سره خدمات او د دې مادې د ۱ فقرې درج اموال ترسره کوي، د قراردادي ۲٪ مالیه ورکوي. په دې فقره کې مندرجه مالیه د وروستیو مالیاتي ملکفیتونو په مقابل کې د محاسبې او مجرايي وړ ده.

(3) د دې مادې د ۱ او ۲ فقرې درج مالیات د تادیه کوونکو اشخاصو لخوا د تادیې پرمهال وضع کیږي او تر ۱۰ ورځو پورې اړونده حساب ته انتقالیږي. په دې ماده کې درج قرارداد کوونکي مکلف دي چې د قرارداد د عقدولو پرمهال اړوندې مالیاتي ادارې ته د قرارداد کاپي هم واستوي. هغه حقیقي اشخاص چې د دې قانون د ۱۷مې مادې د ۱ فقرې حکم لمخې د مالیې تابع معاشونه اخلي، له دې حکمه مستثنی دي.

۱.۷۲ د دې لپاره چې موضوعي مالیه پلې شي، تادیات دې د یوه قرارداد لمخې ترسره شي. د قرارداد په اړه هیڅ ډول تعریف په قانون کې نه دی راغلی. په قانون کې لیک شوی تعریف په حقیقت کې د موضوعي مالیې لپاره یو منل شوی اصل ګڼل کیږي.

((قرارداد د دوو یا له دوو ډېرو خواوو ترمنځ د یوه توافق په مانا دی چې د قانون لمخې پلی کیږي. د اموالو یا خدماتو د پلور او خرڅلاو لپاره یوه سوداګریزه معامله د پېرودونکي او پلورونکي ترمنځ یوه قرارداد یا تړون ګڼل کیږي )).

سوداګریزې معاملې او وړاندیز یا د اموالو او خدماتو د چمتوکول او خرڅول د یوه تړون اساس جوړوي. کېدای شي دغه شان تړون یا په لیکنی یا ګړنی ( شفاهي ) توګه وي او تادیات هم کېدای شي چې په نغده یا د کرېډټ لمخې ترسره شي. معامله یو تړون بلل کیږي او د موضوعي مالیې احکام په دې اړه پلي کیږي.

۲.۷۲ پرعایداتو د مالیاتو قانون په ۷۲ ماده کې درج شوې ثابته مالیه د ۷٪ نورم لمخې د هغو حکمي او یا حقیقي اشخاصو له عوایدو څخه وضع کیږي چې په افغانستان کې سوداګریز جواز نه لري او د منل شوې اساسنامې پر خلاف د قرارداد له مخې دولتي ادارو ته مواد ، لوازم، ودانیزې چارې او یا خدمات برابروي. دغه اشخاص د دغه شان فعالیتونو پر عایداتو د مالیاتو د ورکړې پر ځای کله چې تادیات ترلاسه کوي، باید مالیه ورکړي. قرارداد کوونکي ادارې په دغه راز معاملاتو کې (دولتي، خصوصي، انتفاعي او غیرانتفاعي) مکلفې دي چې د پیسو د ورکړې او انتقال پرمهال مالیات وضع او د دولت بانکي حساب ته یې وسپاري.

۱ بېلګه: یو چینایي سهامي شرکت په مستقیمه توګه د قرارداد له مخې د مخابراتو وزارت ته مخابراتي وسایل برابروي. نوموړی شرکت مستقیماً له تولید کوونکو څخه وسایل د مخابراتو وزارت ته لیږدوي او له

هغو نه په استفادې سره په افغانستان کې نوي مخابراتي وسایل جوړوي. په لومړي کال کې د پلور بیه ۱۰۰۰۰۰۰۰ افغانۍ ده. نوموړی چینایي شرکت په افغانستان کې سودا ګریز جواز نه اخلي ځکه شرکت په افغانستان کې فزیکي شتونه لري. دغه چینایي شرکت په ۷۲ ماده کې د درج ثابتې مالیې تابع دې. کوم وخت چې د مالیې وزارت د خزاینو ریاست د چینایي شرکت مبالغ اجراکوي ، شرکت ته د ورکړې له وړ مبلغ څخه د شرکت د مالیاتي مکلفیت د ادا کولو په موخه ۷٪ وضع کوي.

تبصره: که چېرې یو بهرنی شرکت په افغانستان کې د ثبت شوې نمایندګۍ له لارې له اشخاصو سره په افغانستان کې یو تړون لاسلیک کړي چې لمخې یې اموال او اجناس تهیه کړي، یاده نمایندګی د موضوعي مالیاتو تابع کیږي. د دې مادې لمخې، یاد بهرنی شرکت چې د خرڅلاو لپاره دغه اموال خپلې نمایندګۍ ته صادروي، د موضوعي مالیې پر ورکړه مکلف نه ده.

۲ بېلګه: ګلوبل ساختماني شرکت د منل شوي اساسنامې لمخې دا اجازه لري چې د ودانیو د جوړولو، د ساختماني توکو د چمتو کولو او د اړتیاوړ ودانیزو توکو د واردولو په چارو ې فعالیت وکړي. یاد شرکت له خپل شته جواز څخه په کارونې سره له خپلې اړتیا څخه ډېر ودانیز توکي راواردوي چې او د قرارداد لمخې یې د ستوري ساختماني او سرک جوړونې په شرکت پلوري. ستارې شرکت باندې د خرڅ شوو توکو ارزښت ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ کیږي. د یاد شرکت پورته عواید د ۷٪ موضوعي مالیاتو تابع کیږي او د ستارې شرکت مکلف دی چې د پیسو د انتقال پرمهال له هغو نه مالیه وضع او د ۷۲مې مادې د ۳ فقرې د حکم لمخې یې د دولت بانکي حساب ته وسپاري.

۱ تبصره: هغه اشخاص چې د عوایدو دوه یا ډېرې سرچینې ولري، یو له خپلو سرچینو څخه چې د اموالو او خدماتو خرڅلاو دی او د قرارداد لمخې پر عایداتو د مالیاتو او انتفاعي مالیاتو پر ځای د ۷٪ ثابتې قراردادي مالیې تابع وي، د خپلو عوایدو دغه برخه دې په کلني اظهارلیک کې نه شاملوي. دغه شخص مکلف دی چې خپل نور عواید په کلني اظهارلیک کې درج کړي او پر عایداتو د مالیاتو قانون د حکم لمخې دې خپله مالیه ورکړي.

۳.۷۲ هغه اشخاص چې د سوداګریز جواز لرونکي دي او د مالونو، توکو، خدماتو، د ودانیو د جوړولو او نورو فعالیتونو په برخه کې له دولتي ادارو، تصدیو، نهادونو او خصوصي او نادولتي اشخاصو سره قرارداد کوي، پر عایداتو د مالیاتو قانون د ۷۲مې مادې د ۲مې فقرې د حکم لمخې ۲٪ قراردادي موضوعي مالیه ورکوي. قرارداد کوونکي اشخاص مکلف دي چې د قرارداد بل لوري ته د قرارداد د پیسو د ورکړې پرمهال مالیه ترې وضع او د ۷۲مې مادې د ۳مې فقرې د حکم لمخې د هغه مشخص حساب یې ته وسپاري.

۱ بېلګه: د پوهنې وزارت د خپلو مامورینو د لېږد رالېږد لپاره د باختر مسافربري او ترانسپورتي شرکت سره د ۳۰ ۳۰۳ ډوله ګاډو په اړه د ورځې د ۵۰۰۰ افغانیو په کرایه قرارداد کوي، د باختر شرکت عواید د مامورینو د انتقال د کرایې له درکه ۲٪ موضوعي مالیه ورکوي. د پوهنې وزارت مکلف دی چې باختر شرکت ته د پیسو د انتقال پرمهال مالیه وضع او د دولت بانکي حساب ته یې وسپاري.

۲ بېلګه: استنفورد سوداګریز شرکت له اتلکو شرکت سره د تخنیکي او مخابراتي وسایلو د تهیې لپاره د ۵۵۰۰۰۰ افغانیو په ارزښت یو قرارداد ترسره کړی دی. استنفورد سوداګریز شرکت کاري جواز لري چې له همدې کبله له تادیه شوي مبلغ څخه ۲٪ موضوعي مالیه وضع کیږي. اتلکو شرکت مکلف دی چې استنفورد

سوداګریز شرکت ته د قرارداد د پیسو د ورکړې پرمهال مالیه وضع او د دولت ځانګړي بانکي حساب ته یې سپاري.

۲ تبصره: د دې لپاره چې مالیاتي نورمونه په مناسبه توګه د هغو جواز لرونکو اشخاصو ترمنځ چې د اساسنامې سره سم کار کوي او د هغو اشخاصو ترمنځ چې د اساسنامې پر خلاف کارکوي، د مناسبې موضوعي مالیې د نورم د پلي کېدول په موخه یو توپیر رامنځته او په پام کې نیول کیږي. د جواز یا اساسنامې هېڅ ډول تعریف او پېژند نه دی په ګوته شوی. له دې سره سره، د ۷۲مې مادې لمخې، د سوداګریزو او اقتصادي فعالیتونو ته د اجازې ورکولو لپاره ټول جوازونه چې دولت او اړوندې ادارې یې حقیقي او حکمي اشخاصو ته صادریږي، د اعتبار وړ بلل کیږي.

۴.۷۲ ۷۲مه مادې هېڅ داسې ټاکلی حد نه په ګوته کوي چې له هغه څخه ټیټه موضوعي مالیه په کار نه وي. د دې لپاره چې د مالیه ورکوونکي د اطاعت منلو ستونزې نورې هم راټیټې شي، لږ تر لږه ۵۰۰۰۰ افغانۍ د قراردادي موضوعي مالیې له درکه په پام کې نیول دي. له ۵۰۰۰۰ افغانیو څخه د لږ ارزښت معامله د موضوعي مالیې تابع نه ګرځي. حکمي او حقیقي اشخاصو ته د اجناسو د چمتوکولو، د خدماتو د وړاندې کولو او داسې نورو له درکه تادیات په یوه مالي کال کې ټول ټال له ۵۰۰۰۰ افغانیو څخه کیږي، د موضوعي مالیې تابع نه ګرځي. په هغه صورت کې چې د تادیاتو مجموعه یوه شخص ته له همدغه درکه له پورته یاد مبلغ څخه په یوه مالي کال کې ډېر وي، د ۷۲مې مادې لمخې، ټول حقیقي او حکمي اشخاص د قراردادي موضوعي مالیې تابع ګرځي.

۵.۷۲ پر عایداتو د مالیاتو قانون د ۷۲مې مادې د ۳ فقرې د حکم لمخې، هغه مالیات چې د قرارداد بل لوري ته د قرارداد له ورکړو څخه وضع کیږي، د ۱۰ ورځو په موده کې د دولت ځانګړي بانکي حساب ته سپارل کیږي. له دې سره سره، د دې لپاره چې وضع کوونکی شخص له ستونزو خلاص او د اطاعت منلو لګښت ټیټ شي، وضع شوې مالیه د یوې میاشتې په موده کې د بلې میاشتې په ۱۰ نېټه د دولت ځانګړي حساب ته لیږل کیږي.

۱ بېلګه: امېد د پلاستیک تولیدي شرکت د اړتیا وړ اومه توکو د تهیې چارې د نبي زاده له سوداګریز شرکت سره قرارداد کوي. د دغه قرارداد لمخې، نبي زاده شرکت په دې ژمن دی چې د قرارداد له لوري سره د هرې میاشتې په ۷مه نېټه اومه توکي وررسوي او خپلې پیسې د هرې میاشتې په ۱۴مه نېټه ترلاسه کړي. پر عایداتو د مالیاتو قانون د ۷۲مې مادې د ۳ فقرې د حکم لمخې، امېد د پلاستیک تولیدي شرکت مکلف دی چې د نبي زاده سوداګریز شرکت لوري ته د قرارداد د پیسو د انتقال پرمهال مالیه ترې وضع کړي او د ۱۰ ورځو په موده کې د میاشتې له پایه وروسته د دولت بانکي حساب ته وسپاري. نور هغه مالیات چې د امېد شرکت د قرارداد کوونکي بل لوري ته د تادیې پرمهال د میاشتې په اوږدو کې وضع کړي، د ۱۰ ورځو په موده کې د میاشتې له پایه وروسته ورکول کیږي.

۶.۷۲ پر عایداتو د مالیاتو قانون د ۷۲مې مادې حکمونه د استخدام د قرارداد پر ورکړو نه پلي کیږي په هغه صورت کې چې د ۱۷مې مادې لمخې د مزد د موضوعي مالیې لپاره اړتیا وي. پر عایداتو د مالیاتو قانون لمخې، هغه ورکړې چې د نورو قراردادونو په اساس چې د ځانګړو موضوعي مالیو د شراطو تابع ګرځي، په ۷۲مه ماده کې د مندرجو موضوعي مالیو تابع نه ګرځي.

بېلګه: مختار د انګليسي ژبې ښوونځی له احمد سره د يوه کور د کرايې لپاره يو تړون لاسليک کوي چې د ښوونې او روزنې لپاره ترې استفاده وکړي. ياد ښوونځی مکلف دی چې په هره مياشت کې ۵۰۰۰ افغانۍ کرايه ورکړي. مختار د انګليسي ژبې ښوونځی د خصوصي زده کړې د ورکولو لپاره کاري جواز لري. د ۵۹مې مادې لمخې، مختار د انګليسي ژبې ښوونځی مکلف دی چې له تاديات ټخه ماليه وضع کړي. د مالېې د وضع کېدو د مکلفيت يو ډېر روښانه حکم دا دې چې مختار ښوونځی دې ۱۰٪ ماليه وضع کړي. د قراردادي موضوعي مالياتو عمومي احکام په دې اړوند نه پلي کيږي.

| |
|---|
| #د ننداړو د عوايدو ثابته ماليه<br>دري اويايمه ماده:<br>(1) ثابته ماليه يوازې په افغانستان کې پر مېشتو اشخاصو او نامېشتو حقيقي او حکمي اشخاصو پلي کيږي.<br>(2) د دې مادې په ۱ فقره کې مندرج اشخاص چې تفريحي خدمات لکه تياتر، فلمي ننداړې، راډيو ټلويزيون، موسيقي يا ورزشي سيالۍ دننه په افغانستان کې وړاندې کوي، د خپلو ټکټونو د خرڅلاو له درکه د ترلاسه شوو عوايدو ځخه د ۱۰٪ معادل ثابته ماليه ورکوي. ياده ثابته ماليه پر عايداتو د مالياتو او انتفاعي ماليو پر ځای وضع کيږي.<br>(3) دغه ډول ماليه د دغه قانون د ۸۸مې مادې د ۹ فقرې د حکم لمخې ورکول کيږي. ماليه په هغه مالياتي دفتر کې تاديه کيږي چېرې چې خدمات وړاندې کيږي.<br>(4) نور اشخاص چې تفريحي خدمات وړاندې کوي، د دغه قانون د احکامو لمخې، پر عايداتو د مالياتو او د انتفاعي معاملو مالياتو تابع ګرځي. |

۱.۷۳ پر عايداتو د مالياتو قانون د ۷۳مې مادې د حکم لمخې، په افغانستان کې حقيقي مېشت اشخاص او نامېشت حقيقي او حکمي اشخاص د ننداړو تفريحي خدمات لکه فلمي ننداړې، راډيو ټلويزون، موسيقي، ورزشي سيالۍ او نور ورته فعاليتونه ترسره کوی، د خپلو ټولو ترلاسه شوو عوايدو ځخه پر عايداتو د مالياتو او انتفاعي ماليو پر ځای د ۱۰٪ ثابتې مالېې پر ورکړه مکلف دي ورکوي. پر عايداتو د مالياتو قانون لمخې، په افغانستان کې مېشت حکمي اشخاص چې په دې برخه کې کار کوي او پر کلنيو عوايدو د مالياتو او انتفاعي مالياتو پر ورکړه مکلف دي، په دې هم مکلف دي چې اظهارليک وړاندې او ماليه ورکړي.

د سينماګانو، تياترونو، ننداړتونو، جشنونو او نورو تفريحي ځايونو په اړه په ۷۳ ماده کې د درج اشخاصو د مالياتود سنجش لپاره، لاندې ټکي په پام کې نيول کيږي:

1. هغه شخص چې د دغه ډول ځای خاوند دی ولې نورو ته يې په کرايه ورکوي، پر عايداتو د مالياتو قانون په ۴ ماده کې د درج جدول د نورم پر اساس د نوموړي ځای د کرايې له درکه پر عايداتو د مالياتو تابع دی.

2. د ځای او جایداد مستاجر چې پر عایداتو د مالیاتو قانون په ۷۳ ماده کې یې یادونه شوې، پر عایداتو د مالیاتو قانون په ۷۳ ماده کې د درج مالیاتو تابع دي. دغه راز، په هغه صورت کې چې د فعالیت د ځای کرایه په ۵۹ ماده کې د درج شوي حد سره مساوي یا ترې پورته وي، مستاجر مکلف دی چې پرعایداتو د مالیاتو قانون په ۵۹مه ماده کې مندرجه موضوعي مالیه له طرزالعمل سره سمه وضع او تادیه کړي.

3. هغه شخص چې پرعایداتو د مالیاتو قانون په ۷۳ ماده کې د درج جایداد او ځای خاوند دی او په همدغو ځایونو کې په فعالیت بوخت دی، پر عایداتو د مالیاتو قانون د ۷۳ مادې پراساس د ټکټونو د پلور له درکه د ثابتې مالیې تابع دی.

۱ بېلګه: وحید په پغمان کې یو سینما لري او پرمخ یې وړي. که چیرې وحید د ۱۳۸۵ لمریزکال په چنګاښ کې د ټکټ د پلور له درکه ۳۷۵۰۰۰ افغانۍ ترلاسه کړي، نوموړی شخص باید د ملکیت او پورتني فعالیت څخه د لاسته راغلو عوایدو له درکه پرعایداتو د مالیاتو پرعوض د نوموړي مبلغ (۳۷۵۰۰۰ افغانۍ) څخه ۱۰٪ باید د ۱۳۸۵ لمریزکال د زمري له شپږمې نیټې څخه د مخه د پغمان مالیاتي دفتر ته ورکړي.

۲ بېلګه: که چیرې وحید چې د سینما مالک دې خپل ملکیت د ۲۰۰۰۰ افغانیو په بدل کې یو بل شخص ته په کرایه ورکړي، نو پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون د ۴ مادې د حکم پر بنسټ وحید مکلف دې چې د نوموړي ملکیت څخه د لاسته راغلو عوایدو له درکه مالیه ورکړي او هغه شخص چې سینما یې کرایه کړې ده د دغې مادې د حکم لمخې د سینما د ټکټونو د پلور له درکه د ثابتې مالیې په ورکړه مکلف دې.

۳ بېلګه: بالیود سینما چې یو بهرنی شرکت دی په کابل کې یې د لویې جرګې خیمه د دوو میاشتو لپاره د خپلو نوو فلمونو د نندارې موخه په کرایې نیولې ده. دغه فلمي ننداره په اونۍ کې دوه ځله ننداري ته وړاندې کیږي. د بالیود سینما نمایندګي له دې فعالیته ۲۵۰۰۰۰۰ افغانۍ عواید ترلاسه کړي چې پر عایداتو د مالیاتو قانون د ۷۳مې مادې د حکم لمخې، دا مکلفیت لري چې له خپلو ټولو عوایدو څخه ۱۰٪ ثابته مالیه د دولت ځانګړي بانکي حساب ته وسپاري.

۴ بېلګه: مووي ټایم یو افغاني شرکت دی چې د سینما یو ټولګه یا مجموعه په شهرنو کې اداره کوي. یاد شرکت یو شمېر فلمونه د فیس په بدل کې ننداړې ته وړاندې کوي. دغه شرکت د ټکټونو د پلور له درکه ۵۰۰۰۰۰ افغانۍ عواید په یوه مالي کال کې ترلاسه کوي. د فعالیت د لګښت د مجرایۍ نه وروسته، د دغه شرکت د مالیې وړ خالص عواید په اړوند کال کې ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ کیږي. لکه څنګه چې موو ټایم شرکت یو مېشت حکمي شخص په افغانستان کې ګڼل کیږي، پر عایداتو د مالیاتو قانون د ۷۳مې مادې لمخې، د ثابتې مالیې تابع ګرځي. مووي ټایم شرکت د خپلو مالیې وړ خالصو کلنیو عوایدو څخه د عوایدو د مالیې تابع دی او دغه راز، د خپلو سوداګریزو عوایدو څخه د انتفاعي معاملاتو د مالیې تابع ګرځي.

د کوچنیو تشبثاتو ثابته مالیه (هر ډول تشبث)
**څلور اویایمه ماده:**
(1) هغه حقیقي اشخاص چې پر لاندې شرایطو برابر کار او فعالیت بوخت دي، د دغه قانون د **۷۵**مې مادې د حکم لمخې مکلف دي چې ثابته مالیه ورکړي:

1. هغه حقیقي اشخاص چې عواید لري مگر د دغه قانون د احکامو لمخې نه معاف دي نه هم د موضوعي مالیې تابع دي،
2. د حقیقي اشخاصو د ناخالصو کلنیو عوایدو مجموعه چې په مالي کال کې له **۳** میلیونه افغانیو لږه شي،

(2) د دې مادې په **۱** فقره کې مندرج حقیقي اشخاص د دغه قانون د **۸۸**مې مادې په **۲** فقره کې د مندرج حکم لمخې مکلف دي چې پر عایداتو د مالیاتو اظهارلیک ډک او وړاندې یې کړي، او د دغه قانون په **۷۵**مه ماده کې د مندرج حکم لمخې، د تادیې وړ ثابته مالیه محاسبه کیږي.

**۱.۷۴** دغه ماده داسې شرایط غوره کوي چې لمخې یې ثابته مالیه پر هغو تشبثاتو وضع کیږي چې د حقیقي اشخاصو (افرادو) لخوا پرمخ وړل کیږي. یاد اشخاص مکلف ندي چې د نگه گټې یا انتفاعي معاملاتو د مالیې له درکه پر کلنیو عوایدو مالیات ورکړي مگر دا چې شخص وغواړي د دغه قانون د **۸۸**مې مادې د **۴** فقرې لمخې یاده مالیه ورکړي.

**۲.۷۴** ثابته مالیه د اجناسو او خدماتو د پلور له درکه پر عایداتو د مالیاتو او د انتفاعي معاملو مالیاتو پر ځای په **۷۴**مه ماده کې د درج شرایطو سره سم وي. که چیرې یو حقیقي شخص پر عایداتو د مالیاتو قانون د **۷۴**مې مادې سره سم، د مالیې تابع وگرځي او د ثابتې مالیې تابع فعالیتونو څخه پرته له نورو منابعو څخه عواید ولري، یاد شخص د یادو عوایدو ریوټ وړاندې کوي او د دغه قانون په **۴**مه ماده کې د مندرج جدول سره سمه مالیه ورکوي. دغه شخص د پرمختللو مالیاتي نورمونو سره سم چې په مالي کال کې پر حقیقي اشخاصو پلي کیږي، د مالیې تابع گرځي. پر عایداتو د مالیاتو قانون په **۷۵**مه ماده کې د مندرج فعالیتونو څخه ترلاسه شوي عواید چې د دې مادې لمخې ترې مالیه اخیستل کیږي، په نورو عوایدو کې نه شاملیږي.

**۳.۷۴** د دغه قانون لمخې، سهامي او محدودالمسؤلیت شرکتونه او نورې مؤسسې د ثابتو مالیاتو پر شرایطو برابر ندي حتی که د دوی فعالیتونه هم په هغه شیوه او کچه ترسره شي چې د دغه قانون په **۷۴**مه ماده کې د مندرجو عوایدو شرایط لرونکو افرادو لخوا ترسره کیږي. دغه نهاد پر عایداتو د مالیاتو او انتفاعي معاملو د مالیاتو تابع گرځي.

**۴.۷۴** څلوراویایمه ماده پر هغو حقیقي اشخاصو چې سوداگریزې چارې پرمخ وړي، د ثابتې مالیې د پلي کېدو لاره چاره تشریح کوي. د دې لپاره چې ثابته مالیه پلي شي، د حقیقي اشخاصو عواید له یادو فعالیتونو

څخه په یوه مالي کال کې باید له ۳۰۰۰۰۰ افغانیو څخه ډېر نه شي. په داسې حال کې چې د یادو اشخاصو عواید په مالي کال کې ۳۰۰۰۰۰ افغانۍ یا له دې ډېر وي، دوی مکلف دي چې د قانون د حکم لمخې پر عایداتو مالیات او د انتفاعي معاملاتو مالیه ورکړي.

۵.۷۴ د ۸۸مې مادې د ۲ فقرې لمخې، هغه اشخاص چې سوداګریزې چارې له څرګندو ځایونو څخه پرمخ وړي، مکلف دي چې خپله مالیه په ربعه واره توګه تادیه کړي او د هرې ربعې تادیات باید د بلې راتلونکې میاشتې پر ۱۵مې ورځې پورې ترسره شي.

۶.۷۴ پر عایداتو د مالیاتو پخواني قانون لمخې (د ۱۳۸۴ کال پر عایداتو د مالیاتو قانون)، د ژرندو، پایکوبونو، د تېل ایستلو ماشینونو، د ګنیو د حلاجۍ د خاوندانو، ډاکټرانو، د ثابت ځای نه لرونکو افرادو، دلالانو، او د کمېشنکارانو مالیات د ځانګړو معیارونو سره سم راټولېږي. اوس د یادو اشخاصو مالیات د نوي قانون د ۷۴مې مادې د حکمونو او په ۷۵مه ماده کې د مندرجو شرایطو سره سم وضع کېږي.

| |
|---|
| **پر وړو اقتصادي فعالیتونو یا اصنافو د ثابتې مالیې ټاکل**<br>**پنځه اویایمه ماده:**<br>(1) که چېرې حقیقي اشخاصو د یوه مالي کال په اوږدو کې د دغه قانون په حکمونو کې مندرج د موضوعي مالیې تابع سرچینو څخه ۶۰۰۰۰ افغانۍ عواید ولري، له مالیې معاف دي.<br>(2) که چېرې د دغې مادې په ۱ فقره کې مندرج اشخاص د مالي کال په اوږدو کې له مالیې څخه د معافو عوایدو او هغه عواید چې د موضوعي مالیې تابع دي له دغو دواړو پرته، له ۶۰۰۰۰ افغانیو څخه تر ۱۵۰۰۰۰ افغانیو پورې عاید ولري، مکلف دي چې د هر کال په ربعه کې ۵۰۰ افغانۍ ثابته مالیې تادیه کړي.<br>(3) که چېرې د دغې مادې په ۱ فقره کې مندرج اشخاص د مالي کال په اوږدو کې له مالیې څخه د معافو عوایدو او هغه عواید چې د موضوعي مالیې تابع دي له دغو دواړو پرته، له ۱۵۰۰۰۰ افغانیو څخه تر ۵۰۰۰۰۰ افغانیو پورې عاید ولري، مکلف دي چې د هر کال په ربعه کې ۱۵۰۰ افغانۍ سربېره پر ثابتې مالیې چې د دې مادې په ۲فقره کې درج ده، تادیه کړي.<br>(4) که چېرې اشخاص د مالي کال په ترڅ کې پرته له هغو عوایدو چې له مالیې معاف دي یا د دغه قانون په احکامو کې د مندرجو موضوعي مالیو تابع عوایدو څخه پرته، له ۵۰۰۰۰۰ افغانیو څخه تر ۳۰۰۰۰۰ افغانیو پورې عاید ولري، مکلف دي چې د خپلو ناخالصو عوایدو څخه ۳٪ ثابته مالیه ورکړي یا هم کولای شي د دغه قانون د ۴مې مادې د ۳ فقرې د حکم لمخې د خپلو مالیې وړ عوایدو څخه پر عایداتو مالیه ورکړي. |

۱.۷۵ پر عایداتو د مالیاتو قانون ۷۴مه ماده پر هغو حقیقي اشخاصو چې سوداګریز فعالیتونه ترسره کوي، د ثابتې مالیې شرایط په ګوته کوي او د ثابتې مالیې د محاسبې طریقه یې په ۷۵مه ماده کې په یاده کړې ده. په یوه مالي کال کې، د ثابتې مالیې مبلغ د یوه شخص د عوایدو لمخې چې د ثابتې مالیې تابع هرې سرچینې څخه ترلاسه کېږي، په جلا توګه محاسبه کېږي. لکه چې یو شخص په مالي کال کې د سوداګریزو چارو په شمول له ټولو سرچینو څخه له ۶۰۰۰۰ افغانیو لږ عاید ولري، په دې صورت کې ثابته مالیه د پلې

کېدو وړ نه ده. په هغه صورت کې چې یاد شخص په مالي کال کې له مالیې معافو عوایدو پرته او پر عایداتو د مالیاتو په قانون کې د مندرجې موضوعي مالیې تابع عوایدو پرته، له ۲۰۰۰۰ افغانیو څخه تر ۱۵۰۰۰۰ افغانیو پورې عاید ولري، مکلف دی چې په هره ربعه کې ۵۰۰ افغانۍ ثابته مالیه ورکړي.

په هغه صورت کې چې یاد شخص له ۱۵۰۰۰۰ افغانیو څخه تر ۵۰۰۰۰۰ افغانیو پورې عاید ترلاسه کړي، ۲۰۰۰ افغانۍ ثابته مالیه ورکوي یانې د ۵۰۰ افغانیو سربېره ۱۵۰۰ افغانۍ نورې د ۲۰۰۰۰ افغانیو څخه تر ۱۵۰۰۰۰ افغانیو پورې په هره ربعه کې راځي. په هغه صورت کې چې پورته یاد شخص په مالي کال کې له ۵۰۰۰۰۰ افغانیو څخه تر ۳۰۰۰۰۰۰ افغانیو پورې عاید ولري، په دې صورت کې مکلف دی چې له خپلو ناخالصو عوایدو څخه ۳٪ مالیه ورکړي یا هم کېدای شي چې وغواړي د ثابتې مالیې پر ځای پر کلنیو عایداتو مالیات او د انتفاعي معاملو مالیات د معمولو طریقو سره سم تادیه کړي. په هغه صورت کې چې یاد شخص دغسې یوه لاره چاره غوره کړي، لېترلږه باید درې کاله یې په عمل کې پلې کړي.

د کلني سنجش لمخې، ثابته مالیه په لاندې توګه پلې کېږي:

د کلني سنجش لمخې د ثابتې مالیې جدول

| کتګوري | کلني ناخالص عواید په افغانیو | د مالیې کچه/د ربعې نورم | د کلنیو مالیاتو مجموعه |
|---|---|---|---|
| ۱ | له ۰ څخه تر ۲۰۰۰۰ پورې | ۰ | ۰ |
| ۲ | له ۲۰۰۰۱–۱۵۰۰۰۰ پورې | ۵۰۰ | ۲۰۰۰ |
| ۳ | له ۱۵۰۰۰۱– ۵۰۰۰۰۰ پورې | ۱۵۰۰+۵۰۰ افغانۍ | ۸۰۰۰ |
| ۴ | له ۵۰۰۰۰۱ څخه تر ۳۰۰۰۰۰۰ پورې | د غوښتنې په صورت کې، له ناخالصو عوایدو یا پر عایداتو د مالیاتو او انتفاعي معاملو د مالیاتو څخه ۳ ٪ سلنه مالیه | د غوښتنې په صورت کې، له ناخالصو عوایدو یا پر عایداتو د مالیاتو او انتفاعي معاملو د مالیاتو څخه ۳ ٪ سلنه مالیه |

کلني ناخالص عواید په افغانیو

| کتګوري | کلني عواید په افغانیو | د مالیې کچه/د ربعې نورم |
|---|---|---|
| ۱ | له ۰–۱۵۰۰۰ پورې | ۰ |
| ۲ | له ۱۵۰۰۱–۳۷۵۰۰ پورې | ۵۰۰ |
| ۳ | له ۳۷۵۰۱–۱۲۵۰۰۰ پورې | ۱۵۰۰ + ۵۰۰ افغانۍ |

| | | |
|---|---|---|
| ۴ | له۱۲۵۰۰۱–۷۵۰۰۰۰ پورې | د غوښتنې په صورت کې له ناخالصو عوايدو يا پر عايداتو د مالياتو او د انتفاعي معاملو د مالياتو څخه ۳٪ ماليه |

تبصره: هغه اشخاص چې د ۷۴ او ۷۵مې مادې سره سم، د ثابتې ماليې تابع دي، مکلف دي چې د خپلو ټولو عوايدو څخه ثابته ماليه محاسبه او تاديه يې کړي. د عايد له اصطلاح څخه مراد چې په يادو مادو کې ياد شوی، ناخالص عايد دی.

۲.۷۵ هغه شخص چې کلني عوايد يې د ۵۰۰۰۰ څخه تر ۳۰۰۰۰۰ افغانيو پورې وي، د ۳٪ نورم لمخې د ټولو عوايدو څخه د ثابتې ماليې تابع ګرځي مګر دا چې شخص غوښتنه وکړي چې د ثابتې ماليې پرځای پر عايداتو د مالياتو او د انتفاعي معاملو ماليه ورکړي. ياده غوښتنه په ليکلې توګه له لاسليک سره ترسره کيږي او اړونده مالياتي ادارې ته وړاندې کيږي.

بېلګه: علي د خوراکي توکو پلورنځی لري او چارې يې پرمخ وړي. نوموړی په پام کې لري او دا غوره ګڼي (په هغه صورت کې چې امکان ولري ) چې د ۳٪ ثابتې ماليې پرځای د خوراکي توکو د خرڅلاو له درکه د ټولو عوايدو څخه پر کلنيو عايداتو ماليات او د انتفاعي معاملاتو ماليات ورکړي. علي غواړي دغه غوښتنه د ۱۳۸۹ کال او نورو راتلونکو کالونو لپاره اعتبار ولري او دی مکلف دی اړونده مالياتي اداره له خپلې پرېکړې څخه په ليکلي توګه خبره کړي. له دې وروسته، د ۱۳۸۹ کال د ورې د لومړۍ نېټې څخه مکلف دی پر عايداتو ماليات او د انتفاعي معاملو ماليه ورکړي او په قانون کې د يادو شوو ملکفيتونو لمخې، ياده ماليه وضع او تاديه کړي.

۳.۷۵ اشخاص مکلف دي چې خپله د ورکړې وړ ماليه له خپلو سوداګريزو فعاليتونو څخه د عوايدو د مجموعې د ټاکلو لمخې محاسبه کړي او دغه سنجش دې د تشبث د شته اسنادو لمخې ترسره شي. که چېرې د تشبث اسناد نه وي، ياد سنجش دې د خپلو عوايدو له مجموعې څخه د يو معقول اټکل لمخې ترسره شي. ياد شخص دې خپل اظهارليک ډک او مالياتي ادارې ته دې وړاندې کړي او د ورکړې وړ ماليه دې هم د دولت ځانګړي حساب ته وسپاري.

۱ بېلګه: عبدالسميع ډيزلي ژرنده لري چې په يوې مياشتې ۲۲ ورځې کار کوي او په اوسط ډول ۱۰۰۰ افغانۍ ناخالص عوايد په ورځ کې ترلاسه کوي. په دې توګه، د هغه ربعواره ماليه په لاندې توګه محاسبه کيږي:

مياشتنِي عوايد –۱۰۰۰ افغانۍ X ۲۲ ورځې = ۲۲۰۰۰ افغانۍ
ربعوار عوايد - ۲۲۰۰۰ افغانۍ X ۳ مياشتې = ۷۸۰۰۰ افغانۍ

د عبدالسميع د ورکړې وړ ماليه په يوه ربعه کې په لاندې توګه محاسبه کيږي:

د یوې ربعې پر مجموعي عوایدو ثابته مالیه (۷۸۰۰۰ افغانۍ) ۱۵۰۰ افغانۍ کیږي.
د ۲۰۰۰۰ افغانیو څخه تر ۱۵۰۰۰ افغانیو عوایدو له درکه د ۵۰۰ افغانیو ثابتې مالیې علاوه په هره ربعه کې.
۲۰۰۰ افغانۍ = د ثابتو عوایدو مجموعه په یوه ربعه کې.

که چېرې پورته محاسبه شوې مالیه د مالي کال په لومړۍ ربعه کې پلې شي، عبدالسمیع مکلف دی چې ۲۰۰۰ افغانۍ د یاد کال د چنګاښ یا سرطان تر ۱۵مې پورې بانکي حساب ته وسپاري او خپل اظهارلیک د مالیې له ورکړې وروسته اړونده مالیاتي ادارې ته وسپاري.

۲ بېلګه: سحرګل د ننګرهار ولایت په پچیراګام ولسوالۍ کې یوه وړه هټۍ لري چې د خپل اټکل لمخې په کال کې له ۲۰۰۰۰ افغانیو لږ عواید لري. دی د ثابتې مالیې تابع نه دی او د ثابتې مالیې مالیات هم نه ورکوي.

۳ بېلګه: نجیب الله د چارکارو په ښار کې د قصابۍ په مارکېټ کې یوه هټۍ لري او د کال په یوه ربعه کې ۲۰۰۰۰ افغانۍ ( په کال کې ۸۰۰۰۰ افغانۍ کیږي) عواید ترلاسه کوي چې مالیې یې په لاندې توګه محاسبه کیږي:

۲۰۰۰ افغانۍ = ۳ ثابته مالیه x د عوایدو مجموع په یوه ربعه کې ۲۰۰۰۰ افغانۍ.
نجیب الله مکلف دی چې ۲۰۰۰ افغانۍ د ورکړې وړ مالیه د قانون د حکم لمخې بانکي حساب ته وسپاري.

تبصره: دا چې د نجیب الله کلني عواید د ۵۰۰۰۰ افغانیو او ۳۰۰۰۰۰ افغانیو ترمنځ کیږي، دی کولای شي د ثابتې مالیې پرځای له خپلو نګه عوایدو څخه پر عایداتو مالیات او د انتفاعي معاملاتو مالیات پرته له مجازو کسراتو ورکړي.

۴ بېلګه: حسین علي د کابل ښار په منډیي جاده کې د کپړو یوه هټۍ لري او کلني ناخالص عواید یې ۳۵۰۰۰۰۰ افغانۍ کیږي. دی له خپلو عوایدو ثابته مالیه نه ورکوي نو له دې کبله، مکلف دی چې د قانون د حکم لمخې پر عایداتو مالیات او د انتفاعي معاملاتو مالیات ورکړي.

۴.۷۵ په ۷۵مه ماده کې مندرج ثابت مالیات د ځاني ارزونې لمخې محاسبه کیږي. له دې روش سره سم، مالیه ورکوونکی مکلف دی د ورکړې وړ خپل مالیات د حقایقو پربنسټ او د منل شوو معیارونو لمخې محاسبه کیږي. په عادي توګه د عوایدو مجموعه او ټولګه د یاداښتونو او د تشبث د معاملاتو د نورو اسنادو لمخې محاسبه کیږي خو د اسنادو د نشتوالي په صورت کې، له تشبثه د لاسته راغلو عوایدو د اندازې په ټاکنه او د ورکړې وړ ثابتې مالیې د اندازې په محاسبه کې، لاندې فاکتورونه په پام کې نیول کیږي.

1. د تشبث لخوا وړاندې شوي خدمات او جنس ډول،
2. د کار اټکلیز کمیت یا د خرڅلاو اندازه،
3. د کرایې ارزښت، د تشبث د موقعیت وړتیا او پراخوالی،
4. د تشبث موقعیت او د هغه اقتصادي ګټې د نفوسو په تناسب،
5. د توکو او هغو خدماتو د غوښتنې کچه چې وړاندې کیږي،
6. د پانګې اټکلیز ټاکل، د اجناسو او خدماتو ارزښت او د خرڅلاو بیې،

7. د کورنیو او بهرنیو تولیداتو کچه او اندازه،
8. د مصرفي او نامصرفي اجناسو کچه، او
9. د تشبث د ورځنیو، میاشتنیو او کلنیو ناخالصو عوایدو تخمیني ټاکنه.

مالیاتي اداري مسولې دي چې ټول د ورکړې وړ مالیات او ورکړې د قانون لمخې تضمین کړي او د شخص لخوا د وړاندې شوي مالیاتي اظهارلیک صحت او سموالی کنټرول او وڅېړي. همدارنګه، اړونده مالیاتي اداري دې یاد مالیاتي اظهارلیکونه وڅېړي او د محاسبې د فکتورونو لمخې دې وارزوي. په هغه صورت کې چې یادې اداري ورکړل شوي مالیات لږ تشخیص کړي، دوی کولای شي تعدیل شوې ارزونې صادرې کړي. په دې صورت کې، اضافي مالیات او نورې جریمې تطبیق کیږي.

په داسې حال کې چې یو شخص چې د ثابتې مالیې تابع دی، وغواړي چې د ثابتې مالیې پرځای (د امکان په صورت کې) پر عایداتو مالیات او د انتفاعي معاملاتو مالیات ورکړي، دی مکلف دی چې د تشبث اسناد او هغه ملاتړ اسناد ولري چې لمخې یې پر عایداتو مالیات او د انتفاعي معاملاتو مالیات سنجوي.

۱ بېلګه: ملالۍ د غاښونو یوه متخصصه ډاکټره ده چې په یوه خصوصي روغتون د غاښونو ناروغان ګوري. په ۱۳۸۸ مالي کال کې، ملالۍ د په ورځ کې ۳۰ ناروغان معاینه کوي او په هره میاشت کې ۲۵ ورځې کار کوي. د یادې ډاکټرې فیس د هر ناروغ له معاینې څخه ۱۰۰ افغانۍ ده او پر کلنیو عایداتو مالیات په لاندې توګه محاسبه کیږي:

میاشتني عواید: ۱۰۰ افغانۍ x ۳۰ = ۳۰۰۰ x ۲۵ ورځې = ۷۵۰۰۰ افغانۍ.
کلني عواید: ۷۵۰۰۰ افغانۍ x ۱۲ میاشتې = ۹۰۰۰۰۰ افغانۍ.

ملالۍ ته په کار ده چې یا ثابته مالیه ورکړي یا هم دا اختیار لري چې د ثابتې مالیې پرځای پر عایداتو مالیات او د انتفاعي معاملاتو مالیات ورکړي. ملالۍ دا غوره ګڼي چې پر عایداتو مالیات او د انتفاعي معاملاتو مالیات ورکړي (د امکان په صورت کې). د ملالۍ پر عایداتو مالیات په لاندې توګه محاسبه کیږي:

| | |
|---|---|
| د کال ټول عواید: | ۹۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| منفي عملیاتي لګښتونه (مستند) | ۶۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| په کال کې د مالیې وړ عواید | ۳۰۰۰۰۰ افغانۍ |

د ۴مې مادې لمخې د فرد پر عوایدو مالیات = ۱۲۸۰۰ افغانۍ.

تبصره: دا چې د ملالۍ د هرې ربعې مجموعي عواید له ۷۵۰۰۰ افغانیو لږ دي او د دې د ډاکټرۍ خدمات د هغو ثبت شوو خدماتو له ډلې نه دي پر کومو چې د انتفاعي معاملاتو مالیات د هغو کسانو لپاره پلي کیږي چې په یوې ربعه کې له ۷۵۰۰۰ افغانیو لږ عاید ولري. په دې توګه، ملالۍ د انتفاعي معاملاتو د مالیاتو پر ورکړه مکلفه نه ده.

۲ بېلګه: حامد په نوي ښار کې د يوې هټۍ خاوند دی او چارې پرمخ بيايي. په ۱۳۸۸ مالي کال کې د رستورانت د خدماتو د وړاندې کولو له درکه د ده مجموعي عوايد په هره ربعه کې ۶۰۰۰۰ افغانۍ کيږي (يانې په کال کې ۲۴۰۰۰۰ افغانۍ). حامد ته په کار ده چې يا ثابته ماليه ورکړي يا هم دا اختيار لري چې د ثابتې ماليې پرځای پر عايداتو ماليات او د انتفاعي معاملاتو ماليات ورکړي. حامد مکلف دی چې د کال په پای کې پر عايداتو ماليات او د انتفاعي معاملاتو ماليات ورکړي. ماليات په لاندې توګه محاسبه کيږي:

أ. د انتفاعي معاملاتو ماليات (په ربعه کې):

حامد مکلف دی چې د ۷۲مې مادې د ۲ فقرې لمخې د انتفاعي معاملاتو ماليات ورکړي. د انتفاعي معاملاتو د مالياتو نورم ۲٪ ده. د انتفاعي معاملاتو د ماليې وړ عوايد ۶۰۰۰۰ افغانۍ کيږي. د يوې ربعې د انتفاعي معاملاتو ماليات ۶۰۰۰۰ افغانۍ x ۲٪ = ۱۲۰۰۰ افغانۍ کيږي. په مالي کال کې، د انتفاعي معاملاتو د تاديې وړ مجموعي ماليات ۱۲۰۰۰ افغانۍ x ۴ = ۴۸۰۰۰ افغانۍ کيږي.

ب. پر عايداتو ماليات (په کال کې):

حامد د مالي کال په ترڅ کې د پورته عوايدو د لاسته راوړلو لپاره ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ مصرفوي. پر عايداتو ماليات په لاندې توګه سنجول کيږي:

| | | |
|---|---|---|
| ناخالص عوايد | | ۲۴۰۰۰۰ افغانۍ |
| منفي: د مجرايۍ وړ لګښت | | ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| د انتفاعي معاملاتو ورکړل شوي ماليات | ۴۸۰۰۰ افغانۍ | ۲۰۴۸۰۰۰ |
| د ماليې وړ عوايد | | ۳۵۲۰۰۰ افغانۍ |

پر عايداتو د مالياتو قانون په ۴مه ماده کې د درج جدول لمخې، پر عايداتو د ورکړې وړ ماليات ۲۲۰۰۰ افغانۍ سنجش شوي دي.
د تاديې وړ ټوله ماليه = پر عايداتو ماليه + انتفاعي ماليه = ۲۲۰۰۰ ۴۸۰۰۰+ = ۷۰۰۰۰ افغانۍ.
يادښت: که چېرې حامد دا غوره ګڼلې وي چې ثابته ماليه تاديه کړي، په کال کې د تاديې وړ ټول مبلغ بايد ۲۴۰۰۰۰ X ۳٪ = ۷۲۰۰۰ افغانۍ وای.

۶.۷۵ که چېرې يو شخص د مالي کال په يوه ربعه کې د ثابتې ماليې تابع عوايد ونلري (يانې عايد يې له ۶۰۰۰۰ افغانيو لږ وي)، دی مکلف دی چې د ربعې رپوټ له نورو کره اسنادو سره يوځای اړونده مالياتي ادارې وسپاري. ياده مالياتي اداره دغه رپوټ د شخص د اسنادو د ارزونې لمخې تاييدوي يا يې نه مني.

۷.۷۵ که چېرې يو شخص پر عايداتو د مالياتو قانون د ۷۴ او ۷۵مې مادې د احکامو لمخې په مالي کال کې د ثابتې ماليې تابع وي او د ده عوايد په کال کې له ۳۰۰۰۰۰ افغانيو واوړي چې د ثابتې ماليې اندازه ده، نو ياد شخص مکلف دی چې پر عايداتو ماليات او د انتفاعي معاملاتو ماليات ورکړي.

**د معافيتونو تعديل**
**شپږ اویایمه ماده:**
د دې قانون په حکمونو کې د درج شوو مالياتي معافيتونو او نورمونو په اړه تعديل، د ماليې وزارت په وړانديز او د واکمنو چارواکو په منظورۍ صورت مومي.
د ماليې او مالياتي معافيتونو وضع کول، د ماليې وزارت له موافقې پرته جواز نه لري.

۱.۷۶ د افغانستان اسلامي جمهوريت د اساسي قانون د ۴۲ مادې (۲) فقره د هغو مالياتو او محصولاتو تطبيق ته اجازه نه ورکوي چې د قانون حکم ورته نه وي شوی.

۲.۷۶ بر سېره پر دې، د هر ډول ماليې او مالياتي معافيت وضع کول بايد د ماليې وزارت لخوا ومنل شي.

۳.۷۶ د "ماليې" او "اجورې" چې د اجناسو او خدماتو د عرضه کولو په بدل کې ورکول کيږي بايد له يو بل څخه يې توپير وشي. ماليه هغه مبلغ دې چې د دولت لخوا د دولت د عوايدو د زياتوالي په موخه د هغو اجناسو او خدماتو په بدل کې اخيستل کيږي چې د دولت لخوا عامو وګړو ته وړاندې کيږي. اجوره هغه مناسب مبلغ دې چې د دولت لخوا يوه ځانګړې ماليه ورکوونکي ته د هغه د خدماتو او اجناسو په بدل کې ورکول کيږي. اجوره هغه وخت مناسبه ګڼل کيږي چې هغې اجورې ته ورته وي چې د اجناسو او خدماتو په بدل کې د يو نهاد لخوا غوښتل کيږي. دا چې يو خصوصي نهاد کولای شي د ټيټې بيې په بدل کې ورته اجناس او خدمات عرضه کړي، نو هغه نه شي کولای چې اجوره په ماليه بدله کړي. بياهم که چيرې غوښتل شوې اجوره له هغې اجورې څخه زياته وي چې يو خصوصي نهاد ته ورکول کيږي، د نوموړې اجورې اضافي مبلغ د ماليې په توګه ګڼل کيږي. دا چې خلک د اجورې ورکولو ته راضي دي نو دا په دې معنی نه ده چې نوموړې اجوره ماليه ده ولې د دې لپاره ښه ثبوت دې چې اجوره ماليه ده.

۱ بېلګه: د اطلاعاتو، کلتور او توريزم وزارت د افغانستان په بېلابېلو سيمو کې د رسالو د عرضه کولو په بدل کې پيسې اخلي. هېڅوک نه دي اړشوي چې يادې رسالې وپيري. نو ياد مبلغ اجوره ګڼل کيږي نه ماليه. د اطلاعاتو، کلتور او توريزم وزارت کولای شي د يوه ځانګړي قانون له نشت والي سره سره دغه اجوره ترلاسه کړي. نوموړی وزارت کولای شي د ماليې وزارت له موافقې نه پرته دغه مبلغ لاسته راوړي.

۲ بېلګه: د ټرانسپورټ وزارت پريکړه کوي چې له سړک نه د ګټې اخيستنې په بدل کې له اشخاصو او افغان نهادونو څخه په هره مياشت کې د ۱۰ افغانيو غوښتنه وکړي. دا چې له هرشخص څخه دغه ماليه ترلاسه کيږي او بله دا چې نوموړی مبلغ مستقيماً د هغو اجناسو او خدماتو د عرضه کولو په بدل کې نه ورکول کيږي چې خلکو ته عرضه کيږي، نو ياده اجوره د ماليې په توګه ګڼل کيږي. نو په دغه صورت کې نوموړی وزارت نه شي کولای چې د قانوني واک نه پرته دغه ماليه تطبيق کړي. پر دې برسيره، اړوند قانون هم د ماليې وزارت له موافقې څخه پرته د تطبيق وړ نه دې.

# دولسم فصل

## دکان جواز، د کان صلاحیتلیک یا د هایدروکاربن د قرارداد

## پر لرونکي د مالیاتو د وضع لپاره مالیاتی مقررات

## له ۷۷ مادې نه تر ۸۵ پورې

**تعریفونه - په دغه څپرکي کې**

اووه اویایمه ماده:

(1) لاندې اصطلاحګانې پدې فصل کې لاندنۍ معناوې لري:

1. "د هایدروکاربونونو قرارداد": د کانونو د پلټنې (تفحص) یا په هر هغه قانون کې د درج خدمتونو قرارداد دي چې په افغانستان کې د هایدروکاربونونو په اړه تطبیقیږي.
2. " د کانونو صلاحیت لیک": له هغه صلاحیت لیک څخه عبارت ده چې د معادنو د وزارت لخوا د معادنو د قانون لمخې د دې لپاره ورکول کیږي چې د کانو د معدن، د کانو د معدن څخه ګټه اخیستنه، له وړاندې استخراج شوو بېکاره موادو څخه ګټه اخیستنه، مسلکي ګټه اخیستنه، سوداګري، پروسس او د معدني موادو لېږد رالېږد یا د شکل بدلون وپلټي او اکتشاف یې کړي.
3. " د کان جواز " له هغه جواز څخه عبارت دې چې د (۱۳۸۴ کال) د منرالونو د قانون په اتلسمه ماده کې تصریح شوی دی.
4. " د کان جواز، د کان د صلاحیت لیک یا د هایدروکاربن د قرارداد لرونکي": پر هغه مودې اطلاقیږي چې د جواز لیک او واک لیک پاڼې لرونکې وي او یا د هایدروکاربن د قرارداد یو اړوند اړخ وي.
5. "د کان جواز، د کان د صلاحیت لیک یا د هایدروکاربن د قرارداد د لرونکي شتمنې، له هغې شتمنۍ څخه عبارت ده چې:

- له ۱۲ میاشتو څخه زیات اغېزناک عمر ولري،
- د کان په جواز، د کان په صلاحیت لیک یا د هایدروکاربن په قرارداد کې د مستقیمې ګټې اخیستنې په منظور پېرودل یا ودان شوې وي.

(2) یوه حلقه څاه چې د هایدروکاربنونو د پلټنې (تفحص)، پرمختیا یا تولید په موخه د کان د جواز، د کان د صلاحیت لیک یا د هایدروکاربن د قرارداد لرونکي په ذریعه کیندل کیږي، د نوموړي شخصیت د شتمنۍ په توګه ګڼل کیږي او ټول هغه لګښتونه چې د څاه د کیندلو په ترڅ کې، له بل شخص سره د اړیکې لپاره چې د نوموړي شخصیت لپاره څاه کاږي یا یې کار بندوي، دغه ټول د څاه د ترلاسه کولو د لګښت په توګه ګڼل کیږي. که چېرې سره د څاه د کېندلو لپاره د کیندلو او قرارداد کولو لګښت له یوه مالي کال څخه زیات دوام ومومي، داسې ګڼل کیږي چې نوموړي شخصیت په هر کال کې جلا شتمنې لاس ته راوړې او د هرې شتمنۍ ارزښت، د څاه کیندلو یا د څاه د کیندلو د قرارداد د هماغه کال له لګښتونو سره مساوي دی.

۱.۷۷ د ۱۲ فصل محتوا هغه قانون دې چې د منل شوو استخراجي صنایعو پر مالیه ورکوونکو باندې تطبیقیږي. د ۷۷ مادې د (۱) فقرې ۴ جز پورته یاد شخص د هغه کس په توګه تعریفوي چې د کان جواز، د کان صلاحیت لیک ولري او یا د هایدروکاربنونو د قرارداد ګډون کوونکې وي. د ۱۲ فصل پاتې مادې یوازې د منل شوو استخراجي صنایعو پر مالیې ورکوونکو تطبیقیږي. همدارنګه ۷۷ مه ماده هغه مهمې اصطلاحګانې چې پدې فصل کې راغلي، تعریفوي. د ۷۷ مې مادې د (۱) فقرې په ۱، ۲ او ۳ جز کې د

حقوقو ډولونه، لکه د کان جواز، د کان صلاحیت لیک او دهایدروکاربنونو قرارداد، چې د هغه له مخې یو مالیه ورکوونکې د منل شوو استخراجي صنایعو مالیې ورکوونکې ګڼل کیږي، تشریح کړي دي. دا درې اصطلاحګانې په ټول فصل کې کارول شوې.

۲.۷۷ هغه سوداګریز کاروبار چې په استخراجي صنایعو کې ښکېل وي مګر د منل شوو استخراجي صنایعو د مالیه ورکوونکې په توګه، لکه څنګه چې تعریف شوې، نه وي، نو د ۱۲ فصل احکامو څخه د استفادې مستحق نه ګڼل کیږي.

د معدنونو د ملاتړ یو شرکت هغه کارکوونکو او قراردادیانو ته چې د مسو په یو کان کې په کار بوخت دي، خوراک او د اوسیدلو ځاې برابروي. نوموړي کان د ګلوبل کاپر شرکت لخوا چې د کان صلاحیت لیک لري په مخ بیول کیږي. یوازې ګلوبل کاپر د ۱۲ فصل د احکامو څخه د استفادې مستحق ګڼل کیږي. دا چې د معدنونو د ملاتړ یو شرکت د منل شویو استخراجي صنایعو مالیې ورکوونکې نه دې نو د ۱۲ فصل نه پرته پر عایداتو د مالیې قانون د نورو ټولو احکامو تابع دې. سره له دې چې د معدن د خدمتونو ملاتړ شرکت په استخراجي صنایعو کې بوخت دې، بیا هم د نورو شرکتونو په شان یې سوداګریز فعالیتونه د مالیې وړ دي.

۳.۷۷ د ۷۷ مې مادې د (۱) فقرې د ۵ جز د استخراجي صنایعو منل شوي شخصیت شتمنې تعریفوي. همدا تعریف په ۸۲مې مادې کې چې د نوموړي شخصیت د شتمنیو د چټک استهلاک قانون برابروي، هم استعمالیږي.

د ۷۷ مې مادې (۲) فقره د نوموړي شخصیت د شتمنې تعریف ځکه پراخوي چې هغه ټول مصارف چې پورته یاد شخصیت یې د ګازو او نفتو(هایدروکاربنونو) د استخراج، تصفیې او تولید لپاره کوي، پکې شامل شي. په ۸۱ مه ماده کې د نوموړي تعریف ځایولو نه مقصد په دې ماده کې د ځاه کیندلو د لګښت ځایول دي تر څو نوموړي لګښت د استهلاک د چټکې طریقې له درکه وضع شي. د دې تعریف له مخې د استخراجي صنایعو منل شوي شخصیت شتمنې په هر کال کې په بیله توګه حسابیږي تر څو استهلاک یې په جلا توګه وضع شي.

د دولسم فصل لومړیتوب

اته اویایمه ماده:

د دغه قانون په څپرکو یا فصلونو کې درج مادې البته د دغه څپرکي له حکمونو پرته، د کان جواز، د کان صلاحیت لیک یا هایدروکاربن د قرارداد پر لرونکې د تطبیق وړ دي په هماغه شان چې پر یوه معمولي مؤدي تطبیقیږي، مګر دا چې د دې فصل د یوې مادې په ذریعه بدلون رامنځته شي.

۱.۷۸ په ۱۲ فصل کې د هغه مالیه ورکوونکي لپاره چې د استخراجي صنایعو منل شوې شخصیت وي او د کان جواز، د کان صلاحیت لیک ولري او یا د هایدروکاربنونو په قرارداد کې شامل وي، ځانګړي مقررات یاد شوي دي.

دولسم فصل د یادو مالیه ورکوونکو لپاره د هغو احکامو کوم چې پر عایداتو د مالیاتو په قانون کې راغلي، ځای نه نیسي. د استخراجي صنایعو منل شوی شخص د نورو ټولو مالیه ورکوونکو په شان د قانون د احکامو تابع دی. د استخراجي صنایعو په منل شوي شخصیتونو باندې د ۱۲ فصل یوازیني اغېزه د هغو استخراجي صنایعو کوم چې په نورو تجارتي تشبثاتو کې وجود نلري، د استخراجي صنایعو د پانګه اچونې د ځینې شرایطو تشخیص او د ځینو محدودو عمومي قوانینو مناسب پلي کول دي.

اته اویایمه ماده په روښانه توګه څرګندوي چې د دولسم فصل یواځې له یوې مادې پرته چې یو بل راز قانون تشریح کوي، پر عایداتو د مالیاتو د قانون ټول مواد د استخراجي صنایعو پر منل شوو شخصیتونو د نورو ټولو مالیه ورکوونکو په شان تطبیقیږي. پدې صورت کې د۱۲ فصل یاده مقرره د نورو هغو قوانینو په پرتله چې په بل ډول تطبیقیږي، غوره ګڼل کیږي.

**د معدن د جواز لرونکو مالیاتي مکلفیتونه**

**نهه اویایمه ماده:**

(1) د کان د جواز، د کان د صلاحیت لیک یا د هایدروکاربن د قرارداد لرونکي له واک پانو، جوازونو او قراردادونو څخه د هر یوه په اعتبار د جلا مؤدي په توګه ګڼل کیږي.

(2) که چیرې دکان د جواز، د کان صلاحیت لیک یا د هایدروکاربن د قرارداد لرونکې، د هایدروکاربن له یوه څخه په زیاتو قراردادونو کې ذیدخل اړخ وي او یا د کان د جواز د کان د صلاحیت لیک یا د هایدروکاربن د یوه څخه د زیاتو او یا له پورته دوو موردو څخه مرکب او جوړ وي، داسې ګڼل کیږي چې هغه د هایدروکاربن، د کان د جواز او د کان د صلاحیت لیک د اړوندو سودا ګریزو فعالیتونو په اساس د جلا شخص په توګه ګڼل کیږي.

(3) که چیرې د هایدروکاربن قرارداد، د کان جواز او د کان صلاحیت لیک تمدید شي، د هغو تمدید د هایدروکاربن د قرارداد ، د کان د جواز او صلاحیت لیک د اصلي برخې په توګه، د دې مادې د تطبیق په منظور حسابیږي.

(4) که چیرې د کان جواز، د کان د صلاحیت لیک یا د هایدروکاربن د قرارداد لرونکي د هایدروکاربن له یوه څخه په زیاتو قراردادونو کې ذیدخل اړخ وي او یا د کان د جواز، یا د کان د صلاحیت لیک له یوه څخه د زیاتو یا له پورته دوو موردو څخه مرکب او جوړ وي او د هایدروکاربن د قرارداد، د کان د جواز یا د صلاحیت لیک له یوه څخه د زیاتو لګښتونو متقبل شي، نوموړي لګښتونه د فعالیت د مختلفو اړخونو ترمنځ له لګښتونو څخه د ګټې اخیستنې او د کارولو ډول ته په کتنې سره وېشل کیږي.

۱.۷۹ د دې لپاره چې د استخراجي صنایعو د شتمنې د پېرودلو بیه د هغه څخه د تولید شوي عایداتو سره سمون ولري، ۷۹ ماده هر مالیه ورکوونکي سره د کان جواز، د کان صلاحیت لیک او یا د هایدروکاربن قرارداد له مخې چې نوموړې مالیه ورکوونکې یې ولري، د جلا شخصیت په توګه معامله کوي. د بیلګې په توګه، د دې قاعدې له مخې یو مالیه ورکوونکې نه شي کولای چې د یوه جواز لاندې د کان لګښتونه د بل جواز لاندې کان چې مالیه ورکوونکې یې لري، د استخراجاتو د پلورلو څخه لاس ته راغلو عایداتو په بدل کې وضع یا مجرا کړي. د دې پر ځای د هر کان لګښتونه د هماغه کان د استفادې څخه د لاس ته راغلو عایداتو څخه وضع یا مجرا کیږي.

که چیرې دا مقرره ونه کارول شي، نو هغه مالیه ورکوونکې چې د څو قراردادونو په اجرا کولو بوخت دې د نوموړو ختم شوو پروژو څخه لاس ته راغلو عایداتو د مالیې ورکولو نه پدې دلیل چې پروژه نوې ده، ځان ساتي. او د نوي پیل شوي پروژې لګښتونه د هغو ختمو شوو پروژو د عایداتو څخه چې له مخه د تولید په حال کې دي، وضع کوي. که چیرې یو مالیه ورکوونکې د کان جواز، د کان صلاحیت لیک او یا د هایدروکاربن د قرارداد له مخې چې نوموړې یې لري یو جلا شخصیت وګڼل شي نو د هرې یوې پروژې لګښتونو سره به د هماغې پروژې څخه د عایداتو د سمون لامل وګرځي.

بېلګه: د کانونو یو افغاني شرکت څلور د کان جوازونه او د کان صلاحیت لیک لري چې دوه سره نښتې ساحې تر پوښښ لاندې راولي. په ۱۳۸۷ کال کې د شرکت د فعالیتونو لمړۍ ساحه د تولید مرحلې ته رسیږي. په دویمه ساحه کې د افغانیو له درکه د شرکت عواید او لګښتونه په لاندې توګه دي:

| کال | دهماغه کال لګښتونه | د تولید نه وړاندې کال څخه د هماغه کال پیل پورې مجموعې لګښتونه | خرڅلاو |
|---|---|---|---|
| ۱۳۸۵ | ۲ میلیونه | ۰ | ۰ |
| ۱۳۸۶ | ۲ میلیونه | ۲ میلیونه | ۱۰۰،۰۰۰ |
| ۱۳۸۷ | ۲ میلیونه | ۱۲میلیونه | ۸۰۰،۰۰۰ |
| ۱۳۸۸ | ۴ میلیونه | | ۸ میلیونه |
| ۱۳۸۹ | ۴ میلیونه | | ۸ میلیونه |
| ۱۳۹۰ | ۴ میلیونه | | ۸ میلیونه |

لکه څنګه چې لاندې په ۸۳مې ماده کې تشریح شوې، په ۱۳۸۷ کال کې مالیه ورکوونکی د هماغه کال لګښتونه د ۲ میلیونو څخه وضع کولای شي (مګر دا چې د استخراجي صنایعو منل شوي شخصیت د استهلاک ور شتمنیو پېرودلو لپاره لګښت شوې وي) او همدارنګه د ۱۲ میلیونو یوه برخه چې د ۱۳۸۷ کال څخه د مخه مصرف شوي وي، وضع کوي. د فعالیت په دویم کال کې د ۱۳۸۷ کال مجاز مجراي یان د فعالیت دویمې ساحې څخه په هماغه کال کې دلاس ته راغلو عایداتو څخه په زیاته اندازه ډېرېږي. د ۷۹مې مادې د پلي کولو په نتیجه کې د معدنونو افغاني شرکت نشي کولاې چې په پورته ذکر شوي کال کې د حد څخه زیات لګښتونه د لمړۍ ساحې د عایداتو څخه چې د جلا کان صلاحیت لیک لاندې قرارلري، وضع کړي. پر ځاي یې، نوموړې شرکت کولاې شي هغه تاوان یې چې په ۱۳۸۷ کال کې ور رسیدلې د دویمې ساحې لاس ته راغلو عایداتو څخه د مجرایي لپاره راتلونکو کلونو ته انتقال کړي.

د انتفاعي معاملو مالیه
اتیایمه ماده:

د دې قانون په لسم فصل کې درج د انتفاعې معاملو مالیه پر لاندې عایداتو د تطبیق ور نده:

1. د کاني موادو د پلورنې له مدرکه ( لکه څنګه چې ډول چې د ۱۳۸۴ کال د منرالونو په قانون کې تعریف شوي دي) د کان د جواز، د کان د صلاحیت لیک یا د هایدروکاربن د قرارداد د لرونکي عواید چې د کان د جواز یا صلاحیت لیک تابع وي.
2. د هایدروکاربن د پلورنې له درکه ، د کان د جواز، د کان د صلاحیت لیک یا د هایدروکاربن د قرارداد د لرونکي عواید چې د هایدروکاربن د قرارداد تابع وي.
3. د کان د جواز ، د کان د صلاحیت لیک یا د هایدروکاربن د قرارداد د پلورنې یا لیږدونې له درکه دکان د جواز، د کان د صلاحیت لیک یا د هایدروکاربن د لرونکي عواید.

۱.۸۰ د انتفاعي معاملو مالیه چې د عایداتو باندې د مالیاتو د قانون لسم فصل له مخې وضع شوې د شرکت یا تشبث د ناخالص عایداتو په اساس د دوراني سرمایي د مالیي څخه عبارت دی. د معدني موادو پلورل

(لکه څنګه چې د ۱۳۸۴ کال د منرالونو په قانون کې تعریف شوی) د منرالونو د خرڅلا له درکه نا خالصو عايداتو باندې د امتياز د حق وضع شوو محصولاتو تابع دې. د منرالونو د پلورلو له درکه په ناخالص عايداتو باندې د امتياز د حقونو معيار (ارزښت) پدې اساس تعينيږي چې د امتياز نوموړي حقونه په ناخالص عايداتو باندې يواځنې وضع شوي محصولات دي. ۸۰مه ماده د شرکت عوايد پر عايداتو د ماليا تو قانون په لسم فصل کې د انتفاعي معاملو ذکر شوې ماليې څخه د دې لپاره چې د ۱۳۸۴ کال د امتياز د حق د احکامو د ښه تطبيق په اړه يې ډاډ حاصل شوې وي او د منرالونو د پلورلو له درکه يواځنی تطبيق شوي ناخالص عوايد وي، معافوي.

۲.۸۰ هايدروکاربنونه د جواز ورکوونې د رژيم څخه متفاوت د هغه سيستم لاندې چې په ټولو کاني موادو باندې تطبيقيږي، ځاي نيسي. دهايدروکاربنونو توليدات د امتياز د حقونو او د توليد د ونډې موافقه ليکونو تابع ګرځي. ځکه چې د منرالونو په قانون کې د امتياز د ذکر شوو حقونو په باره کې داسې موضوع موجوده وه، د امتياز د حقونو رژيم او د هايدروکاربنونو د توليداتو د ونډې په اساس داسې چې د ناخالصه خرڅلاو په نظر کې نيولو سره هيڅ ډول اضافي ماليه وجود نلري، حسابيږي. او همدارنګه لکه څنګه چې د منرالونو د پلورلو قضيه موجوده وه، نو ۸۰مه ماده د هايدروکاربنونو د پلورلو له درکه لاس ته راغلي عوايد په هغه صورت کې چې پلورونکې په افغانستان کې د هايدروکاربن فعاليت کولو قرارداد ولري د ۱۰ فصل پرعايداتو د ماليا تو په قانون کې د انتفاعي معاملاتو ذکر شوې ماليې څخه معافوي. دا کار د امتياز د حقونو او د توليداتو د ونډې په اړه چې له تمې سره سم تطبيق شوي د ډاډ وړ ګرځي او د هايدروکاربنونو په ناخالصه توليداتو باندې هيڅ ډول اضافي لګښتونه موجود نه دي.

۳.۸۰ اتيايمه ماده د کان د جواز، د کان د صلاحيت ليک او يا د هايدروکاربنونو د قرارداد د پلورلو او يا انتقال له درکه ناخالصه عوايد د انتفاعي معاملو د ماليې څخه معافوي.

۴.۸۰ اتيايمه ماده د انتفاعي معاملو د ماليې څخه درې ډوله عوايد معافوي مګر نوموړې معافيت پر هغو عايداتو ماليات چې د ۴مې مادې سره سم د ماليې وړ پر عايداتو وضع شوي وي، نه تطبيقيږي. د يوه ماليه ورکوونکي د ماليې وړعوايد د هغې خالصې ګټې مقدارڅخه عبارت دې چې پر عايداتو باندې د ماليا تو د قانون له مخې مجاز تعليل څخه وروسته لاس ته راغلي وي.

د استهلاک وضع کېدل

يو اتيايمه ماده:

(1) د دغه قانون د اتلسمي مادې د (۱) فقرې د (۷) جز پر خلاف، د کان جواز، د کان د صلاحيت ليک يا د هايدروکاربن د قرارداد لرونکې چې د خپلې شتمنۍ د ترلاسه کولو په منظور، د ودانۍ يا د ودانۍ د اشغال د حق په استثنې د لګښتونو متقبل کيږي، کولای شي د شتمنيو د ترلاسه کولو لګښتونه د مساويانه فيصدۍ پر بنسټ هر کال له لاندې مواردو څخه لږ مجرايي ترلاسه کړي:

أ. د شتمنۍ اغيزناک عمر(د استهلاک دوره) ،

ب. د کسراتو د مجرايۍ پنځه کاله له هغه کال څخه چې شتمنۍ پکې ترلاسه شوې ده پيل کيږي.

(2) د دغه د اتلسمي مادې د (۱) فقرې د (۷) جز پر خلاف، د کان د جواز ، د کان د صلاحیت لیک یا د هایدروکاربن د قرارداد لرونکې چې د شتمنۍ د ودانولو یا ترلاسه کولو یعنې ودانۍ یا د ودانۍ د نیولو (اشغال) لپاره د حقوقو د ترلاسه کولو په منظور په کلنۍ کرایې پرته لګښتونو متقبل کیږي، ذکر شوي لګښتونه د مساویانه فیصدۍ پر بنسټ د ۱۵ کلونو په بهیر کې وضع کولای شي، د کسراتو وضع له هغه کال څخه چې لګښتونه پکې متقبل شوې دي پیل کیږي.

(3) د کان د جواز، د کان د صلاحیت لیک یا د هایدروکاربن د قرارداد لرونکې چې د کان د صلاحیت لیک، د کان د جواز یا د هایدروکاربن د قرارداد د ترلاسه کولو د لګښتونو متقبل کیږي، د کان د صلاحیت لیک، جواز، د هایدروکاربن د قرارداد ترلاسه کولو لګښتونه د مساویانه فیصدۍ پر بنسټ، هر کال له هغه کال څخه چې پورته ذکر شوي د کان د صلاحیت لیک، جواز او د هایدروکاربن قرارداد پر تطبیق لاندې نیول کیږي، وضع کولای شي.

(4) د کان د جواز، د کان صلاحیت لیک یا د هایدروکاربن د قرارداد د لرونکي د شتمنۍ د استهلاک ارزښت، په هر وخت کې د ذکر شوو شتمنیو د ودانولو یا ترلاسه کولو د لګښتونو د هر ډول کسراتو د منفي اصلي لګښتونو په توګه چې د دې مادې لمخې مجاز ګڼل شوي دي محسوبیږي، که چیرې پورته ذکر شوې شخصیت، د خپلې شتمنۍ له ارزښت زیاته، له استهلاک وروسته وپلوري، اضافي بیه د نوموړي شخص له مالیې وړ عایداتو څخه محسوبیږي. که چیرې د کان د جواز، د کان د صلاحیت لیک یا د هایدروکاربن د قرارداد لرونکي خپله شتمني له ارزښت څخه په ټیټه د هغې استهلاک له وضع وروسته وپلوري، کولای شي له استهلاک او د پلورنې له بیې د وروسته ارزښت د توپیر مجرایي په هغه کال کې چې شتمني پکې پلورل شوې ده، لاس ته راوړي.

۱.۸۱ که چیرې مالیه ورکوونکی یو داسې شتمني چې عمر یې د مالي کال د ختم څخه ډېر وي راونیسي، پدې صورت کې د پېرودلو لګښت لپاره هېڅ ډول مجاز مجرایي نشته. د مالیه ورکوونکي لخوا د یوې شتمنۍ پېرودل د هغه په خالص اقتصادي وضیعت کې کوم بدلون نه راولي. البته له یو حالت (ډېر وخت نقدي پیسو) څخه بل حالت (منقوله ملموس یا غیر ملموس ملکیت) ته د شتمنۍ تبادله ده. دا چې د یوې شتمنۍ ارزښت د استفادې یا د وخت د تیریدلو له امله استهلاک کیږي، نوځکه د ۱۸ مادې د (۱) فقرې د (۷) جز لمخې مالیه ورکوونکې د استهلاک د وضع کولو اجازه لري.

۲.۸۱ د ودانیونه پرته د ماشین آلاتو او ملکیتونو د استهلاک نورم د همدې تعلیماتنامې د ۱۸مې مادې (۷) فقرې په (۱) جز کې د ملکیت د اټکل شوي عمر له مخې ټاکل کیږي. د غیرملموسه شتمنیو لکه قرارداد او یا امتیاز عمرونه د پیل څخه اټکلیږي او د ملموسو شتمنیو لکه ماشین آلاتو، او ودانیو عمر باید وټاکل شي. سره له دې، د ۸۱ مادې (۱) جز د چټک استهلاک په باره کې تشریح ورکړې چې د هغه لمخې د ودانیو یا د استفادې حقوقو نه پرته نورو ټولو اساسي شتمنیو لپاره د استهلاک اعظمي حد ۵ کاله تعین شوې دی. د ۸۱مي مادې (۱) جز کې د استهلاک ذکر شوي نورم د ۵ کالو څخه لږ او د شتمنیو واقعي عمر دی. کله چې د شتمنۍ عمر د ۵ کالو څخه کم وي، نو پدې صورت کې د هغه د عادي عمر نه استفاده کیږي. دا حالت معمولاً د هغو ماشینونو لپاره چې عمر یې د ۵ کالو څخه کم وي او یا هغه قراردادونو لپاره چې څو کاله اعتبارلري، صدق کوي. د شتمنیو بیه د مساویانه طریقو څخه د استفادې سره د استهلاک تابع کیږي. دا پدې معنی ده چې د شتمنۍ بیه په مساوي توګه د شتمنۍ د عمر یا د ۵ کلونو په موده کې (که چیرې د تطبیق وړ وي) د استهلاک مصرف په توګه مجرایي ورکول کیږي.

يو اتيايمه ماده د شتمنۍ بيه او د استهلاک د منلو وړ طريقې يعنې مساويانه طريقې له مخې د استهلاک د مودې اعظمي حد وضع بيانوي. نوموړې حکم د ۱۸مې مادې (۷) فقرې (۱) جز پر ځاې ندې استعمال شوې او په ۸۱ مه ماده کې ټاکل شوې مودې نه پرته، د هغو مرحلو له مخې چې پرعايداتو د مالياتو په قانون کې د ۱۸ مادې (۷) فقرې (۱) جز لپاره بيان شوي دي، استهلاک محاسبه کوي. کله چې د استخراجي صنايعو منل شوي شخصيت شتمنۍ د مالي کال په اوږدو کې په يو وخت کې حاصل شوې وي، پر عايداتو د مالياتو د قانون په تعليماتنامه کې ذکر شوې مرحلې د ۱۸ مادې (۷) فقرې (۱) جز په اړه (باندې) نورو ټولو شتمنيو په شان تطبيقيږي.

د ۸۱مې مادې په (۱) فقره کې د چټک استهلاک د وضع مقررات يوازې د استخراجي صنايعو منل شوي شخصيت په شتمنيو باندې د تطبيقولو وړ دي چې د ۷۷مې مادې د ۱ فقرې په **۵** جز کې توضيح ورکړل شوې او د هغو شتمنيو په توګه چې د تشبث لخوا په مستقيمه توګه استفاده کيږي او د کان د جواز، د کان د صلاحيت ليک يا د هايدروکاربن د قرارداد تابع دي. نو کله چې يو شرکت د کان جواز ولري او د هغه لمخې آهک ډېره استخراجوي او سيمټ هم توليدوي، نو د چټک استهلاک د مقررې وضع يوازې د هغو ماشينونو په اړه چې د کانې موادو په استخراج کې پکاريږي، تطبيقيږي نه د هغو ماشينونو په اړه چې په فابريکه کې د سيمټو په توليد کې ترې ګټه اخيستل کيږي.

د "په مستقيمه توګه د تشبث په فعاليت کې استفاده کيږي او د کان د جواز، د کان د صلاحيت ليک او يا د هايدروکاربن د قرارداد تابع دی" عبارت د دې ښکارندوی دې چې د استخراجي صنايعو منل شوي شخصيت شتمنۍ بايد په ربښتيا سره د هغو فعاليتونو پر مخ بيولو لپاره چې د کان په جواز يا د کان په صلاحيت ليک يا د هايدروکاربن په قرارداد کې تشريح شوې دي، پکار يووړل شي. نوموړې فعاليت د کان د تفحص يا د منرالونو واقعي استخراج او يا د هايدروکاربنونو حقيقي استخراج او تفحص څخه عبارت دی.

داسې ګڼل کيږي چې د کان يا د هايدروکاربنونو د تفحص او استخراج په محل کې استعمال شوې شتمنۍ په مستقيمه توګه د کان په جواز، صلاحيت ليک او يا د هايدروکاربن قرارداد کې پکار وړل کيږي. هغه شتمنۍ په بل ځاې کې پکاريږي د هغه دارايې په توګه نه حسابيږي کوم چې د کان په جواز، صلاحيت ليکاو يا د هايدروکاربن قرارداد کې ټاکل شوو فعاليتونو د پروسې په اجرا کې ترې ګټه پورته کيږي. نو له دې امله هغه شتمنۍ چې د کان يا هايدروکاربن د فعاليتونو څخه لرې په ښار کې د ماليه ورکوونکې په دفتر کې پکاريږي د استخراجي صنايعو د منل شوي شخصيت د شتمنۍ په توګه نه ګڼل کيږي او د ۱۸ مادې د (۷) فقرې په (۱) جز کې د عادي استهلاک په اړه ذکر شوي مقررات په نوموړې شتمنۍ باندې د تطبيق وړ دي.

۳.۸۱ د هايدروکاربنونو ځاه: د ۷۷ مادې ۲ فقره هغه ځاه چې د استخراجي صنايعو منل شوي شخصيت لخوا د هايدروکاربنو د تفحص، پرمختګ يا توليد په منظور کيندل شوې وي، د نوموړې شخصيت د شتمنۍ په توګه ګڼې او د ځاه کيندلو، د دربيم کس سره د هغه لپاره د ځاه کيندلو قرارداد کولو يا د ځاه د بندولو لګښتونه د ځاه د کيندلو د لګښتونو په توګه ګڼل کيږي. يوازې د ځاه کيندلو حقيقي مصارف، د دربيم کس سره د هغه لپاره د ځاه کيندلو د قرارداد او د ځاه د کيندلو او بندولو لګښتونه د استخراجي صنايعو منل شوي شخصيت د شتمنۍ د بيې په حيث ګڼل کيږي. چمتوکوونکې لکه د سروې يا د محل برابرولو لګښتونه د هغو لګښتونو له جملې څخه ندي چې د ځاه کيندلو له درکه حساب شي او د استخراجي

صنایعو منل شوي شخصیت د شتمنۍ لاس ته راوړلو استخراج په توګه نه حسابیږي. نوموړي لګښتونه په ۸۱ ماده کې د استخراجي صنایعو منل شوي شخصیت ذکر شوي شتمنیو د بیې په توګه نه محسوبیږي بلکه په ۸۳ ماده کې د تولید څخه د مخه لګښتونو په عنوان ګڼل کیږي.

۴.۸۱ ودانۍ: هغه شتمني چې د ۸۱ مادې په ۱ فقره کې د استهلاک ذکر شوي مقررې تابع دي، د ودانیو حصول د بیې یا د هغو ودانیو د نیولو حق کې چې د استخراجي صنایعو منل شوي شخصیت شتمنۍ دي، نه شاملیږي. نوموړې شتمنۍ د ۸۱ مادې په ۲ فقره کې د ذکر شوي حکم تابع ده. د استخراجي صنایعو منل شوي شخصیت شتمنۍ د ۷۷ مادې د ۵ فقرې په ۱ جز کې توضیح شوې ده. نوموړې شتمنۍ دوه د پیژندلو وړ خاصیتونه لري، لمړی د هغه ګټور عمر د ۱۲میاشتو څخه ډیر وي او بله دا چې د مستقیمې ګټې پورته کولو په منظور د کان د جواز، صلاحیت لیک او یا د هایدروکاربن قرارداد لمخې جوړ یا حاصل شوې وي. کله چې د استخراجي صنایعو منل شوي شخصیت شتمنۍ ودانۍ یا د ودانۍ د نیولو حق وي، د ۱۸ مادې پر ځای ۸۱ ماده به د حصول یا جوړولو بیې د استهلاک لوړې مودې (ټاکلو) لپاره پکار وړل کیږي.

پرته له هغو ودانیو چې د کان په کار یا تفحص او یا د هایدروکاربنونو په استخراج کې پکاریږي، د هغې شتمنۍ په توګه حسابیږي چې په فعالیت کې د کان د جواز، صلاحیت لیک او یا د هایدروکاربن قرارداد لمخې ترې کار اخیستل کیږي. هغه ودانۍ چې په بل ځای کې پکاریږي، د کان په جواز، صلاحیت لیک او یا د هایدروکاربن قرارداد کې د فعالیت د اجرا ذکرشوې پروسې په توګه نه ګڼل کیږي. نو د مالیه ورکوونکي د دفتر ودانۍ چې د کان یا هایدروکاربن فعالیتونو څخه لرې په ښار کې موقعیت لري، د استخراجي صنایعو منل شوي شخصیت د شتمنۍ په توګه نه ګڼل کیږي او د ۱۸ مادې (۷) فقرې په (۱) جز کې د عادي استهلاک ذکر شوي مقررات د نوموړې ودانۍ په هلکه د تطبیق وړ دي.

د ۸۱ مادې ۲ فقره د کلنۍ کرایې څخه پرته د یوې ودانۍ جوړولو یا لاسته راوړلو او د نیولو حق د بیې په اړه د تطبیق وړ ده. عادي کرایه د تادیه کولو نه وروسته د مجرایي وړ ده. خو بیا هم، د لوېې مودې لپاره د اجارې اخیستلو په صورت کې د مخکې نه ورکړل شوې کرایه یا د ټولې کرایې یو ځای ورکول د ودانۍ رانیولو بیې سره معادل حسابیږي او د ۲ فقرې تابع ده. د استهلاک مقرره د هغې ودانۍ جوړولو یا لاسته راوړو لګښتونو په اړه چې د استخراجي صنایعو منل شوي شخصیت د شتمنیو څخه ده، تطبیقیږي.

نوموړي لګښتونه په مساویانه توګه (کلنۍ مساویانه مجرایي په توګه) د ۱۵ کلونو څخه په زیاتې مودې کې استهلاک کیږي چې په ځانګړې توګه د هغه کال، په کوم کې چې شتمنۍ لاس ته راغلې، د استهلاک یوې برخې مقرراتو تابع کیږي چې پرعایداتو باندې د مالیاتو د قانون تعلیماتنامې په ۱۸ ماده کې پرې رڼا اچول شوې ده.

۵.۸۱ د کان جواز، صلاحیت لیک یا د هایدروکاربن د قرارداد لګښت (چې دا اصطلاح په ۷۷ ماده کې تشریح شوې ده) د مساویانه ( کلنۍ مساویانه استهلاک) روش مطا بق د لاسته راوړل شوي حقوقو د عمر په اوږدو کې د استهلاک وړ دی. د کان د جواز، صلاحیت لیک یا د هایدروکاربن د قرارداد د اخیستلو بیه په ټولو اتفاقي لګښتونو لکه د حقوقي خدماتو اجورې او غیر مستقیمو لګښتونو کې شاملیږي چې د کان جواز، صلاحیت لیک یا د هایدروکاربن د قرارداد په اخیستلو ختمیږي. دا چې نوموړي لګښتونه د ۱۹ مادې د ۲ فقرې د ۱ جز لمخې د پورته ذکر شوو اسنادو د رانیولو لګښتونه دي، د نورو احکامو په اساس د مجرائي وړ نه دي مګر باید د استهلاک مقرراتو لاندې وپیژندل شي.

۲.۸۱ د استخراجي صنايعو منل شوې شخصيت د شتمنۍ د انتقال لپاره د بېلانس تصحيح کله چې د استخراجي صنايعو د منل شوي شخصيت هغه شتمنې پلوري چې د ۸۱ مادې لمخې تري استهلاک وضع کيږي او که چيرې د پلورلو له درکه عايدات د استهلاک د وضع نه وروسته د شتمنۍ د ارزښت نه کم يا ډېر وي نو پدې صورت کې د پاتې ارزښت تصحيح ته اړتيا شته. د استهلاک د وضع نه وروسته د شتمنې ارزښت د اصلي قيمت منفي د مخکې نه وضع شوي استهلاک له درکه تعليل څخه عبارت دی. کله چې د پلورلو له درکه عايدات د استهلاک وضع نه وروسته د شتمنې ارزښت نه ډېر وي، نو ثابيږي چې مخکينې او نوموړې تعليلونه د عوايدو مجموعې باندې اضافه کيږي. د استهلاک د وضع نه وروسته د شتمنې ارزښت او د پلورلو ډېروالې په مجموعي عوايدو کې شامليږي.

که چيرې د پلورلو عايدات د استهلاک د وضع نه وروسته د شتمنې ارزښت څخه لږ وي نو ثابتيږي چې تعليل نا بسيا دې او تنقيص د ډېر تعليل په واسطه تشخيصيږي. د استهلاک نه وروسته د شتمنۍ ارزښت او د خرڅلاو عايداتو ترمنځ ډېروالې د مجرائي وړ دې.

که چيرې د استخراجي صنايعو منل شوي شخصيت په يوه پروژه کي خپل ټول حقونه لکه اصلي جوازليک، سامانونه او ودانۍ و پلوري، نو پلورونکې او پيرودونکې دواړه مکلف دي چې د پلورلو بيه د مختلفو پلورل شوو شتمنيو ته تشخيص ورکړي ترڅو د ۸۱ مادي احکام د پلورونکي او پيرودونکي لخوا د تطبيق وړ وي. د پلورلو بيه بايد په آزاد بازارکې د پلورل شوو شتمنيو د بيې په اساس وټاکل شي.

د سړکونو د جوړولو لګښتونه
دوه اتیایمه ماده:

(1) دغه ماده د کان د جواز، د کان د صلاحیت لیک یا د هایدروکاربن د قرارداد پر هغهٔ لرونکې باندې تطبیقیږي چې د هغو فعالیتونو د پرمختګ لپاره چې د کان د جواز، د کان د صلاحیت لیک یا د هایدروکاربن د قرارداد لمخې اجرا کیږي، د سړک جوړولو لګښتونه مني.

(2) هغه شخصیت چې د دې مادې په (۱) فقره کې تشریح شوی دی، کولای شي د سړک د جوړولو لګښتونه لکه څرنګه چې د دې مادې په (۱) فقره کې څرګنده شوې ده، د هغهٔ کال د لګښتونو په کسر سره چې سړک پکې بشپړیږي، د پنځلسو کلونو په موده کې وضع کړي.

(3) دغه فقره د کان د جواز، د کان د صلاحیت لیک یا د هایدروکاربن د قرارداد په لرونکي باندې چې د کان د جواز، د کان د صلاحیت لیک یا د هایدروکاربن د قرارداد لمخې خپل حقوق په بل شخص باندې پلوري او په پایله کې پلورنکې شخص له هغهٔ سړک څخه چې د دې مادې په (۱) فقره کې تشریح شوی دی ګټه نه اخلي او د کان د جواز، د کان د صلاحیت لیک یا د هایدروکاربونو د قرارداد ترلاسه کوونکي له نوموړي سړک څخه ګټه اخلي، تطبیقیږي، پداسې حالت کې د کان د جواز، د کان د صلاحیت لیک یا د هایدروکاربونو ترلاسه کوونکي شخص د کسراتو د پاتې کلونو لپاره د سړک د جوړولو د نه کسر شوو لګښتونو د وضع مستحق دی، د سړک د لګښتونو د کسر پاتې کلونه د هغو کلونو د شمېر په منفي کولو سره چې پخواني مالک یا مالکان یې د دې مادې پر بنسټ مستحق وو له پنځلسوکلونو څخه محاسبه کیږي.

(4) په هغهٔ صورت کې چې د دې مادې (۳) فقره د هغهٔ سړک پر جوړولو باندې چې د دې مادې په (۱) فقره کې تشریح شوی دی تطبیق شي، هغهٔ شخص چې په خپل حقوق د کان د جواز، د کان د صلاحیت لیک یا د هایدروکاربن د قرارداد لمخې پلوري، د دې مادې د حکم لمخې په هغهٔ کال کې چې نوموړي حقوق پکې پلورل شوي یا له هغه راوروسته کلونو کې د سړک د جوړولو د لګښتونو د مجرائي مستحق ندی.

۱.۸۲ د کان او هایدروکاربن پروژې معمولاً په هغو لیرې منطقو کې موقعیت لري چې نه شي کولای د سړکونو نه ئې استفاده وکړي. پدې صورت کې د استخراجي صنایعو منل شوې شخصیت چې د هایدروکاربن قرارداد، د کان صلاحیت لیک یا د کان جواز هم لري د کار محل ته رسیدلو لپاره د سړکونو په جوړولو مکلف دي. د استخراجي صنایعو منل شوې شخصیت د غیرمنقوله شتمنیو او کاني موادو یا هایدروکاربن د استخراج څخه د استفادې حق لري خو د نوموړو شتمنیو مالک نه ګڼل کیږي. نو پدې دلیل، سړکونه د قرارداد یا جواز ختمیدو په صورت کې مالک ته ئې ورکول کیږي. د ۱۸ مادې لمخې د شتمنۍ مالک د استهلاک د وضع مستحق دی. سره له دې، د ۸۲ مادې لمخې د استخراجي صنایعو منل شوې شخصیت د هغه سړک جوړولو لګښتونو د استهلاک وضع د امتیاز خاوند دې چې د نوموړي شخصیت د پروژې د کار پر مخ بیولو کې پکاریږي.

۲.۸۲ د ۸۲ مادې ۲ جز د استهلاک پر ۱۵ کلنۍ مودې حکم کوي. استهلاک په مساوي‌ډول وضع کيږي او د ۱۸ مادې د ۷ فقرې په ۱ جز کې د استهلاک عادي مقررات د تطبيق وړ دي. که څه هم ۱۸ماده د "سړک جوړولو د کار پای ته رسيدو له کال څخه د ۱۵ کلن استهلاک وضع" په اړه ده، د مالي کال په اوږدو کې د شتمنۍ لاس ته راوړلو په اړه د ۱۸ مادې حکم د تطبيق وړ ندی. د استخراجي صنايعو منل شوې او مستحق شخصيت کولای شي د هغه کال د سړک جوړولو د لګښتونو د بيې ۱۱۱۵ مجرائي واخلي کوم کې چې د سړک جوړولو کار تکميل شوې دي. په ۸۲ ماده کې د ياد معياد نه پرته، پر عايداتو د مالياتو د قانون د تعليمنامې ۱۸ مادې ۷ فقرې په (۱) جز کې د ذکر شوو مرحلو څخه په استفادې سره استهلاک محاسبه کيږي.

۳.۸۲ د استهلاک موده د هغه کال څخه پيليږي چې د سړک جوړولو کار پکې تکميل شوې دی. که چيرې د استخراجي صنايعو منل شوې شخصيت د کار اخيستنې په پروژه کې د طبيعي منابعو څخه خپل د استفادې حقوق د ۸۲ مادې (۳) جز لمخې د استخراجي صنايعو په بل منل شوې شخصيت باندې وپلوري، د پروژې اصلي معياد دوام مومي او نوې مالک ئې د ۱۵ کلونو څخه په پاتې موده کې د استهلاک ورکولو مستحق دی.

۴.۸۲ څلورم جز د طبيعي منابعو پروژې او د نومړو پروژو لپاره د جوړ شوو سړکونو څخه د استفادې امتياز په اړه توضيح ورکوي. پلورونکی د سړک جوړولو له درکه د استهلاک د وضع حق نلري او يوائې پېرودونکې کولای شي استهلاک وضع کړي.

بېلګه: افغان منرال يو باندنې شرکت دی. نومړي شرکت د دې قانون د ۳ مادې سره سم د هجري لمريز مالي کال پر ځاې د زيږديز مالي کال (د جنوري لمړي نيټې څخه تر ۳۱ ديسمبر پورې) څخه د استفادې غوښتنه کړې او منل شوې ده. د ۲۰۰۶ کال په نومبر مياشت کې افغان منرال شرکت د مسو پر کان کار پيلوي چې په کان پورې د کابل - هرات سړک جوړول هم پکی شامل دی. د نومړي سړک د جوړولو لګښت تر ۳۰۰،۰۰۰ افغانيو ډېر دی او د ۲۰۰۷ کال د جون مياشتې تر پاي پورې پاي ته رسيږي. په ۲۰۰۷ کال کې او تر ۱۴ کلونو پورې هر وروستي کال کې، افغان منرال شرکت د لاندې مبلغ د وضع کولو اجازه لري:

۳۰۰،۰۰۰ * ۱/۱۵ = ۲۰،۰۰۰ افغانی

په ۲۰۱۲ کال کې افغان منرال شرکت خپل د کان د فعاليت امتياز د کان د صنايعو په نوي شرکت باندې د ۵ ميليونه افغانيو په بدل کې پلوري. تر هغه مهال افغان منرال شرکت د ۲۰۰۷ څخه تر ۲۰۱۱ کلونو په اوږدو کې ۱۰۰،۰۰۰ افغانۍ مجرائي اخېستې ده. د هغو ۵ ميليونو له جملې څخه چې د کاني صنايعو نوې شرکت يې د افغان منرال شرکت ټولو فعاليتونو په بدل کې تاديه کړي، يوائې ۲۰۰،۰۰۰ افغانۍ يې (۳۰۰،۰۰۰ – ۱۰۰۰۰۰) د هغو پيسو په توګه ګڼل کيږي چې ګواکې نومړي شرکت ته اړوند د امتياز په بدل کې تاديه شوي دي. نو د ټولو شتمنيو او لاس ته راغلو حقوقو بيه ۴،۸۰۰،۰۰۰ افغانۍ ده. د کانې صنايعو نوی شرکت کولای شي ۲۰،۰۰۰ افغانۍ په ۲۰۱۲ او د ۹ راتلونکو کلونو د هر کال په اوږدو کې مجرائي واخلي.

### له تولید دمخه لګښتونه

درېیمه ماده:

(1) د دې قانون د ۱۸ مادې پر خلاف د کان د جواز، د کان د صلاحیت لیکیا د هایدروکاربن د قرارداد لرونکې یوازې له تولید څخه د مخه لګښتونه د مساوي فیصدۍ پر بنسټ په هر کال کې له تولید څخه د مخه لګښتونو د رسېدو په موده کې په هغهٔ صورت کې مجرایي اخستی شي چې:

أ. "له تولید څخه د مخه لګښتونه" له هغو لګښتونو څخه عبارت دي چې د کان د جواز، د کان د صلاحیت لیک یا د هایدروکاربن د قرارداد لرونکې د کان د جواز، د کان په صلاحیت لیکیا د هایدروکاربن په قرارداد پورې د اړوند فعالیتونو په موده کې د سوداګریزو کاني موادو له تولید څخه دمخه متقبل شوی وي. لدې سره سره له تولید څخه د مخه لګښتونه، د کان د جواز، د کان د صلاحیت لیکیا د هایدروکاربن د قرارداد د لرونکي د ستمنۍ د ترلاسه کولو د لګښتونو، د کانونو (معدنونو) یا د سړک د جوړولو د لګښتونو په برکې نیوونکې ندي، او

ب. د کانونو یا د هایدروکاربن د استخراج په فعالیتونو کې د تولید څخه د مخه لګښتونو د دوباره رسیدو موده چې د کان د جواز، د کان د صلاحیت لیکیا د هایدروکاربن د قرارداد لرونکي په ذریعه د کان په جواز یا د کان په صلاحیت لیک کې له تعریف شوو ساحو څخه په یوې کې د لاندې میعاد له لږ مودې څخه عبارت وي:

- پنځلس کاله،
- په جواز یا صلاحیت لیک کې د پاتو کلونو شمېر،

أ. "د هایدروکاربن د یوهٔ شرکت لپاره "له تولید څخه دمخه لګښتونو د دوباره رسېدو موده" په قرارداد کې د پاتې کلونو شمېر دی.

(2) د کان د جواز، د کان د صلاحیت لیکیا د هایدروکاربن د قرارداد لرونکی داسې ګټېل کېږي چې د منرالونو او هایدروکاربن سوداګریز فعالیتونه یې له لاندې مواردو څخه په یوهٔ کې (له هغو څخه هر یو چې لومړی واقع شي) پیل کړیدي:

أ. په هغهٔ کال کې چې د مالیې او د کانو او صنایعو وزارتونه داسې لیکلی یادښت صادر کړي البته پدې اړه چې یادو وزارتخانو د یادښت پر اساس پورتنی شخصیت منلی ده چې دغه شخصیت سوداګریز فعالیتونه پیل کړیدي،

ب. په هغهٔ صورت کې چې دکان د جواز، د کان د صلاحیت لیک یا دهایدروکاربن دقرارداد یو لرونکي، د کانونو د صلاحیت لیک لرونکي وي، له هغهٔ کال څخه چې د منرالونو پلورنه، له تولید څخه دمخه لګښتونو په سلو کې له شپږو څخه زیات تشکیل کړي چې هغه په تېر کال کې متقبل شوی دی، او

ج. په هغهٔ صورت کې چې یاد شخصیت د هایدروکاربن د قرارداد لرونکې وي، هغه کال چې پکې د هایدروکاربنونو د پلورنې له درکه عواید پر هغې وړاندې د نوموړي شخصیت په واسطه د متقبل شوو له تولید څخه د دمخه لګښتونو د ټاکلې حد له فیصدۍ څخه د لګښتونو د ټاکلي حد فیصدۍ د ۱۰۰ پر عدد باندې د هایدروکاربن د

کلونو د تقسیم له لارې لاسته راځي.

(3) که چېرې د کان د جواز، د کان د صلاحیت لیک، هایدروکاربن د قراردادیو لرونکی، د کان په جواز، د کان په صلاحیت لیک یا د هایدروکاربن په قرارداد کې درج خپل حقوق په بل شخصیت چې هغه هم د کان د جواز د کان د صلاحیت لیک یا د هایدروکاربن د قرارداد لرونکی دی، وپلوري، لومړنی شخصیت کولای شي خپل له تولید څخه دمخه متقبله لګښتونه د جواز، صلاحیت لیک یا د قرارداد د حقوقو د ترلاسه کلولو په لګښتونو کې چې د (۱) فقرې لمخې د مخه وضع شوي نه وي، ورزیات (علاوه) کړي.

۱.۸۳ اته اتیایمه ماده د منل شوو استخراجي صنایعو د تولید څخه دمخه لګښتونود تشخیص څرنګوالې بیانوي. د تولید څخه دمخه لګښتونه د ۸۳ مادې د ۱ فقرې په ۱ جز کې تعریف شوي دي. نوموړي لګښتونه عبارت له هغو لګښتونو څخه دي چې د استخراجي صنایعو منل شوې شخصیت یې د منرالونو سوداګریز تولید څخه دمخه د کان د جواز، صلاحیت لیک او یا د هایدروکاربن د قرارداد مربوط متقبل شوی دی چې د نوموړي شخصیت د لاسته راغلو شتمنیو د بیې نه پرته (په ۸۱ ماده کې ذکر شوي استهلاک تابع) یا د سرک جوړول ( په ۸۲ ماده کې د استهلاک ذکر شوې وضع تابع ) دي.

۲.۸۳ د تولید څخه دمخه لګښتونه د یو ډول اساسي لګښتونو "سرمایوي لګښتونه" په ځانګړي ډول د کاربن د کان یا د نفتي ځاګانو لګښتونه دي چې د استخراجي صنایعو منل شوې شخصیت یې د یوې شتمنۍ په لاسته راوړلو کې متقبل کیږي. د ۸۳ مادې لمخې د استخراجي صنایعو منل شوي شخصیت د تولید څخه د مخه لګښتونو د اسنادو په ساتلو مکلف دي او هغه ته اجازه ورکوي ترڅو هغه لګښتونه چې د "تولید دمخه د اصل بیې لاسته راوړلو معیاد" په نوم پیژندل کیږي مجرایي واخلي. نوموړي معیاد د ۸۳ مادې د ۲ فقرې په ۱ جز کې د "د ۱۵ کلونو څخه لږ او د کاني صنایعو د جواز یا صلاحیت لیک پاتو کلونو شمېر" تر عنوان لاندې او د ۸۳ مادې د ۳ فقرې په (۱) جز کې د "هایدروکاربن په یو قرارداد کې د پاتې کلونو شمېر کله چې د هایدروکاربن په پروژه باندې بحث کیږي" تر عنوان لاندې تعریف شوی دی . د کان د جواز، صلاحیتلیک یا د هایدروکاربن د قرارداد پاتې کلونو شمېر د هغه کال د پیل څخه کوم کې چې سوداګریز تولید پیل شوې، محاسبه کیږي.

بېلګه: د معدنو افغان شرکت په ۲۰۰۲ کال کې په فعالیت پیل کوي. نوموړی شرکت د کان صلاحیت لیک لري چې ۲۰ کاله اعتبار لري. نوموړي شرکت د ۲۰۰۲ نه تر ۲۰۰۸ کلونو په اوږدو کې د تولید دمخه ډېرو لګښتونو متقبل کیږي او په ۲۰۰۹ کال کې سوداګریز تولید باندې پېل کوي (د ۸۳ مادې د ۲ فقرې په ۲ جز کې ذکر شوي فورمول لمخې) د کان د جواز پاتې موده ۱۷ کاله ده. د ۸۳ مادې د ۲ فقرې په ۱ جز کې د کسراتو (کموالي) د وضع معیاد ۱۵ کلونه دی. د معدنو افغان شرکت د تولید دمخه ۱۱۱۵ لګښتونه په ۲۰۰۹ کال کې او همدا مبلغ د ۱۴ راتلونکو کلونو هر کال په اوږدو کې مجرائي اخیستلای شي.

۳.۸۳ د ۸۳ مادې حکم یوازې د تولید دمخه هغو لګښتونو باندې د تطبیق وړ دی چې د ۸۳ مادې د (۱) فقرې په (۱) جز کې د سوداګریزو تولیداتو څخه دمخه متقبل شوو لګښتونو په توګه تعریف شوي دي. هغه منل شوې وخت چې کیدای شي په هغهٔ کې د استخراجي صنایعو منل شوي شخصیت خپل تولیدي فعالیت پیل کړې وي د ۸۳ مادې په ۲ جز کې تشریح شوې دې. دا وخت د هغه کال پیل دې چې د مالیې وزارت او د کانونو او صنایعو وزارت د استخراجي صنایعو منل شوي شخصیت ته د سوداګریز تولید او د تولید حد په موخه د دواړو وزارتونو د ګډ توافق یو لیکلي سند صادروي. د هایدروکاربنونو او منرالونو استخراجي صنایعو منل شوو شخصیتونو په اړه د تولید مختلف حدونه تطبیقیږي. د استخراجي صنایعو منل شوي شخصیت د تولید حد د ۸۳ مادې ۲ فقري په ۲ جز کې توضیح شوې دې. د منرالونو استخراجي صنایعو منل شوې شخصیت داسې ګڼل کیږي چې ګویا د هغهٔ کال د تولید د حدونو شرایط ئې په ځای کړي چې د منرالونو د پلورلو له درکه عایدات د نوموړي کال د تولید دمخه لګښتونو څخه ٪۲ ډېر دي.

بېلګه: د افغان منرالونو شرکت د کان د صلاحیت لیک لرونکې دې او په ۲۰۰۶ کال کې د ډبرو د سکرو یو کان تا سیسوي. نوموړې شرکت په لومړیو درېو کلونو کې هر کال ۲ میلیونه او په راتلونکو ۴ کلونو کې هر کال ۴ میلیونه لګوي. نوموړې شرکت په ۲۰۰۹ کال کې محدود پلورل پیلوي او په ۲۰۱۱ کال کې په بشپړه توګه تولیدات شروع کوي. د شرکت لګښتونه او خرڅلاو په افغانیو په لاندې توګه دي:

| کال | د هماغه کال لګښت | د متراکم له تولیده مخکې د هماغه کال په پیل کې لګښت | خرڅلاو |
|---|---|---|---|
| ۲۰۰۶ | ۲ میلیون | ۰ میلیونه | ۰ |
| ۲۰۰۷ | ۲ میلیون | ۲ میلیونه | ۱۰،۰۰۰ |
| ۲۰۰۸ | ۲ میلیون | ۱۲ میلیونه | ۸۰۰،۰۰۰ |
| ۲۰۰۹ | ۴ میلیون | | ۸میلیونه |
| ۲۰۱۰ | ۴ میلیون | | ۸ میلیونه |
| ۲۰۱۱ | ۴ میلیون | | ۸ میلیونه |

د ۲۰۰۷کال خرڅلاو ۱۰۰،۰۰۰/۲،۰۰۰،۰۰۰ = ۱.۲ د تولید دمخه د مخکینې مجموعې د لګښتونو فیصدي

د ۲۰۰۸ کال خرڅلاو ۸۰۰،۰۰۰/۱۲،۰۰۰،۰۰۰ = ۲.۲ د تولید دمخه د مخکینې مجموعي د لګښتونو فیصدي

نو د استخراجي صنایعو منل شوي شخصیت کولای شي د ۱۲ میلیونو د استهلاک وضع د ۲۰۰۸ کال د لګښتونو څخه پیل کړي. د ۲۰۰۸ کال ترسره شوی لګښت د تولید دمخه لګښتونه نه بلل کیږي. نوموړو لګښتونو سره مالیاتي چال چلند د پورتنیو لګښتونو ډول پورې اړه لري. که چېرې نوموړي لګښتونه د استخراجي صنایعو منل شوي شخصیت د شتمنیو لاسته راوړلو لپاره ترسره شوي وي، نو د استخراجي صنایعو منل شوي شخصیت د شتمنیو د استهلاک د وضع مقررات د تطبیق وړ دي.

په هغه صورت کې چې د استخراجي صنایعو منل شوي شخصیت د شتمنېو د لاسته راوړلو لګښتونه د تولید په لګښتونو کې شامل نه وي، نو نوموړي لګښتونه په هماغه کال کې د مجرائي وړ دي.

۴.۸۳ هغه کال چې پکې د هايدروکاربنونو استخراجي صنايعو منل شوي شخصيت لپاره د توليد حد بشپړ کيږي د ۸۳ مادې د ۳ فقرې په ۲ جز کې بيان شوې دې. نوموړې کال د استخراجي صنايعو منل شوي شخصيت لپاره چې د هايدروکاربن د قرارداد لرونکې دې د هغه کال په توګه تعريف شوې دې چې پکې د هايدروکاربنونو د پلورلو له درکه د توليد دمخه لګښتونو فيصدی څخه ډېرشي. د فيصدی حد د هايدروکاربن په قرارداد کې د اعتبار وړ کلونو شمېر باندې د ۱۰۰ عدد د وېشلو څخه لاس ته راځي.

بېلګه: افغان د نفتو شرکت د هايدروکاربن د قرارداد له مخې د توليد ۱۰ کلن جواز لري. نوموړې شرکت په لاندې توګه د عملياتې او کيندلو لګښتونو متقبل شوې دې:

| کال | د هماغه کال لګښتونه | د هماغه کال پيل پورې د توليد دمخه مجموعي لګښتونه | خرڅلاو |
|---|---|---|---|
| ۲۰۰۶ | ۲ ميليونه | ۰ ميليونه | ۰ |
| ۲۰۰۷ | ۲ ميليونه | ۲ ميليونه | ۱۰۰،۰۰۰ |
| ۲۰۰۸ | ۹ ميليونه | ۱۲ميليونه | ۸۰۰،۰۰۰ |
| ۲۰۰۹ | ۱ ميليون | ۲۱ ميليونه | ۴ميليونه |
| ۲۰۱۰ | ۱ ميليون | | ۴ميليونه |
| ۲۰۱۱ | ۱ ميليون | | ۴ميليونه |

د نفتو افغان شرکت لپاره د توليد حد ۱۰/۱۰۰ يعنې ٪۱۰ تعين شوې دې. هغه کال کې چې خرڅلاو په مخکې کلونو کې د توليد دمخه لګښتونو ٪۱۰ څخه ډېر شي، نو د استخراجي صنايعو منل شوی شخصيت کولای شي د توليد دمخه لګښتونو د استهلاک وضع پيل کړي.

د ۲۰۰۷ کال خرڅلاو ۱۰۰،۰۰۰/۲،۰۰۰،۰۰۰ = ٪۱،۲ د توليد دمخه د مخکينی مجموعي لګښتونو فيصدي

د ۲۰۰۸ کال خرڅلاو ۸۰۰،۰۰۰/۱۲،۰۰۰.۰۰۰ = ٪۲.۶ د توليد دمخه د مخکينی مجموعي لګښتونو فيصدي

د ۲۰۰۹ کال خرڅلاو ۴،۰۰۰،۰۰۰ / ۲۱،۰۰۰،۰۰۰ = ٪۱۹ د توليد دمخه مخکيني د مجموعي لګښتونو فيصدی ته رسيږي. په قرارداد کې پاتې موده (د منظوري کال په شمول) ۷ کاله ده. نو ځکه ماليه ورکوونکې کولای شي د ۷ کلونو په اوږدو کې ۲۱،۰۰۰،۰۰۰ ډالره يعنې هر کال ۳،۰۰۰،۰۰۰ ډالره د استهلاک له درکه وضع کړي. يو ميليون ډالرو سره چې په ۲۰۰۷ کال کې متقبل شوي دي دې پورې اړه لري چې آيا دا لګښتونه د استخراجي صنايعو منل شوي شخصيت د شتمنۍ لاس ته راوړلو لپاره ( چې د همدې له امله د استهلاک وړ دي) او که د هغو لګښتونو لپاره چې بايد په هماغه کال کې مصرف شي (په دې دليل د مجرائي وړ ) دي.

۵.۸۳ د ۸۳ مادې ۳ فقره په دې اړه چې د استخراجي صنايعو يو منل شوې شخصيت خپل د کان جواز، صلاحيت ليک او يا د هايدروکاربن د قرارداد حقونه د استخراجي صنايعو بل منل شوي شخصيت باندې پلوري، توضيحات ورکوي. کله چې هغه خپل حقوق پلوري، نو بايد د توليد دمخه ټول متقبل شوي لګښتونه وضع کړي. او همدارنګه نوموړې بايد هغه لګښتونه چې نه دي وضع شوي د ګټې يا تاوان د پلورلو د حقونو د محاسبې له مخې د خپل حقونو ارزښت باندې علاوه کړي.

بېلګه: په هغه صورت کې چې افغان د نفتو شرکت په ۲۰۱۰ کال کې د هایدروکاربنونو قرارداد سره سم خپل حقونه په یو شرکت باندې چې نوی یې په کار پیل کړې د ۲۵ میلیونو افغانیو په بدل کې وپلوري، نو د نوموړي شرکت معافیت باید وارزول شي. په داسې حالت کې داسې فرض کیږي چې افغان د نفتو شرکت خپل د تولید دمخه ۲۱،۰۰۰،۰۰۰ افغانیو څخه ۳،۰۰۰،۰۰۰ افغانۍ مجرائي کړي دي. نوموړي شرکت خپل د تولید دمخه ۱۸،۰۰۰،۰۰۰ افغانیو لګښتونه ئې نه دي مجرا کړي. د ۸۳ مادې د (۳) فقرې لمخې افغان د نفتو شرکت کولای شي د تولید دمخه لګښتونو پاتې مبلغ د قرارداد لاسته راوړلو د لګښتونو په برخې چې دمخه مجرا شوې دی، علاوه کړي. یعنې کله چې افغان د نفتو شرکت خپل حقونه په هغه شرکت چې نوې ئي په کار پیل کړې وپلوري، نو ۲۵،۰۰۰،۰۰۰ منفي ۱۸،۰۰۰،۰۰۰ = ۷،۰۰۰،۰۰۰ افغانۍ ئې د پلورلو له درکه ګټه کړې.

د استخراجي صنایعو لومړنی منل شوې شخصیت کولای شي چې د تولید دمخه هر هغه ډول لګښت چې د (۱) فقرې لمخې مجرا شوې نه وي، باید د کان د جواز، صلاحیت لیک یا قرارداد د حقوقو لاس ته راوړلو په لګښتونو باندې علاوه کړي.

| |
|---|
| د چاپېریال او ټولنیز مکلفیت د بودجې د تمویل لپاره پولي صندوق ته د بسپنې لپاره د کسراتو وضع کول<br>**څلور اتیایمه ماده:**<br>د کان د جواز، د کان د واک پاڼې، یا د هایدروکاربن د قرارداد لرونکی هر مقدار پیسی چې ښایي د محیطي او ټولنیز مکلفیت په اړه ورکړل شي، د ۱۳۸۴ کال د رسمي جریدې په (۸۵۹) ګڼه کې خپور شوي د کاني موادو د قانون د ۸۲ مادې لمخې، یا د هر هغهٔ قانون د لازمي پلان پر بنسټ چې پر هایدروکاربونو د تطبیق وړ وي، وضع کړي، البته په دې شرط چې:<br>1. نوموړې پیسې هغهٔ نهاد ته ورکړل چې له هغهٔ شخص سره چې د دې مادې لمخې، د دغه ډول لګښتونو د وضع کېدو دعوې وکړي هېڅ ډول مستقیمه یا غیر مستقیمه رابطه ونه لري.<br>2. هغه شخص چې د افغانستان بانک لخوا د منظور شوي مالي نهاد له لارې مالیې وزارت ته د کسر وړ مقدار د تادیې لپاره بانکي تضمین لیک برابر کړي البته په هغه صورت کې هغه نهاد چې سپارل شوی مقدار مصرف نه کړي لکه څنګه چې هغهٔ ډول چې د دولت د منرالونو په مقرراتو کې یا د هغهٔ پلان پر بنسټ چې د هایدروکاربن د هر قانون لمخې حکم شوی دی. |

۱.۸۴ په عادي حالتونو کې، تادیات باید په راتلونکي کې د چاپیریالي او ټولنیزو مکلفیتونو د ادا کولو د مجرائی د لوړوالي سبب ونه ګرځي دا ځکه چې نوموړي تادیات له موجودې مجرایی سره د ذخیرې په توګه ګڼل کیږي (هغه مبلغ چې د راتلونکي لګښتونو لپاره تخصیص شوی دی)، چې د استخراجي صنایعو منل شوې شخصیت د چاپیریالي او ټولنیزو هدفونو ته اړوندو فعالیتونو لپاره مصرف شوي وي. مګر ۸۴ ماده د استخراجي صنایعو منل شوې شخصیت د چاپیریالي او ټولنیزو مکلفیتونو ادا کولو لپاره د تادیاتو مجرائي په هغه صورت کې مجاز ګڼي چې نوموړې شخصیت د مرسته شوو پیسو د

استفادې د کنټرول څخه لاس په سر شوې وي. نوموړې فقره دوه شرطونه لري او پدې اړه د اطمینان حاصلولو لپاره استفاده کیږي چې د استخراجي صنایعو منل شوې شخصیت ټولې پیسې ورکړې که نه او هم ضمانت ورکړل شوې که نه چې نوموړې پیسې د ټاکلو هدفونو لاسته راوړلو لپاره مصرف شوې دي. لومړی شرط دا دی چې د چاپیریالي او ټولنیزو کارونو لپاره مرسته باید د بل داسې نهاد لخوا کنټرول شي چې هغه شخص سره هیڅ ډول نیغه یا غیرمستقیمه اړیکه ونلري چې د ۸۴ مادې د درج مجرائی مدعي وي. دویم، که چیرې هغه نهاد چې امانت اینبودل شوی مبلغ په اختیار کې لري، نوموړی مبلغ د منرالونو د مقررې یا ټولو هغو پلانونو په اساس چې د هایدروکاربنونو د نافذ قانون لخوا ټاکل شوي، تطبیق نه کړي، د استخراجي صنایعو منل شوې نهاد چې مرسته کوي باید مالیې وزارت ته د مجرا شوو پیسو د تادیې په اړه یو بانکي تضمین ورکړي.

۲.۸۴ بانکي تضمین هغو مالي شخصیتونو باندې مکلفیت تحمیلوي چې د هغهٔ مبلغ په اړه تضمین اخلي چې باید چاپیریالي او ټولنیزو هدفونو لپاره مصرف شي. پورته ذکر شوی تضمین د مالي شخصیت مطلقه وعده ده چې که کله هم د مالیې وزارت د مدرکونو له مخې وښیې چې د نهاد لخوا هغه پیسې چې باید د هایدروکاربنونو په نافذ قانون کې د منرالونو مشخص شویو مقرراتو یا پلانونو لمخې د چاپیریالي او ټولنیزو هدفونو لپاره استفاده شوي وای، نه دي مصرف شوي، نو نوموړی نهاد باید تادیه ورکړي. د بانک تضمین په هغه صورت کې د ۸۴ مادې شرطونه پوره کولای شي چې د تضمین صادرونکې مالي نهاد د افغانستان بانک لخوا نوموړو هدفونو لپاره منظور شوی وي.

۳.۸۴ د مجرائي لپاره لمړې شرط دا دي چې د چاپیریالي او ټولنیزې بودیجې د پیسو صندوق چې ورته پیسې مرسته کیږي باید د بل شخصیت لخوا چې د مجرائي مدعي شخصیت سره هیڅ ډول مستقیم یا غیر مستقیم اړیکې ونلري، کنټرول شي. دا شرطونه په دې اړه د ډاډ حاصلولو په مانا دي چې د استخراجي صنایعو منل شوې شخصیت وروسته له دې نه شي کولای پیسې خپل شخصي هدفونو لپاره استفاده کړي. که چیرې داسې وشي، نو قضیه به له دې قراره وي چې د تضمین په صورت کې هم د استخراجي صنایعو منل شوې شخصیت چې د مجرائي مدعي دی د پیسو کنټرولوونکي شخصیت سره مستقیم یا غیر مستقیم اړیکې یا پرې تاثیر لري او په نتیجه کې مرسته شوې پیسې په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه د استخراجي صنایعو منل شوي شخصیت او د مجرائي مدعي یا هغه شخصیت ته چې د مجرائي مدعې ور سره اړیکې لري، بیرته ګرځول کیږي. کله چې پیسې د استخراجي صنایعو منل شوي شخصیت او د مجرائي مدعي یا د هغه شخصیت په ګټه مصرف شي چې د مجرائي مدعي ورسره اړیکې لري، نو نوموړې پیسې داسې ګڼل کیږي چې په غیر مستقیمه توګه د استخراجي صنایعو منل شوي شخصیت ته بېرته ګرځیدلي دي. پداسې حالاتو کې هغه پیسې چې په مستقیمه یا غېر مستقیمه توګه د استخراجي صنایعو منل شوي شخصیت ته ګرځول کیږي او د مالیاتي چار چلند لپاره د استخراجي صنایعو منل شوي شخصیت عایداتو په توګه ګڼل کیږي.

۴.۸۴ که چیرې په عادي حالاتو کې د استخراجي صنایعو منل شوې شخصیت د چاپیریالي او ټولنیزو بودیجې صندوق ته پیسې ورکړي او وروسته دا پیسې د صندوق لخوا د کان د مقرراتو او یا وروستیو پلانونو په اساس چې د هر قانون له مخې د تطبیق وړ دي او هایدروکاربنونه نه متاثروي، تطبیق شي، نو داسي ګڼل کیږي چې نوموړې پیسې په مکمله توګه د شرکت د مرستې له برخې څخه مجرا شوې دي. د مرستې صندوق لخوا د پیسو څخه ګټه اخیستل د استخراجي صنایعو منل شوې شخصیت سره چې مرسته یې

کړې ده هېڅ ارتباط نلري او د پیسو لګول د استخراجي صنایعو د منل شوي شخصیت پر مالیاتي مکلفیتونو باندې کوم تاثیر نلري.

| |
|---|
| د ضرر لېږدېدل او د تړون لیکونو دوام<br>پنځمه اتیایمه ماده:<br>(1) د دې قانون ۴۲ ماده چې د عملیاتي خالص ضرر پر تشخیص باندې یو محدودیت تطبیقوي، د کان د جواز، د کان د صلاحیت لیکیا د هایدروکاربن د قرارداد پر یوه لرونکي باندې نه تطبیقیږي، که چیرې د کان د جواز، د کان د صلاحیت لیکیا د هایدروکاربن د قرارداد یو لرونکی هغسې چې په ۴۷مه ماده کې تعریف شوی د خالص عملیاتي ضرر متقبل شي، په هغه صورت کې نوموړی ضرر د راتلونکي کال لپاره د مجرائي وړلګښتونو په توګه محسوبیږي.<br>(2) د دې مادې د (۳) فقرې لمخې، د مالیې وزارت پدې قانون کې درج شوي حکمونه په هغه وخت کې چې د کان د جواز، د کان د صلاحیت لیک یا د هایدروکاربن د قرارداد لرونکی، د کان جواز، د کان د صلاحیت لیکیا د هایدروکاربن په یوه قرارداد کې د لاندې مودې لپاره ذیدخل اړخ وي، تطبیقیږي:<br>أ. د پنځو کلونو مودې لپاره، په هغه صورت کې چې د کان د جواز، د کان د صلاحیت لیکیا د هایدروکاربن د قرارداد لرونکی د کانونو د صلاحیت لیکلرونکی وي، ذکر شوي پنځه کلونه له هماغه کال څخه چې نوموړی شخصیت صلاحیت لیک اخلي، پیل کیږي،<br>ب. د اتو کلونو مودې لپاره، په هغه صورت کې چې د کان د جواز، د کان د صلاحیت لیکیا د هایدروکاربن د قرارداد لرونکي د کان د جواز لرونکی وي، ذکر شوي اته کلونه، له هماغه کال څخه چې نوموړی شخصیت جواز لیک اخلي پیل کېږي، او<br>ج. د هایدروکاربن د قرارداد موده، په هغه صورت کې چې د کان د جواز، د کان د صلاحیت لیکیا د هایدروکاربن د قرارداد لرونکی، د هایدروکاربن په قرارداد کې یو ذیدخل اړخ وي.<br>(3) د مالیې وزارت پدې قانون کې درج شوي حکمونه، یوازې د کان د جواز، د کان د صلاحیت لیکیا د هایدروکاربن د قرارداد پر لرونکي باندې چې په (۲) فقره کې څرګند شوی دی، په هغه صورت تطبیقوي چې د کان د جواز، د کان د صلاحیت لیکیا د هایدروکاربن د قرارداد لرونکي لیکلې موافقه کړې وي چې د مالیې وړ عواید یې د هغو کلونو لپاره چې د د قانون حکمونه د مالیې وزارت په ذریعه د دې مادې پر بنسټ د وروستیو بدلونونو په پام کې نیولو پرته تطبیقیږي، پر عایداتو د مالیاتو ۳۰٪ نورم لمخې راځي. |

۱.۸۵ د تاوان لېږدونه: دوه ځلوېښتمه ماده هغه مالیه ورکوونکو ته چې عملیاتي خالص تاوان سره مخ کېږي د تاوان د لیږدونې حکم په نظر کې نیسي. د ۸۵ مادې د (۱) فقرې له مخې، په ۴۲ ماده کې ذکر شوې حکم د استخراجي صنایعو پر منل شوي شخصیت د تطبیق وړ نه دی. په ۴۲ ماده کې ذکر شوې حکم هغو مالیه ورکوونکو ته چې د عملیاتي خالص تاوان سره مخ شوي دي، اجازه ورکوي تر څو د درې کلونو په اوږدو

کې هر کال د لیدلي تاوان دربیمه برخه مجرا کړي. د ۸۵ مادې (۱) فقره د استخراجي صنایعو منل شوې شخصیت لپاره چې د عملیاتي خالص تاوان سره مخ شوې دې د راتلونکو مالي کلونو په اوږدو کې ټول مجرائي ورکول مجاز ګڼي. که چیرې مجرائي په راتلونکو کلونو کې د تاوان د ډېریدو سبب شي، نو داسې ضرورونه هم راتلونکو کلونو ته د لېږلو وړ دي. مقصد یواځې همدا دی چې د خالص عملیاتې تاوان د لېږدونې لپاره نا محدوده موده په نظر کې ونیول شي.

۲.۸۵ مالیاتي ثبات: د ۸۵ مادې (۲) فقره د کان جواز ، صلاحیت لیکیا د هایدروکاربن د قرارداد لرونکي شخصیت ته د "مالیاتي ثبات "ضمانت ورکوي. دا یوه څرګنده خبره ده چې پر عایداتو باندې د مالیاتو نافذ قانون په هغو باندې چې د کان د جواز، د کان صلاحیت لیکیا د هایدروکاربن د قرارداد یو اړخ کیږي په فقره کې ذکر شوي وخت په اوږدو کې تطبیقیږي. د مالیاتې ثبات دا تضمین شخصیتونو ته اجازه ورکوي تر څو د طبیعي منابعو د ستخراج اوږد مهالو پروژو په برخه کې د دې حقیقت په اساس چې د مالیاتو ټولو ډولونو احکام او مالیاتي نورمونه چې په فقره کې ذکر شوې مودې په اوږدو کې د پروژې څخه په لاسته راغلو ګټو باندې تطبیقیږي، پانګه واچوي. یا په بل عبارت پر عایداتو د مالیاتو قانون سره د اداري احکامو، نورمونه او ټول نافذ احکام په هغه موده کې چې د استخراجي صنایعو پر منل شوي شخصیت د کان د جواز، د کان صلاحیت لیکیا د هایدروکاربن د قرارداد یو اړخ کیږي، خپل تطبیق ته به دوام ورکړي. په هغه صورت کې چې د استخراجي صنایعو منل شوې شخصیت د کان صلاحیت لیک ولري، د مالیاتي ثبات موده یې ۵ کاله ده. او که چیرې نوموړی شخصیت د کان جواز ولري، د هایدروکاربن د قرارداد او په هغه صورت کې چې د هایدروکاربن د قرارداد ذیدخل اړخ وي د مالیاتې ثبات موده ئې ۸ کاله ده. د مالیاتې ثبات موده د هغه کال څخه پیل کیږي چې د استخراجي صنایعو منل شوی شخصیت پکې د کان د جواز، صلاحیت لیکیا د هایدروکاربن د قرارداد د لرونکي په توګه منظوریږي.

په ۲ فقره کې د مالیاتي ثبات د غوښتنې د حکم د مستحقېدو لپاره، د استخراجي صنایعو منل شوی شخصیت باید په لیکلي توګه موافقه وکړي چې د تطبیق وړ د مالیې نورم د تطبیق وړ بل نورم پر ځای په مالیه ورکوونکي باندې ٪۳۰ دی. د مالیاتي ثبات موافقه لیک باید د کان جواز، صلاحیت لیکیا د هایدروکاربن قرارداد سره په یو وخت کې صورت ونیسي.

که چیرې د مالیاتي ثبات موافقه لیک د کان د جواز، صلاحیت لیکیا د هایدروکاربن قرارداد سره په یو وخت کې صورت ونیسي، د استخراجي صنایعو منل شوی شخصیت چې د یو صلاحیت لیکیا قرارداد څخه ډېر لري، داسې فرض ګڼلو سره به د یوه څخه ډېر د مالیاتې ثبات موافقه لیکونه ولري چې نوموړي شخصیت د مالیاتي ثبات د واک پاڼې، جواز، یا قرارداد مختلف موافقه لیکونه لاس لیک کړي دي. د ۷۹ مادې له مخې د استخراجي صنایعو هغه منل شوې شخصیت چې د یوه څخه ډېرو جوازونو، واک پاڼو یا قراردادونو لرونکی وي، د هرجواز، صلاحیت لیکیا قرارداد له مخې د جلا مالیه ورکوونکي په توګه ګڼل کیږي.

د استخراجي صنایعو یو منل شوې شخصیت چې د یوه څخه ډېر جوازونه، صلاحیت لیکیا قراردادونه ولري، کیدای شي ځینې لګښتونه په دوه یا د ډېرو واک پاڼو، جوازونو یا قراردادونو کې ولري. د بېلګې په توګه، کیدای شي د استخراجي صنایعو یو منل شوې شخصیت په کابل کې یو مرکزي دفتر او په نورو ولایتونو کې د ساحاتو د کیندلو دوه جلا قراردادونه ولري. په هغه صورت کې چې په کابل کې خوندي

شتمني په مستقيمه توګه د هايدروکاربن د کيندلو او استخراج په پروسه کې استفاده نه شي، نو نوموړې شتمني د استخراجي صنايعو د منل شوي شخصيت شتمنۍ نه ګڼل کيږي. په همدې ډول په کابل کې د فعاليتونو لګښتونه د توليد دمخه لګښتونو په توګه نه ګڼل کيږي. د کابل په دفتر کې د شتمنيو او د نورو لګښتونو ارزښت په ۱۲ فصل کې ذکرشويو احکامو تابع نه بلکه پر عايداتو د مالياتو عادي قانون تابع دي. لکه څنګه چې په هر يوه  قرارداد باندې د مالياتي ثبات يو جلا موافقه ليک تطبيقيږي، نوموړي موافقه ليکونه به د کابل په فعاليتونو باندې پرعايداتو د مالياتو قانون په جلا جلا تطبيق کې کوم تاثير ونلري.

# دیارلسم فصل

## د مالیې تاکل، د اظهارلیکونو وړاندې کول، اعتراضونه او د مالیاتو ورکول

## له ۸۲ مادې څخه تر ۹۱ پورې

##

د مالیه ورکوونکي تشخیصیه نمبر

شپږاتیایمه ماده:

(1) انفرادي اشخاص، شرکتونه او هغه مؤسسې چې د دې قانون یا د ګمرکونو د قانون د حکمونو لمخې، د مالیاتو یا د ګمرکي محصول په ورکولو مکلف دي او غیر انتفاعي ټولنیز سازمانونه او هغه خیریه مؤسسې چې مالیات د خپلو اړوند کارکوونکو له معاشونو یا مزدورۍ (دستمزد) څخه وضع کوي یا هغه اشخاص چې په بانکونو یا نورو مالي مؤسسو کې حساب لري یا یې و پرانیزي، مکلف دي څو د مالیه ورکوونکي تشخیصیه نمبر واخلي هغه کارکوونکي چې عواید یې د دې قانون د حکمونو لمخې، د مالیاتو د وضع کولو تابع ګرځي هم د دې حکم تابع دي.

(2) د مالیه ورکوونکي د تشخیصیه نمبر د ګټې اخیستنې او وېشلو کړنلاره د مالیې وزارت لخوا ترتیبېږي.

(3) د مالیه ورکوونکي د تشخیصیه نمبر د نه لرونکو حقیقي یا حکمي اشخاصو د فعالیت د جواز لیک وېشل او نوي کول چې د تشخیصیه نمبر په اخستلو مکلف دي، د وزارتونو، ادارو او نورو دولتي مؤسسو لخوا جواز نه لري.

۱.۸۲ هغه انفرادي اشخاص، شرکتونه او مؤسسې چې د مالیاتو او یا ګمرکي محصولاتو په ورکړې مکلفیت لري، هغوی همدارنګه ملکف دي چې د مالیه ورکوونکي د تشخیصیه نمبر واخلي.

۱ بېلګه: وحید چې د یوې نادولتي مؤسسې کار کوونکی دی په هره میاشت کې ۴۰۰۰ افغانۍ لاسته راوړي. دا چې نوموړی شخص کوم نور عواید نه لري نو پرعایداتو د مالیاتو قانون د ۴ مادې د حکم تابع دې ولې د مالیه ورکوونکي د تشخیصیه نمبر په اخستلو مکلف ندې.

۲ بېلګه: وحید چې د یوې نادولتي مؤسسې کار کوونکی دی په هره میاشت کې ۳۰۰۰۰ افغانۍ لاسته راوړي. نوموړی شخص پرعایداتو د مالیاتو قانون په ۴ ماده کې د درج مالیې تابع دی او همدارنګه باید د مالیه ورکوونکي تشخیصیه نمبر ترلاسه کړي. نوموړې نا دولتي مؤسسه هم باید نوموړی نمبر ترلاسه کړي څکه چې نوموړې مؤسسه مکلفیت لري چې د وحید له معاش نه مالیه وضع کړي.

۳ بېلګه: د (الف) شرکت یو افغان سهامي شرکت دی چې د فعالیت له پیل نه تر اوسه پورې له تاوان سره مخ دی. سره له دې چې د (الف) شرکت له تاوان سره مخ دی بیا هم د انتفاعي معاملو مالیې په ورکړه مکلف دی. نو د (الف) شرکت همدارنګه مکلف دی چې د مالیه ورکوونکي تشخیصیه نمبر واخلي.

۴ بېلګه: د (ب) شرکت یو افغان سهامي شرکت دی چې په هرات کې ساختماني فعالیت لري. نوموړي شرکت د خپل فعالیت په لومړي کال کې داسې اجناس واردوي چې یوائې د ګمرکي محصول تابع دي. نوموړی شرکت د فعالیت په لومړي کال کې نه عواید او نه هم ګټه ترلاسه کړې ده. سره له دې چې نوموړی شرکت د فعالیت په لومړي کال کې پرعایداتو د مالیاتو او پرانتفاعي معاملو د مالیې پر ورکړه مکلف نه دی ولې دا چې نوموړی شرکت ګمرکي محصول ورکوي نو د مالیه ورکوونکي تشخیصیه نمبر باید واخلي.

۲.۸۲ هغه غیرانتفاعي او خیریه مؤسسې چې د خپلو کارکوونکو له معاشونو او اجورو څخه مالیه وضع کوي باید د مالیه ورکوونکي تشخیصیه نمبر واخلي.

۱ بېلګه: یوه نا دولتي مؤسسه یو افغان شخص په کار ګماري او په هره میاشت کې ورته ۱۰۰۰۰ افغانۍ ورکوي. نوموړې مؤسسه له دغه شخص نه پرته نور کار کوونکي نه لري. د ۴۲ مادې د ۱ فقرې پر اساس نوموړې شخص مکلف نه دې چې د نوموړي کارکوونکي له معاش او اجورې څخه مالیه وضع کړي. نوموړې مؤسسه د مالیه ورکوونکي تشخیصیه نومرې ته اړتیا نه لري.

۲ بېلګه: یوه نادولتي مؤسسه دوه تنه افغانان په کار ګماري چې یو تن یې په میاشت کې ۲۰۰۰۰ افغانۍ او بل تن یې په میاشت کې ۱۰۰۰۰ افغانۍ لاسته راوړي. نوموړې نا دولتي مؤسسه مکلفه ده چې د مالیه ورکوونکي تشخیصیه نومره واخلي.

۳.۸۲ هغه اشخاص چې په یوهٔ بانک کې بانکي حساب لري، باید د مالیه ورکوونکي تشخیصیه نومره واخلي.
بېلګه: نجیب الله د خپل زوی عزیز په نامه په یوهٔ بانک کې بانکي حساب پرنیزي. عزیز لس کاله عمر لري ولې پلار یې (نجیب الله) غواړي چې زوی یې د پس انداز په لارو چارو پوه شي. نجیب الله په نوموړي بانکي حساب کې ۱۰۰ افغانۍ د امانت په توګه ږدي. عزیز باید د مالیه ورکوونکي تشخیصیه نومره واخلي.

۴.۸۲ د مالیه ورکوونکي د تشخیصیه نومرې د ترلاسه کولو په موخه باید مالیه ورکوونکی د تشخیصیه نومرې د درخواستي فورمه د مالیې وزارت یا له هغه مستوفیت څخه ترلاسه کړي چې د مالیه ورکوونکي تشخیصیه نومرې فرعي دفتر په کې وجود لري. د مالیه ورکوونکي د تشخیصیه نومرې د درخواستي فورمه د مالیې وزارت له انټرنټ پاڼې (www.mof.gov.af/tax) څخه هم ترلاسه کیدای شي چې له بشپړیدو نه وروسته باید د مالیې وزارت ته وسپارل شي.

د مالیې تړاکل او تعدیلول
اووه اتیایمه ماده:

(1) هغه اشخاص چې پدې قانون کې د درج شوو حکمونو لمخې پرعایداتو باندې د مالیاتو تابع دي، مکلف دي د عوایدو، د مالیاتو د وضع او نورو اړنیو معلوماتو د رپوټ د وړاندې کولو لپاره مفصل مالیاتي بیلانس او اظهارلیک د دې قانون او پرعایداتو باندې د مالیاتو د تعلیماتنامې د حکمونو لمخې ډک (خانه پري) او اړوندې مالیاتي څانګې ته وړاندې کړي.

(2) هغه انفرادي مالیه ورکوونکی چې د دې قانون د حکمونو لمخې د کارفرما په واسطه د مالیاتو د وضع کولو تابع دی، د اظهارلیک په ترتیبولو مکلف ندی، خو داچې مزدوري (دستمزد) یا معاش مزد وي یا معاش له څوګونو کارفرما یانو څخه لاسته راوړي یا د مزدورۍ برسیره بل عاید هم ولري، د هغهٔ معاش او مزدوۍ مالیه چې د دې قانو د حکمونو لمخې وضع شویده، د بیرته ورکړې وړنده.

(3) که چیرې مؤدي خپل مالیاتي اظهارلیک د دې قانون د حکمونو لمخې تسلیم او د ذمت مالیه یې پکې درج وي، دغه اظهارلیک د ورکړې وړ مالیې او هغهٔ د مالیې د تړاکنې د یادښت

پە توګە ګڼل کیږي.

(4) کە چیرې د مالیې وزارت باوري شي چې پە مالیاتي اظهارلیک کې برابر شوی معلومات د مودي د ذمت مالیە نە څرګندوي، د مالیې وزارت د هغە د ذمت مالیە ټاکي او د مالیې د ټاکنې تعدیل شوی یادښت هغۀ شخص تە چې د مالیې د ورکړې مسؤول دی صادروي. پە هغۀ صورت کې چې د مالیې وزارت باوري شي چې پە یادښت کې درج شوی رقم درست ندی دغە یادښت هم تعدیل او د مالیې د ټاکنې د یادښت پە توګە ګڼل کیږي.

(5) کە چیرې مؤدي خپل مالیاتي اظهارلیک، د دې قانون د حکمونو لمخې ترتیب او تسلیم نکړي د مالیې وزارت د هغۀ د ذمت مالیە ټاکي او یادښت یې هغۀ شخص تە چې د مالیې پە ورکړە مکلف دی صادروي. کە چیرې د مالیې وزارت باوري شي چې پە یادښت کې درج شوی رقم درست ندی ، دغە یادښت هم تعدیلیږي.

(6) د مالیې وزارت د مالیې د ټاکنې یادښت ، د پنځو کلونو پە مودە کې ، پیل لە هغې نیټې څخە چې مالیاتي اظهارلیک ډک او یادښت پە هغۀ پورې ارتباط و مومي، صادر یا تعدیلوی ، د مالیې وزارت کولای شي د مالیې د تاکنې یادښت هرکلە چې شخص د خپل مالیاتي اظهارلیک پە تسلیمولو بریالی نشي یا غلط مالیاتي اظهارلیک (لە مالیې څخە د تیښتې پە نیت) تسلیم کړي صادر یا تعدیلوي.

(7) کە چیرې د مالیې وزارت باوري شي چې د شخص د ذمت د مالیې تحصیل پە دې دلیل چې هغە لە افغانستان څخە د تللو، د شرکت کار تە د پای ورکولو یا د ملکیت د لیږدولو پە حال کې دی یا پە نورو دلیلونو پە مخاطرە کې قرارلري، د مالیې وزارت د مالیې د ټاکنې یادښت د روان کال یا د مخە مالي کلونو د هرې زماني مقطع لپارە صادرول شي.

۱.۸۷ هغە حکمي اشخاص چې د افغانستان د قوانینو پر بنسټ رامنځ تە شوي دي پرتە لە دې چې د کال پە اوږدو کې یې عواید ترلاسە کړي دي او کنە د بېلانس او پر عایداتو د مالیاتو د اظهارلیک پە وړاندې کولو مکلف دي.

۱ بېلګە: د (الف) شرکت چې یو افغان سهامي شرکت دې پە **۱۳۸۵** لمریز کال کې ۱۰۰۰۰ افغانۍ ګټە ترلاسە کوي. نوموړی شرکت باید د **۱۳۸۵** لمریز کال بېلانس او مالیاتي اظهارلیک وړاندې کړي.

۲ بېلګە: د (ب) شرکت چې افغان سهامي شرکت دې پە **۱۳۸۵** لمریز کال کې ۱۰۰۰۰ افغانۍ تاوان کوي. سره لە دې چې نوموړی شرکت پە **۱۳۸۵** لمریز کال کې مالیاتي مکلفیت نە لري، شرکت باید د **۱۳۸۵** لمریز کال مالیاتي اظهارلیک وړاندې کړي.

۳ بېلګە: د (ج) شرکت داسې یو شرکت دې چې دا فغانستان د قوانینو پرنسټ جوړ شوی دې. پرتە لە دې چې شرکت ګټە لاستە راوړي او کە تاوان کوي ، نومړی شرکت باید پە هرکال کې مالیاتي اظهارلیک وړاندې کړي.

۲.۸۷ لە لاندې دوو استثنایي مواردو پرتە، ټول حقیقي اشخاص مکلف دي چې خپل مالیاتي اظهارلیک وړاندې کړي.

أ. لومړی استثنا هغه وخت رامنځ ته کیدای شي چې د یوۀ حقیقي شخص په اړه لاندې شرایط ربښتیا وي:

1. که چیرې شخص د کار فرما له لخوا استخدام شوی وي (یوائې یو معاش ولري)،
2. که چیرې کارفرما د کارکوونکي له معاش نه مالیه په سمه توګه وضع کړې وي، او
3. که چیرې شخص له نورو سرچینو څخه عواید ونه لري.

بېلګه: نعیم د مالیې وزارت لخوا استخدام شوی دې او د میاشتني معاش په توګه په هره میاشت کې ۲۰۰۰۰ افغانۍ ترلاسه کوي. نوموړی شخص د عوایدو بله سرچینه نه لري. نعیم په ۴ ماده کې د درج مالیې تابع دې او د مالیې وزارت دهغۀ له معاش څخه مالیه وضع کوي. نوموړی شخص د مالیاتي اظهارلیک په وړاندې کولو مکلف نه دې.

ب. دویمه استثنا هغه وخت را منځ ته کیدای شي چې حقیقي شخص پرعایداتو باندې د مالیاتو تابع نه وي.

بېلګه: بازمحمد د مالیې وزارت کارکوونکی دې او په هره میاشت کې ۱۰۰۰۰ افغانۍ لاسته راوړي. بازمحمد د عوایدو بله سرچینه نه لري. دا چې بازمحمد په ۴ ماده کې د درج مالیې تابع نه دې، نو نوموړی همدارنګه په دغۀ ماده کې د درج مالیاتي اظهارلیک په وړاندې کولو هم مکلف نه دې.

۳.۸۷ هغه مالیه ورکوونکي چې پرعایداتو د مالیاتو قانون پراساس پرعایداتو د مالیاتو تابع دې ولې د نړیوالو تړونونو پراساس له دغي مالیې څخه معاف دې، مالیاتي اظهارلیک باید وړاندې کړي. په مالیاتي اظهارلیک کې باید د مالیاتي معافیت اغېزه وښودل شي. د تړون د تطبیق د څرنګوالي په اړه معلومات، تړون او یا د تړون یوه برخه باید له مالیاتي اظهارلیک سره ضمیمه کړل شي.

۱ بېلګه: د (الف) شرکت چې یو افغان سهامي شرکت دې د پوهنې وزارت لپاره ساختماني خدمات وړاندې کوي. نوموړی شرکت د هغه تړون له مخې فعالیت کوي چې د افغانستان دولت له یو بل ازاد هېواد لاسلیک کړی دې. د افغانستان دولت نوموړی تړون د یوې اړتیا له مخې لاسلیک کړی دې. نوموړی تړون په افغانستان کې قراردادي فعالیتونه له مالیې څخه معافوي. هغه قراردادي چې له قرارداد څخه ګټه پورته کوي باید په افغانستان کې مالیاتي اظهارلیک وړاندې کړي او دا حقیقت چې دی مالیاتي مکلفیت نه لري باید په کې وښیي. د قرارداد اړوندې برخې باید د نوموړي مالیه ورکوونکي له مالیاتي اظهارلیک سره ضمیمه شي.

۴.۸۷ مالیه ورکوونکي کولای شي مالیاتي فورمې په مالیې وزارت کې له مالیاتي دفترونو (د مستوفیتونو په ګډون) او یا هم له واکمنو بانکونو څخه ترلاسه کړي. د نوموړو د بشپړولو (ډکولو) په اړه مالیې وزارت په ویب پاڼه www.mof.gov.af/tax کې لارښوونې شته. په فورمو کې شاملې لارښوونې د فورمې د بشپړولو طریقه هم توضیح کوي.

۵.۸۷ که چیرې یو مالیه ورکوونکی خپل مالیاتي اظهارلیک بشپړ او په ټاکلې نېټه یې وړاندې کړي، نوموړی اظهارلیک د مالیې د ټاکنې د سند په توګه د اعتبار وړ دې او ورپسې درې لاندې احتمالونه وجود لري:

أ. که چیرې د عوایدو لوی ریاست باوري شي چې نوموړی اظهارلیک په سمه توګه وړاندې شوی او مالیه هم ورکړل شوې ده، نو بل اقدام ته اړتیا نشته.

ب. که چیرې مالیه ورکوونکی خپل مالیاتي اظهارلیک په سمه توګه وړاندې کړی وي ولې د ذمت خپله مالیه یې د مالیې وزارت حساب ته تحویل کړې وي، نو د اړتیا په صورت کې د مالیې وزارت کولای شي د مالیه ورکوونکي په مالیاتي اظهارلیک د درج مالیې د اخستلو په موخه اقدام وکړي.

بېلګه: د (الف) شرکت یو افغان سهامي شرکت دې چې خپل مالیاتي اظهارلیک په سمه توګه وړاندې کوي. د نوموړي اظهارلیک لمخې د (الف) شرکت ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ پور وړی ګڼل کیږي. نوموړی شرکت د مالیې له ورکړې نه پرته یواځې مالیاتي اظهارلیک وړاندې کړی دي. د اظهارلیک له ارزونې نه وروسته او د موضوع په اړه له مالیه ورکوونکي سره د بحث نه وروسته د عوایدو لوی ریاست باوري کیږي چې مالیاتي اظهار لیک په سمه او دقیقه توګه بشپړ شوی دي. د مالیې وزارت بې له کوم ځنډ نه پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون د څوارلسم فصل لمخې د مالیې د لاسته راوړلو لپاره اقدام کوي.

أ. که چیرې له ارزونې او څیړنې څخه وروسته د عوایدو لوی ریاست باوري شي چې مالیاتي اظهارلیک په سمه توګه نه دې بشپړ شوی، په دغه صورت کې د عوایدو لوی ریاست کولای شي د مالیې د ټاکلې نیټې له پیل ( له دې نه پرته چې د عوایدو لوی ریاست د مالیاتي اظهارلیک وړاندې کول د مالیې د پېټونې په توګه وګڼي) د پنځو راتلوونکو کلونو په اوږدو کې مالیه ورکوونکي ته د مالیې د ټاکنې تعدیل شوی یادښت صادر کړي. له تعدیل نه وروسته د مالیې د ټاکنې یادښت باید هغه مبلغ وښیي چې مالیه ورکوونکی یې د عوایدو لوی ریاست په باور پور وړی دي.

۲.۸۷ که چیرې مالیه ورکوونکی په ټاکلي وخت مالیاتي اظهارلیک وړاندې نه کړي، د عوایدو لوی ریاست واک لري چې د لاندې مرحلو په اوږدو کې د مالیې د ټاکنې یادښت صادر کړي:

أ. د عوایدو لوی ریاست په لیکلې تو ګه له مالیه ورکوونکي څخه په مناسب میعاد کې د مالیاتي اظهارلیک د وړاندې کولو غوښتنه کوي.

ب. که چیرې مالیه ورکوونکی د مالیاتي اظهارلیک د وړاندې کولو لپاره ډېر وخت ته اړتیا ولري، د اړتیا په صورت کې د عوایدو لوی ریاست کولای شي د دغه ریاست په خوښه مالیه ورکوونکي ته اضافي موده ورکړي. که چیرې مالیاتي اظهارلیک د درخواست په نتیجه کې وړاندې کړل شي، د عوایدو لوی ریاست دا موضوع تر غور لاندې نیسي چې آیا په شپاړسم فصل کې درج احتمالي جریمه باید و وضع شي او که نه.

ج. د اړینو څیړنو او پوښتنو نه وروسته د عوایدو لوی ریاست د مالیې د ټاکنې یادښت برابروي. په ځانګړې توګه د عوایدو لوی ریاست باید زیار اوباسي چې داسې معلومات ترلاسه کړي چې په مناسبه توګه د مالیې په ټاکنه کې ګټور وي. د بیلګې په توګه، د ورکړې وړ انتفاعي مالیې د مقدار د معلومولو لپاره باید د عوایدو لوی ریاست له مالیه ورکوونکي څخه د تیرکال د پلور ټول رسیدونه وغواړي. که چیرې نیمګړې معلومات ور کړل شي، د عوایدو ریاست د نوموړي شخص مالیاتي مکلفیت د نورو ورته مالیه ورکوونکو له مخې چې ورته

شرایط لري ټاکي او تخمیني مالیه یې دهغو مناسبو شرایطو په پام کې نیولو سره ټاکي چې د مالیه ورکوونکي له حال سره برابر وي.

د. د مالیې ټاکنې د پروسې له بشپړیدو نه وروسته، د عوایدو لوی ریاست باید د مالیې ټاکنې بشپړشوی یادښت مالیه ورکوونکي ته ولیږدوي. که چیرې مالیه ورکوونکی ټاکل شوې مالیه ورنه کړي، نو د ځوارلسم فصل لمخې تطبیقي اجراات ترسره کیږي.

۷.۸۷ که چیرې مالیه ورکوونکی خپل مالیاتي اظهارلیک په ټاکلي وخت وړاندې کړي ولې د عوایدو لوی ریاست په دې باوري شي چې مالیه ورکوونکي ته د مالیې د ټاکنې تعدیل شوی یادښت صادر شوی، د عوایدو لوی ریاست باید دغه یادښت د مالیاتي اظهارلیک له وړاندې کولو له ټاکلې نېټه څخه (له دې نه پرته چې د عوایدو لوی ریاست دمالیاتي اظهارلیک وړاندې کول د مالیې د پټونې په توګه وګڼي) د راتلوونکو پنځو کلونو په اوږدو کې صادر کړي. د مالیې ټاکنې د یادښت د صدور نېټه له هغې نیټې څخه حسابیږي چې مالیه ورکوونکي او یا معتبر پوستې خدماتو ته لیږدول کیږي. پوستې خدمات هغه وخت معتبر ګڼل کیږي چې نوموړی نهاد د لیک د لاسته راوړونکي څخه د لاسلیک غوښتنه وکړي او د عوایدو لوی ریاست وکولای شي وپیژني چې نوموړی لاسلیک سم او واقعي دې. په نورو مواردو کې د اسنادو د لیږدونکي نهاد معتبروالی د حقایقو او حلاتو له مخې ټاکل کیږي.

۸.۸۷ که چیرې مالیه ورکوونکی مالیاتي اظهارلیک وړاندې ولې په ټاکلې نېټه یې تسلیم نه کړي، د عوایدو لوی ریاست واک لري (د اړتیا په صورت کې) چې مالیاتي دفتر ته د مالیاتي اظهارلیک له وړاندې کولو څخه (له دې نه پرته چې د عوایدو لوی ریاست دمالیاتي اظهارلیک وړاندې کول د مالیې د پټونې په توګه وګڼي) د پنځو کلونو په موده کې د مالیې د ټاکنې یادښت صادر کړي.

۹.۸۷ که چیرې یو مالیه ورکوونکی مالیاتي اظهارلیک وړاندې نه کړي، د عوایدو لوی ریاست (د اړتیا په صورت کې) واک لري هر کله چې وغواړي د مالیې د ټاکنې یادښت صادر کړي. که چیرې مالیه ورکوونکي مالیاتي اظهارلیک نه وي وړاندې کړی، د عوایدو لوی ریاست لخوا د یادښت صادرول له پنځو کالو پورې محدود نه دې.

۱۰.۸۷ که چیرې لاندې شرایط وجود ولري، د پورتنیو مقرراتو سره سره د عوایدو لوی ریاست واک لري چې له ټاکلي میعاد نه وړاندې او یا له ټاکلي میعاد نه پرته یوۀ مالیه ورکوونکي ته د مالیاتي اظهارلیک د وړاندې کولو په اړوند د مالیې د ټاکنې یادښت صادر کړي:

أ. د عوایدو له لوی ریاست سره شته مدارک یوائې احتمالاً نه بلکه په یقین سره په دې لالت کوي چې مالیه ورکوونکی داسې مالیاتي مکلفیتونه لري چې تادیه کړي یې نه دي.

ب. د عوایدو لوی ریاست باید داسې مدارک ولري چې په احتمالي ډول نه بلکه په یقیني ډول د لاندې مواردو پر پیښیدو دلالت وکړي:

1. مالیه ورکوونکی خپل اقتصادي فعالیت ودروي،
2. هغه شتمنۍ چې دمالیاتو د ورکړې لپاره ورڅخه ګټه پورته کیدای شي له افغانستانه بهر لیږدول کیدای شي، او
3. د هېواد اصلي او مهم غړي (د شرکت امرین او رئیسان) په نږدې راتلوونکي کې هېواد پریږدي.

ج. د عویداو لوی ریاست سره شتهٔ اسناد په احتمالي توګه نه بلکه باید په یقین سره په دې دلالت وکړي چې مالیاتي غیرتادیه شوي مکلفیتونه باید ترهغهٔ پورې صورت ونه مومي چې د مالیې بیړنۍ (اضطراري) ټاکنه ( په هغهٔ وخت کې د مالیې ټاکل چې د دولت د عوایدو د ضایع کیدو تصور موجود وي ) نه وي ترسره شوې.

د مالیاتي اظهارلیک د وړاندې کولو او مالیاتو دورکړې موده

اته اتیایمه ماده:

(1) هغه شخص چې د مالیاتي اظهارلیک او بېلانس(د انتفاعي معاملو د خدمتونو د وړاندې کولو د مالیې د فورمې په استثنی) په بشپړولو مکلف وي، باید خپل مالیاتي اظهارلیک د راوروسته کال د غبرګولي (د دریېمې میاشتې) ترپایه پورې د مالیې اړونده دفتر ته وسپاري.

(2) د مالیاتو د ټاکنې په یادښت کې درج مالیه په هغه یادښت کې په ټاکلې موده کې د ورکړې وړ ده.

(3) مېشت یا نامېشت اشخاص چې هېواد د هغوی د ذمت مالیاتو د ورکړې له ټاکلې نېټې څخه د مخه پرېږدي، مکلف دي چې له تللو دوه اونۍ وړاندې اظهارلیک تسلیم او د خپل ذمت مالیات ورکړي ،

(4) هغه اشخاص چې د دې قانون د حکمونو لمخې، د اظهارلیک په وړاندې کولو مکلف دي او د دې قانون لمخې د ورکړې د نورو مقرراتو تابع نه دي، د مالیاتو اظهارلیک د وړاندې کولو په ترڅ کې اړوند مالیات ورکړي،

(5) هغه اشخاص چې د انتفاعي معاملو د خدمت پر وړاندې کولو باندې د مالیې د فورمې په ډکولو مکلف دي، باید مالیاتي اظهارلیک په هرو دریو میاشتو کې ډک او د ورکړې وړ خپل مالیات د تحویلۍ له سندونو سره یو ځای یې د کال له هرې څلوریزې یا ربعې وروسته د راتلونکې میاشتې ترپنځلسمې پورې وسپاري. دهغو اشخاصو د انتفاعي مالیې فورمه چې خدماتي یا سوداګریز فعالیت لري پرته له دې چې د مالي کال په یوه یا څو میاشتو کې د دې قانون د پنځه شپېتمې مادې د ۱ فقرې د ۲ جز د مالیې د ورکړې وړ عواید ولري یا یې ونه لري، وسپاري،

(6) هغه اشخاص چې د اقتصادي کار او فعالیت په ثابتو ځایونو کې د خدمتونو په وړاندې کولو بوخت دي، مکلف دي د خپل ذمت مالیه په هرو دریو میاشتو کې د راوروسته میاشتې ترپنځلسمې پورې ورکړي، مګر دا چې په دې قانون کې بل ډول اټکل شوی وي،

(7) هغه اشخاص چې د منقول او غیرمنقول ملکیت لرونکي دي، مکلف دي د خپل ذمت مالیه د ملکیت د لېږدولو د ثبت پرمهال ورکړي،

(8) له دولتي ادارو سره د عقد شوو قراردادونو مالیه ، د دې قانون په دري اویایمه ماده کې د درج شوي حکم لمخې د ورکړو د اجراء پرمهال، د اړوندې دولتي ادارې لخوا وضع کیږي، او

(9) د نندارتونونو ، تیاترونو ، سینماګانو ، کنسرتونو ، ورزش ځایونو او هغو ته ورته، پر عایداتو د مالیاتو د راوروسته میاشتې ترپنځلسمې نېټې پورې د ورکړې وړ دي. په هغه صورت کې چې د یادو نندارتونونو فعالیت دوامداره نه وي، د هغوی مالیه دې د لاربنودنې په پای کې واخیستل شي.

۱.۸۸ د ۳ مادې ۱ فقره داسې صراحت لري چې مالي کال د وري کال له لومړۍ نېټې څخه پيل د کب په اخر کې پايته رسيږي. د يوه مالي کال اظهارليک د راتلونکي کال د غبرګولي تر پايه وړاندې کيږي. په هغه صورت کې چې د اظهارليک لمخې هېڅ د ماليې وړ شتون ونه لري (د بېلګه په توګه، ماليه ورکوونکي ته مالياتي تاوان اوښتی وي، عوايد ونلري، يا يې ټول عوايد له ماليې معاف وي)، مالياتي اظهارليک دې د غبرګولي ترپايه ترټولو نږدې مالياتي دفتر ته وسپارل شي (يا دې د پستي خدماتو يوې ادارې ته ورکړل شي چې مالياتي دفتر ته يې وسپاري). که چېرې اظهارليک داسې وښيي چې ماليه د تاديې وړ ده، ماليه ورکوونکی دې خپله د ورکړې وړ ماليه او اظهارليک يوه باصلاحيته بانک ته د غبرګولي ترپايه تاديه کړي. په دغه راز حالاتو کې، د عوايدو لوی رياست د اظهارليکونو کاپيانې له باصلاحيته بانکونو څخه ترلاسه کوي او داسې ګڼي چې دغه اظهارليکونه مالياتي دفترونو ته سپارل شوي دي.

۲.۸۸ هغه ماليه چې د ماليې دټاکنې په يادښت کې په ډاګه شوې ده، په ټاکلې نېټه تاديه کيږي. د ماليه ورکوونکي وړاندې شوی اظهارليک د ماليې د ټاکنې د يادښت په توګه ګڼل کيږي او د اظهارليک د وړاندې کولو پرمهال دې تاديه شي.

بېلګه: الف شرکت يو افغان سهامي شرکت دی چې د ۱۳۸۵ کال خپل اظهارليک يې د غبرګولي په ۴مه نېټه ترتيب او سپاري. دوه کاله وروسته په ۱۳۸۸ کال کې د عوايدو لوی رياست د ياد شرکت پر اظهارليک بيا کتنه کوي او دا جوته وي چې ياد شرکت يو اندازه پيسې نه دي څرګندې کړې. د عوايدو لوی رياست د اضافي ماليې د ټاکنې يادښت شرکت ته صادروي. ياد شوی يادښت د هغې ماليې د ټاکنې يادښت نه دی چې د تلف کېدو په حال کې ده. صادر شوی يادښت د پستي خدماتو يوه دفتر ته د لړم په ۱ نېټه سپارل شوی ده. په ياد يادښت کې نېټه ټاکل شوې ده چې په معمولاً ۳۰ ورځې وي او د مالياتو د تادياتو په نېټه ترلاسه کيږي.

۳.۸۸ هغه مېشت او نامېشت اشخاص چې هېواد پرېږدي يا چې کله د ماليې په ورکړه مکلف ګرځي، له هېواده بهر اوسيږي، په کار ده چې خپل اظهارليک دوه اونۍ مخکې له وتلو ترتيب او وسپاري.

بېلګه: جين سميت يو انګرېز مېشت دی او په افغانستان کې هم مېشت ګڼل کيږي. جين پوه دی چې په غوبيې مياشت کې افغانستان پرېږدي او تر دريو مياشتو پورې له افغانستانه بهر اوسيږي. جين ته په کار ده چې خپل اظهارليک دوه اونۍ مخکې له وتلو ترتيب او مالياتي دفتر ته يې وسپاري.

۴.۸۸ د انتفاعي معاملاتو د ماليې فورمې په ربعه واره توګه ترتيب او وړاندې کيږي. هر شخص چې د انتفاعي معاملاتو د ماليې تابع عوايد ولري، سره له دې چې د انتفاعي ماليې تابع نه دی، بايد د انتفاعي معاملاتو د ماليې فورمې ترتيب او وړاندې کړي.

۱ بېلګه: يو انفرادي شخص يو پلورنځی په کابل کې اداره کوي چې په کې د برق او برېښنا توکي او وسايل پلورل کيږي. ياد فعاليت د سهامي، محدود المسؤليت يا شراکت په چوکاټ کې نه دی. ياد شخص مکلف نه دی چې د انتفاعي معاملاتو د ماليې فورمه وړاندې کړي ځکه دی په دغسې صورت کې د انتفاعي مالياتو تابع ګرځي چې يا به خدمات (د هوټل يا رستورانت خدمات) وړاندې کړي او يا په هره ربعه کې له ۷۵۰۰۰ افغانيو ډېر ناخالص عوايد ولري.

۱ بېلګه: یو شخص په مزارشریف کې یو رستورانت پرمخ بيايي. یاد رستورانت د سهامي، محدود المسؤلیت یا شراکت په چوکاټ کې نه دی رامنځته شوی. یاد شخص په لومړۍ میاشت کې ۸۰۰۰۰ افغانۍ، په دویمه میاشت کې ۷۰۰۰۰ افغانۍ او په درېیمه میاشت کې ۹۵۰۰۰ افغانۍ عاید ترلاسه کوي. نوموړی سره له دې چې په هره میاشت کې له ۷۵۰۰۰ افغانیو څخه لږ عاید ترلاسه کوي، په دې مکلف دی چې په ربعه واره توګه د انتفاعي معاملاتو د مالیې فورمه ترتیب او وړاندې کړي.

**۵.۸۸** هغه مالیه ورکوونکي چې پر عایداتو د مالیاتو قانون د **۷۴** او **۷۵**مې مادې سره سم د ثابتو مالیو تابع ګرځي، په دې مکلف دي چې په ربعه واره توګه خپله د ذمت مالیه د هرې میاشتې په **۱۵**مه تادیه کړي.

**۶.۸۸** دا چې یو مالیه ورکوونکی په **۳۰**مه ماده کې د درج شوې مالیې تابع ګرځي او یاده مالیه د شتمنۍ د انتقال پرمهال د تادیې وړ وي.

بېلګه: نجیب الله خپل لارۍ ډوله ګاډی د وري په **۱۵**مه نېټه په **۵۰۰۰۰** افغانۍ پلوري. د دغه خرڅلاو یانې **۵۰۰۰۰** افغانیو له درکه مالیه ۱٪ یا **۵۰۰** افغانۍ ثابته مالیه راځي. نجیب الله مکلف چې **۵۰۰** افغانۍ د وري په **۱۵**مه نېټه د دولت بانکي حساب ته وسپاري.

**۷.۸۸** د ننداریتونونو، تیاترونو، سینماګانو، کنسرتونو او ورزشي ځایونو پرعایداتو مالیات د راوروسته میاشتې تر پنځلسمې نیټې پورې د ورکړې وړ دي، په هغه صورت کې چې د ننداریتونونو فعالیت دوامداره نه وي، د هغو مالیه دې د نندارې په پای کې واخیستل شي.

۱ بېلګه: عزیز په کابل کې د یوې سینما چارې پرمخ بيايي چې هره شپه پرته له جمعې په دغې سینما کې فلمي ننداري وړاندې کوي. عزیز د عوایدو د هغې مالیې په بدل کې چې پر عایداتو د مالیاتو قانون په **۷۴**مه فقره کې درج ده، د مالیې تابع ګرځي. عزیز په وري میاشت کې **۵۰۰۰۰** افغانۍ عواید ترلاسه کوي چې **۵۰۰۰** افغانۍ له همدې درکه د غویي میاشتې تر **۱۵**مې نېټې د دولت بانکي حساب ته وکوي.

**۲** بېلګه: کله کله وحید د فلکلوریکې موسیقۍ ننداره د هرات ولایت په ښار کې وړاندې کوي. یاده ننداره کې کلاسیکه افغاني موسیقي شامله چې افغان هنرمندان يې ترسره کوي. دغه ننداره دایمي یا تل پاتې نه ده خو کله چې وحید په دې پوه شي چې ډېر شمېر سیلانیان د هرات ولایت په وادي کې راټول شوي، دی دغه راز یوه ننداره وړاندې کوي چې په غویي میاشت کې وحید دغه ننداره وړاندې کړې چې سیلانیان يې ننداره وکړې او له دې درکه يې ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ عواید ترلاسه کړل. نوموړی باید ۱۰۰۰۰ افغانۍ د خپلې مالیې توګه د ننداری په وروستۍ ورځ د دولت بانکي حساب ته تادیه کړي.

**۸.۸۸** په هغه صورت کې چې د اظهارلیک یا د مالیې د تادیې ورځ د جمعې ورځې یا قانوني رخصتۍ سره سمون وخوري، اظهارلیک یا تادیات دې له جمعې یا قانوني رخصتۍ وروسته په نورو کاري ورځو کې پرته له جریمې تادیه شي.

اعتراضونه او عریضې
نهه اتیایمه ماده:

(1) هغه مالیه ورکوونکی چې مالیاتي اظهارلیک د دې قانون د حکمونو لمخې یا د مالیې د ټاکنې یادښت تسلیم شوی وي او وروسته باوري شي چې مالیاتي اظهار لیک یا د مالیې د ټاکنې یادښت به ناسم وي، پدې صورت کې کولای شي د مالیې د یادښت تعدیل یوازې د مالیاتي اظهار لیک د وړاندې کولو له نېټې څخه د پنځو کلونو په موده کې وغواړي.
(2) د مالیې وزارت د دې مادې په (۱) فقره کې درج یادښت، د غوښتنلیک له وړاندې کولو وروسته د (۲۰) ورځو مودې په ترځ کې تعدیل یا تائید او مالیه ورکوونکی ته خبر ورکوي. که چیرې د مالیې وزارت د دې مودې په ترځ کې اجراات ونکړي، داسې ګڼل کیږي چې د مالیې د ټاکنې د مخکېنی یادښت تائید شوي دی. پدې صورت کې مودي کولای شي د نوموړې مودې له ابلاغ یا تېرېدو وروسته د ۳۰ ورځو په ترځ کې خپل اعتراض مالیې وزارت ته وړاندې کړي. اعتراض د څیړنې د هیئت لخوا زیات نه زیات د (۲۰) ورځو په دوره کې تر غور لاندې نیول کیږي او لازم تصمیم نیسي. که چیرې د څیړنې هیئت، پدې موده کې تصمیم ونه نیسي یا مالیه ورکوونکی د څیړنې د هیئت پر نیول شوي تصمیم قناعت ونکړي، کولای شي د هیئت د تصمیم د ابلاغ له نېټې څخه د ۳۰ ورځو په ترځ کې محکمې ته مراجعه وکړي، د محکمې حکم پدې مورد کې قطعي او د تطبیق وړ دی.

۱.۸۹ یو مالیه ورکوونکی کولای شي چې د خپل اظهارلیک د تعدیل یا د مالیې د ټاکنې یادښت غوښتنلیک تر پنځو کالو پورې له هغه وخت څخه چې د اظهار لیک په ورکړې مکلف شوې دې، ترتیب کړي. د پورته یادې موضوع سر بېره، په هغه صورت کې چې یو مالیه ورکوونکی د پنځه کلنې مودې د پای ته رسېدو له نېټې څخه لږ تر لږه دیرش ورځې وړاندې د مالیې د ټاکنې یو یادښت تر لاسه نه کړي، نو نوموړی دیرش ورځې مهلت لري چې د مالیې د ټاکنې یادښت ته ځواب ورکړي.

۱ بېلګه: د "الف" شرکت یو افغان سهامي شرکت دی چې د ۱۳۸۲ کال غبرګولي په پای کې ئې خپل د **۱۳۸۵** کال پر عایداتو د مالیاتو اظهارلیک وړاندې کړې دی. نوموړی شرکت په ۱۳۸۸ کال کې پوهېږي چې له **۱۳۸۵** کال د مالیې وړ عوایدو څخه د ټکټانې له درکه ځینې لګښتونه نه دي مجرا کړي. د "الف" شرکت کولای شي چې خپل اظهارلیک د تعدیل لپاره غوښتنه (درخواستي) وکړي، مګر د "الف" شرکت په هغه صورت کې مستحق ګڼل کېږي چې خپل د تعدیل یادښت د ۱۳۹۱ کال د غبرګولي د میاشتې پای څخه د مخه ترتیب او وړاندې کړي.

۲ بېلګه: د "الف" شرکت خپل د **۱۳۸۵** کال پر عایداتو باندې د مالیاتو اظهارلیک د ۱۳۸۲ کال د غبرګولي په **۱۵** نېټه کې وړاندې کړی دی. د ۱۳۹۱ کال د وري په ۲ نېټه د عوایدو لوی ریاست د نوموړې شخص د مالیاتي اظهار لیک له څېړلو نه وروسته معلومات ترلاسه کوي چې شرکت خپل عایدات لږ ښودلي دي. د ۱۳۹۱ کال د غبرګولي په ۲۰ نېټه د عوایدولوی ریاست "الف" شرکت ته د مالیې د ټاکنې یو یادښت لېږي خو د "الف" شرکت نوموړی یادښت د ۱۳۹۱ کال د غبرګولي تر ۲۰ نېټې پورې نه تر لاسه کوي. د الف شرکت یوازې ۲۰ ورځې وخت لري چې د مالیې ټاکنې یادښت ومني او یا ئې د تعدیل لپاره د ۴۲ مادې ۲ فقرې لمخې خپل غوښتنلیک ترتیب او وړاندې کړي.

۲.۸۹ په هغه صورت کې چې ماليه ورکوونکی د ماليې ټاکنې يادښت تعديل وړاندې کړي، نو د ماليې وزارت له نوموړي تعديل سره د موافقه کولو او يا موافقه نه کولو لپاره يو اټې ۲۰ ورځې وخت لري. د ۲۰ ورځو موده له هغې نېټې څخه پېل کيږي چې ماليه ورکوونکی مالياتي دفترونو ته خپل غوښتنليک (درخواستي) سپارلی يا د يوې معتبرې پوسته خانې او يا ئې هم د پست او جنسونو د لېږدونې خدماتي نهاد له لیارې لېږلی وي. هغو ماليه ورکوونکو چې مالياتي دفترونو ته يې خپل غوښتن ليکونه نه وي ورکړي، هغوی کولای شي چې د ماليې ټاکنې د يادښت د تعديل غوښتن ليک د جنسونو د لېږدولو خدماتي نهاد له لیارې واستوي چې د سند له لاسته راوړلو نه وروسته له لاسته راوړونکی نه لاس ليک او تائيد اخلي. او همدارنګه ماليه ورکوونکي کولای شي چې د تعديلاتو د غوښتنې نېټه په څرګنده توګه د مکتوب په پورتنې برخه کې وليکي.

۱ بېلګه: د "الف" شرکت خپل د ۱۳۸۵ کال مالياتي اظهارليک د ۱۳۸۲ د غبرګولي په پای کې وړاندی کړ. د عوايدولوی رياست ۱۳۸۸ کال په اوږدو کې معلومات تر لاسه کوي چې نوموړی شرکت د ۱،۰۰۰،۰۰۰ افغانيو په اندازه خپل عايدات لږ ښودلي دي. دعوايدو لوی رياست د ۱۳۸۹ کال د وري په لومړې نېټه کې نوموړي شرکت ته د ماليې ټاکنې يو يادښت صادروي او د الف شرکت د ۱۳۸۹ کال د غبرګولي په لومړۍ نېټه د ماليې ټاکنې يادښت د تعديل غوښتنه ، چې د غوښتنې نېټه پکې په روښانه توګه بيانه شوې ده ، ترتيب او وړاندې کوي. نوموړی غوښتن ليک د جنسونو د لېږدولو يو با اعتباره نهاد ته ورکړل شوی تر څو د غوښتن ليک د سپارلو نه وروسته د اخيستونکي تائيد او لاس ليک واخلي. د عوايدولوی رياست د غبرګولي له پيل نه راپدې خوا تر ۲۰ ورځو پورې وخت لري چې غوښتن ليک ته ځواب ورکړي. په هغه صورت کې چې دعوايدولوی رياست په ټاکلې موده کې ځواب و نه وايي، نو داسې ګڼل کيږي چې نوموړی رياست د ماليې دټاکنې د تعديل غوښتن ليک رد کړی دی.

۳.۸۹ د ماليه ورکوونکي د يادښت د تعديل د غوښتنليک په اړه د پرېکړې پر مهال د عوايدولوی رياست د دې لپاره چې پوه شي ماليه په منصفانه توګه ټاکل شوې ده او که نه، د ماليه ورکوونکي دوسيه بايد په غور سره وڅېړي.

۴.۸۹ وروسته له دې چې د ماليې وزارت د ماليه ورکوونکي پر غوښتنليک غور وکړ او يوې نتيجې ته ورسيد ، ماليه ورکوونکی کولای شي د ماليې وزارت ته خپل اعتراض وړاندې کړي. په هغه صورت کې چې ماليه ورکوونکی وغواړي اعتراض وکړي، نو د ماليې ټاکنې د تعديل د غوښتن ليک په اړه د ماليې وزارت د پرېکړې نه وروسته بايد د ۳۰ ورځو په موده کې خپل اعتراض ترتيب او د ماليې وزارت ته وسپاري. که چيرې د عوايدولوی رياست د ماليې ټاکنې د يادښت د تعديل د غوښتن ليک له لاس ته راوړو نه ۲۰ ورځې وروسته ځواب و نه وايي، نو داسې ګڼل کيږي چې ګواکې د عوايدو لوی رياست ځواب منفي دی او ماليه ورکوونکي خپل اعتراض له هغې نېټې څخه لېږلی دی چې مالياتي دفتر ، د پستي خدمتونو با اعتباره اداري يا د جنسونو د لېږدولو خدماتي نهاد ته سپارلی دی. دا چې افغانستان د پر مخ تللو په حال کې دی، هغه ماليه ورکونکي چې خپل سندونه ئې مالياتي دفترونو ته نه وي ورکړي، بايد د جنسونو د لېږدولو خدماتي نهاد څخه چې اخيستونکی په تائيد او د لاسليک په ورکړې مجبوروي، استفاده وکړي.

۱ بېلګه: اديب خپل د ۱۳۸۵ کال اظهارليک د ۱۳۸۲ کال د غبرګولي په پای کې ترتيب او وړاندې کړی دی. د ۱۳۸۹ کال په اوږدو کې د عوايدو رياست د اديب اظهارليک ارزوي او مومي چې نوموړي په خپل اظهارليک کې ځينې غلطۍ کړې دي. د عوايدولوی رياست د وري په لومړۍ نېټه اديب ته د ماليې ټاکنې يادښت صادروي. اديب د ماليې ټاکنې د يادښت دتعديل غوښتن ليک د وري مياشتې په پای کې د يو بااعتباره پسته خانې له لیارې د ماليې وزارت ته لېږدوي. دعوايدو رياست په ۲۰ ورځو کې د اديب غوښتن ليک ته ځواب نه ورکوي. اديب د ځواب نه ورکول داسې ګڼي چې ګواکې غوښتن ليک ئې د ماليې وزارت لخوا نه دی منل شوی. که چېرې اديب وغواړي چې موضوع لا پسې تعقيبه کړي، نو هغه بايد د غوښتن ليک د نه منلوله نېټې څخه وروسته د۳۰ ورځو په موده کې خپل اعتراض د ماليې وزارت ته واستوي. داله هغې نېټې نه د۹۰ ورځو وروسته په معنی ده چې اديب د ماليې ټاکنې يادښت د تعديل غوښتنليک وړاندې کړی دی.

۵.۸۹ د ماليه ورکوونکي اعتراض د ارزونې او اعتراضونو هيئت ته راجع کېږي. د ارزونې او اعتراضونو د هيئت غړي دعوايدو رياست تل پاتی غړي نه دي. د ارزونې او اعتراضونو د هيئت غړي بايد د عوايدو رياست له کارکونکو څخه وټاکل شي. د ارزونې او اعتراضونو د هيئت هر ګروپ درې غړي لري. دغه ټول غړي بايد د ماليه ورکوونکي په موضوعاتو کې بې طرفه وي. د ارزونې دهيئت په ګروپ کې د شامليدلو نه دمخه د هيئت هېڅ يو غړی بايد د ماليه ورکوونکي په قضيه يا دوسيه کې ښکېل نه وي.

۶.۸۹ کله چې د ارزونې او اعتراضونو هيئت د ماليه ورکوونکي پر قضيې باندې کار کوي ،نو هيئت بايد د ماليه ورکوونکي په دوسيه کې ټول شامل حقيقتونه پوره پام سره وارزوي. سر بېره پر دې ، نوموړی هيئت بايد وګوري چې دماليه ورکوونکي د دوسيې په اړه د پرېکړې پر مهال د ماليه ورکوونکي يا د عوايدو رياست د مسؤلينو شفاهي او يا ليکلي څرګندونې ګټورې دي اوکه نه. اضافي څرګندونو ته د اړتيا په صورت کې کيدای شي نوموړی هيئت د ماليه ورکوونکو يا د عوايدو رياست له کارکوونکو سره يوه غونډه جوړه کړي. په هغه صورت کې چې هيئت ګومان وکړي چې د قضيې د حل لپاره لا ډېرو سندونو او مدارکو ته اړتيا شته ، بايد له دواړو خواوو ( ماليه ورکوونکي او د عوايدو اړوندې ادارې) څخه سندونه او مدارک د ليکل شوي غوښتنليک له لیارې وغواړي. دغه راز، د عوايدو اړونده اداره مکلفه ده د هغې قضيې اړوند اسناد او معلومات د څېړنې او اعتراضونو هيئت ته وړاندې کړي چې ترڅېړنې لاندې قرار لري.

۷.۸۹ د پرېکړې پر مهال، د ارزونې او اعتراضونو هيئت بايد دا په پام کې ولري چې که چېرې ماليه ورکوونکی د ارزونې هيئت پرېکړه و نه مني، نو هغه حق لري چې دا موضوع محکمې ته وړاندې کړي. هيئت بايد د موضوع په اړه د پوره معلوماتو لاسته راوړلو نه وروسته پرېکړه وکړي، چې که چېرې ماليه ورکوونکی محکمې ته موضوع راجع کړي، کيدای شي چې د عوايدولوی رياست قضيه وګټي او يا يې و بايلي.

۸.۸۹ د ارزونې هيئت د اکثريت رايو له مخې خپله پرېکړه کوي. نوموړی هيئت بايد خپله پرېکړه وليکي او ماليه ورکوونکي او د مالياتو اړوندې ادارې ته رسماً خبر ورکړي. د څېړنې د پلاوي پرېکړه د مالياتو پر اجراييوي څانګو الزامي بلل کيږي او له تطبيق وروسته، د ۲۰ ورځو په موده کې ماليه ورکوونکي ته خبر ورکوي.

۹.۸۹ د ارزونې او اعتراضونو هيئت او ماليه ورکوونکی بايد داسې يو ځانګړی موافقه ليک لاسليک کړی چی هغه حقايق او موافقه ليکونه بايد پکې شامل وي چې د موضوع په اړه يوې پايلې ته ورسيږي.

ببرته ورکړه
نوي يمه ماده :
که چېرې د ماليې وزارت د مالياتي اظهار ليک د څېړنې پر اساس، د مودي يا شخص د ادعا يا د محکمې د فيصلې له امله چې ورکړل شوې ماليه له ټاکلي مقدار څخه زياته ده، ورکړل شوې ماليه لومړی د مؤدي د نورو مالياتو د رفع کولو يا د هغهٔ د ورکړې وړ ګمرکي محصولاتو يا يې په خپله موافقه د نورو تاديه کوونکو په حساب محاسبه کيږي او د هغې له اجرا وروسته اضافي مقدار دوباره، پر عايداتو د مالياتو د تعليماتنامې په پام کې نيولو سره مؤدی ته مسترد يږي.

۱.۹۰ تر هغه وخته چې د ماليه ورکوونکي د قضيې په اړه وروستۍ پرېکړه نه وي اعلان شوې، د ماليې وزارت د ماليه ورکوونکي پيسې بېرته نه ورکول يږي. وروستۍ پرېکړه لاندې مقررات لري:

أ. د ماليه ورکوونکې د وجوه بيرته ورکړې دعوا او يا د ماليې ټاکنې يادښت د تعديل غوښتنليک په اړه د عوايدو رياست تائيد،

ب. پر عايداتو د مالياتو قانون د ۹۴ مادې لمخې د ماليې وزارت له واک سره سم د ماليه ورکوونکي او ماليې وزارت تر منځ څرګندده موافقه، او

ج. د محکمې وروستۍ پرېکړه، د محکمې هغه وروستۍ پرېکړه ده چې د استناف غوښتنه ئې نه شي کيداى.

۲.۹۰ کله چې د ماليه ورکوونکي د دعوا په اړه وروستنۍ پرېکړه وشي، نو د عوايدو رياست هغه مامورين چې د ماليه ورکوونکي د دوسيې د څېړلو مسؤليت په غاړه لري، د ماليه ورکوونکي دوسيه بايد په ځيرسره وڅېړل شي چې د هغهٔ داسې مالياتي مکلفيت پاتې نه شي چې د پيسو په بدل کې تطبيق شي. که چېرې د ارزونې يا څېړنې پر مهال څرګندده شي چې پاتې مالياتي مکلفيت وجود نلري او د ماليه ورکوونکي لپاره د ورکړې وړ اضافي مبلغ شته، نو د ټولو مالياتي مکلفيتونو د تطبيق نه وروسته بايد د عوايدو رياست وڅېړي چې ماليه ورکوونکی د ګمرکي محصول له درکه پوره وړی نه دی.

۳.۹۰ په هغه صورت کې چې ماليه ورکوونکی د ګمرکي محصول له درکه پوره وړې وي، د عوايدولوی رياست بايد د خزاينو او ګمرکاتو له رياستونو سره اړيکه ټينګه کړي تر څو ډاډ حاصل کړي چې د ماليه ورکوونکي د پاتې پيسو په اندازه د هغهٔ د ګمرکي محصول مکلفيتونه رفع کړل شي.

۴.۹۰ د ټولو مالياتي پورونو او ګمرکي محصولاتو د تطبيق نه وروسته په هره اندازه مبلغ چې د ماليه ورکوونکي له پيسو څخه پاتې کيږي، په لاندې ډول اجرا کيږي:

أ. د ماليه وركوونكي د غوښتنې په صورت کې د بل ماليه وركوونكي مالياتي مكلفيتونو په وړاندې د هغۀ محاسبه،
ب. د ماليه وركوونكي د غوښتنې په صورت کې د خزاينو رياست له لياري نومورې ته د پېسو بيا وركول، او
ج. په راتلونكي کې د ماليه وركوونكي پر مالياتي مكلفيتونو باندې د تطبيق په موخه د پېسو ساتل.

##

د معلوماتو د ترلاسه كول

يو نوي يمه ماده:

(1) د دې لپاره چې د دغه قانون احكام په رغنده توګه پلي شي، ماليې وزارت واک لري د ماليه وركوونكي اسناد وڅېړي او د همدې موخې لپاره كولاى شي له ماليه وركوونكي څخه د مالي او سوداګريزو چارو په اړه هر ډول معلومات وغواړي.

(2) د دې مادې په ۱ فقره کې مندرج معلومات او دغه راز د اظهارليک په اړه ترلاسه شوي معلومات ټول پټ او محرم دي او د ماليې وزارت اړونده چارواكي يې نه څرګندوي، مګر دا چې قانون يې حكم وكړي.

(3) د ماليه وركوونكي د اسنادو د څېړنې لارې چارې پر عايداتو د مالياتو قانون په تعليماتنامه کې تنظيمېږي. هغه شخص چې پر ته له معقول دليله د ۲۰ ورځو په موده کې د ماليې وزارت موظفينو ته په واک کې ور نه كړي يا د معلوماتو له وړاندې كولو ډډه وكړي، د غوښتنې له نېټې څخه د هرې ورځې په تېرېدو سره، مكلف دی چې په لاندې توګه اضافي ماليه وركړي.

1. حقيقي شخص ۱۰۰ افغانۍ،
2. حكمي شخص ۲۰۰ افغانۍ، او
3. رخصتۍ ورځې په دې حكم کې نه راځي.

۱.۹۱ د عوايدو لوی رياست هغه طرزالعلونه چې ماليه وركوونكي څاري، په تعليماتنامه کې درج دي.

۲.۹۱ د ماليې وزارت كاركوونكي چې هر ډول معلومات د ماليه وركوونكي په اړه ترلاسه كوي، محرم او پټ پاتې كيږي.

۳.۹۱ كه چېرې د ماليې وزارت كاركوونكي په قصدي توګه هغه پټ معلومات چې دوی يې د ښكاره كولو حق نه لري، له وزارته بهر نورو اشخاصو ته يا په وزارت کې دننه اشخاصو ته افشا كړي، ياد كاركوونكي د جزايي اجرااتو تابع او له دندې څخه ګوښه او منفک كيږي. دغه ډول انتظامي كړنې او اجراات د وزير يا د ګمركونو او عوايدو مرستيال وزير له منظورۍ پرته نه عملي كيږي. كه چېرې د ګمركونو او عوايدو مرستيال وزير د پټو معلوماتو د افشا په اړه شكمن وي، د انتظامي كړنو او اجرااتو د ترسره كولو حكم د ماليې وزير لخوا وركول كيږي.

۴.۹۱ که چېرې د ماليې وزارت کارکوونکی په قصدي توګه د ماليې وزارت اشخاصو ته (دا چې اشخاص ماليې وزارت پورې اړه لري که نه، مهمه خبر نه ده) پټ معلومات د خپلې شخصي ګټې لپاره افشا کړي، پر عايداتو د مالياتو قانون د ۱۰۲ مادې د ۱ فقرې لمخې، ماليې وزارت ياد کارکوونکی تر عدلي څېړنې لاندې نيسي.

# ثوارلسم فصل

## تطبیقي حکمونه

## له۹۲ مادې ثخه تر ۹۶ پورې

**له دریم ګړي شخص څخه د نه ورکړل شوو مالیاتو راټولول**

**دوه نوي یمه ماده:**

(1) دمالیې وزارت کولای شي دمؤدي له موافقې پرته ، د لیکلي یادښت پر بنسټ د ورکړې وړ مالیات له لاندې اشخاصو څخه هم تر لاسه کړي:

1. هغه شخص چې له مؤدي یا شخص څخه پور وړې وي،
2. هغه شخص چې د مؤدي پېسې ساتي،
3. هغه شخص چې پېسې له بل شخص څخه په نمایندګۍ، مؤدي ته د ورکړې په منظور ساتي،
4. هغه شخص چې مؤدي ته د پیسو د ورکړې لپاره، د بل شخص واک لري، او
5. هغه حقیقي او حکمي شخص چې مؤدي ته د معاشونو ، مزدوریو او هغو ته د ورتو په ورکړې مکلف وي.

۱.۹۲ هر هغه شخص څخه مالیه اخستل کېږي چې د مالیه ورکوونکي پوره وړې وي. که څه هم دا شونې نه وي چې یو شخص د مالیه ورکوونکي پوره وړی وپېژندل شي، پدې برخه او د ۲.۹۲ نه تر۹۲. ۵ برخې پورې د نوموړې موضوع په اړه بېلګې ذکر شوي دي. برسېره پر لاندې مثالونو، د مالیه ورکوونکي پوره وړی کېدل مختلف ډولونه لري چې د لاسته راوړلو وړ نا تحصیل شوي حسابونه، د جایدادونو عایدات، د هغو قراردادونو له درکه مبلغونه چې موده یې پای ته رسېدلې ده، د قسط په اساس پورونه، پیشکي او یا وعده شوي امانتونه، د امتیاز حقونه، د کمېشن له درکه تادیات، د چاپ او خپرولو د حق له درکه تادیات، د قراردادونو له درکه تادیات، د پانګه اچونې له درکه عایدات، د پورونو اسهام او سندونه، ساتل شوي امانتونه، کرایې، اجارې او نور پکې شامل دي.

۱ بېلګه: فرض کوو یو قرارداد داسې ښیي چې مالیه ورکوونکي خپل ملګري ته یوه اندازه پیسی پور ورکړي او د پېسو بېرته ورکولو نېټه هم پای ته رسېدلی ده. مالیه ورکوونکي په خپله خوښه مالیه نه ده ورکړې او د اوسېدو ځای یې هم د موندلو وړ نه دی.

| | |
|---|---|
| د پور پیسې | ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| د ورکړې وړ مالیه | ۵۰۰۰۰ افغانۍ |
| له ملګري څخه د تحصیل وړ پیسې | ۵۰۰۰۰ افغانۍ |
| د ورکړې وړ پاتې مالیه | ۰ |

۲.۹۲ له هر هغه شخصه چې د مالیه ورکوونکي پېسې ساتي، مالیه اخیستل کېږي.

بېلګه: مالیه ورکوونکی یو بانکي حساب لري.

| | |
|---|---|
| په بانکي حساب کې موجودې پېسې | ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ |

| | |
|---|---|
| د ورکړې وړ مالیه | **۵۰۰۰۰** افغانۍ |
| له بانک څخه د تحصیل وړ مبلغ | **۵۰۰۰۰** افغانۍ |
| پاتې مالیه | ۰ |

او یا

| | |
|---|---|
| په بانکي حساب کې موجود مبلغ | **۴۰۰۰۰** افغانۍ |
| د ورکړې وړ مالیه | **۵۰۰۰۰** افغانۍ |
| له بانک څخه د تحصیل وړ مالیه | **۴۰۰۰۰** افغانۍ |
| پاتې مالیه | ۱۰۰۰۰ افغانۍ |

۳.۹۲ نه ورکړل شوې مالیه له هغه شخص څخه اخستل کېږي چې مالیه ورکوونکي ته د تادیې ورکولو لپاره په بانکي حساب کې پیسې ساتي.

بېلګه: مالیه ورکوونکي ته د ټولو پېسو یو ځل ورکړې په موخه د بیمې یو شرکت د هغهٔ لپاره پیسې ساتي.

| | |
|---|---|
| مالیه ورکوونکي ته د بیمې لخوا د تادیې وړ پیسې | **۵۳۳۰۰۰** افغانۍ |
| د ورکړې وړ مالیه | ۱۹۲۰۰۰ افغانۍ |
| د بیمې له شرکت څخه د تحصیل وړ مبلغ | ۱۹۲۰۰۰ افغانۍ |
| پاتې مالیه | - ۰ - |

۴.۹۲ مالیه له هر هغه شخص څخه اخستل کېږي چې مالیه ورکوونکي ته د پیسو ورکولو واک او مسؤلیت لري.

بېلګه: د مالیه ورکوونکي دنده د ودانیو رنګول دي. د دوه کورونو د رنګولو په بدل کې نوموړي مالیه ورکوونکي پیسې لاس ته راوړي نه دي.

| | |
|---|---|
| هغه پیسې چې د لومړني کور خاوند یې باید تادیه کړي | ۱۰۰۰۰ افغانۍ |
| هغه پیسې چې د دویم کور خاوند یې باید تادیه کړي | ۱۲۰۰۰ افغانۍ |
| د ورکړې وړ مالیه | **۲۹۸۰۰۰** افغانۍ |
| د کورونو له خاوندانو څخه د تحصیل وړ مبلغ | **۲۲۰۰۰** افغانۍ |
| پاتې شوې مالیه | **۲۷۶۰۰۰** افغانۍ |

**۵.۹۲** له هغه حقیقي او یا حکمي شخص څخه مالیه اخستل کېږي چې مالیه ورکوونکي ته د معاشونو، مزدوري او ورته تادیاتو د تادیه کولو مسؤلیت ولري.

ببلګه:	په یو شرکت کې د مالیه ورکوونکي معاش	۵۰۰۰ افغانۍ
د ورکړې وړ مالیه	۲۱۰۰۰ افغانۍ
له شرکت څخه د تحصیل وړ مبلغ	۵۰۰۰ افغلنۍ
پاتې مالیه	۱۶۰۰۰ افغانۍ

تبصره: عامه طریقه دا ده چې د حساب له تحلیل نه وروسته باید د مالیه ورکوونکي د ژوند لګښتونه پرېښودل شي. په همدې دلیل لیکلي پرېکړه به د مجموعي مالیې ورکولو پورې په هره اونۍ کې یوائې ۳۰۰۰ افغانیو په اخستلو حکم وکړي (۳۰۰۰ ضرب ۷ اونۍ د مالیې لپاره ۲۱۰۰۰ افغانۍ).

| |
|---|
| د آمرانو ، سهم لرونکو او نورو اشخاصو مکلفیت<br>دري نوي یمه ماده:<br>هغه شرکت چې پر عایداتو د ورکړې وړ مالیات د دې قانون د حکمونو لمخې ور نکړي، د مالیې وزارت کولای شي د هغهٔ د ذمت مالیه له لاندې اشخاصو څخه تحصیل کړي:<br>1. هغه واکمن مسؤلین چې د شرکت د مالیاتي مکلفیت په رفع کولو کې بې پاملرنه نه ده کړې ،<br>2. هغه سهم لرونکی چې لږ تر لږهٔ ٪۱۰ د شرکت په مالکیت کې سهیم وي، د سهم د هغې ګټې په اندازه چې له شرکت څخه ی لاسته راوړي ،او<br>3. هغه شخص ی د شرکت د شتمنۍ یوه یا له یوې څخه زیاته برخه د بازار له بیې څخه په ټیټ نرخ د نه ورکړل شوو مالیاتو د ورکړې له نېټې څخه دري کاله د مخه د معاملې د اجرا په وخت کې لاس ته راوړې وي. |

۱.۹۳ د شرکت له هغهٔ آمر یا آمرینو څخه مالیات اخستل کېږي چې د خپل شرکت پر عایداتو د مالیاتي مکلفیتونو د اداکولو په وړاندې بې پروا دی.

ببلګه: د (الف) شرکت ۹ تنو آمرینو موافقه کړې چې د ببلدوزرونو او ورته سامانونو د پېرودلو په موخه د مالیاتو تادیه وځنډوي. نوموړې پرېکړه د مدیره هیئت د غونډې په یادښت کې ذکر شوې ده. د هر یوهٔ آمر له شخصي شتمنیو څخه مالیه اخستل کېږي او یا هم د هغو تر منځ مالیه وېشل کېږي. د عوایدو لوی ریاست دمالیې د راټولولو د چټکتیا او انصاف په برخو کې قضاوت کوي.

۲.۹۳ له هغه ونډه لرونکي څخه چې په یو شرکت کې ۱۰ یا د ۱۰ فیصدو څخه ډېره ونډه لري پدې شرط د ونډې ګټې په اندازه مالیه اخستل کېږي چې له شرکت څخه د خپل سهم ګټه تر لاسه کړي.

۱بېلگه: د افکو شرکت پر عایداتو د مالیاتو له درکه ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ پوروړې دي. د نوموړي شرکت د سهم د ګټې ورکړه په لاندې ډول صورت مومي:

| د ونډه لرونکي نوم | ونډه | له ونډې څخه لاسته راغلې ګټه | د مالکیت فیصدي | اخستل شوې مالیه |
|---|---|---|---|---|
| احمد | ۲۰۰۰۰ | ۲۰۰۰۰۰ | ۲۰٪ | ۲۰۰۰۰۰ |
| کریم | ۲۰۰۰۰ | ۲۰۰۰۰۰ | ۲۰٪ | ۲۰۰۰۰۰ |
| شفیق | ۳۰۰۰۰ | ۳۰۰۰۰۰ | ۳۰٪ | ۳۰۰۰۰۰ |
| زمری | ۳۰۰۰۰ | ۳۰۰۰۰۰ | ۳۰٪ | ۳۰۰۰۰۰ |

د اخېستل شوې مالیې مجموعه = ۱۰۰۰۰۰۰ افغانۍ          بېلانس ۰

په پورتنۍ بېلګه کې ونډه لرونکي لږ تر لږه ۲۰ ٪ ونډه لري خو سره له دې هم مالیه لرونکی د هغو ونډه لرونکو څخه اخستل کیږې چې ۱۰ او یا هم له ۱۰ فیصدو څخه ډېره ونډه ولري. هغه ونډه لرونکی چې د ٪۱۰ څخه لږه ونډه لري د دې حکم تابع نه ګرځي. په یاد باید ولرو چې د مالیاتو اخستل هغې ګټې ته محدود دی چې له ونډې څخه لاس ته راځي. د ګټې د نه شتون په صورت کې د ونډه لرونکو له عایداتو څخه هېڅ ډول مالیات نه اخستل کېږي. که چیرې یو ونډه لرونکی په یوه شرکت کې د ۴۰ ٪ څخه ډېره ونډه ولري او ګټه یې ۱۰ ٪ وي، نو په هغه صورت کې له ونډې څخه دلاسته راغلې ګټې له اندازې نه ډېره مالیه نه اخستل کیږي.

۳.۹۳ له هغه شخص څخه پرعایداتو مالیات اخستل کېږي چې د شرکت شتمنۍ یې د مالیې ورکولو وړ نیټې څخه درې کاله دمخه د یوې معاملې په ترڅ کې د بازار له نرخ څخه ارزانه اخېستې وي.

۱ بېلګه: یو شرکت ۳۰ کورونه لري. درې کورونه یې د یوه کال په موده کې له هغه میعاد نه دمخه پلورل کېږي چې نوموړی شرکت پکې پرعایداتو د مالیاتو په ورکړې مکلف ؤ. نوموړي درې کورونه د شرکت د رئیس د ورونو لخوا له بازار څخه په ټیټه بیه پېرودل کېږي. د ودانیو له پېرودونکو څخه د نوموړي شرکت پر عایداتو مالیات په لاندې توګه اخستل کېږي:

| ودانۍ | د ورځې نرخ | د پلورلو بیه | د تحصیل وړ مالیه |
|---|---|---|---|
| الف | ۲۰۰۰۰۰۰ | ۵۰۰۰۰۰ | ۱۵۰۰۰۰۰ |
| ب | ۳۸۰۰۰۰۰ | ۵۰۰۰۰۰ | ۳۳۰۰۰۰۰ |
| ج | ۳۹۰۰۰۰۰ | ۵۰۰۰۰۰ | ۳۴۰۰۰۰۰ |

۲ بېلګه: یو شرکت یو مرسډېس بنز ډوله ګاډي لري چې په بازار کې یې بیه ۱۰۰۰۰۰۰ افغانې ده. نوموړی بنز ډوله موټر د مالیاتي پور د تادیې له میعاد څخه دوه ورځې مخکې پلورل کېږي. د پور اندازه ۳۳۳۲۰۰۰ افغانې ده. د یاد موټر د پلورلو بیه ۱۰۰۰۰۰ افغانې ده. د موټر نوی خاوند د ۹۰۰۰۰۰ افغانیو په ورکړه مکلف دی.

| |
|---|
| **له افغانستانه ممنوع الخروج اشخاص**<br>**څلورنوي یمه ماده:**<br>(1) هغه شخص چې مالیاتي او تادیاتي حسابونه یې له ۲۰۰۰۰ افغانیو څخه زیات وي او هغه یې له اړوندو مراجعو سره تصفیه کړي نه وي، له هېواده وتلې نشي. د مالیې وزارت واکمن چارواکي اړوندو امنیتي ادارو ته مکتوب صادروي او غوښتنه ترې کوي شي چې د یاد شخص د تګ او وتلو مخنیوی وکړي. |

۱.۹۴ هغه مالیه ورکوونکي چې د مالیې ورکولو له درکه له ۲۰۰۰۰ افغانیو څخه ډېر پوروړي وي، نو له هېواده بهرتګ او سفر نه شي کولای، مګر دا چې:

أ. نه ورکړل شوي مالیات بانک ته تحویل کړي او د تحویلي سند یې د ثبوت په توګه د عوایدو لوی ریاست ته وړاندې کړي.
ب. د هېواد نه د تلو نه وړاندی د عوایدو لوی ریاست ته د منلو وړ تدابیر برابرکړي (لکه ضمانت یا الزامي موافقه لیک او یا د بیا راتګ سند).

۲.۹۴ هغه وخت چې د عوایدو لوی ریاست واکمن کارکوونکي پدې پوه شي چې یو مالیه ورکوونکی چې د مالیې له درکه د ۲۰۰۰۰ افغانیو څخه ډېر پوره وړي دی، د مالیې له ورکولو او یا ترتیباتو له برابرولو څخه پرته غواړي افغانستان پرېږدي، هغوی کولای شي چې د هغهٔ د وتلو د مخنیوي حکم صادر کړي. نوموړی حکم د قانون دغې مادې ته(له هېواده د مالیه ورکوونکي د وتلو د مخنیوي مکلفیت) اشاره کوي او د هغهٔ د مالیې جزئیات هم پکې شامل دي. له عزیمت څخه د مخنیوي حکم باید د عوایدولوی ریاست لخوا لاندې مراجعو د یو شخص په لاس واستول شي:

1. د کورنیو چارو وزارت،
2. د ټرانسپورټ وزارت، او
3. هغه ټولې دولتي ادارې چې د مرستې مسؤلیت پر غاړه لري.

۳.۹۴ له تګ څخه د مخنیوي حکم د هغهٔ شخص لپاره صادرېږي چې مالیاتي مکلفیت لري. په داسې مواردو کې نوموړي شخص باید حقیقي شخص وي. د عزیمت څخه د مخنیوي حکم یود حکمي شخصیت لکه یو شرکت او یا کومې بلې ادارې لپاره نه شي صادریدای.

۴.۹۴ د یوهٔ شخص مکلفیت (د ورکړې وړ مالیه) پدې مفهوم دی چې د نوموړي شخص مالیه ټاکل شوې ده خو تر اوسه تادیه شوې نه ده. مالیه د یو شخص لخوا ورکړل شوې مالیاتي فورمې او یا هم د مالیاتي فورمې "د مالیې د اټکل شوې ټاکنې" پر اساس چې د مالیې وزارت لخوا صادر شوېده، ټاکل کېږي. همدارنګه د هغې تعدیل شوې مالیې ټاکل چې د مالیې وزارت لخوا صادر شوې ده کیدای شي د تادیې وړ مالیې سبب شي. هغه شخص چې مالیې وزارت ته ئې مالیاتي فورمه نه وي ورکړې او یا مالیې وزارت د مالیې اټکل شوې ټاکنه نه وي صادره کړې، نو داسې ګڼل کیږي چې نوموړی شخص مالیاتي مکلفیت نه لري.

۵.۹۴ په هغه صورت کې چې یوهٔ شخص خپله ټاکل شوې مالیه نه وي تادیه کړې، دا سې ګڼل کېږي چې نوموړی شخص مالیاتي مکلفیت لري. همدارنګه که چېرې یو شخص د ۹۳ مادې لمخې د یوهٔ شرکت د مالیې په تادیه کولو مکلف وي، نو داسې ګڼل کېږي چې هغه شخص مالیاتي مکلفیتونه لري. ۹۳ ماده په هغه صورت کې تطبیقېږي که چېرې یو آمر، ونډه لرونکی او یا هم پېرودونکی د شرکت شتمنۍ د بازار له بیې څخه په ټیټه بیه لاس ته راوړې وي او همدارنګه که چېرې د مالیې وزارت په همدې منظور نوموړي شخص ته د مالیې یادښت صادر کړی وي، نو داسې ګڼل کېږي چې نوموړی شخص مالیاتي مکلفیت لري.

بېلګه: د (الف) شرکت د ورکړې وړ مالیه ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ ده. نوموړي شرکت خپله د ورکړې وړ مالیه ځکه نه ده تادیه کړې چې خپلې نغدي زېرمې اود کریدت اسانتیاوې یې د سوداګریز کاروبار لپاره د نوې ودانۍ په پېرودلو مصرف کړې دي. د یو شرکت آمر سره له دې چې پوهېده چې شرکت پر عایداتو د مالیاتو د فورمې پر سپارلو او پر عایداتو د مالیاتو پر ورکړې مکلف دی، بیائې هم پرېکړه وکړه چې یو نوی تعمیر راونیسي. د شرکت آمر د (الف) شرکت پرعایداتو د مالیاتي مکلفیت د ترسره کولو په برخه کې پام لرنه ونه کړه. د مالیې وزارت د ۹۳ مادې سره سم نوموړي آمر ته یو یادښت صادر کړ چې هغه د ۲۰۰۰۰۰ افغانیو د مالیې په تادیه کولو مکلف ګڼي. دا چې د شرکت آمر د هغهٔ شخص په توګه ګڼل کېږي چې مالیاتو له درکه پوره وړی دی، نو د مالیې وزارت د دغهٔ آمر د وتلو د مخنیوي حکم صادروي.

۶.۹۴ که چېرې یو شخص له هغهٔ کس څخه چې مالیاتي ذمت لري، پوره وړی وي او یا هم د هغهٔ پیسې وساتي، نو د شخص مالیاتي مکلفیت نه لري.

بېلګه: د ادیب لپاره د مالیې د ټاکنې سند صادر شوی دی او د هغه د ورکړې وړ مالیه ۳۰۰۰۰ افغانۍ ده. هارون له ادیب څخه ۲۵۰۰۰ افغانۍ پوره وړی دی. کله چې د ادیب د عزیمت د مخنیوي حکم صادر شي، نو داسې حکم د هارون لپاره نه شي صادریدای. پدې بېلګه کې هارون داسې شخص نه دې چې د مالیاتي ذمت لرونکې وي.

تبصره: برسېره پردې کیدای شي د مالیې وزارت هارون ته یو یادښت صادر کړي او هغه د ۹۲ مادې سره سم پدې مکلف کړي چې د ادیب د پور پیسې مالیې وزارت ته ورکړي.

بندول (مسدودول)
پنځه نوي يمه ماده:
که چېرې مؤدي مالياتي اظهارليک او ماليات د دې قانون د حکمونو لمخې په ټاکلي وخت ورنکړي يا يې وضع نه کړي، د ماليې وزارت کولای شي مؤدي د ليکلې يادښت په ذريعه، پدې اړه چې د فعاليت يوه برخه يا ټول يې د يادښت له نېټې څخه (۷) ورځې وروسته بندوي، خبر کړي. دغه حکم د ماليې وزارت د واکمنو چارواکو له لاسليکه د مالياتي او تادياتي حسابونو تر بشپړې تصفيې پورې نافذ دی او امنيتي ادارې مکلفې دي، د دې حکم په تطبيق کې ملتيا او همکاري وکړي.

۱.۹۵ که چېرې يو ماليه ورکوونکی خپل مالياتي اظهارليک په قانوني موده کې تاديه نکړي او په دې کې مرسته هم و نه کړي، نو د عوايدو لوی رياست د وروستنی استحضاريې په صادرولو پرېکړه کوي.

أ. په دې يادښت کې غوښتنه کېږي ترڅو هغه اظهارليک (اظهارليکونه) چې نه دي تاديه شوي وروسته له دې چې ماليه ورکوونکی وروستنی استحضاريه تر لاسه کوي، بايد په ټاکلي وخت کې وړاندې شي،

ب. په وروستنی استحضاريه ليک کې ماليه ورکوونکي ته سپارښتنه کېږي چې که چېرې په استحضاريه کې ذکر شوي ميعاد کې اظهارليک (اظهارليکونه) تسليم نه شي، نو د فعاليتونو يوه برخه او يا ټول فعاليتونه يې تړل کېږي. د اړتيا په صورت کې او له قانون څخه د ښې پېروی په موخه به له امنيتي ځواک څخه کار واخستل شي، او

ج. د عوايدو لوی رياست د لازمو (له اړتيا څخه ډېر نه) امنيتي مرستو تر لاسه کولو په اړه ځان ډاډه کوي. د دې قانون پر اساس د کورنيو چارو وزارت په دې اړه د مرستې په ترسره کولو مکلف دی.

ښېلګه: موجود سندونه ښيي چې ماليه ورکوونکي سره درې ځله اړيکه ټينګه شوې او ورڅخه غوښتل شوي ترڅو د خپلو انتفاعي معاملو مالياتي فورمه وسپاري چې له ټاکلي ميعاد نه يې ۲۰ ورځې هم تېرې شوي دي. ماليه ورکوونکی ادعا کوي چې د خوراکي توکود پلورلو يو لوی شرکت ډېرې ستونزې لري او ډېرې مودې ته اړتيا لري. په پای کې ماليه ورکوونکی حاضر نه دی چې د بېلانس ورکولو وخت معلوم کړي. نو استحضاريه بايد صادراو د اړتيا په صورت کې د هغه فعاليت بايد بند کړل شي.

۲.۹۵ که چېرې يو ماليه ورکوونکی خپل تاديات ورنکړي، لکه څنګه چې قانون حکم کوي، ماليه وضع نه کړي او يا په دې اړه مرسته هم ونکړي، نو د عوايدو لوی رياست به د وروستنی استحضاريې مکتوب د صادرولو پرېکړه وکړي.

أ. په دې مکتوب کې داسې غوښتل شوي دي چې د دې مکتوب له لاس ته راوړلو نه وروسته ټاکلي ميعاد پورې بايد ماليه ورکوونکی د هغو مالياتود احکامو څخه پېروي وکړي چې په ټاکلي موده کې نه دي تاديه شوي او يا نه دي وضع شوي.

ب. نوموړی مکتوب مالیه ورکوونکي ته توسیه کوي چې که چېرې د ټولو مالیاتي مکلفیتونو او یا د مالیې د نه وضع کولوله احکامو څخه پېروي و نه کړي، نو د نوموړي شخص ټول فعالیتونه اویا بهٔ ئې د فعالیتونو یوه برخه وتړل شي. د اړتیا په صورت کې او له قانون څخه د ښې پېروی، په موخه به له امنیتي ځواک څخه کار واخستل شي.

ج. د عوایدو لوی ریاست د لازم (له اړتیا څخه ډېر نه ) امنیتي مرستو ترلاسه کولو په اړه ځان ډاډه کوي. د دې قانون پر اساس د کورنیو چارو وزات په دې اړه په مرسته کولوباندی مکلف دی.

۱ بېلګه: موجود سندونه ښیي چې مالیه ورکوونکې یو ستر ودانیز (ساختماني ) شرکت دی. له هر ډول تادیاتو نه پرته نوموړي شرکت خپل اظهارلیک وړاندی کړی دی. د شرکت جریمه او ورکړې وړ اضافي مالیه ۲۵۰۰۰۰۰ افغانیو ته رسېږي. په دوه مخکینیو ناستو کې نوموړي مالیه ورکوونکي ویلي ؤو چې د افغانستان بهرنه ورته ډېر ژر پېسې راځي. دټاکلي میعاد نه ۳۰ ورځې وروسته بانک ته هېڅ ډول پیسې نه دي تحویل شوي. پدې صورت کې به د استحضاریې مکتوب پر صادرولو او د شرکت پر تړلو غور وشي.

۲ بېلګه: دا شرکت تر ۲ میاشتو پورې برقي جنراتورونه پلوري. نوموړی شرکت ۲۲ کارکونکي لري او د هغوی له معاشونو څخه مالیه وضع کوي مګر مالیې وزارت ته هېڅ ډول مالیه ورکړې نه ده. د شرکت رئیس وائي چې په کاري لګښتونو کې دغو پیسو ته اړتیا وه ا و مونږ نه شوه کولای چې دومره ډېرې پیسې تحویلې کړو او خپل فعالیت هم پر مخ بوزو. د وضع شوو پیسود تحویلي لپاره هېڅ ډول همکاري وجود نلري. پدې صورت کې به د استحضاریه مکتوب پر صادرولو او د شرکت پر تړلو به غور وشي.

**شتمنۍ ته د مؤدي د لاس رسي محدودیت**

**شپږنوي یمه ماده:**

(1) که چیرې مؤدي مالیاتي اظهارلیک او مالیات د دې قانون د حکمونو لمخې په ټاکلي وخت وړاندې نکړي، ورنکړي یا یې وضع نکړي، د مالیې وزارت کولای شي واکمنې محکمې ته مراجع وکړي او د مالیاتي او تادیاتي حسابونو تر تصفیې پورې په مؤدي پورې د اړوندو منقولو او غیر منقولو شتمنیو د لاس رسۍ محدودیت (بلاک ) وغواړي.

(2) که چېرې مؤدي د (۳۰ ) ورځو په موده کې خپل مالیاتي او تادیاتي وجایب ادا نکړي، د مالیې وزارت کولای شي واکمنې محکمې ته مراجع وکړې او پلورل یې وغواړي، که چیرې مؤدي د محکمې د حکم له صادریدو د مخه د دې مادې په (۱ ) فقره کې د درج مکلفیتونو سرته رسولو ته حاضر شي، له عدلي تعقیب څخه صرف نظر کېږي.

(3) واکمنه محکمه کولای د دې مادې په (۱ ) فقره کې په درج شوي حالت کې د مزایدې او داوطلبۍ له لارې د ذکر شوو شتمنیو په پلورلو حکم صادر کړي.

(4) د مالیې وزارت د پلورنې له ماحصل څخه ، د مؤدي مالیاتي او تادیاتي وجایب اخلي او پاتې یې هغه ته مستردوي.

۱.۹۲ کیدای شي د عوایدو لوی ریاست د هغو مالیه ورکوونکو د شتمنیو د معاملو محدودولو لپاره د محکمې د حکم غوښتنه وکړي چې خپل مالیاتي اظهارلیک یې نه دې وړاندی کړی، خپل مالیات یې تادیه او یا

وضع کړې نه وي. دا حکم د هر ډول شتمنۍ پلورل منع ګرځوي. که چیرې مالیه ورکوونکی د محکمې له حکم نه وړاندی خپل ټول مالیاتي مکلفیتونه ادا کړي، نو نوموړی حکم نه تطبیقیږي.

۲.۹۲ که چیرې مالیاتي مکلفیت د حکم د صدور له نېټې څخه ۳۰ ورځې وروسته ادا نه شي، نو د عوایدو لوی ریاست به د مالیه ورکوونکي د شتمنۍ د پلور د واک لاس تر لاسه کولو په موخه محکمې ته مراجعه وکړي. که چېرې ټول مالیاتي مکلفیتونه د ۹۲مې مادې لمخې ادا نه شي ، نو واکمنه محکمه د عوایدو لوی ریاست ته حکم کوي چې د مالیه ورکوونکي ټوله شتمنۍ د لیلام او یا داوطلبۍ له لیارې وپلوري. د شتمنۍ له پلور نه وروسته د مالیه ورکوونکي ټول هغه مالیات چې نه دي ورکړل شوي، ورکول کېږي او که چېرې د جایداد د پلور له درکه پیسې اضافه شي، نو دمالیې وزارت له لیارې مالیه ورکوونکي ته بېرته ورکول کېږي.

# پنځلسم فصل

## د مالیې له کتمان څخه مخنیوی

## له۹۷ مادې نه تر ۹۸ پورې

د اړوندو اشخاصو تر منځ معاملې
اووه نوي يمه ماده:
که چېرې يوه معامله د حکمي اشخاصو لخوا له اړوندو اشخاصو (خپلوانو او د معاملې شريکانو) او همدارنګه عين معامله له ناړوندو اشخاصو سره د بيو په توپير سره صورت ومومي، د ماليې په سنجولو کې هغه رقم په پام کې نېول کېږي چې د ماليې ډېر لوړ رقم ترلاسه کړي.

۱.۹۷ پر عايداتو د ماليات‌و قانون له ۹۷مې مادې څخه مراد دا دی چې ماليه ورکوونکی د مالياتي ګټو په موخه له نورو نا اړونده اشخاصو سره په معامله کې شريک نه شي. د ماليې وزارت پدې باور دی چې ۹۷مه ماده او تشريحات يې دا مقررات د اقتصادي همکارۍ د اداري او د څو مليتيزو تصديو او مالياتي ادارو (د ۱۹۹۵ کال) د پرمختګ د لېږدوني له لارښود سره سمون خوري.

۱ بېلګه: احمد د (الف) او ب شرکتونو د ټولو پلورل شوو ونډو خاوند دی. د (الف) او ب شرکتونه افغان سهامي شرکتونه دي. احمد له (الف) شرکت نه غواړي چې يو شمېر محصولات هر واحد ۱۰۰۰ افغانيو په بدل کې د (ب) په شرکت وپلوري. په بازار کې همدا ډول محصولات في واحد په ۸۰۰ افغانيو پلورل کېږي. احمد غواړي چې د (الف) شرکت د ډېرې ګټې او د (ب) شرکت د تاوان او ګټې د کمولو په موخه د (الف) شرکت محصولات په لوړه بيه و پلوري. د (الف) شرکت له خالص عملياتي تاوان سره مخ دی او کولای شي خپل همدا تاوان پر (ب) شرکت باندی د محصولاتو د پلور له درکه له لاسته راغلې ګټې څخه رفع کړي. د ۹۷مې مادې له مخې د ماليې وزارت کولای شي د (الف) او (ب) شرکتونو ګټې داسې بيان کړي چې ګواکې د (الف) شرکت في واحد محصولات د (۸۰۰) افغانيو په بدل کې د (ب) پر شرکت باندی پلورلی دی.

۲ بېلګه: احمد د (الف) او (ب) شرکتونو د ټولو پلورل شوو ونډو خاوند دی. د (الف) شرکت افغان او (ب) شرکت د ازبکستان دی. احمد له (الف) شرکت څخه غواړي چې د خپلو محصولاتو في واحد د ۸۰۰ افغانيو په بيه پر (ب) شرکت باندی وپلوري. په بازار کې د همدا ډول محصولاتو في واحد د۱۰۰۰ افغانيو په بيه پلورل کېږي. احمد غواړي چې د (الف) شرکت د (ب) پر شرکت باندی محصولات د دې لپاره په ټيټه بيه وپلوري چې د (الف) شرکت ګټه لږه او د (ب) شرکت ګټه ډېره شي. د دې کار پايله دا ده چې د (الف) شرکت افغانستان ته لږه ماليه ورکوي. د ۹۷مې مادې په لمخې، ماليې وزارت کولای شي د (الف) شرکت ګټه داسې تصريح کړي چې ګواکې د (الف) شرکت پر (ب) شرکت باندی د محصولاتو في واحد په ۱۰۰۰ افغانۍ پلورلې دي.

۲.۹۷ که چېرې د ماليه ورکوونکو فعاليت د يو شخص يا نهاد لخوا وڅارل شي، نو داسې ګڼل کيږي چې نوموړي ماليه ورکوونکي له يو بل سره اړيکې لري. نو پدې منظور د ماليه ورکوونکي ميرمن، ورونه، خوېندې، بچيان، مور او پلار د اړو اشخاصو په توګه ګڼل کېږي. دا چې ټول ماليه ورکوونکي د عين شخص تر څارنې لاندی دي او که نه، د حالاتو او حقيقتونه له مخې ټاکل کېږي. سره له دې هم د عوايدو لوی رياست پدې موخه چې آيا دوه ماليه ورکوونکي د عين شخص تر څارنې (کنترول) لاندی قرارلري او که نه، لاندې مقررات تطبيقوي:

أ. که چېرې مالیه ورکوونکی په یو نهاد کې د رایو ورکولو له ۵۰٪ څخه ډېر امتیاز ولري، نو داسې ګڼل کېږي چې یو مالیه ورکوونکې له یوۀ حکمي شخصیت ( شراکت، محدودالمسؤلیت او یا سهامي شرکت) سره اړیکه لري.

۱ بېلګه: وحید د یو سهامي شرکت ۵۱٪ پلورل شوې ونډې (اسهام) په واک کې لري. غیر ذیدخل خواوې د سهامي شرکت ۴۹٪ پاتې ونډې لري. نوموړی شرکت د یو ډول ونډې لرونکی دی. د وحید ونډې هغۀ ته واک ورکوي چې د مجلس اکثریت غړي او د سهامي شرکتونو رئیسان وټاکي. په همدې دلیل وحید په افغان سهامي شرکت پورې یو اړوند شخص ګڼل کېږي.

۲ بېلګه: (الف) شرکت یو افغان شرکت دی چې یو ډول واحده ونډه لري. وحید په (الف) شرکت کې د ۲۰٪ ونډې خاوند دی. د وحید مېرمن چې آسیه نومېږي په (الف) شرکت کې د ۲۰٪ ونډې خاونده ده. د وحید زوی نجیب په (الف) شرکت کې ۱۲٪ ونده لري. وحید ، آسیه او نجیب ټول له یو بل سره اړوند اشخاص ګڼل کېږي او له (الف) شرکت سره اړیکې لري.

ب. که چېرې یو مالیه ورکوونکی له ۵۰٪ د ډېرو رایو امتیاز په یوه نهاد کې په نامستقیمه توګه ولري، داسې ګڼل کیږي چې نوموړی له یوه حکمي شخص سره اړیکه لري.

بېلګه: وحید د (الف) شرکت (یو افغان سهامي شرکت) د ۸۰٪ پلورل شوو ونډو خاوند دی. الف شرکت په ب شرکت (محدودالمسؤلیت شرکت) کې د رایو د ۸۰٪ امیتاز خاوند دی. د وحید د (الف) شرکت اړوند شخص ګڼل کېږي دا ځکه چې هغه په مستقیمه توګه په (الف) شرکت کې د ۵۰٪ رایو څخه ډېر واک په لاس کې لري. وحید (ب) شرکت سره هم اړیکه لري دا ځکه چې هغه په غیرمستقیمه توګه په دغه شرکت کې د ۶۴٪ رایو واک لري. ( ۸۰٪ × ۸۰٪ = ۶۴٪ )

ج. که چیرې دوه حکمي شخصیتونه په عینې مالیه ورکوونکي پورې اړوند وګڼل شي، نو دواړه شخصیتونه یو بل ته هم اړونده شمېرل کېږي.

۱ بېلګه: وحید د (الف) شرکت (یو افغاني سهامي شرکت) د ۸۰٪ پلورل شوو اسهامو (ونډو) خاوند دی او همدارنګه (ب) شرکت (محدودالمسؤلیت افغان شرکت) کې د ۵۱٪ رایو واک لري. دا داسې بلل کیږي چې وحید د (الف) او (ب) شرکتونو سره اړیکې لري. نو پدې ترتیب (الف) او (ب) شرکتونه یو بل ته اړوند ګڼل کېږي.

۲ بېلګه: (الف) شرکت چې یو افغان سهامي شرکت دی د (ب) شرکت د ۸۰٪ پلورل شوو اسهامو خاوند هم دی. همدارنګه (الف) شرکت په (ج) شرکت کې د ۵۱٪ رایو واک لري. ج شرکت یو محدودالامسؤلیت شرکت ګڼل کیږي. دا داسې ګڼل کېږي چې (الف) شرکت په (ب) او (ج) شرکتونو پورې یو اړوند شرکت دی. (الف) او(ج) شرکتونه یو بل سره اړوند شرکتونه شمېرل کیږي.

د. که چېرې يو ماليه ورکوونکی په يوۀ حکمي نهاد کې د رايو له غوڅ اکثريت څخه د لړ امتياز خاوند وي، ياد شخص په هماغه شرکت پورې اړوند ګڼل کيږي. نو په هغۀ صورت کې چې واقيعتونه او شرطونه دا وښيي چې ماليه ورکوونکی د نوموړي نهاد د پرېکړو د څارلو (کنترولولو ) واک ولري، نو په هماغه نهاد پورې اړوند شمېرل کېږي.

۱ بېلګه: زيد په (الف ) شرکت کې چي يو افغان سهامي شرکت دی د **۵۰**٪ پلورل شوو اسهامو خاوند دی. د زيد د تره زامن هر يو سعد او نجيب په نوموړي شرکت کې **۲۵**٪ ونډه لري. زيد ، سعد او نجيب اړونده اشخاص نه ګڼل کېږي ځکه چې هغوی د زيد د تره زامن دي. د هغو سندونو له ارزونې څخه چې د (الف) شرکت د آمرينو په جلسه کې ثبت شوي دي، داسې څرګند يږي چې زيد سعد او نجيب ته لارښوونه کوي او هغوې همدارنګه د زيد له غوښتنو سره سم رايه ورکوي. نو داسې بايد وګڼل شي چې زيد (الف ) شرکت کنټرولوي او نوموړي شرکت پورې اړونده شخص دی.

۲ بېلګه: زيد په (الف ) شرکت کې چي يو افغان سهامي شرکت دې د **۵۰**٪ پلورل شوو اسهامو خاوند دی. د زيد د تره زامن هر يو سعد او فيروز په نوموړي شرکت کې **۲۵**٪ ونډه لري. زيد ، سعد او فيروز اړوند اشخاص نه ګڼل کېږي ځکه چې هغوی د تره زامن دي. د عوايدو لوی رياست د څېړنې پر مهال داسې معلومات تر لاسه کوي چې د ډېرو موضوعاتو په اړه زيد له سعد او فيروز سره موافقه نه لري. نوموړي درې اشخاص د شرکت د فعاليت په اړه مختلف نظرونه لري ولې هېڅ يو له هغو څخه د شرکت اداره پر غاړه نه لري نو زيد بايد په دغه صورت کې د اړوند شخص په توګه و نه ګڼل شي.

**۳.۹۷** " اړونده معامله " هغې معاملې ته ويل کيږي چې د ماليه ورکوونکو تر منځ تر سره کيږي. " نا اړونده معامله " هغې معاملې ته ويل کيږي چې د نا اړوندو ماليه ورکوونکو تر منځ تر سره کيږي. د نااړونده معاملې بيه د "لېږد بيې " په نامه يادېږي.

بېلګه: وحيد په (الف ) افغان سهامي شرکت کې د ټولو پلورل شوو اسهامو خاوند دی. نوموړی همدارنګه د (ب ) افغان سهامي شرکت پلورل شوي اسهام هم په واک کې لري. وحيد د (الف ) او (ب) شرکتونو اړوند ماليه ورکوونکي ګڼل کېږي. که چيرې د (الف ) او (ب ) پر شرکت باندې محصولات وپلوري ، نو د غه پلورنه د اړوندې معاملې په توګه ګڼل کېږي. هغه بيه چې د (ب ) شرکت لخوا د اسهامو په بدل کې ورکول کيږي د لېږد بيې په توګه ګڼل کېږي.

**۴.۹۷** د **۱۰۲** مادې پر اساس د ماليه ورکوونکي د ماليې وړ واقعي عوايدو د معلومولو په موخه بايد د عوايدو لوی رياست نا اړوندې معاملې تر غور لاندې ونيسي.

بېلګه: وحيد په (الف) افغان سهامي شرکت کې د ټولو پلورل شوو اسهامو خاوند دی. وحيد د دغۀ شرکت د رييس په توګه هر کال (الف ) شرکت ته خدمات برابروي. د (الف ) شرکت وحيد ته د هغۀ د خدماتو په بدل کې پېسې ورکوي. وحيد پوهېږي چې د هرې هغې افغانۍ له درکه کسرات وضع کړي چې د (الف ) شرکت لخوادۀ ته ورکول کيږي. همدارنګه وحيد پوهيږي چې د (الف) شرکت د ٪**۲۰** نورم پر اساس د ماليې تابع ګرځي ولې نوموړی په خپله د ځينو عوايدو له درکه د ٪ او ٪**۱۰** نورم پر اساس د ماليې تابع ګرځي. د دې موضوع د معلومولو لپاره چې آيا وحيد ته د (الف ) شرکت لخوا ورکړل شوي تاديات له **۹۷**مې مادې سره سمون خوري او که نه، د عوايدو لوی رياست بايد هغه معاشونه په پام کې ونيسي چې د نورو شرکتونو

لخوا په نا اړوندو معاملو کې رئیسانو ته ورکول کېږي. د بېلګې په توګه، فرض کوو چې د (ب) شرکت (یو افغان سهامي شرکت) (الف) شرکت ته ورته یو شرکت دی او اندازه یې هم د (الف) شرکت د اندازې سره برابره ده او ورته فعالیت تر سره کوي. د (ب) شرکت د یو انفرادي شخص لخوا نه کنترول کېږي او د دولت اویا د دولتي ادارو ملکیت هم نه دی. د ب شرکت د دغهٔ شرکت رئیس ته په کال کې ۱۰۰۰۰۰۰ افغانۍ ورکوي. هغه معاش چې د (ب) شرکت ئې خپل رئیس ته ورکوي د یوې نا اړوندې معاملې په توګه ګڼل کېږي. د عوایدو لوی ریاست ددې لپاره چې آیا د وحید معاش مناسب دی او که نه ، دغه معامله په پام کې نیسي.

**۵.۹۷** د نااړوندو اشخاصو تر منځ د سمې بیې د معلومولو په موخه به د عوایدو لوی ریاست له لاندې توضیح شوو لارو( میتودونو ) څخه کار واخلي. پورتنی هر میتود مختلفو نااړونده معاملو د مالېې وړ مناسبو عوایدو پورې اړه لري. د ښه میتود د ټاکلو په موخه د عوایدو لوی ریاست باید هر میتود ته د کتلو په وخت کې د اړوندو او نااړوندو معاملو تر منځ مشابورته والی په پام کې و نیسي. د عوایدو لوی ریاست باید په ځانګړې توګه لاندې حالتونه او حقیقتونه په نظر کې ونیسي:

أ. اجراات: په اړوندو او نا اړوندو معاملو کې تطبیق شوي اجراات باید سره ورته وي. که چیرې د دواړو معاملو اجراات سره ورته وي، نو نااړونده معامله به د لېږد د دقیقې بیې په ټاکلو کې ډېره اغېزمنه وي. که چېرې اجراات په اړونده او نااړونده معامله کې سره ورته نه وي، په دې صورت کې نااړونده معامله د لېږد د کره بیې په ټاکلو کې اغېزه نه لري.

**بېلګه:** ادیب (الف) شرکت افغان سهامي شرکت د ټولو پلورل شوو اسهامو خاوند دی. د (الف) شرکت د کابل په وزیر اکبر خان مېنه کې یو پلورنځی پر مخ بیایې چې استعمال شوي نقلیه وسایط پکې پلوري.همدارنګه ادیب په (ب) شرکت کې چې یو محدودالمسؤلیت شرکت دی د رای ورکولو ٪۲۰ امیتاز لري. د (ب) شرکت کابل ښار ته څېرمه یو پلورنځی پر مخ بیایې چې د موټرو پرزې پکې پلوري. د (ب) شرکت د موټرو د ترمیم په چارو کې هېڅ ډول مرسته نه کوي او یوازې د موټرو پرزې پلوري. (الف) شرکت د پلور لپاره یو عراده نقلیه واسطه پیري چې ترمیم ته اړتیا لري. د (الف) شرکت د تل لپاره د (ب) له شرکت څخه پرزې رانیسي. داسې ګڼل کیږي چې ادیب له (الف) او (ب) شرکتونو سره اړیکې لري. نو (الف) او (ب) شرکتونه هم له یو بل ته اړوند دي. هغه بیه چې د (ب) شرکت ئې د پرزو په بدل کې د (الف) له شرکت څخه تر لاسه کوي د " لېږد بیې " په نامه یادیږي. ددې لپاره چې آیا د لېږد بیه له ۹۷مې مادې سره سمون خوري او که نه، د عوایدو لوی ریاست باید نااړونده معاملې تر غور لاندې ونیسي. دوه نااړونده معاملې وجود لري چې د عوایدو لوی ریاست یې تثبیتوي. په لومړۍ نااړونده معامله کې د (ج) شرکت هم شامل دی. (ج) شرکت یو افغان سهامي شرکت دی چې کابل ښار ته څېرمه موقیعت لري. دا شرکت کابل ښار کې پر مختلفو پېرودونکو باندی د موټر پرزې پلوري. د (ج) شرکت د موټرو په ترمیم کې مرسته نه کوي او یوازې پرزې یې خرڅوي. په دویمه نا اړونده معامله کې د (د ) شرکت شامل دی چې دا یو افغان سهامي شرکت دی او کابل ښار ته څېرمه موقعیت لري.د (د ) شرکت د موټرو یو شمېر میخانیکان استخداموي. د (د ) شرکت هر هغه چاته چې د موټرو پرزې رانیسي عالي میخانیکي خدمات برابروي. دا شرکت هغه چاته د ترمیم د ټاکنې په برخه کې مرسته کوي چې د موټرو پرزې پیري. د لومړي شرکت اجراات ځکه د (ب) شرکت اجرااتو سره یو شان دي چې د (ج) شرکت معاملات اود (ب) شرکت معاملات سره ورته دي. د (ج) شرکت معاملات د لېږد د بیې په اړه ښه ثبوت یا سندونه برابروي.

ب. د قرارداد شرطونه: د هغهٔ قرارداد شرطونه چې په اړوندو او نا اړوندو معاملاتو کې پکارېږي باید سره ورته وي. د عوایدو لوی ریاست باید د دواړو خواو تر منځ مالي ترتیباتو(د تادیاتو شرطونه ، د کار کولو وخت او نورو ) ته اړوند شرطونه په پام کې ونیسي.

بېلګه: داود د (الف) افغان سهامي شرکت د ټولو پلورل شوو اسهامو خاوند دی. (الف) شرکت یوه مجله خپروي او د مجلو د پلورلو په بدل کې پیسې لاس ته راوړي. دا شرکت له هغو کسانو څخه هم پیسې اخلي چې په مجله کې خپل اعلانات خپروي. همدارنګه داود د (ب) شرکت خاوند هم دی. (ب) یو افغان سهامي شرکت دی چې د پېغامونود لېږد په برخه کې خدمت کوي. که چېرې یو کس وغواړي چې کوم مکتوب او یا لیکل شوی سند د افغانستان یو ګوټ څخه بل ګوټ ته واستوي ، نو کولای شي چې د خپل مکتوب د لیږلو په موخه د (ب) له شرکت سره اړیکي ونیسي او هغهٔ ته د لېږد لپاره پیسې ورکړي. (ب) شرکت ضمانت ورکوي چې مکتوب به په یوه ورځ کې خپل هدف ځای ته ورسیږي. نوموړی شرکت د سند یا پېغام لېږلو په بدل کې ۱۰۰ افغانۍ اخلي. کله چې (الف) شرکت غواړي لیکلی سند کوم کس ته واستوي ، تل د (ب) له شرکت څخه استفاده کوي خو کله چې د (ب) شرکت (الف) شرکت ته د پېغام لیږلو په برخه کې خدمت ترسره کوي، نو دا ضمانت نه کوي چې د نوموړي شرکت پېغام به په یوه ورځ کې د هدف ځای ته ورسېږي. (ب) شرکت له (الف) شرکت څخه د هغهٔ پېغام رسولو په بدل کې یوازې ۸۰ افغانۍ اخلي. هغه بیه چې (ب) شرکت یې له (الف) شرکت څخه ترلاسه کوي ناسمه نه ده دا ځکه په کومه ورځ چې د (الف) شرکت پېغام د (ب) شرکت ته رسېږي ، د(ب) شرکت هم په هماغه ورځ نورو پېرودونکو ته خدمت وړاندی کوي. (ب) شرکت په عین وخت کې د (الف) شرکت ته کارنه کوي. (ب) شرکت له (الف) شرکت څخه لږې پیسې ترلاسه کوي. نو د عوایدو لوی ریاست باید کوښښ وکړي چې داسې یو نا اړونده معامله پیدا کړي چې اړوندې ته ورته وي.

ج. خطرونه: په اړوندو او نااړوندو معاملاتو کې د خواو لخوا متقبل شوي خطرونه باید سره ورته (مشابه) وي.

بېلګه: ادیب په (الف) شرکت کې چې یو افغان سهامي شرکت دی او موټرسایکلونه واردوي، د اسهامو خاوند دی. ادیب (ب) شرکت کې چې یو افغان سهامي شرکت دی د ټولو پلورل شوو اسهامو مالک دی. (ب) شرکت له (الف) شرکت څخه موټرسایکلونه پېرودلي او په افغانستان کې یې پر پېرودونکو باندې پلوري. کله چې (الف) شرکت پر (ب) شرکت باندې موټرسایکلونه پلوري، نو د لېږدونې په وخت کې د موټرسایکلونو د تخریب او ورک کیدو له خطر سره مخ کیږي. که د لېږدونې یا انتقال په وخت کې یو موټرسایکل تخریب او یا هم ورک شي ، نو خطر ئې (الف) شرکت متوجه کېږي نه د (ب) شرکت ته. د عوایدو لوی ریاست د نا اړوندو معاملو د تحلیل او تجزیې پرمهال باید د هغو نا اړوندو معاملو په لټه کې وي چې پلورونکی د محصولاتو د انتقال په وخت کې راپېښیدونکي تاوان پرغاړه واخلي.

د. اقتصادي شرطونه: افغانستان له جنګ ځپلي حالت څخه د وتلو په حال کې دی. د اړوندو او نا اړوندو معاملو د تحلیل او تجزیې په وخت کې د عوایدو لوی ریاست باید اړوند اقتصادي شرطونه په پام کې ونیسي. په ځانګړې توګه ، د ګټې هغه اندازه چې یو شخص ئې په یو جنګ ځپلي هېواد کې په پانګه اچولو سره له اقتصادي فعالیتونو څخه توقع لري، کیدای شي په یو پرمخ تللي هېواد کې د اقتصادي فعالیتونو د ګټې له اندازې نه ډېره توپیر ولري. د عوایدو

لوی ریاست باید د لېږد د بیې په ټاکلو کې د هغې کچې اندازې ته پاملرنه وکړي چې د ورته اقتصادي شرطونو لاندې مشابه پانګه اچونې له درکه لاس ته راغلې.

بېلګه: د عوایدو لوی ریاست پر (الف) شرکت باندی خپل تحقیقات کوي. (الف) شرکت یو افغان سهامي شرکت دی چې په چین کې یو اړوند شخص څخه راډیوګانې رانیسي او په افغانستان کې ئې پر مختلفو پلورنځیو باندې خرڅوي. ددې معلومولو لپاره چې آیا د شرکت لخوا د راډیوګانو په بدل کې ورکړل شوې بیه معقوله ده او که نه ، د عوایدو لوی ریاست کولای شي چې په یوۀ پرمخ تللي هېواد کې د اړوندو اشخاصو تر منځ تر سره شوي معاملات تر غور لاندی ونیسي. د داسې معاملو د ارزونې په وخت کې د عوایدو لوی ریاست باید په ځیر سره دا موضوع په پام کې ونیسي چې آیا د افغانستان ځانګړي اقتصادي شرطونه د لاربنود په برابرولو کې د پورته ذکر شوو معاملاتو اغېزه کموي او که نه.

د شتمنیو او خدماتو تر منځ ورته والی: د لېږد د کره بیې په ټاکلو کې باید عین خدمات او شتمنۍ په اړوندو او نا اړوندو معاملاتو کې شاملې وي. که په اړونده معامله کې د موټر پلور شامل وي، نو د عوایدو لوی ریاست باید کوښښ وکړي چې د مقایسه کېدو وړ نااړونده معاملات چې د موټر پلورل پکې شامل وي پیدا کړي. دعوایدو لوی ریاست باید پر هغه نااړوندې معاملې باندې باور ونه کړي چې د موټر سایکل پلورل په کې شامل وي ځکه چې د موټر سایکل پلورل د موټرله پلورلو سره توپیر لري.

۲.۹۷ په ځانګړو قضیو یا حالاتو کې په دې اړه تغیر راوستل ضروري دي چې آیا اړوند او نااړونده معامله یو بل سره د مقایسه کیدو وړ دي او ک نه.

بېلګه: د (الف) شرکت د یوې اړوندې معاملې په ترڅ کې پر (ب) شرکت باندی د (۳۰۰۰۰۰) افغانیو په بیه د موټر پرزې پلوري. د پلور شرطونه دا ایجابوي چې (الف) شرکت د (ب) شرکت ته د پرزو د لېږد پر مهال د تخریب او ورک کېدو خطر ومني. د عوایدو لوی ریاست یوه معامله تشبیته کړېده چې پورته ذکر شوي معاملې سره د مقایسه کېدو وړ ده. په نااړونده معامله کې اخستونکی د مالونو د لېږد پر مهال د تخریب او یا ورکیدو خطر متقبل کیږي. پدې صورت کې د عوایدو لوی ریاست په نااړونده معامله کې استفاده شوې بیه په نااړونده معامله کې د مالونو د پلور د بیې تخمین په موخه په هغه اندازه تغیروي چې په یوه اړونده معامله کې صورت نیسي.

۷.۹۷ په ځینو مواردو کې د بیې ټاکلو د میتود (لاندې تشریح شوې دی) تطبیق کیدای شي د هغې واحدې پایلې د رامنځ ته کیدو باعث شي چې د بیې ټاکلو د لېږد څرګندونه وکړي او یا هم د بیې د ټاکنې میتود د ډېرو نتیجو د رامنځته کېدو سبب شي. که چیرې یوه اړونده معامله د ټولو اسهامو او موادو له مخې نا اړوندو معاملو سره ورته والې ولري او یا هم د تغیر وړ وي، نوموړي معاملات له هر پلوه سره ورته ګڼل کیږي او پدې صورت کې ټول لاسته راغلې پایلې د لېږد یو شمېر معقولې بیې رامنځته کوي. که چیرې د مالیه ورکوونکي د لېږد بیه لاس ته راغلو پایلو سره سمون ولري، نو پایلې باید په درې مختلفو کټګوریو ووېشل شي. په لومړۍ کټګورۍ کې ٪۲۵ تر ټولو ټیټې پایلې شاملې دي. په دویمه کټګورۍ کې راتلونکې ٪۵۰ پایلې او په دریېمه کټګوري کې وروستۍ ٪۲۵ پایلې شاملې دي. که چیرې د مالیه ورکوونکي د لېږد بیه د دویمې کټګورۍ لمخې وي ، نو د لېږد بیه تغیر نه کوي. که چیری د لېږد بیه په لومړۍ اویا دریېمه کټګورۍ کې راشي ، نو د عوایدو لوی ریاست دریېمې کټګورۍ سره د سمون لپاره د نوموړې بیې د بیا ټاکلو واک لري.

۱ بېلګه: ادیب د افغانستان تبعه دی او د یوۀ کاناډائي سهامي شرکت د ټولو پلورل شوو اسهامو خاوند دی. همدارنګه، ادیب د یو افغان سهامي شرکت د ټولو پلورل شوو اسهامو مالک هم دی. کاناډائي شرکت اومه مواد ، دجامو رنګ او د قلم رنګ پر افغاني شرکت باندی پلوري. افغان سهامي شرکت له دغو رنګونو څخه د غالیو په تولید کې کار اخلي او وروسته ئې په ټوله نړۍ کې پر خپلو پېرودونکو باندی پلوري.د عوایدو لوی ریاست د مقایسه کېدو وړ څلور معاملې پیدا کوي چې د رنګ پلورل هم پکې شامل دي.
لاس ته راغلې پایلې په لاندی ډول ذکرشوي دي:

| | |
|---|---|
| د مقایسه کېدو وړلومړۍ معامله | ۱۰۰ افغانۍ في لیتر |
| د مقایسه کېدو وړ دویمه معامله | ۳۰۰ افغانۍ في لیتر |
| د مقایسه کېدو وړدرېیمه معامله | ۳۸۰ افغانۍ في لیتر |
| د مقایسه کېدو وړڅلورمه معامله | ۵۰۰ افغانۍ في لیتر |

که چیری دا ټولې نا اړونده معاملې په مهمو مواردو کې له اړوندو معاملو سره مشابه وي ، نو د لېږد مناسبو بیو سلسله دیوۀ لیتر په سر ۱۰۰ څخه تر ۵۰۰ پورې ده. که چیرې اړوند معاملات پورته ذکر شوې سلسلې سره سمون ولري، نو باید تغیر و نه مومي.

۲ بېلګه: پدې بېلګه کې ذکر شوي حقیقتونه د لومړۍ بیلګې حقیقتونو ته ورته دي. د مقایسه کېدو وړ معاملات په ټولو مهمو مواردو کې اړوندو معاملو سره مشابه نه دي. ددې لپاره چی په ټولو مهمو مواردو کې د مقایسه کیدو وړ اړوند معاملات نااړوندو معاملو سره ورته والی ولري تغیرات منځته رشي.د مقایسه کېدو وړ معاملات باید په کټګوریو باندې ووېشل شي. د مقایسه کېدو وړلومړۍ معامله د وروستني ٪۲۵ پایلو ښودونکې ده. د مقایسه کېدو وړ دویم او درېیم معاملې منځني (٪۵۰) پایلی ښیي. د مقایسه کیدو وړ څلورمه معامله په لومړۍ ٪۲۵ نتایجو کې قرار لري. که چیرې کاناډائي شرکت پر افغاني شرکت د ۱۰۰ څخه ډېر باندی في لیتر رنګ له ۵۰۰ افغانیو څخه په کمه بیه وپلوري، نو د لیږد بیه باید تغیر ونه کړي.

په ځینو حالاتو کې د پایلو شمېر په (۴) عدد کې نه ضرب کیږي. په داسې مواردو کې ټولې پایلې سره جمع کیږي او بیا د اوسط حد پیداکولو لپاره د پایلو په تعداد باندی وېشل کیږي. لاس ته راغلی اوسط حد باید ترټولو ټیټې پایلې سره جمع او پر ۲ باندی تقسیم شي. لاس ته راغلی رقم په لومړۍ کټګورۍ ذکر شوې کې ترټولو لوړه پایله ورکوي. اوسط حد باید ترټولو لوړې نتیجې سره جمع او بیا پر ۲ باندی ووېشل شي. لاس ته راغلی رقم په درېیمه کټګورۍ کې ذکر شوې تر ټولو ټیټه پایله ورکوي.

۳ بېلګه: ادیب د افغانستان تبعه دی او د یو کاناډائي سهامي شرکت د ټولو پلورل شوو اسهامو خاوند دی. ادیب همدارنګه د یو افغان سهامي شرکت ټولو پلورل شوي اسهام په واک کې لري. کانادائي شرکت خام مواد ، دجامو رنګ او د قلم رنګ پر افغان شرکت باندی پلوري. افغان سهامي شرکت له دغو رنګونو څخه د غالیو په تولید کې کار اخلي او وروسته ئې په ټوله نړۍ کې پر خپلو پېرودونکو باندی پلوري. د عوایدو لوی ریاست د مقایسه کېدو وړ ۷ معاملې پیدا کوي چې د رنګ پلورل هم پکې شامل دي.
لاس ته راغلې پایلې په لاندې ډول ذکرشوي دي:

| | |
|---|---|
| د مقایسې وړ لومړۍ معامله | ۱۰۰ افغانۍ في ليتر |
| د مقایسې وړ دویمه معامله | ۳۰۰ افغانۍ في ليتر |
| د مقایسې وړ درېیمه معامله | ۳۸۰ افغانۍ في ليتر |
| د مقایسې وړ څلورمه معامله | ۵۰۰ افغانۍ في ليتر |
| د مقایسې وړ پنځمه معامله | ۵۲۰ افغانۍ في ليتر |
| د مقایسې وړ شپږمه معامله | ۵۴۰ افغانۍ في ليتر |
| د مقایسې وړ اوومه معامله | ۲۰۰ افغانۍ في ليتر |

د پورته ذکرشوو او کنترول شوو معاملو تر منځ توپیرونه وجود لري. د داسې توپیرونود له منځه وړلو لپاره تغیرات نه شي راوړل کیدای. د یو شمېر معقولو پایلو سلسله باید جوړه شي. اووه پایلې موجودې دي. کله چې د مقایسه کېدو وړ په اوومه معامله کې ذکر شوی رقم د مقایسه کېدو وړ پر څلورمې معاملې باندی تقسیم شي، نو (۱۳/۴ ) کسر حاصل لاس ته راځي. لاسته راغلي نتیجې باید سره جمع او د مقایسه کېدو وړ پر اوومه معامله باندی وویشل شي. د اوسط حد لاس ته راغلی رقم ۴۲۰ کیږي. تر ټولو ټیټه پایله ۱۰۰ ده نو د لومړۍ کټګورۍ تر ټولو لوړه درجه ۲۶۰ ده ۲/ (۴۲۰+۱۰۰). تر ټولو لوړه پایله ۲۰۰ ده. په همدې دلیل د درېیمې کتګورۍ تر ټولو ټیټه درجه ۵۱۰ ده. که چیرې د کاناډایي شرکت لخوا اخستل شوې بیه له ۲۶۰ څخه لوړه او د ۵۱۰ څخه ټیټه وي ، نو پدې صورت کې باید تغیر نه شي.

۸.۹۷ که چیرې د یوځ مالیه ورکوونکي د بیې په لېږد کې څه تغیرات صورت ومومي، نو د عوایدو لوی ریاست باید هغه تغیرات ومني چې په اړونده معامله کې شاملو مالیه ورکوونکو لخوا په لاس ته راغلو عوایدو کې منځ ته راځي. که چیرې د بیې په ټاکلو کې تغیر د یوځ اړوند مالیه ورکوونکي په عوایدو کې د ډېریدو سبب شي ، نو باید په اړونده معامله کې د شاملو اړوندو مالیه ورکوونکو په عوایدو کې د کمښت په موخه تغیرات رامنځته شي.

أ. موازي تغیرات باید ترهغه مهاله رامنځته نه شي چې د اصلي بدلون نهایي ټاکنه ترسره شوې نه وي.

۱ بېلګه: (الف) شرکت یو افغان او (ب) شرکت یو ازبک شرکت دی. ادیب د ازبکستان هېواد تبعه ده چې د (الف) او (ب) شرکتونو د ټولو اسهامو خاوند دی. (الف) شرکت (ب) شرکت ته سامانونه په کرایه ورکوي. د عوایدو لوی ریاست پوهېږي هغه پیسې چې (الف) شرکت یې د (ب) شرکت څخه لاسته راوړي د ۱۰۰۰۰۰ افغانیو په اندازه له هغو پیسو څخه ډېرې دي کومې چې په ورته معاملو کې د نا اړوندو مالیه ورکوونکو لخوا اخستل کېږي. د عوایدو لوی ریاست د ۱۰۰۰۰۰ افغانیو په اندازه د( ب) شرکت عواید ډېروي. کله چې (ب) شرکت د عوایدو ډېریدل و مني او هم د داسې زیاتوالي له کبله هر ډول مالیه ورکړي، نو د عوایدو لوی ریاست د کرایې په مالیه کې کموالی راولي.

۲ بېلګه: پدې بېلګه کې ذکر شوي حقیقتونه د لومړۍ بیلګې حقیقتونو سره ورته دي ، خو په دو۲یمه بېلګه کې د (ب) سهامي شرکت د عوایدو لوی ریاست موقف تر پوښتنې لاندی راولي. د عوایدو لوی ریاست باید د کرائې ورکولو په پام کې نیولو سره د ذمت مالیه کمه نکړي مګر تر هغې چې د کرائې د وروستي محصول اندازه وټاکل شي.

ب: د یو شان بدلونونو د راوستلو په صورت کې کیدای شي اړوند مالیه ورکوونکي د لېږد بیې سره خپل د دفترونو او سندونو پرتله کولو په موخه نقدي لېږد ترسره کړي. نو ځکه د یوشان (موازي) بدلون راوستلو په صورت کې باید اړوندو مالیه ورکوونکو ته اجازه ورکړل شي تر څو په خپلو دفترونو او سندونو کې د رسید او د ورکړې وړ پیسې په خپله خوښه د لاندی خصوصیاتو له مخې وټاکي.

1. د رسید او ورکړې وړ پیسې باید د هغځ کال له وروستۍ ورځې نه منځ ته راشي چې اړونده معامله په کې تر سره شوې ده ،
2. د رسید او ورکولو وړ پیسې باید له هماغې نیټې څخه د ټکټانې یو مناسب نورم محاسبه کړي ،
3. د رسید وړ او ورکړې وړ مبلغ باید هغه پیسې وي چې په معامله کې تري استفاده شوې ده، او
4. د رسید وړ او ورکړې وړ پیسې باید دومره ډېرې وي چې د لېږد دبیې د ټاکنې ټول تغیرات تر خپل پوښښ لاندی راولي. نوموړې پیسې باید د لېږد بیې د ټاکنې له تغیراتو څخه ډېرې نه وي. د رسید او ورکړې وړ پیسو رامنځته کول باید له شاملو خواوو څخه هېڅ یو د اضافي مالیې تابع و نه ګرځوي.

بېلګه: (الف) ازبک سهامي شرکت او (ب) افغان سهامي شرکت دی. (الف) او (ب) سهامي شرکتونه د ادیب نومي افغان تر واک لاندې دي. په ۱۳۸۲ کال کې ((الف)) شرکت خپل اسهام (ونډې) پر (ب) شرکت باندی پلوري. د پلورلو په بدل کې ټول تادیات په افغانیو سره شوي دي. د عوایدو لوی ریاست په ۱۳۸۸ کال کې د (ب) شرکت اظهارلیک څاري. له څېړنې څخه وروسته د عوایدو لوی ریاست پوهېږي چې د (الف) شرکت لخوا پر (ب) شرکت باندی د لېږد وضع شوې بیه ډېره لوړه ده. د عوایدو ریاست د (ب) شرکت د مالیې وړ عواید د ۱۰۰۰۰۰ افغانیو په اندازه زیاتوي. (ب) شرکت د عوایدو لوی ریاست لخوا د سندونو له ارزونې سره موافقه کړې او په افغانستان کې پرعایداتو باندی اضافي مالیات تادیه کوي. (الف) او (ب) شرکتونه دا سې روغه کوي (جوړ راځي) چې د رسید او ورکړې وړ ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ د ۱۳۸۲ کال په وروستۍ ورځ تبادله کړي(الف) سهامي شرکت (ب) شرکت ته ۱۰۰۰۰۰ د ورکړې وړافغانۍ او (ب) شرکت له (الف) شرکت څخه ۱۰۰۰۰۰ د رسید وړ افغانۍ لري. د دوه شرکتونو تر منځ دا سې د رسیدوړ او د ورکړې وړ پیسې د ۱۳۸۲ کال د وروستۍ ورځ نه د پیسو ورکولو تر وروستې نېټې پورې د ټکټانې یو مناسب نورم ولري. دا چې دغه پیسې د لېږد بیې سره معادلې دي، نو د رسید وړ او د ورکړې وړ پیسو برخو د منځ ته راوړل د (الف) او (ب) شرکتونو د اضافي مالیې تابع ګرځي.

۹.۹۷ د اړوندو خواوو تر منځ د پیشکي پور په پام کې نیولو سره د ټکټانې د نورم د ټاکنې طریقه په دې مقرره کې په څرګنده توګه بیان شوې ده.

أ. د ټکټانې مناسب نورم له هغځ نورم څخه عبارت دی چې د ورتو شرطونو له مخې د ورکړل شوي پور نه وروسته د دوه نااړوندو اشخاصو تر منځ تطبیقیږي. د مناسب نورم د ټاکلو په موخه د عوایدو لوی ریاست باید د بیا ورکړې په اړه د پور د میعاد، د بیا ورکړو د اسانتیاوو او تضمینونو په ګډون د ټولو پورونو شرطونه و ارزوي.

۱ بېلګه: اديب يو افغان مېشت شخص دی چې د ۱۳۸۲ لمريزکال په اوږدو کې په امريکا کې ژوند کوي. اديب يو افغان سهامي شرکت ته چې په بشپړه توګه دده په واک کې دی ۱۰۰۰۰۰ پور ورکوي. دغه پور ۱۳٪ ټکټانه لري او د ۱۰ کلونو په موده کې بايد بېرته ورکړل شي. دغه پور د کوم ضمانت له مخې نه دې ورکړل شوی. يعنې اديب د پور په بدل کې د سهامي شرکت د شتمنۍ په شان کوم ضمانت نه دی تر لاسه کړی. افغان سهامي شرکت دا سې څرګندولای شي هغه پور چې بايد په ۸ کلونو کې ورکړل شي له يوۀ بانک څخه تر لاسه کړې اوله بانک څخه اخستل شوی پور ۱۲٪ ټکټانه لري نو د اديب لخوا وضع شوې ۱۳٪ ټکټانه بايد د يوۀ مناسب نورم په توګه وګڼل شي.

۲ بېلګه: د دغې بېلګې پيل د لومړۍ بيلګې پيل ته ورته دی ولې يوائې توپير يې په دې کې دی چې په دی بېلګه کې د بانک پور په ۸ کلونو کې نه بلکه په ۳ کلونو کې بيرته ورکړل شي. په دغه حالت کې بانک پور د ښه سنجش ښکارندوی نه دی. اديب او د دۀ افغان سهامي شرکت پردې اساس چې ۱۳٪ نورم مناسب دې بايد پر متفاوتو مدارکو باندی اتکا وکړي. د بيلګې په توګه هغوی کولای شي هغۀ نورم ته مراجعه وکړي چې بانک يې پر اوږد مهالو پورونو باندې وضع کوي.

ب. د عوايدو لوی رياست بايد د ټکټانې د مناسب نورم په پام کې نيولو سره طرزالعملونه صادر کړي. همدارنګه له وجوه څخه د ګټې اخيستنې په موخه په بازار کې د ټکټانې نورم بايد د افغانستان بانک لخوا وضع شوی نورم وي. د بېلګې په توګه، اوس مهال د افغانستان بانک د پانګې يو ۳۰ ورځنی يادښت د يوۀ اندازه ټکټانې سره صادر کړې دی چې کله کله د تطبيق وړ دی. يو پور چې د بېرته ورکړې ميعاد يې له يوکال څخه لږ وي، په هغه صورت کې چې يو مناسب نورم ګڼل کيږي چې وضع شوی نورم (۳٪) دی او د پانګې پر (۳۰) ورځنيز يادښت باندی وضع شي.اړوندو اشخاصو ته تل اجازه ورکول کېږي چې په کرنلاره کې د بازار له ذکر شوي نورم نه پرته ، له نورو نورمونو څخه ګټه واخلي. د يو مختلف نورم نه د استفادې سره ماليه ورکوونکی بايد ثابت کړي چې دغه نورم د پورتنۍ فقرې لمخې يو مناسب نورم دی.

۱۰.۹۷ په يوه اړونده معامله کې پر خدمتونو باندی د يوۀ مناسب محصول د ټاکنې طريقه پدې فقره کې څرګنده شوې ده.

أ. يو شخص اکثراً اړوند شخص باندی د خدمتونو په بدل کې محصول وضع کوي. نوموړی شخص دغه محصول هغه وخت کې وضع کوي چې د خدمتونو لاسته راوړونکی له خدمتونو څخه ګټه تر لاسه کړي او يا دا چې دغه خدمتونه د هغو خدمتونو له جملې څخه وي چې نااړونده شخص يې په بدل کې تاديات ورکوي. که چيرې له خدمتونو څخه ګټه تر لاسه نه شي او يا هغه خدمتونه وي چې نا اړونده شخص يې په بدل کې تاديات نه ورکوي، نو محصول پرې نه وضع کېږي.

بېلګه: (الف) شرکت يو پاکستانې سهامي شرکت دی او د (ب) شرکت (يو افغان سهامي شرکت ټول پلورل شوي ونډې په واک کې لري. د (الف) شرکت په دوامداره توګه خپل استازی افغانستان ته استوي تر څو د (ب) شرکت اجراات وڅاري او مالي معلومات يې وارزوي. د (الف) شرکت لخوا له برابر شوو خدمتونو څخه د (ب) شرکت کومه ځانګړې ګټه نه تر لاسه کوي او هم د هغو خدمتونو څخه نه شمېر ل کيږي چې يو نا اړونده شرکت يې په بدل کې د (الف) شرکت ته پيسې ورکوي. د (الف) شرکت بايد د دغو خدمتونو له

درکه د (ب) پر شرکت باندی محصول وضع نه کړي او که چیرې پری محصول وضع کړي، نو د (ب) شرکت پر عایداتو باندی د مالیاتو په ورکولو کې د مجرائې مستحق نه دی.

أ. که چیرې یو شخص د خدمتونو په بدل کې پر یو اړوند شخص باندی محصول وضع کړي. دغه محصول باید د ورته خدمتونو له مخې پر نااړونده شخص باندی وضع شوي محصول له مبلغ سره معادل وي.

بېلگه: عزیز د (الف) امریکایي سهامي شرکت ټولې پلورل شوې ونډې په واک کې لري. همدارنگه عزیز د (ب) افغان سهامي شرکت ټولې پلورل شوې ونډې په اختیار کې لري. د(ب) شرکت په افغانستان کې خپلو پېرودونکو ته مخابراتي خدمتونه وړاندی کوي. د(الف) شرکت د (ب) شرکت ته مشورې ورکوي. د کمپیوټر د ترمیم او پیاوړتیا خدمتونه د (الف) شرکت لخوا په وړاندی شوو خدمتونو کې شامل دي. د (الف) شرکت لخوا د (ب) شرکت ته وړاندی شوي خدمتونه په حقیقت کې د (ب) شرکت لپاره مستقیمه گټه برابروي او له هغو خدمتونو څخه گټل کېږي چې یو شخص یې په بدل کې نااړونده شخص ته پیسې ورکوي. د (الف) شرکت کولای شي د خپلو خدمتونو په بدل کې د (ب) پر شرکت باندی محصول وضع کړي. وضع شوې مبلغ باید د ورته خدمتونو له مخې پر نااړونده شخص باندی له وضع شوي مبلغ سره برابر وي.

۱۱.۹۷ د اړوندو اشخاصو ترمنځ د ملموسې شتمنۍ پر کرایې یا اجارې باندې د مناسب محصول د ټاکلو طریقه په دغه فقره کې شامله ده. په لنډه توگه باید وویو چې پر کرایې او اجارې باندې محصول له هغهٔ مبلغ څخه عبارت دی چې په ورته حالاتو کې د ورته شتمنیو له درکه پر نااړونده شخص باندی وضع کېږي.

۱۲.۹۷ د اړوندو اشخاصو ترمنځ د ملموسې شتمنۍ پر پلوراو لېږد باندې د مناسب محصول د ټاکلو طریقه په دغه فقره کې شامله ده. په لنډه توگه باید وویل شي چې د اړوندو اشخاصو تر منځ د ملموسې شتمنۍ پر پلور او لېږد باندې مناسب محصول ټاکلو لپاره پنځه طریقې وجود لري. نوموړې طریقې عبارت دي له:

1. د مقایسه کېدونکو نااړوندو بیو طریقه،
2. د بیا خرڅولو د بیې طریقه ،
3. له لگښت سره د اجورې د جمع طریقه،
4. د معاملو له درکه د خالصې گټې طریقه، او
5. نا مشخصه طریقه.

تر ټولو غوره طریقه د (۵.۱۰۵) د مقررې له مخې ټاکل شوې طریقه ده.

أ. د مقایسه کېدونکو نااړوندو بیو طریقه: ددې طریقې نه مقصد په اړوندو معاملو کې پر ملموسو شتمنیو باندې د وضع وړ بیه او په نااړوندو معاملو کې پرملموسو شتمنیو باندی د وضع وړ له بیې سره مقایسه کول دی.

۱ بېلگه: عزیزد (الف) او (ب) شرکتونو ټول پلورل شوي اسهام په واک کې لري. (الف) یو فرانسوی او (ب) یو افغان شرکت دی. د (الف) شرکت پر (ب) شرکت باندی او سپنیز پایپونه خرڅوي. (ب) شرکت له (الف)

شرکت څخه او سپنيز پايپونه پيري او په افغانستان کې ورڅخه په خپلو ودانيزو فعاليتونو کې کار اخلي. د (الف) شرکت يو متر پايپ د ۵۰ افغانيو په بدل کې پلوري. د پلور په قرارداد کې داسې ويل شوي دي چې (الف) شرکت له فرانسې څخه تر افغانستان پورې د پايپونو د ليږد له درکه ټول خطرونه په غاړه لري. د(ب) شرکت کولای شي ثابت کړي چې همدا ډول يو متر پايپ له ناړوندو چينايي شرکتونو څخه د ۴۰ يا ۴۲ افغانيو په بدل کې اخيستلای شي او همدارنګه نوموړي شرکتونه له چين څخه تر افغانستان پورې د ترانسپورت مسؤليت پر غاړه اخلي. له (الف) شرکت څخه د (ب) شرکت ته د لېږد بيه بايد داسې تغير شي او د دې حقيقت څرګندوی هم وي چې د (الف) شرکت د پايپ په بدل کې پر (ب) شرکت باندې ۴۲ افغانۍ وضع کړې دي.

۲ بېلګه: په دې بېلګه کې ذکر شوي حقيقتونه په لومړۍ بېلګه کې له ذکرشوو حقيقتونو سره ورته وي پرته چې له دې چينايي برابرونکي (رسوونکي) له چين څخه تر افغانستان پورې د ترانسپورتي لېږدونې خطر په غاړه نه لري. د افغانستان د عوايدو لوی رياست د اټکل له مخې د پايپونو د لېږد له کبله پر هر پايپ باندې له ۵ نه تر ۱۰ افغانيو پورې د بيمې لګښت ټاکي، له همدې کبله د لېږد په بيې کې بدلون راوستو ته اړتيا نه ليدل کېږي.

أ. د بيا خرڅولو د بيې طريقه: دا طريقه ددې لپاره استفاده کيږي چې آيا په يوځ کنټرول شوې معامله کې وضع شوې پيسې له يوځ ناړوند شخص سره په عين معامله کې لاس ته راغلې ناخالصه ګټه مناسبه ده او که نه. نا خالصه ګټه د توليداتو له درکه لاس ته راغلي عوايد منفي د توليدي جنسونو لګښتونو سره مساوي ده. نا خالصه ګټه د اعلاناتو يا ټکټاني لګښتونو په واسطه نه کمېږي. د لېږد د مناسبې بيې ټاکلو په موخه دنا خالصې ګټې مناسبه فيصدي د بيا پلورلو تطبيق ور بيې کې ضربېږي. د ناخالصې ګټې مناسبه فيصدي له هغځ فيصدي څخه عبارت دی چې د ورتو شتمنيو د پلور له درکه لاس ته راځي. د شتمنۍ بيه له هغې بيې څخه عبارت ده چې اړونده خواوې پر ناړونده اشخاصو باندې شتمنۍ پلورلې ده. په ځانګړې توګه، دا طريقه هغه وخت پکارېږي چې له اړوندو خواو څخه يوه خوا په شتمنۍ باندې د کوم اساسي او ذاتي ارزښت زياتولو نه پرته ملموسه شخصي شتمنۍ وپلوري او راونيسي. په قطي کې بندول، ليبل وهل د شتمنۍ اصلي ارزښت نه تشکيلوي. دا چې دغه طريقه د غورې طريقې په توګه وګڼل شي او که نه ، په ۹۷ .۵ فقره کې د ذکر شوو فکتورونو له مخې ټاکل کيږي.

۱ بېلګه: اديب د(الف) شرکت (ازبکي سهامي شرکت) او د (ب) شرکت (افغان سهامي شرکت) ټول پلورل شوي اسهام په واک کې لري. د (الف) شرکت د برېښنا توليدونکي جنراتورونه پر (ب) شرکت باندې پلوري. د (ب) شرکت دغه جنراتورونه په افغانستان کې پر پېرودونکو باندې خرڅوي او د هر جنراتور د پلور له درکه ۲۰۰۰۰ افغانۍ لاس ته راوړي. د (ب) شرکت هر جنراتور د ۱۸۰۰۰ افغانيو په بدل کې له (الف) شرکت څخه رانيولی دی. د جنراتور د تطبيق ور د پلورلو بيه ۲۰۰۰۰ افغانۍ ده. د(ب) شرکت خالصه لاس ته راغلې ګټه ۲۰۰۰ افغانۍ ده (۱۸۰۰۰-۲۰۰۰۰ افغانۍ). د ناخالصې ګټې فيصدي ٪۱۰ ده.

۲ بېلګه: په دې بېلګه کې ذکرشوي حقيقتونه په لومړۍ بېلګه کې د ذکر شوو حقيقتونو سره يوازې دومره توپير لرلو سره ورته والې لري چې پدې بېلګه کې د عوايدو لوی رياست ټاکي چې د (ب) شرکت رقيبان له نا

اړوندو شرکتونو څخه جنراتورونه رانیسي. همدارنګه نوموړې ریاست معلوموي چې دغو شرکتونو د ګټو فیصدي په لاندې توګه ترلاسه کړي ده:

(ج) شرکت ۱۲٪
(د) شرکت ۱۵٪
(و) شرکت ۱۸٪
(هـ) شرکت ۲۲٪

دا چې د (ج) ،(د) ،(هـ) او(و) شرکتونو پلورل شوي تولیدات له یو بل سره سره توپیر لري، نو له ۱۲٪ څخه لوړه او له ۲۲٪ څخه ټیټه فیصدي د هغې ناخالصې ګټې اندازه ښیې چې (ب) شرکت یې د جنراتورونو د پلورلو له درکه لاس ته راوړي. دعوایدو لوی ریاست د (ب) شرکت ۱۲٪ ګټې د ټاکلو په موخه کولای شي چې د (الف) او (ب) شرکتونو تر منځ د لېږد بیې ته تغیر ورکړي.

ب. له لګښت سره د اجورې د جمع طریقه: داطریقه د هغو پیسو په پام کې نیولو سره د لېږد د مناسبې بیې ټاکلو په موخه استعمالېږي چې ور سره د شتمنۍ د پلورلو بیه د شتمنۍ د تولید د لګښتونو څخه ډېرېږي. دا ډېروالې د "ګټې" په توګه بلل کېږي. "دګټې فیصدي" د شتمنۍ دتولید په لګښت باندې د ګټې له ډېر شوي نسبت څخه عبارت دی. له دغې طریقې څخه د تولید ، په کارتنونو کې د تولیداتواچولو او د نورو اجناسو تولیداتوکې چې په اړونده اشخاصو پلورل کېږي، استفاده کیږي.

مناسبه ناخالصه ګټه په نااړونده معامله کې د لاس ته راغلې ګټې د فیصدۍ په پام کې نیولو سره حسابیږي. له دغه طریقې څخه په یوه اړونده معامله کې د یوۀ اړوند مالیه ورکوونکي د شتمنۍ د تولید پر لګښت باندې د یوې مناسبې بیې د ټاکلو په موخه (د مناسبې نا خالصې ګټې په زیاتوالي سره) ګټه اخیستل کېږي.

۱ بېلګه: وحید د (الف) شرکت (افغان سهامي شرکت) او د (ب) شرکت (برتانوی سهامي شرکت) ټول پلورل شوي اسهام په واک کې لري. د (الف) شرکت په افغانستان کې غالۍ تولیدوي او پر (ب) شرکت باندی یې پلوري. د (ب) شرکت دغه غالۍ په برتانیه کې پر پېرودونکو باندی پلوري. (الف) شرکت پر (ب) شرکت باندی هره غالۍ د ۳۰۰۰۰ افغانیو په بدل کې پلوري. (الف) شرکت لپاره د هرې غالۍ د تولید لګښت ۲۵۰۰۰ افغانۍ دی. د (ب) شرکت لاس ته راغلې ګټه ۵۰۰۰ افغانیو ته رسیږي. د ګټې فیصدي ۲۰٪ یعنې (۲۵۰۰۰ افغانۍ: ۵۰۰۰ افغانۍ)

۲ بېلګه: د دې بېلګې حقیقتونه د لومړۍ بېلګې حقیقتونو ته ورته دي خو پدی بېلګه کې د عوایدو لوی ریاست په عین ځای کې د غالۍ د تولید درې نورې کارګاوې په نښه کوي چې له دغې لیارې په اروپا کې پر نااړوندو اشخاصو باندې دغه غالۍ پلوري. د عوایدو لوی ریاست داسې انګېري چې پورتنې یاد شوي درې شرکتونه د (الف) شرکت ته ورته لګښتونه تر سره کوي او د ګټې مختلفې فیصدي لاس ته راوړي

(ج) شرکت ۱۲٪
(د) شرکت ۲۲٪
(هـ) شرکت ۲۳٪

د عوایدو لوی ریاست معلوموي چې د (ج)، (د) او (هـ) شرکتونه د (الف) شرکت په شان د ورته شرایطو سره سم عین اجناس برابروي. د درې واړو شرکتو لخوا د لاس ته راغلو ګټو څخه یو لږ نورې ګټې تر لاسه کېږي. دا چې د (الف) شرکت د ګټې فیصدي په همدغه سلسله کې قرار لري، نو هېڅ ډول بدلون باید رامنځ ته نه شي.

۳ بېلګه: د دې بېلګې حقیقتونه د لومړۍ بېلګې حقیقتونو ته ورته دي ولې پدې بېلګه کې د عوایدو لوی ریاست د ځلورو فعالو نا اړوندو معاملو په اړه معلومات تر لاسه کوي. دغه معاملې د (الف) شرکت معاملو ته ورته دي ولې په اړه یې تو پیرونه وجود لري. د بېلګې په توګه، ځینې هغه غالی چې د یوې نا اړوندې معاملې له لیارې پلورل شوي دي په خپل جوړښت کې ۱۰۰٪ وړې نه لري. د عوایدو لوی ریاست نه شي کولای چې په دغه نااړونده معامله کې هغه اندازه تغیر رامنځ ته کړي چې د (ب) پر شرکت باندی د (الف) شرکت لخوا پلور سره برابر شي. د تطبیق وړ فیصدي په لاندې ډول ښودل کېږي:

(و) شرکت ۱۵٪
(ز) شرکت ۱۸٪
(ح) شرکت ۲۱٪
(ط) شرکت ۲۴٪

دغه نااړوندې معاملې د (الف) شرکت لخوا پر (ب) شرکت باندی د غالیو له پلور سره په کافي اندازه ورته والې نه لري، نو د عوایدو لوی ریاست باید د ګټې یوه مناسبه اندازه لاسته راوړي. د ګټو مناسبه سلسله تر ټولو ټیټې ګټې (۲۵٪) او تر ټولو لوړې ۲۵٪ له نااړوندو معاملو څخه وباسي. د لاسته راغلو ګټو په پورتنۍ لست کې تر ټولو ټیټه ګټه ۱۵٪ او تر ټولو لوړه ګټه ۲۴٪ ده. د مناسبې ګټې ټیټه اندازه ۱۵٪ او لوړه اندازه ۱۵٪ ده. کیدای شي د عوایدو لوی ریاست د (الف) او (ب) شرکتونو تر منځ د لېږد بیې ته تغیر ورکړي تر څو د (الف) شرکت ګټه د ۱۵٪ څخه لوړه او د ۱۵٪ څخه ټیټه شي.

ج. د معاملاتو له درکه د خالصې ګټې طریقه: دغه طریقه د ملموسو او غیر ملموسو شتمنیو په لېږدولو کې پکاریږي. دغې طریقې ته اړوندې قاعدې په ۹۷ .۱۴کې بیان شوې دي.

د. نامشخصې طریقې: دغه طریقې د ملموسو او غیر ملموسو شتمنیو په لېږدولو کې پکاریږي. دغو طریقو ته اړوندې قاعدې په ۹۷ .۱۵کې بیان شوې دي.

۱۳.۹۷ د غیر ملموسو شتمنیو د پلور یا لېږد د مناسبې اجورې ټاکلو میتود په دې برخه کې تشریح شوی دی. کیدای شي چی د غیر ملموسو شتمنیو د لیږد یا پلور لپاره د لېږد مناسبې بیې ټاکل کیدای شي خورا ګران وي. د غیر ملموسو شتمنیو د لېږد د مناسبې بیې ټاکل د دې حقیقت له مخې مغلق کېږي چې د غیرملموسو شتمنیو د استفادې حق په مختلفو برخو وېشل کیدای شي. کیدای شي د غیرملموسو شتمنیو څخه یو قلم څو خاوندان ولري. د بېلګې په توګه، یو شخص هلمند ولایت کې د غالیود پلور لپاره له یوه ځانګړي نوم

ثخه د ګټې اخستلو حق لري او همدارنګه يو شخص د باميانو ولايت کې د غاليو د پلور لپاره د ورته نوم پکارولو حق لري.د غيرملموسو شتمنيو د لېږد د بيې تحليل او تجزيې لپاره لومړی کار د شتمنۍ د خاوند معلومول دي. که چېرې غيرملموسې شتمنۍ په قانوني توګه وساتل شي ، نو د شتمنۍ قانوني مالک دهغې اصلي مالک ګڼل کيږي مګر دا چې نوموړي شخص د لېږد يو قرارداد په اساس خپل ټول حقونه بل شخص ته ورکړي وي. د غيرملموسو شتمنيو د ساتنې په اړه د افغانستان قانون لا هم د جوړېدو په حال کې دی. په لاندې بېلګو کې داسې فرض شوی دی چې د افغانستان د قانون پر اساس يو شخص په يوۀ ولايت کې د سوداګريزو او يا اقتصادي فعاليتونو لپاره يوائې يو نوم کارولای شي. لاندی يوائې يوه ثرګندونه ده او بايد په افغانستان کې د غيرملموسو شتمنيو د قانون په اړه د کومې نظريې په ډول و نه ګڼل شي.

۱ بېلګه: د افغانستان قانون عزيز ته د هلمند او باميانو ولايتونو کې د " افغاني غاليو " له نوم ثخه د ګټې اخيستنې حق ورکوي. عزيز کولای شي ددغۀ نوم لاندې په باميانو او هلمند ولايتونو کې پلورنځي پرانيزي او بل هېڅ ثوک له دغه نوم لاندې د غالۍ د پلورنځيو د پرانيستلو اجازه نه لري. د مالياتي هدفونو لپاره عزيز په نوموړي ولايت کې له دغۀ نوم ثخه د ګټې اخستنې په موخه د غيرملموسې شتمنې خاوند ګڼل کيږي.

۲ بېلګه: د دې بېلګې حقيقتونه د لومړۍ بېلګې حقيقتونو ته ورته دي خو يوائې دومره توپير لري چې عزيز له وحيد سره يو قرارداد لاس ليک کوي. قرارداد داسې ثرګندونه کوي چې عزيز په باميانو ولايت کې د "افغاني غاليو " تر نامه لاندی خپل ټول حقونه د ۱۰۰۰۰۰۰ افغانيو په بدل کې پر وحيد باندې پلوري. ددې کار نه وروسته عزيز يوائې په هلمند ولايت کې د " افغاني غاليو " له نوم ثخه د ګټې حق لري او همدارنګه وحيد به هغه يوائنی شخص وي چې په باميانو ولايت کې له دې نوم ثخه ګټه اخيستلای شي. عزيز يوائې په هلمند ولايت کې د ملموسو شتمنيو خاوند بلل کېږي او باميانو په ولايت کې د غيرملموسو شتمنيو يوائنې خاوندوحيد دی. که چيرې غير ملموسې شتمنۍ په قانوني توګه و نه ساتل شي، نو به هغه شخص په د غيرملموسو شتمنيو مالک وګڼل شي چې نوموړو شتمنيو ته يې وده ورکړې وي. که چيرې دوه يا ډېرو اړوندو اشخاصو نوموړو شتمنيو ته وده ورکړې وي، نو د شتمنيو خاوند هغه شخص دی چې د جايداد د اړوندو مستقيمو او غيرمستقيمو لګښتونو ډېرو برخو مسؤل دی.

۳ بېلګه: عزيز د (الف) او (ب) شرکتونو د ټولو پلورل شوو اسهامو مالک دی. (الف) يو افغان سهامي شرکت او (ب) يو ازبکستانی سهامي شرکت دی. د نوموړو شرکتونو کارکوونکي د ټوکرانو درنګولو يوې نوې پروسې ته د ودې ورکولو په موخه يوځای سره کار کوي. د نوموړې پروسې د ودې پر مهال افغانستان داسې يو قانون نه لري چې په دې پروسه کې له (الف) او يا له (ب) شرکت ثخه قانوني ملاتړوکړي. دواړه شرکتونه بايد ډاډ تر لاسه کړي چې د هغوی کارکوونکي د رنګولو د پروسې رازونه نورو اشخاصو ته نه افشا کوي، نو دواړه شرکتونه د پروسې د محرمو رازونو د ساتلو په موخه له خپل هر يوۀ کارکوونکي سره قرارداد لاس ليک کوي. دنوموړې پروسې د ودې لپاره د (الف) شرکت ۳۰۰۰۰۰۰ افغانۍ او د (ب) شرکت ۲۸۰۰۰۰۰ افغانۍ په مصرف رسوي. د (الف) شرکت د دې محرمې پروسې د امتياز خاوند ګڼل کېږي. د غيرملموسو شتمنيو دمالک يا د امتياز خاوند معلومول ضروري دی ځکه چې دنوموړو شتمنيو مالک هغه ثوک دی چې ددغو غيرملموسو شتمنيو ثخه د استفادې په بدل کې د پيسو لاسته راوړلو مستحق دی. ټول هغه اشخاص چې د غير ملموسې  شتمنۍ په پراختيا کې  مرسته کوي، کولای شي يوائې دخپلوخد متونو په بدل کې پيسې ترلاسه کړي. د غير ملموسې شتمنۍ د خاوند معلومول ضرور دی ځکه چې هغۀ ته د نوموړې شتمنۍ د استفادې په بدل کې د معاوضې لاسته راوړلو واک ورکړل شوی دی. د غير

ملموسې شتمنۍ په انکشاف کې مرستندویه خواوو ته یوازې د هغوی د خدماتو په بدل کې پیسې ورکول کیږي.

**۴ بېلګه:** د دې بېلګې حقیقتونه د لومړۍ بېلګې حقیقتونو ته ورته دي. دا چې (الف) شرکت د نوموړې پروسې مالک دی ، نو نومړی شرکت د بېرته ورکړې په موخه باید د مناسبې ګټې لګښتونه (الف) شرکت ته ور کړي. (الف) شرکت باید د خدمتونو په بدل کې نوموړې پیسې د (ب) شرکت ته ور کړي. که چیرې (ب) شرکت په خپل کاراو فعالیتونو کې نوموړې پروسې څخه کار واخلي نو په بدل کې یې باید د (الف) شرکت ته اجرت ورکړي.

د مالک یا د امتیاز خاوند له معلومولو نه وروسته د عوایدو لوی ریاست باید د بیې د لېږد د طریقې نه په استفادې سره د غیرملموسې شتمنۍ د لېږد بیې معقولیت او صحت معلوم کړي. په لنډه توګه ، د غیرملموسې شتمنۍ د لېږد بیې ټاکلو لپاره د منلو وړ درې طریقې موجودې دي. دغه طریقې (میتودونه) د د مقایسه کیدو وړ ناارونډو معاملاتو ، دمعاملاتوله درکه د خالصې ګټې طریقې او نامشخصو طریقو څخه عبارت دي.

أ. د مقایسې وړ ناارونډې معاملې طریقه :ـ د دې طریقې مقصد دا دې چې که چیری د یوې غیرملموسې شتمنۍ د لیږد له درکه د دوه ارونډو اشخاصو ترمنځ وضع شوی مبلغ په عین معامله کې د دوه ناارونډو اشخاصو تر منځ وضع شوي مبلغ سره مقایسه شي، نو آیا مناسب به وي او که نه. دا طریقه یوازې هغه وخت استفاده کیږي چې د ناارونډو اشخاصو تر منځ ورته معامله ولیدل شي.

**۱ بېلګه:** عزیز په هلمند او بامیانو ولایتونو کې له "افغاني غالیو" سوداګریز نوم څخه د استفادې حق لري. عزیز هلمند ولایت کې د هرکال غالیود پلور څخه د ٪۵ په بدل کې د راتلونکو شپږو کلونو لپاره نوموړې امتیاز ورکوي. عزیز په بامیانو ولایت کې دغه امتیاز د هغهٔ د کلني پلور ٪۳ اجرت په بدل کې د راتلونکو شپږو کلونولپاره خپل زوی ادیب ته ورکوي. د عوایدو لوی ریاست پریکړه کوي چې ولې هلمند ولایت کې د "افغاني غالیو" له نوم څخه ګټه اخستنه د بامیانو ولایت په پرتله لږ او یا ډېر ارزښت لري، پدې اړه کوم مؤجه دلیل نشته. د عوایدو لوی ریاست واک لري چې د عزیز نومې عواید ددې حقیقت روښانه کولو په موخه وټاکي چې هغه د خپل د ځوی د پلور څخه ٪۵ لاسته راوړي.

**۲ بېلګه:** عزیز د (الف) او (ب) شرکتونو ټول پلورل شوي اسهام لري. (الف) یو افغان او (ب) یو کاناډایي شرکت دی. (الف) شرکت په افغانستان کې د ګازلرونکو مشروباتو د پلور په پروسه کې مصروف دی. د(الف) شرکت د فعالیتونود پر مخ وړلو په موخه د خپلې اړتیا وړ بوتلونه او قندي محلول له افغانستان نه بهرڅخه واردوي. د بوتلونو او قندي محلول تر لاسه کولو وروسته ګازلرونکي مشروبات تولید او د پلور لپاره یې بازار ته وړاندی کوي. د (ب) شرکت محرم حق لري او د هغې پر اساس کولای شي نوموړې مشروبات په پلاستیکي بوتلونو کې تیار کړي. د (ب) شرکت د ټولو عایداتو ٪۵ په بدل کې نوموړې امتیاز د (الف) شرکت ته ورکوي. د (ج) شرکت د (الف) او (ب) شرکتونو سره کومه اړیکه نه لري. د (ج) شرکت په افغانستان کې له " افغان کولا "سوداګریز نوم څخه د استفادې حق لري. نوموړی شرکت دغه امتیاز د (الف) شرکت ته ورکوي چې د ګازلرونکو مشروباتو د بوتلونو د تولید پر مهال د هغو پر مخ له دغه نوم څخه استفاده وکړي. د (ج) شرکت د (الف) شرکت د ټول عایداتو ٪۱ غواړي. له یوې محرمې

پروسې څخه د استفادې حق او له سوداګریز نوم څخه د استفادې حق دوه جلا حقونه دي . د عوایدو لوی ریاست نه شي کولای چې له مقایسې وړ نااړوندې طریقې نه په استفادې سره د (الف) شرکت لخوا (ب) شرکت ته د ۱٪ عوایدو له درکه تادیه کیدونکی فیس کم او پدې ترتیب د (الف) شرکت ګټه ډېره کړي.

ب. د معاملې له درکه د خالصې ګټې طریقه: د معاملاتو له درکه د خالصو ګټو له طریقې څخه د ملموسو او غیرملموسو شتمنیو په لیږد کې ګټه اخستل کیږي. د دې طریقې قواعد په ۹۷.۱۴ فقره کې بیان شوي دي.

ج. نامشخصې طریقې: نامشخصې طریقې د ملموسو او غیرملموسو شتمنیو په لیږد کې کارول کیږي. د دغو طریقو قواعد په ۹۷.۱۵ فقره کې تشریح شوي دي.

۱۴.۹۷ د معاملې له درکه د خالصې ګټې حد: دا طریقه د اړوندو اشخاصو تر منځ د ګټه کوونکو (انتفاعي) معیارونو لمخې د غوښتل شوو پیسو د صحت لپاره کارول کیږي. د انتفاعي معاملو عیني معیارونه د "د ګټې د سطحې د ښودونکو" په نوم یادیږي. د معاملاتو له درکه خالصې ګټې طریقه د ملموسو او غیرملموسو شتمنیو په لیږد کې استفاده کیږي. نوموړي ښودونکي د ورته شرایطو لاندې په ورته اقتصادي فعالیتونو کې د نااړوندو مالیه ورکوونکو تر منځ د معاملو له ارزونې څخه لاس ته راځي. د ا طریقه یوازې هغه وخت پکاریږي چې له پورته ذکرشوو ټولو طریقو څخه کار وانخستل شي.

۱ بېلګه: د عوایدو لوی ریاست په کابل، هرات او مزارشریف کې د تېرو دریو کلونو په اوږدو کې د موټر پلورونکو لاسته راغلې ګټه ارزوي. نوموړی ریاست پوهیږي چې د موټرو د پلورلو له درکه د یوه سوداګر خالصه ګټه ۳٪ او د پلور له درکه مجموعي (سرجمع) عواید ۱۰٪ دي. که چېرې د یو موټر بیه ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ وي، نو د پلور له درکه د یو سوداګر ګټه په ۳۰۰۰ څخه تر ۱۰۰۰۰ افغانیو پورې ټاکل کیدای شي. د ګټې او عوایدو تر منځ نسبت د ګټې د سطحې ښودونکي (شاخص) په نوم یادیږي.

د معاملې له درکه د خالصې ګټې له طریقې سره سم د ارزونې د معاملو له نااړوندو خواوو څخه د ګټې د سطحې لاس ته راغلي شاخص نه په استفادې سره د ګټې یو مناسب حد ټاکل کیږي.

۲ بېلګه: په دې بېلګه کې یاد شوي حقیقتونه د لومړۍ بیلګې حقیقتونو ته ورته دي خو یوازې یو توپیرئې دادې چې دلته مالیه ورکوونکې د وحید نومې شخص تر تحقیق لاندې دي. وحید په کابل کې د زړو موټرویو د پلورنځی لري. د وحید د ښو پېږودونکو له ډلې څخه یو هم د هغهٔ زوی ادیب دی. ادیب په کابل کې د امنیتي خدماتو یو شرکت لري او د خپل د اړتیا وړ ټول موټر د خپل پلار له پلورنځي څخه په بیه اخلي. د عوایدو لوی ریاست پوهېږي چې پر ادیب باندی د موټرو د پلور له درکه د وحید د عوایدو ګټه له ۱٪ څخه لږه ده. د عوایدو لوی ریاست کولای شي هغه معلومات چې د کابل، هرات او مزارشریف په ښارونو کې له نااړونده معاملو څخه لاسته راغلي دي پر ادیب باندی د موټرو د پلور له درکه د وحید ګټه ډېره کړي چې د وحید د ګټې او عوایدو نسبت د (۳٪) او (۱۰٪) تر منځ وي.

ډېر متفاوت نسبتونه د ګټې د سطحې ښودونکي ګڼل کیږي. د بېلګې په توګه ، پرعوایدو د ګټې نسبت یو له دې ښودونکو (شاخصونو) څخه دی. پر عوایدو باندی د ناخالصې ګټې بل نسبت (هغه ګټه ده چې د اجناسو د تمام شوي قیمت د وضع نه وروسته خرڅ او د عملیاتي لګښتونو د وضع نه وړاندی محاسبه کیږي) دی. د ګټې د سطحې بل شاخص د عملیاتي ګټو او عملیاتي لګښتونو ترمنځ له نسبت څخه عبارت

دی. په داسې حالت کې د یوې ځانګړې معاملې په پام کې نیولو سره د شرکت د لاسته راغلې مجموعې ګټې پر ځای د شرکت د خالصې ګټې جلاکول مهم ګڼل کیږي.

۳ بېلګه: عزیز په پاکستان کې یو پلورنځی لري چې ډول ډول ټوکران تولیدوي. عزیز تولید شوي ټوکران پر خپل زوی ادیب باندې پلوري. ادیب له نوموړو ټوکرانو څخه نارینه و ته دریشي جوړوي او دغه دریشي ګانې په خپل هغهٔ پلورنځي کې پلوري چې د کابل په شهرنو کې موقعیت لري. د عوایدو لوی ریاست په ۱۳۸۷ لمریز کال کې د ادیب د مالیې په اړوند څیړنه پیل کوي او ثابتوي چې ادیب د ۱۳۸۷ لمریز کال په اوږدو کې لاندې ګټه ترلاسه کوي:

| | |
|---|---|
| عواید | ۱۰۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| د پلور شوو اجناسو تمام شوې بیه | ۸۰۰۰۰۰ – |
| ناخالصه ګټه | ۲۰۰۰۰۰ |
| عملیاتي لګښتونه | ۱۰۰۰۰۰ - |
| خالصه ګټه | ۱۰۰۰۰۰ |

له پورتنیو معلوماتو څخه کیدای شي د ګټې د سطحې یو شمېر شاخصونه لاسته راشي. د بیلګې په توګه، پرعوایدو باندې د خالصې ګټې نسبت 10 ٪ دی. رازق هغه شخص دی چې له عزیز او ادیب سره اړیکې نه لري او د شهر نو په سیمه کې یو پلورنځی لري. د رازق د تیروڅلورو کلونو د مالیاتي اظهار لیک له ارزونې نه وروسته د عوایدو لوی ریاست پوهیږي چې د لاسته راغلو مجموعي عوایدو (٪۵) د رازق خالصه ګټه ده. د ادیب برخلاف رازق نارینه دریشي، بوټان او نور افغاني لاسي صنایع پلوري. د عوایدو لوی ریاست نه شي کولای د رازق هغه خالصه ګټه چې د دریشي له پلور څخه یې لاسته راوړې معلومه کړي. د عوایدو لوی ریاست باید د رازق د اسنادو له لوستو نه وروسته لاس ته راغلې نتیجې د معاملې له درکه د خالصې ګټې له طریقې نه په استفادې سره د ادیب ګټه معلومه کړي.

د طریقې د صحت په موخه د څو کلونو معلومات باید و ارزول شي. د ګټې د سطحې د ښودونکو (شاخصونو) لپاره د انکشاف لړتر لړه د درې کلونو معلومات باید تحلیل شي.

۴ بېلګه: د عوایدو لوی ریاست د زړو موټرو د پلور له درکه مناسبه ګټه د ګټې د سطحې یو ښودونکي (شاخص) په توګه ټاکي. نوموړی ریاست له (الف) او (ب) شرکتونو څخه معلومات تر لاسه کوي.

د ((الف)) شرکت په اړه لاندې معلومات په لاس کې دي:

| کال | عواید | ګټه | حد |
|---|---|---|---|
| ۱۳۸۶ | ۱۰۰۰۰۰۰ | ۱۰۰۰۰۰ | ٪۱ |
| ۱۳۸۷ | ۲۰۰۰۰۰۰ | ۲۰۰۰۰۰ | ٪۱ |
| ۱۳۸۸ | ۳۰۰۰۰۰۰ | ۵۰۰۰۰۰ | ٪۱۰ |

د عوایدو لوی ریاست باید د تېرو دریو کلونو د پایلو اوسطه اندازه یا ۱۳/ (٪۱۰+ ٪۱ + ٪۱ ) ٪۴ په پام کې ونیسي. د عوایدو لوی ریاست باید یواځې د ۱۳۸۸ لمریزکال ٪۱۰ مبلغ په پام کې و نه نیسي ځکه چې دا تر ټولو لوړ مبلغ دی.

د (ب ) شرکت معلومات په لاندې ډول دي:

| کال | عواید | ګټه | حد |
|---|---|---|---|
| ۱۳۸۶ | ۱۰۰۰۰۰۰ | ۲۰۰۰۰۰ | ٪۲ |
| ۱۳۸۷ | ۲۰۰۰۰۰۰ | ۲۰۰۰۰۰ | ٪۱ |
| ۱۳۸۸ | ۵۰۰۰۰۰۰ | ۳۰۰۰۰۰ | ٪۶ |

د عوایدو لوی ریاست باید د تېرو دریو کلونو د پایلو اوسطه اندازه یا ۳/(٪۲+ ٪۱ + ٪۶ )٪۳ په پام کې ونیسي. نوموړی ریاست باید یواځې د ۱۳۸۸ کال ٪۱۰ مبلغ په پام کې و نه نیسي ځکه چې دغه تر ټولو لوړ مبلغ دی.

د عوایدو لوی ریاست باید په ۷.۱۰۲ مقرره کې د یادې شوې ګټې د اندازې یو لړ شاخصونو د معلومولو لپاره د هغو نورو شرکتونو په اړوند چې ګومان کوي هغوی هم په ورته فعالیتونو کې بوخت دي پورتنې مراحل وکاروي.

برسېره پر دې د عوایدو لوی ریاست باید پدې پوه وي چې تحلیل شوي شرکتونه د ګټې د سطحې د ښودونکو (شاخصونو ) د یوې مناسبې اندازې په انکشاف کې محاسبې ته ورته طریقې څخه کار اخلي.

**۵ بېلګه:** عزیز د کابل په وزیراکبرخان مېنه کې یوه مغازه لري چې ډوډۍ ، کلچې او نور خواړه پکې پلوري. عزیز د مغازې حسابات د محاسبې د نغدي طریقې په مرسته محاسبه کوي. هغه خپل د اړتیا وړ ټول اوړه له خپل زوی څخه چې په پاکستان کې مغازه لري ، اخلي.که چېرې د عوایدو لوی ریاست وغواړي د معاملې له درکه د ګټې د اندازې له طریقې څخه په استفادې سره هغه پیسې معلومې کړي چې عزیز ئې د اوړو لپاره ورکوي، نو باید د هغو نااړوندو اشخاصو تر منځ ورته معامله پیداکړي چې د محاسبې نغدې طریقې څخه کار اخلي.

لکه څنګه چې پورته ولیدل شول ، د معاملاتو له درکه خالصې ګټې طریقه د منقولو او غیر منقولو شتمنیو د غیر حقیقي بیې معلوموولو لپاره استفاده کیږي.

**۶ بېلګه:** نجیب الله یو افغان تبعه دی او په افغانستان کې اوسېږي چې د کاناډایي او افغاني سهامي شرکتونو ټول پلورل شوي اسهام په اختیار کې لري. کاناډایي شرکت د فولادو په تولیدي فعالیتونو کې له ځانګړې تکنالوژۍ نه د ګټې اخستلو جواز افغان شرکت ته ورکوي. افغان شرکت په ۱۳۹۰ لمریز کال کې کاناډایي شرکت ته حق الامتیاز تادیه کوي. د حق الامتیاز تادیه د افغان او کاناډایي شرکتونو تر منځ یواځنۍ اړونده معامله ده. نوموړی حق الامتیاز د افغاني شرکت د پلور له درکه عوایدو ٪۸ سره معادل دی. د عوایدو لوی ریاست د شرکت خالصه ګټه د پلور د فیصدي او د شرکت د ګټې د ښودونکي ( شاخص ) په توګه ګڼي. د عوایدو لوی ریاست د تېرو دریو کلونو په اوږدو کې له څلور واړو شرکتونو څخه د هر یوه

خالصه ګټه او له پلور څخه لاسته راغلي عواید تر غور لاندې نیسي. لاسته راغلې پایلې په لاندې توګه دي:

| شرکت | کال | ګټه/ پلور |
|---|---|---|
| (الف) شرکت | ۱۳۸۹ | ۲٪ |
| | ۱۳۸۸ | ۵٪ |
| | ۱۳۸۷ | ۷٪ |
| اوسط | | ۶٪ |
| (ب) شرکت | ۱۳۸۹ | ۵٪ |
| | ۱۳۸۸ | ۲٪ |
| | ۱۳۸۷ | ۸٪ |
| اوسط | | ۵٪ |
| (ج) شرکت | ۱۳۸۹ | ۲٪ |
| | ۱۳۸۸ | ۴٪ |
| | ۱۳۸۷ | ۰٪ |
| اوسط | | ۲٪ |
| (د) شرکت | ۱۳۸۹ | ۲٪ |
| | ۱۳۸۸ | ۱٪ |
| | ۱۳۸۷ | ۰٪ |
| اوسط | | ۱٪ |

(هـ) شرکت د ګټو ۱٪ اوسط حدد ټیټو پایلو د ۲۵٪ ښودونکی دی. د (الف) شرکت د ګټو ۶٪ اوسط حدد لوړو پایلې ۲۵٪ ښیي. په هغه صورت کې چې افغان شرکت د پلور ګټه له ۱٪ نه په ټیټ او ۶٪ نه په لوړ نسبت باندې لاس ته راوړي، نو هغه حق الامتیاز چې کاناډایي شرکت ته یې تادیه کوي باید تعین نه شي.
فرض کوو چې افغان شرکت په ۱۳۹۰ کال کې تاوان کوي. د عوایدو لوی ریاست کولای شي هغه حق الامتیاز چې فغان شرکت یې کاناډایي شرکت ته تادیه کوي تر هغې اندازې کم کړي چې د افغاني شرکت ګټه له ۱٪ څخه ډېره شي.

۱۵.۹۷ نامشخصې طریقې: کیدای شي د عوایدو لوی ریاست او مالیه ورکوونکي په یوه معامله کې د ناړوندو اشخاصو تر منځ د لیږد بیې د ټاکلو لپاره له هغو طریقو څخه چې پورته نه دي تشریح شوي ، استفاده وکړي. په هغه صورت کې چې له پورتنیو مشخصو طریقو او یا له نامشخصو طریقو څخه کار واخیستل شي، نو مشخصې طریقې غوره ګڼل کیږي. نامشخصه (نامعینه) طریقه کیدای شي د معاملاتو له درکه د خالصې ګټې د طریقې په شان د ملموسو او غیر ملموسو شتمنیو د لیږد د غیر حقیقي بیې د ټاکلو لپاره ترې ګټه واخستل شي.

۱ بېلګه: وحید د (الف) او (ب) شرکتونو ټول پلورل شوي اسهام لري. (الف) یو افغان او (ب) یو پاکستانی شرکت دی.د(الف) شرکت (ب) شرکت ته د لاجورد ډبرې برابروي او د (ب) شرکت له هغو نه ګاڼه جوړوي. د (ب) شرکت نوموړي ګاڼې په ټوله نړۍ کې پلوري. د (الف) شرکت د لاجورد ډبرې یوائې پر (ب) شرکت باندې خرڅوي. د (الف) شرکت پدې اړه کاني معلومات نلري چې له مشخصو طریقو څخه په استفادې سره (الف) او (ب) شرکتونو تر منځ د لیږد د کومی مناسبې بیې باید موجودې وي. همدارنګه د عوایدو لوی ریاست له مشخصو طریقو څخه د ګټې اخستلو په اړه کافي معلومات نه لري. (الف) شرکت له (ج) شرکت څخه چې یو نااړونده پاکستاني شرکت دی، د ۹۰۰۰۰ افغانیو په بدل کې د یو کیلو لاجوردو د پلور وړاندیز تر لاسه کوي. نوموړی وړاندیز د یوۀ پاکستاني شرکت لخوا د نااړوندو اشخاصو تر منځ معاملې په توګه نه ګڼل کیږي ځکه چې دا یواځې د یوۀ وړاندیز بڼه لري او یوه مکمله معامله نه بیانوي. د پورتنیو ذکر شوو مشخصو طریقونو څخه یوه استفاده نه شي کیدای، نو د (الف) شرکت او د عوایدو لوی ریاست کولای شي د لیږد د مناسبې بیې د ټاکلو لپاره د (ج) شرکت پر وړاندیز باندی اعتماد وکړي (ترې ګټه واخلي).

۲ بېلګه: وحید د کاناډایي او افغان شرکتونو ټول پلورل شوي اسهام په اختیار کې لري. کاناډایي شرکت د افغان شرکت د کلنې حق الامتیاز په بدل کې، چې د افغان شرکت له ۸٪ پلور سره برابر دی، افغان شرکت ته د ځانګړو ټکنالوژیو جواز ورکوي. افغان شرکت د فولادو د تولید په برخه کې په فعالیت کوي. د عوایدو لوی ریاست غواړي چې د مقایسه کیدونکی نااړونده معاملې طریقه تطبیق کړي خو د یوې مناسبې مقایسه کیدونکې نااړوندې معاملې د طریقې پر موندلو بریالې شوی نه دی. د عوایدو لوی ریاست غواړي چې د معاملاتوله درکه د خالصې ګټې طریقه تطبیق کړي خو په دې ندې توانیدلی چې د دغۀ افغان شرکت په فعالیت کې د نااړوندو شرکتونو مالي معلومات تر لاسه کړي. که چیرې له دغو ځانګړو طریقو څخه د یوې تطبیق هم ناشونې وي، نو دواړه افغان شرکت او د عوایدو لوی ریاست کولای شي د ګټې د اندازې هغه شاخصونه چې د نااړوندو شرکتونو لخوا د ورته فعالیتونو څخه لاسته راغلي تر غور لاندې ونیسي تر څو وکولای شي معلوم کړي چې آیا د افغان شرکت عواید مناسب دي او که نه. د بېلګې په توګه، هغوی کولای شي د کانکرېټو، خښتو او یا ساختماني موادو د تولیدکوونکو شرکتونو لخوا لاسته راغلې ګټه تر غور لاندې ونیسي.

**دمالیې کتمان**

**اته نوي یمه ماده:**

(1) که چیرې مالیه ورکوونکې په یوه معامله کې ورداخل شي چې قصداً د هغهٔ د مالیاتو او تادیاتو د مکلفیتونو د کمېدو باعث شي، د مالیې وزارت معامله ردوي او تر ځېړنې لاندې یې نیسي.

(2) هغه اشخاص چې د خپلې مالیې د ورکړې ور عواید پټ (کتمان) کړي، په لاندې توګه د اصلي او اضافي مالیې په ورکړې مکلف کیږي:

- لمړۍ ځل د ورکړې وړ پټه کړی شوې اصلي مالیه د اضافي مالیې له دوه چنده مالیې سره،
- دوه یم ځل د ورکړې وړ پټه کړی شوې اصلي مالیې برسېره، اضافي مالیه له دوه چنده جریمې سره.
- په دې صورت کې، د پټوونکي اقتصادي فعالیت د محکمې په حکم درول کیږي.

۹۸.۱ په ۹۸مه ماده کې د کتمان یا پټولو حکم یواځې هغه وخت پلی کیږي چې مالیه ورکوونکی په داسې معامله کې شامل شي چې اساسي موخه یې د مالیه ورکوونکي د مالیاتي مکلفیتونو لږوالی وي.

۲.۹۸ د دې لپاره چې د ۹۸مې مادې حکم پلی شي، د عوایدو لوی ریاست باید داسې څرګنده کړي چې د مالیه ورکوونکي مالیاتي مکلفیتونه د نوموړې معاملې له کبله کم شوي دي. بیا هم د عوایدو لوی ریاست باید د مالیه ورکوونکي لخوا د دهٔ د مالیاتي مکلفیتونو د کموالي پر ثبوت بسنه ونکړي.

۱ بېلګه: د(الف) شرکت یو افغان شرکت دی چې په ټول هېواد کې خپلو پېرودونکو ته مخابراتي خدمات وړاندې کوي. نوموړي شرکت ته په ۱۳۸۷ کال کې ۵۰۰۰۰۰۰ افغانۍ تاوان وراوړي. یاد شرکت د ۱۳۸۸ لمریز کال د تاوان نه په استفادې سره د ۱۳۸۸ لمریز کال په اوږدو کې خپله دمالیې وړ ګټه او مالیاتي مکلفیتونه ۵۰۰۰۰۰۰ افغانیو ته راکموي. په دغه حالت کې باید د ۹۸مې مادې حکم پلی نه شي. دا سمه ده چې الف شرکت د ۱۳۸۷ لمریز کال په اوږدو کې په هغو معاملو او فعالیتونو کې بوخت وو چې په ۱۳۸۸ کال کې د دهٔ د مالیاتي مکلفیت د کمېدو سبب وګرځېد، ولې د (الف) شرکت اساسي هدف خپلو پېرودونکو ته د مخابراتي خدمتونو وړاندی کول دي نه د مالیاتي ګټې لاسته راوړل او یا په راتلونکي کال کې د هغهٔ کمول.

۲ بېلګه: عزیز یو انفرادي شخص دی او په هرات ولایت کې د خپلو سوداګریزو فعالیتونو د پرمخ وړلو لپاره یوې ټوټې ځمکې او یوې ودانۍ ته اړتیا لري. نوموړی پدې پوهیږي کله چې هغه د اړتیاوړ خپله ځمکه او ودانۍ را ونیسي، نو کولای شي چې د ودانۍ د استهلاک د لګښت لپاره مجرایي واخلي. او همدارنګه په دې هم پوهېږي چې د ځمکې د استهلاک لپاره مجرایي نه شي تر لاسه کولای. که چېرې عزیز ځمکه او یا کور په کرایه ونیسي نو کولای شي د کرایې ټول لګښت لپاره مجرایي ترلاسه کړي او پریکړه وکړي چې د خپلو اقتصادي فعالیتونو لپاره ځمکه او ودانۍ په کرایه ونیسي. په داسې حالت کې د ۹۸ مادې حکم نه پلی کیږي ځکه چې د ودانۍ په کرایه نیولو څخه د عزیز اساسي مقصد په هرات کې د اقتصادي

فعالیتونو پر مخ وړل دي. دا چې د ځمکې او وداني کرایه کول د نوموړو شتمنیو د رانیولو په پړتله په ګټه کې دی ، د ۹۸ مادې د حکم د تطبیق لپاره کافي او قانع کوونکی دلیل نه شي کیدای.

۳.۹۸ د ۹۸مې مادې له تطبیقه دمخه، د عوایدو لوی ریاست باید وکولای شي ثابته کړي چې د داسی معاملې د اجراکولو نه د مالیه ورکوونکی اساسي هدف د مالیاتو کمول ؤو. د مالیه ورکوونکي هدف د معاملې د حقیقتونو د ارزوني له مخې معلومیږي نه د هغۀ د شخصي مدارکو له مخې.

۱ بېلګه: وحید د (الف) او (ب) شرکتونو ټول پلورل شوي اسهام په واک کې لري. دواړه افغاني شرکتونه دي. الف شرکت د افغانستان د خصوصي پانګه اچونې د قانون لمخې نه دی جوړ شوی، نو تر یوې نامحدودې مودې پورې د مالیاتي تاوان د لیږد د امتیاز څخه د استفادې حق نلري. نوموړی شرکت باور لري چې په ۱۳۸۸ مالي کال کې ئې مالیاتي تاوان پای ته رسیږي. دنوموړي ضررد له منځه وړلو په موخه د (الف) شرکت د ۱۳۸۸ لمریز کال په وروستۍ ورځ خپله یوه شتمني د (ب) پر شرکت پلوري. د (الف) شرکت له دغۀ پلور څخه ګټه تر لاسه کوي. نوموړی شرکت د یاد ضررنه په استفادې سره په ۱۳۸۸ لمریز کال کې خپله لاسته راغلې ګټه کموي د (ب) شرکت هغه شتمنۍ چې مخکې یې له (الف) شرکت څخه پېرودلې وه د ۱۳۸۹ لمریز کال د وري په لمړۍ نېټه بېرته پر (الف) شرکت باندې پلوري.

نوموړې شتمني له دغو معاملو څخه وړاندی د (الف) شرکت ملکیت وه او له دی معاملې وروسته هم د (الف) شرکت ملکیت دی. د(الف) شرکت کولای شول چې له خپل مالیاتي ضرر څخه ګټه او د هر ډول مالیې له ورکړې نه پرته د بازار د بیې پر اساس ددغې شتمنې استهلاک زیات کړي. اوس هم نوموړی شرکت کولای شي د یادې شوې شتمنۍ د استهلاک لپاره زیاته مجرایي تر لاسه کړي او خپل مالیاتي مکلفیت راکم کړي. ددغې معاملې د اجراکولو یواځنی دلیل د (الف) شرکت د مالیاتي مکلفیتونو کمول دی. که چېری مالیاتي عواقب په پام کې نه وای نیول شوي ، نو د (الف) شرکت به نه غوښتل چې یاده شوې شتمنۍ د (ب) پر شرکت باندی وپلوري او د (ب) شرکت هم نه غوښتل چې له (الف) شرکت څخه شتمنۍ راونیسي. نو مناسبه ده چې د عوایدو لوی ریاست د ۹۸ مادې حکم په داسې یوه حالت کې تطبیق کړي.

۲ بېلګه: وحید د (الف) افغان شرکت ټول پلورل شوي ونډې په خپل اختیار کې لري. د (الف) شرکت د سرامیک تختی ، جګونه او پیالې تولیدوي. نوموړي شرکت د وحید شل تنه نژدې خپلوان (د کاکا ،ماما ، خاله او عمه زامن) په کار ګومارلي دي. دا ټول کسان له ۱۵ کلونو نه کم عمر لري. وحید نوموړو کسانو ته په میاشت کې ۵۰۰۰ معاش ورکوي. دا چې د هر کارکوونکي معاش یواځې ۵۰۰۰ افغانۍ دی، نو د مالیې تابع نه ګرځي. سره له دې هم د (الف) شرکت د خپل هر کارکوونکي د ۵۰۰۰ معاش مجرائي غواړي. دعوایدو لوی ریاست (الف) شرکت تر تحقیق لاندی نیسي. وحید د عوایدو لوی ریاست ته وایي داچې د هغۀ خپلوان یوه خلک دي ، نو ځکه یې هغوی ئې په کار ګومارلي دي. د عوایدو لوی ریاست پوهیږي چې په کار ګومارل شوي زیاتره کسان د کار کولو قانوني عمر ته نه دي رسیدلي. وحید نه شي کولای دا ثابته کړي چې د هغۀ خپلوان ( د کاکا ، ماما ، خاله او یا عمه زامن) رښتیا هم د (الف) شرکت لپاره کارکوي. په داسی حالت کې د وحید خپلوانو ته د تادیه شوو پیسو په پام کې نیولو پرته د عوایدو لوی ریاست باید د ۹۸مې مادی حکم تطبیق کړي.

۴.۹۸ د ۹۸مې مادې د ۲مې فقرې د حکم له پلي کېدو وروسته، یو مالیه ورکوونکی چې یو حقیقي یا حکمي شخص وي د لومړي ځل لپاره باید خپله اضافي مالیه تادیه کړي. مالیه ورکوونکی د هغې جریمې په ورکولو مکلف دی چې د هغهٔ د اضافي مالیې دوه چنده کیږي.

۵.۹۸ د ۹۸مې مادې د ۲مې فقرې د حکم له پلي کېدو وروسته، د دوهم ځل لپاره یو مالیه ورکوونکی چې یو حقیقي یا حکمي شخص وي، باید خپله اضافي مالیه تادیه کړي. مالیه ورکوونکی د هغې جریمې په ورکولو مکلف دی چې د هغهٔ د اضافي مالیې دوه چنده کیږي. برسېره پر دې، د عوایدو لوی ریاست کولای شي د مالیه ورکوونکي د کار او فعالیت د تړلو د حکم د ترلاسه کولو په موخه دغه موضوع سوداګریزې محکمې ته راجع کړي. د نوموړي حکم د اخیستلو نه وړاندې لاندې مرحلې باید عملي شي:

أ. لومړی، د عوایدولوی ریاست باید د مالیه ورکوونکي د دوسیې ارزونې لپاره ګومارل شوو کارکوونکو احترام په پام کې ونیسي.
ب. دویم، د عوایدو لوی ریاست باید وګوري چې د مالیه ورکوونکي د مالیې پیسې ددې ارزښت لري چې د هغهٔ کار او فعالیت وتړل شي او که نه.
ج. دریېیم، د عوایدو لوی ریاست باید وګوري چې آیا مالیه ورکوونکی په راتلونکي کې د مالیې د کتمان لپاره کوم اقدام کوي او که نه
د. څلورم، د عوایدو د ریاست واکمن شخص باید د کارځای د مؤقت او یا دایمي تړلو په اړه پرېکړه وکړي.
ه. پنځم، مسؤل اشخاص باید د کار د ځای او یا فعالیت د تړلو په اړه غوښتن لیک ، سوداګریزې محکمې ته وړاندې کړي.
و. شپږم، د محکمې د حکم د صادرېدو په صورت کې، مسؤل کسان د نوموړي حکم د تطبیق په اړه باید ضروري ګامونه اوچت کړي. د نوموړي حکم د تطبیق په موخه باید د کورنیو چارو وزارت له موضوع خبر شي.

# شپاړسم فصل

## اضافي ماليه او مالياتي جريمې

## له ۹۹ مادې نه تر ۱۰۷ پورې

**مجازات او سرغړونې**

**نهه نوي يمه ماده:**

(1) که چېرې يو شخص په دې قانون کې درج شوو مالياتي مکلفيتونو ته اطاعت نه وي کړی ، د خپل ذمت د مالياتو پر ورکړې برسېره د اضافي ماليې په ورکړه مکلف او د دې فصل د حکمونو د مجازاتو مستوجب هم دی. اضافي ماليه پدې قانون کې د نورو درج شوو مالياتو په څېر سنجش او تحصيل کېږي.

(2) پر عايداتو اضافي ماليه، په لاندې مواردو کې د ورکړې وړ ده:

1. په هغه صورت کې چې د دغه قانون په حکمونو کې د درج شوي ټاکلي وخت لمخې ماليه ورنه کړل شي،
2. د سوداګريزو معاملو د سندونو او دفترونو د نه خوندي کولو، نه ساتلو او نه وړاندې کولو په صورت کې،
3. د مالياتي بېلانس او اظهارليک د نه وړاندې کولو په صورت کې،
4. د ماليې د نه وضع کولو په صورت کې،
5. د ماليې د نه ورکولو په صورت کې، او
6. د ماليه ورکوونکي د پيژندنې نمبر د نه اخيستلو په صورت کې.

۱.۹۹ شپاړلسم فصل له دې قانونه د سرغړونې په صورت کې د اضافي ماليې او جريمې حکم کوي. اضافي ماليات او جريمې د هغو احکامو پر اساس اخيستل کېږي د کومو پر اساس چې ماليات وضع کېږي. يعنې اضافي ماليه او جريمه د مالياتو د ټاکنې او تاديې په اړه د ۱۳ فصل د احکامو لمخې وضع او د ماليې د تاديې د تطبيق په اړه د ۱۴ فصل د احکامو لمخې اخيستل کېږي.

۲.۹۹ د ۹۹ مادې په ۲مه فقره کې هغه حالتونه شامل دي چې د اضافي ماليې او جريمې د ورکړې سبب ګرځي. له پورتنيو مواردو څخه هر يو مورد د دې فصل په راتلونکو مادو کې شرح شوی دی.

**په ټاکلي وخت د ماليې د نه ورکولو په صورت کې اضافي ماليه**

**سلمه ماده:**

هغه شخص چې خپله د ورکړې وړ ماليه په ټاکلي وخت ورنه کړي، مکلف دی چې د ورځې لمخې ۰،۱۰٪ اضافي ماليې تاديه کړي.

۱.۱۰۰ پر عايداتو د مالياتو قانون پر هغه ماليه باندې ۰، ۱۰٪ اضافي ماليه وضع کوي چې په ټاکلې نېټه تاديه نه شي. که چيرې ماليه ورکوونکي خپل مالياتي اظهارليک په ټاکلي وخت هم وړاندې کړی وي، اضافي ماليه پرې تطبيقيږي.

۱ بېلګه: ادیب د (الف) شرکت ټول پلورل شوي اسهام په واک کې لري. (الف) یو افغان سهامي شرکت دی.نوموړی شرکت خپل د ۱۳۸۲کال اظهارلیک باید د ۱۳۸۷لمریز کال د غبرګولي د میاشتې تر وروستۍ ورځې پورې ډک او وړاندې کړي. (الف) شرکت باید خپله مالیه له مالیاتی اظهارلیک سره یو ځای ورکړي. دا شرکت خپل مالیاتي اظهارلیک د چنګاښ تر ۱۰ نېټې پورې نه تحویلوي. په اظهارلیک کې مالیاتي مکلفیت ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ ښودل شوی دی. که چېرې (الف) شرکت د غبرګولي له پای نه ۱۰ ورځې وروسته ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ تادیه کړي، نو نوموړی شرکت د جریمې له درکه ۱۰۰۰ افغانۍ پوره وړی ګڼل کیږي. (۱۰۰۰۰۰×۰.۰۱ =( ۰.۱ فیصد )×لس ورځې )

۲ بېلګه: د دې بېلګې ټول حقیقتونه او حالتونه د لومړۍ بېلګې په شان دي خو توپیر یې دا دی چې (الف) شرکت خپل مالیاتي اظهارلیک د غبرګولي په پای کې وړاندې کوي. دا چې د راتلونکې چنګاښ تر لسمي نېټې پورې مالیه نه ده ورکړل شوې، نو ځکه ځنډېدلې مالیه په لومړۍ بېلګه کې د ذکر شوې اضافي مالیې په شان ورکول کېږي. دا چې (الف) شرکت خپل مالیاتي اظهارلیک په ټاکلي وخت وړاندې کړی دی (خو مالیه یې نه ده تادیه کړې) اضافي مالیې سره تړاو نه لري.

۲.۱۰۰ په ۱۰۰ ماده کې ذکر شوې اضافي مالیه د انتفاعې معاملو پر مالیې یا پر هغو ثابتو مالیو باندې چې پر عایداتو د مالیاتو په عوض وضع کېږي، او هر هغې مالیې باندې د تطبیق وړ ده چې نه وي تادیه شوې.

۳.۱۰۰ که چېرې اضافي مالیه له **۲۵۰** افغانیو څخه کمه وي، کیدای شي د عوایدو لوی ریاست په ۱۰۰ ماده کې د ذکر شوې ۰.۱۰ فیصده اضافي مالیې له تطبیق څخه ډډه وکړي. د **۲۵۰** افغانیو اندازه (حد) پر هر ډول مالیې په جلا توګه تطبیقیږي.

بېلګه: هارون په هرات ولایت کې د یوه رستورانت چارې پر مخ بیایي. د رستورانت خالص عواید په **۱۳۸۸** کال کې ۲۰۰۰۰۰ افغانیو ته رسیږي او د ۱۲۰۰۰۰ افغانیو لګښت له کسر نه وروسته هم خالصه ګټه لاسته راوړي. هارون د **۱۳۸۸** کال د غبرګولي په وروستۍ ورځ کې پر عایداتو د مالیاتو او د راتلونکي ربعې په **۱۵**مه ورځ د انتفاعي معاملو د مالیې په ورکړه مکلف دی. هارون په غیرقصدي توګه د نوموړو مالیاتو تادیات د څو محدودو ورځولپاره ځنډوي او په ټاکلې نېټه ئې نه تادیه کوي. که چېرې د دې مادې له مخې محاسبه شوې ۰.۱۰٪ اضافي مالیه پرعایداتو باندې د مالیاتو له درکه ۲۰۰ افغانۍ او د انتفاعي معاملو له درکه ۱۰۰ افغانیو ته ورسیږي، پدې صورت کې، سره له دې چې مجموعه یې **۲۵۰** افغانیو ته رسیږي، د مالیې وزارت کولای شي د دواړو مبالغو له تطبیق څخه لاس په سر شي.

۴.۱۰۰ که چیرې لاندې شرطونه عملي شوي وي، نو د عوایدو لوی ریاست به تر **۵۰۰۰۰۰** افغانیو مبلغ باندې په ۱۰۰ ماده کې د ۰.۱۰٪ اضافي مالیې له تطبیق څخه لاس په سر کېږي.

أ. د اضافي مالیې د ټاکنې یادښت صادر شوی وي ،
ب. مالیه ورکوونکي د اضافي مالیې د نه تطبیق غوښتنه کړې وي او د هغهٔ په غوښتنلیک کې ټول هغه حقیقتونه شامل وی چې له قانون څخه د مالیه ورکوونکي پر پیروۍ دلالت وکړی ،
ج. د عوایدو لوی رئیس او یا د نوموړي ریاست مرستیال په لیکلي توګه د عوایدو او ګمرکاتو له معینیت څخه د اضافي مالیې د نه تطبیق غوښتنه کړې وي. د دې ډول غوښتنلیک د لیکلو په موخه په تیروخت کې له قانون څخه د مالیه ورکوونکي اطاعت ته کتل کېږي. دا ډول

غوښتنلیک یواځې هغه وخت وړاندی کیدای شي چې له قانون څخه د پېروۍ په موخه د مالیه ورکوونکي کوښښ ښودل شوی وي ، او

د. د عوایدو او ګمرکاتو معینیت د اضافي مالیې د نه تطبیق سره موافقه کړې وي.

> د سندونو د نه ساتنې په صورت کې پر عایداتو اضافي مالیه
> یو سلو یومه ماده:
> (1) هغه شخص چې له دلیلونو پرته د اړوندو معاملو سندونه او دفترونه، د دې قانون د حکمونو لمخې په سمه توګه برابر، خوندي او ونه ساتي یا یې د مالیې وزارت د مؤظفینو په واک کې ورنکړي، حقیقي شخص د ۵۰۰۰ افغانیو په ورکړه او حکمي اشخاص د ۲۰۰۰۰ افغانیو اضافي مالیې په ورکړه مکلف دي.
> (2) هغه شخص چې له مالیې څخه د تېښتې په هوډ د اړوندو معاملو سندونه او دفترونه برابر، خوندي او ونه ساتي، د دې مادې په (۱) فقره کې د درج اضافي مالیې پر ورکړې بر سېره، لوېې څارنوالۍ ته هم ورپېژندل کیږي.

۱.۱۰۱ پر عایداتو د مالیاتو قانون د ۱۰۱مې مادې لمخې، په لاندې حالاتو کې یو حقیقي شخص د ۵۰۰۰ افغانیو او یو حکمي شخصیت د ۲۰۰۰۰ افغانیو اضافي مالیې تابع ګرځي.

أ. یو حقیقي او یا حکمي شخص پر عایداتو د مالیاتو قانون سره سم د اسنادو په ساتلو مکلف دی ،

ب. که چیری حقیقي او یا حکمي شخص د مناسبو او د منلو وړ اسنادو په ساتنه نه وي بریالي شوي او یا نوموړو اشخاصو خپل اسناد د عوایدو لوی ریاست کارکوونکو په واک کې نه وي ورکړي،او

ج. که چېرې حقیقي یا حکمي شخص د اسنادو د نه ساتلو په برخه کې قانع کوونکی دلیل یا عذر ونلري او یا یې خپل سندونه د عوایدو لوی ریاست کارکوونکو په واک کې نه وي ورکړي.

۱ بېلګه: احمد رشاد فرنیچر او څوکۍ تولیدوي او په کابل ولایت کې یو لوی کاروبار پر مخ وړي. نوموړي شرکت خپل د عوایدو اسناد ساتلي خو د لګښتونو اسناد یې نه دي ساتلي. احمد رشاد خپل مالیاتي اظهارلیک وړاندی کوي چې ۴۰۰۰۰۰۰ افغانۍ پکې د عوایدو او ۳۰۰۰۸۰۰ افغانۍ پکې د لګښت په توګه ښودل شوي دي. پر عایداتو د مالیاتو قانون د ۳۲ مادې د حکم له مخې احمد رشاد د اسنادو په ساتلو مکلف دی. کله چې د عوایدو ریاست له احمد رشاده د لګښت د اسنادو د نه ساتلو په اړه پوښتنه کوي، دی په ځواب کې وایي چې له دغه شان مکلفیت څخه یې خبرتیا نه درلوده.. که څه هم په تیرو وختونو کې احمد د عوایدو لوی ریاست لخوا نه دی تفتیش شوی، خو نوموړی د اسنادو د نه ساتلو په اړه کوم قانع کوونکی او مناسب دلیل نه لري. تمه ده چې د نورو اشخاصو په شان پر عایداتو باندی د مالیاتو قانون د مکلفیتونو (د اسنادو ساتلو د مکلفیتونو په ګډون) څخه با خبره وي نو له دې کبله نوموړی شرکت د ۵۰۰۰ افغانیو اضافي مالیې تابع ګرځي.

۲ بېلګه: عزیز په کابل کې یو ګدام لري. په ۱۳۸۷ کال کې د عزیز ګدام د اور د لګیدو له امله له منځه ځي او د ۱۸ مادې(۱) فقرې له مخې د خپل ګدام د لګښتونو مجرایي په ۱۳۸۷ لمریز کال کې لاسته راوړي. په ۱۸ ماده کې د ۱ فقرې ۹ جز داسې حکم کوي چې د کسراتو د وضع لپاره عزیز مکلف دی د هغو اسنادو په ګډون چې د ګدام بیه وښیي ټول مناسب اسناد ولري. کله چې له عزیزڅخه د هغهٔ د ګدام د بیې په هکله اسناد غوښتل کېږي، نو د هغهٔ ځواب دا دی چې په دې اړه هېڅ ډول سند نه لري او د سند د نه لرلو دلیل دا ښیي چې ټول سندونه یې په ګدام کې وه او د اورلګېدو له امله سوځیدلي دي. په دې صورت کې عزیز د سندونو د نه ساتلو په اړه قانع کوونکی دلیل لري او پر عایداتو د مالیاتو قانون په ۱۰۲ ماده کې د درج اضافي مالیې تابع نه ګرځي.

۳ بېلګه: کابل انجینري شرکت د ۱۳۸۷ کال اظهارلیک د عوایدو لوی ریاست وړاندې کوي. د عوایدو لوی ریاست کارکوونکي د یاد شرکت قضیه څېړي او د قرارداد هغه سندونو د تفتیش غوښتنه ورڅخه کوي چې د یاد شرکت په دفتر کې ساتل کېږي. نوموړي کارکوونکي پر عایداتو باندی د مالیاتو قانون د ۱۰۱ مادې یو نقل چې هغوی ته د دې عمل واک ورکوي، د نوموړي شرکت کارکوونکو ته ښیي. د شرکت آمر په دې باور دی چې ګواکې یو اځې محکمه کولی شي چې د نوموړي شرکت د کاري اسنادو ښودلو ته اړباسي او کیدای شي د شرکت محرم اسناد د هغهٔ رقیبانو ته وښودل شي، نو له دې کبله نوموړو کارکوونکو ته غوښتل شوي اسناد نه ورکوي. د شرکت د آمر دا باور موجه نه دی ځکه چې پرعایداتو د مالیاتو قانون په افغانستان کې یو نافذ او د اعتبار وړ قانون دی او په روښانه توګه د محکمې له حکم نه پرته د نوموړو اسنادو د تفتیش کولو اجازه ورکوي. پر عایداتو د مالیاتو قانون د عوایدو لوی ریاست کارکوونکو لخوا ټول راټول شوي معلومات محرم ګڼي او له وزارت څخه د باندی هر ډول شخص ته یې له افشا څخه مخنیوی کوي مګر دا چې قانون اجازه ورکړې وي. یاد آمر د کابل شرکت د اسنادو د نه ورکولو په اړه کوم قانع کوونکی او موجه دلیل نه لري نو ځکه د ۱۰۱مې مادې سره سم، نوموړی شرکت د ۲۰۰۰۰ افغانیو اضافي مالیې تابع ګرځي.

۲.۱۰۱ حکمي او حقیقي اشخاص په هغه صورت کې لوېې څارنوالۍ ته وړپیژندل کیږي چې په لاندی حالاتو مرتکب شي:

أ. حقیقي او حکمي شخص پرعایداتو د مالیاتو قانون د حکم لمخې د اسنادو په ساتلو مکلف دی،

ب. حقیقي او حکمي اشخاص د مناسبو او منلو وړ اسنادو په ساتلو کې پاتی راغلی وي ، او

ج. حقیقي او حکمي اشخاص چې د قانون د حکم لمخې د مناسبو او د منلو وړ اسنادو په ساتلو مکلف شوي او هغه یې له مالیې څخه د تېښتې په هوډ خوندي نه وي ساتلي.

تبصره: که چېرې داسې وپېښېل شي چې یو شخص په قصدي توګه له مالیې څخه د تېښتې په هوډ د مناسبو او معقولو اسنادو په تهیه او ساتلو کې پاتې راغلی وي او شخص:

أ. د اسنادو په ساتلو او تهیه کولو کې لکه څنګه چې پر عایداتو د مالیاتو قانون کې جوته شوې، پاتې راشي که څه هم د مالیاتي کارکوونکو لخوا یې د شرایطو په اړه خبرتیا هم ترلاسه کړې وي ،

ب. په مکرره یا بیاځلي توګه د اسنادو په ساتلو او تهیه کولو کې لکه څنګه چې پر عایداتو د مالیاتو قانون کې حکم شوی، پاتې راشي ، او

ج. د محاسبې په دفتر کې لږ عواید او ډېر لګښت ثبت کړي او جعلي اسناد وړاندې کړي.

په دغه شان حالاتو کې داسې پېښېږي چې مالیه ورکوونکي له مالیې څخه د تېښتې په تکل اسناد تهیه او خوندي ساتلي نه دي. په دې توګه، پر عایداتو د مالیاتو قانون د ۱۰۱ مې مادې د ۲ فقرې حکم په دغه راز افرادو پلی کېږي او یاد شخص دې د څېړنو لپاره لوېې څارنوالۍ ته ولېږل شي.

۱ بېلګه: بهار امنیتي شرکت یو افغان سهامي شرکت دی چې په ټول افغانستان کې پېرودونکو ته امنیتي خدمات وړاندې کوي. بهار امنیتي شرکت دوه بانکي حسابونه لري چې یو حساب یې د افغانستان په یو بانک او بل حساب یې د پاکستان په یو بانک کې دی. د عوایدو لوی ریاست په ۱۳۸۷ کال کې بهار امنیتي شرکت تفتیش کوي. د عوایدو لوی ریاست د تفتیش پر مهال مومي چې نوموړی شرکت په قصدي توګه پېرودونکو ته وایي چې د پاکستان په بانک کې د هغهٔ پیسې د شرکت حساب ته تحویلې کړي. بهار شرکت هغه پیسې چې پاکستان ته لېږدول شوي سره له دې چې په افغانستان کې په خدمتونو پورې اړه لري، په اسنادو کې نه دي ثبت کړي. نوموړي شرکت د دغو قراردادونو له درکه د عوایدو کوم اسناد نه دي ساتلي. په دې توګه، بهار شرکت خپل د عوایدو کافي سندونه نه دي ساتلي او له هغو عوایدو څخه د تېښتې په موخه چې باید په افغانستان کې تحویل شوي وای ، په اسنادو کې نه دي ثبت شوي. په دې توګه، بهارشرکت دې د ۱۰۱ مادې د ۲ فقرې لمخې د عدلي څېړنې لپاره لوېې څارنوالۍ ته معرفي شي.

۲ بېلګه: نعیم امنیتي شرکت یو افغان سهامي شرکت دی چې په ټول افغانستان کې بېلابېلو پېرودونکو ته په ټول افغانستان کې امنیتي خدمات وړاندې کوي. یاد شرکت دعوا کوي چې په ۱۳۸۷ کال کې یې عواید ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ او لګښت یې ۹۰۰۰۰ افغانۍ دی. د عوایدو لوی ریاست د تفتیش پر مهال پوهېږي چې نوموړي شرکت د ۲۵۰۰۰ افغانیو د توجیه لپاره د لګښت په توګه چې شتون نه لري، یو شمېر رسیدونه جوړ کړي. بهار شرکت پر خپلو عوایدو د مالیاتو د کمولو په موخه جعلي رسیدونه جوړکړي دي. په دې توګه، د ۱۰۱ مادې د ۲ فقرې سره سم، د عوایدو لوی ریاست کولای شي بهار شرکت د عدلي څېړنې لپاره لوېې څارنوالۍ ته معرفي کړي.

د مالیاتي اظهارلیک د نه وړاندې کولو په صورت کې اضافي مالیه

یو سل او دویمه ماده:

(1) هغه حقیقي شخص چې له مؤجهو دلیلونو پرته اړوند مالیاتي اظهارلیک ، د دې قانون د حکمونو لمخې د ټاکلې مودې په ترځ کې وړاندې نکړي، د هرې ورځې ځنډ په وړاندې د ۱۰۰ افغانیو او حکمي شخص د هرې ورځې ځنډ په وړاندې د ۵۰۰ افغانیو اضافي مالیې په ورکولو مکلف دی ، د رخصتۍ ورځې لدې امر څخه مستثنی دي.

(2) هغه شخص چې له مالیې څخه د تېښتې په نیت اړوند مالیاتي اظهارلیک، د دغه قانون د حکمونو لمخې، د ټاکلې مودې په ترځ کې وړاندې نکړي، د دې مادې په (۱) فقره کې د درج اضافي مالیې پر ورکړې برسېره لوېې څارنوالۍ ته معرفي کیږي.

۱.۱۰۲ د د ې قانون د احکامو لمخې د مالیاتي اظهارلیک له وړاندی کولو نه وروسته د هرې ورځې په تیریدو سره ( د رخصتي له ورځو نه پرته) یو حقیقي شخص ۱۰۰ افغانۍ او یو حکمي شخص ۵۰۰ افغانۍ اضافي مالیه ورکوي. دا اضافي مالیه یوائې په هغۀ صورت کې تطبیقېږي چې په ټاکلې موده کې د اظهار لیکونو د نه وړاندې کولو په اړه مالیه ورکوونکی مؤجه دلیل ونه لري.

۱ بېلګه: باران شرکت یو افغان سهامي شرکت دی. دا شرکت باید خپل مالیاتي اظهارلیک د ۱۳۸۸ لمریز کال د غبرګولي د میاشتی تر وروستۍ ورځې پورې وړاندې کړي. نوموړي شرکت د ۱۳۸۷ لمریز کال لپاره خپل مالیاتي اظهار لیک د ۱۳۸۸ کال په اوږدو کې د غبرګولي د میاشتی له پای څخه ۱۰ ورځې وروسته وړاندی کړی نه دی. کله چې د عوایدو لوی ریاست کارکوونکي له باران شرکت څخه پوښتنه کوي چې ولې هغۀ د مالیاتي اظهارلیک پر برابرولو نه دی بریالی شوې نو هغه ځواب ورکوي چې د خپلو مالي اسنادو په راټولولو کې له ستونزو سره مخ شوی دي. باران شرکت په ټاکلي وخت د خپل اظهارلیک د نه برابرولو او نه وړاندی کولو په اړه کوم مؤجه دلیل نه لري او په همدې دلیل باید د هرې یوې ورځې په بدل کې د ۵۰۰ افغانیو اضافي مالیې تابع وګڼل شي.

۲ بېلګه: ګل یو افغان سهامي شرکت دی. دا شرکت مکلف دی چې خپل د ۱۳۸۷ کال مالیاتي اظهارلیک د ۱۳۸۸ کال د غبرګولي په پای کې ډک او وړاندې کړي. (الف) شرکت نه شي کولای د ۱۳۸۹ کال د وري میاشتی تر لومړۍ نېټې پورې خپل مالیاتي اظهارلیک وړاندی کړی. د مالیاتي اظهارلیک د نه وړاندی کولو دلیل دا دی چې ګلال شرکت دفتر سوځېدلی او ټول مالي سندونه له منځه تللي دي. ګلال شرکت وتوانېده چې د سوځېدو نه وروسته ژر تر ژره اظهارلیک ډک کړي نو نوموړی شرکت باید د هرې ورځې په تیرېدو سره د ۵۰۰ افغانیو اضافي مالیې تابع ونه ګڼل شي.

۳ بېلګه: نثار احمد یو انفرادي سوداګر دی چې د وچې او تازه مېوې د صادراتو په برخه کې بوخت دی. دی د ۱۳۸۹ کال د چنګاښ میاشتې په وروستۍ ورځ د ۱۳۸۸ مالي کال اظهارلیک وړاندې کوي. کله چې مالیاتي موظفین د اظهارلیک د ځنډ په اړه له نثار احمد څخه پوښتي، دی په ځواب کې وایي چې دی په ولایاتو کې د تازه مېوې په رانیولو بوخت و. په دې توګه، ونتوانېده د تېر کال اظهارلیک وړاندې کړي.

د نثار احمد دغه عذر پر ځای نه ګڼل کیږي نو د چنګاښ میاشتې له لومړۍ نه تر پایه د رخصتي ورځو پرته، د ۱۰۰ افغانیو اضافي مالیې پر ورکړه مکلف دی.

۴ بېلګه: ګل احمد په کابل منډيي کې يو مارکېټ لري چې د خپل مارکېټ هټې يې نورو هټيوالو په کرايه ورکړي. ياد مارکېټ درې پوړه لري چې د هر پوړ يا منزل کرايه توپير لري. د لومړي او دويم پوړ کرايه له ۱۰۰۰۰ افغانيو لوړه ده او کله چې مستاجرين کرايه ورکوي ماليه ترې وضع او د دولت ځانګړي حساب ته ورسپارل کيږي. د درېيم پوړ کرايه له ۱۰۰۰۰ افغانيو ټيټه ده او ګدام لپاره ترې کار اخيستل کيږي. د قانون د حکم لمخې، ګل احمد مکلف دی چې د مالياتي حساب د تصفيې او د موضوعي ماليې د مجرايۍ لپاره د راتلونکي کال د غبرګولي ترپايه خپل اظهارليک وړاندې کړي خو ګل احمد د تلې مياشتې په ۲۵مه نېټه خپل مالياتي اظهارليک وړاندې کوي. کله چې له ګل احمد څخه د ځنډ په اړه پوښتنه کيږي نو هغه ځواب ورکوي چې له خپلو هټيوالو سره د کرايې د ټاکلو په اړوند يې اختلاف درلود، ونه توانېدم چې د تېر کال اظهارليک وړاندې کړم. دغه مؤجه دليل نه دی او په همدې دليل بايد د هرې ورځې په تېرېدو سره پرته له رخصتۍ څخه د اظهارليک تر وړاندې کولو پورې د ۱۰۰ افغانيو اضافي ماليه ورکړل شي.

تبصره: که چېرې ګل احمد له خپلو هټيوالو سره د تېر کال د کرايې په اړه حقوقي دعوا ولري او د دعوا د اقامې لمخې د ده هټيوال د محکمې د حکم پر اساس په بند کې اوسي او نور دا واک ونه لري چې د ده اظهارليک او مالياتي ملکفيت وړاندې کړي، د ګل احمد دغه عذر موجه ګڼل کيږي خو ګل احمد بايد په دې اړه له محکمې او زندان څخه يو تصديق وړاندې کړي.

۲.۱۰۲ هغه شخص چې د ماليې له ورکولو نه د تېښتې په موخه د دې قانون د احکامو له مخې په ټاکل شوې موده کې اظهارليک وړاندې نه کړي، نو د ۱۰۲ مادې په ۱ فقره کې د ذکر شوې اضافي ماليې پر ورکړه سربېره، د عدلي څېړنې لپاره لويې څارنوالۍ ته معرفي شي.

۱ بېلګه: عزيز د متحده ايالاتو يو تبعه او په افغانستان کې هم مېشت دی. عزيز د ۱۳۸۷ ، ۱۳۸۸ او ۱۳۸۹ مالي کلونو په اوږدو کې په افغانستان کې مېشت و. عزيز پدې پوهېږي چې ځکه په افغانستان کې پر عايداتو باندې د مالياتو اظهارليک پر وړاندې کولو مکلف دی چې د عوايدو لوی رياست په ۱۳۸۷ کال کې هغۀ ته خبر ورکړی ؤو تر څو پر عايداتو خپل مالياتي اظهارليک وړاندې کړي. عزيز د عوايدولوی رياست خبرتيا ته په قصدي توګه پاملرنه نه کوي او پوهېږي که چېرې په افغانستان کې ماليه تاديه کړي نو په امريکا کې خپل مالياتي مکلفيتونه پدې اندازه نه شي کمولای. هره افغانۍ چې عزيز ئې د افغانستان دولت ته تاديه کوي په نوموړي کال کې د عزيز د عوايدو د لږوالي سبب ګرځي. عزيز غواړي د مالياتو اظهارليک وړاندې نه کړي ځکه هغه غواړي په افغانستان کې لږه ماليه تاديه کړي. د عوايدو لوی رياست بايد د ۱۰۲ مادې په ۱ فقره کې ذکر شوې اضافي ماليه راټوله او دی د عدلي څېړنو لپاره لويې څارنوالۍ ته راجع کړي.

تبصره: که چيرې اظهارليک په خپل ټاکلي وخت چې په قانون کې په ګوته شوی، وړاندې نه شي، نو دغه کار په لاندې حالاتو کې له ماليې څخه تېښته ګڼل کيږي:

أ. د اظهارليک په وړاندې کولو کې ځنډ يا پاتې راتلل سره له دې چې د مالياتو د وضع کېدو موضوع ماليه ورکوونکو ته د پروګرامونو، ورکشاپونو، عامه پوهاوي، سيمينارونو، رسمي ليکونو او داسې نورو ذريعو له لارې وررسېدلې وي،
ب. که د ماليه ورکوونکي لخوا د دويم کال يا نورو اوږدو دورو لپاره د بېلانس په وړاندې کولو کې ځنډ تکرار شي، او

ج. مالیه ورکوونکی هغه وکړي چې د جعلي اسنادو په ښودلو سره د خپل اظهارلیک په وړاندې کولو کې ځنډ توجیح کړي.

۳.۱۰۲ په یو سلو دویمه ماده کې ذکر شوې اضافي مالیه یوازې په هغه صورت کې د تطبیق وړ ده چې اظهارلیک له ټاکلې نېټې څخه وروسته وړاندې شي. د عوایدو لوی ریاست په ۱۰۲ ماده کې ذکرشوې اضافي مالیه په هغه صورت کې نه تطبیقوي چې مالیاتي اظهارلیک په خپل ټاکلي وخت وړاندې شوی وي ولو که په مالیاتي اظهارلیک کې معلومات هم صحیح نه وي. که چېرې مالیاتي اظهارلیک صحیح نه وي ، نو د عوایدو لوی ریاست پر عایداتو د مالیاتو قانون د نورو مادو لمخې د اضافي مالیې پر تطبیق غور کوي.

بېلګه: امان یو افغان سهامي شرکت دی چې په ټول افغانستان کې خوراکي پلورنځی پر مخ بیایي. نوموړی شرکت خپل د ۱۳۸۷ کال مالیاتي اظهارلیک ډک او وړاندې کوي او په اظهارلیک کې خپل ذکرشوي مالیات د ۱۳۸۸ کال د غبرګولي په پای کې تادیه کوي. د مالیاتو د سنجش پر مهال نوموړی شرکت د څو جنراتورونو چې رانیولي یې ؤو ، دعوا کوي. له نوموړي جنراتورونو څخه په خوراکي پلورنځیو کې د څراغ په توګه اود پلورنځیو ګرمولو لپاره استفاده کېږي. د جنراتورونو بیه باید کمه نه بلکه د وخت په تېریدو سره ئې بیه باید له استهلاک څخه وضع شي. د دې تېروتنې له کبله د امان شرکت پر عایداتو د مالیاتو اظهارلیک ناسم دی. د امان شرکت مالیاتي مکلفیتونه له هغو څخه زیات دی کوم چې د دغه شرکت په مالیاتي اظهارلیک کې درج دي. امان شرکت په ۱۰۲ ماده کې د ذکر شوي اضافي مالیې تابع نه ګرځي ځکه چې هغهٔ خپل مالیاتي اظهارلیک په ټاکلې نېټه وړاندې کړی دی. په هغه صورت کې چې امان شرکت د جنراتورونو د بیې د مجرایي په اړه کوم مؤجه دلیل ونلري نو کیدای شي چې په ۱۰۴ ماده کې ذکر شوې اضافي مالیې تابع وګڼل شي.

| |
|---|
| د مالیې د نه وضع کولو په صورت کې اضافي مالیه<br>یو سلو دریمه ماده:<br>(1) هغه شخص چې له موجه دلیلونو پرته د معاش ، مزدورۍ ، دټکټانې د عوایدو ، د سهم د ګټې ، کرایې ، کمېشن ، حق الامتیاز او ورته عوایدو مالیه د دې قانون د حکمونو لمخې وضع نکړي ، په سلو کې د شلو داضافي مالیې په ورکړه مکلف دی.<br>(2) هغه شخص چې د بشپړې بې پروایي له امله د دې مادې په (۱) فقره کې درج مالیه وضع نه کړي ، په سلو کې د څلویښتو اضافي مالیې په ورکړه مکلف. |

۱.۱۰۳ هغه شخص چې د دې قانون د احکامو لمخې د سهم پر ګټې ، ټکټانې ، حق الامتیازونو ، معاش او اجورې ، کرایې ، قرعه ، بخششانې ، قراردادي او داسې نور مبالغ د کوم قانع کوونکي دلیل نه پرته د مالیې پر تطبیق بریالی نه شي ، نو ٪۱۰ هغه اضافي مالیه چې باید وضع شوی وای تادیه کړي.

بېلګه: شش درک یو افغان سهامي شرکت دی چې درې تنه انفرادي اشخاص یې استخدام کړي دي. نوموړي درې تنه اشخاص رازق ، ادیب او عزیز نومېږي. دا چې شش درک شرکت درې کسان استخدام کړي دي ، نو نوموړی شرکت مکلف دی چې د کارکوونکو له معاش څخه مالیه وضع کړي. فیروز هغه شخص دی چې په

شرکت کې د مالیې د مناسبو مبالغو د وضع کولو مسؤلیت په غاړه لري. رازق له شش درک شرکت سره د ۱۳۸۷ کال د چنگاښ د میاشتی په لومړۍ نېټه کار پېل کړی دی. فېروز په ۱۳۸۷ کال کې د رازق له معاش څخه د مالیې په وضع کولو نه بریالی کېږي دا ځکه هغهٔ داسی گومان کاوه چی رازق یو **مستقل** قراردادي دی. فیروزپدي باور دی چی رازق د شش درک شرکت سره لیکلی قرارداد لاسلیک کړی خو ادیب او عزیز داسی کوم قرارداد نلري. کله چی د عوایدو لوی ریاست کارکوونکي د شش درک شرکت عواید تفتیش کوي ، نو مومي چی رازق یو کارکوونکی دی نه **مستقل** قراردادي. که چېری د فېروز باور معقول وي نو ۱۰٪ مالیه باید تطبیق نه شي. یوازې حقیقت دا دی چې قرارداد په لیکلي ډول نه دی جوړ شوی او په ځای دلیل یې دا دی چې رازق یو **مستقل** قراردادي دی نه یو کارکوونکی.

۲.۱۰۳ هغه شخص چی د بې پروائي له امله د مالیې پر وضع کولو بریالی شوی نه وي ، د ۱۰۳ مادې د ۱ فقرې د مندرجې اضافي مالیې پر ورکړه سربېره، د عدلي تعقیب لپاره څارنوالۍ ته هم وړاندې کیږي.

۱ بېلگه: پاک یو پاکستانی سهامي شرکت او اف یو افغان سهامي شرکت دی. پاک شرکت د اف شرکت ټول صادر شوي اسهام په خپل واک کې لري. پاک شرکت د اف شرکت پوره وړی دی. اف شرکت په ۱۳۸۷ کال کې د پور له درکه ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ د ټکټانې په توگه ورکوي. اف شرکت د ټکټانې له درکه د ۲۰٪ موضوعي مالیې په وضع کولو نه بریالی کېږي. اف شرکت د ۱۰۰۰۰۰ افغانیو په اندازه د هغې ټکټانې د کمولو ادعا کوي چی پاک شرکت ته یې تادیه کړې ده. کله چی د عوایدو لوی ریاست د اف شرکت د ۱۳۸۷ مالي کال عواید تفتیش کوي، نو داسی **معلومات** تر لاسه کوي چی د پاک شرکت کارکوونکو د اف شرکت کارکوونکو ته خبر ورکړی ؤو چی د پاک شرکت د ټکټانې له درکه ۲۰٪ مالیه وضع کوي. د اف شرکت کارکوونکي پاک شرکت ته لارښوونه کوي چی دغه شرکت باید هېڅ ټکټانه وضع نه کړي. د ۱۰۰۰۰۰ افغانیو کمولو او د ۲۰٪ موضوعي مالیې په وضع کې په نه بریالی کیدو سره سره د(الف) او (ب) شرکتونه کوښښ کوي چې هغه اندازه مالیه چی دوی باید په افغانستان کې تادیه کړې وای، کمه کړي. په دې توگه، د ۱۰۳ مادې د ۱ فقرې د مندرجې اضافي مالیې پر ورکړه سربېره، دغه شرکتونه د عدلي څېړنو لپاره لویې څارنوالۍ ته راجع کیږي.

۲ بېلگه: بهلول ودانیز شرکت دی او په کابل کې د سړکونو ساختماني چارې او فعالیتونه پر مخ بیایي. دا شرکت د مختلفو پروژو لپاره **۵۰** کسان په کار گوماري. د یاد شرکت د گومارل شوو کارکوونکو له ډلې **۱۵** تنه یې فني کارکوونکي دي چې د میاشتې ۳۰۰۰۰ افغانۍ معاش لري او پاتې نور یې عادي کارکوونکي دي چې د میاشتې **۴۵۰۰** افغانۍ معاش ترلاسه کوي. بهلول ودانیز شرکت د دې لپاره چې **خپل** فني کارکوونکي وهڅوي، د ۲۰۰۰۰ افغانیو معاش په اساس ترې مالیه وضع کوي. د څېړنې پرمهال د بررسۍ کارکوونکو ته ویل کیږي چې د مالیې وضع کول د ۳۰۰۰۰ افغانیو په اساس ډېره لوړه مالیه ده. بهلول ودانیز شرکت د ۱۰٪ اضافي مالیې په ورکړه سربېره، د عدلي څېړنو لپاره لویې څارنوالۍ ته راجع کیږي.

تبصره: که چیرې مالیه په خپل ټاکلي وخت چې په قانون کې په گوته شوی، تادیه نه شي، نو دغه کار په لاندې حالاتو کې له مالیې څخه تېښته گڼل کیږي:

د مالیې نه ورکول سره له دې چې د مالیاتو د وضع کېدو موضوع مالیه ورکوونکو ته د پروگرامونو، ورکشاپونو، عامه پوهاوي، سیمینارونو، رسمي لیکونو او داسې نورو ذریعو له لارې وررسېدلې وي. چې د مالیه ورکوونکي لخوا د دویم کال یا نورو اوږدو دورو لپاره د مالیې نه ورکول تکرار شي.

مالیه ورکوونکی هڅه وکړي چې د جعلي اسنادو په ښودلو سره خپله نه ورکړل شوې مالیه توجیح کړي.

دمالیې د نه ورکولو په صورت کې اضافي مالیه
یو سل او څلورمه ماده:
(1) هغه اشخاص چی له موجه دلیله پرته وضع شوې مالیه د دې قانون د حکمونو لمخې ورنکړي، د دې قانون په ۱۰۰مه ماده کې د مندرجې مالیې پر ورکړه برسېره د ۱۰٪ اضافي مالیې پر ورکړه مکلف دی.
(2) (۴) هغه شخص چی دمالیې څخه د تېښتې په قصد، تثبیت شوې مالیه، د دې قانون د حکمونو لمخې ورنکړي، د دې مادې په (1) فقره کې د درج اضافي مالیې پر ورکړه برسېره، لویې څارنوالۍ ته معرفي کېږي.

۱.۱۰۴ هغه شخص چې د مؤجه دلیل نه پرته د دې قانون له احکامو سره سمه خپله تثبیت شوې مالیه (له بېلابېلو سرچینو څخه د موضوعي مالیات چې پر عایداتو د مالیاتو په قانون کې یې وړاندوینه شوې یا د شخص خپله د تادیې وړ مالیه تثبیته شوې) تادیه نه کړي، باید ۱۰٪ اضافي مالیه ورکړي. دا مالیه د هر هغې اضافي مالیې سربېره تادیه کېږي چې په ۱۰۰ ماده کې د مالیې د تادیې د ځنډ په اړه ذکر شوې ده.

۱ بېلګه: عزیز د خپل جایداد د کرایې له درکه چې خپل ملکیت یې دی، ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ ترلاسه کوي. دی ۸۰۸۰۰ افغانۍ د کرایې د عوایدو د مالیې له درکه (پر ۱۰۰۰۰۰۰ افغانیو د انفرادي اشخاصو د نورم لمخې مالیه وضع کیږي) پوروړی دی. عزیز نه شي کولای چې د غبرګولي میاشت په پای کې ۸۰۸۰۰ افغانۍ تادیه کړي او په اړه یې کوم مؤجه دلیل هم نه لري نو ځکه هغه د ۸۰۸۰ افغانیو اضافي مالیې تابع ګرځي. (۸۸۰۰x۱۰).

عزیز له ټاکلې نېټې نه د هرې ورځې په تېریدو سره په ۱۰۰ ماده کې پر ذکر شوې اضافي مالیې باندی ۸۸۸۸۰ افغانۍ جمع کړي. که چېری عزیز د غبرګولي له پای څخه لس ورځې وروسته خپل د ذمت مالیه او اضافي مالیه تادیه کړي، نو هغه په ۱۰۰ ماده کې د ذکرشوې اضافي مالیې له مخی ۸۸۸۰ افغانۍ پوره وړې پاتی کېږي. (۱۰ ورځې × ۰.۰۰۱ × ۸۸۸۸۰ افغانۍ)

۲ بېلګه: په دې بېلګه کې ذکرشوي حالتونه او حقیقتونه د ۱ بېلګې له حالتونو او حقیقتونو سره ورته والی لري خو یوائې دومره توپیر لري چې دلته عزیز مالیه نده تادیه کړې او اظهارلیک ئې نه دی وړاندی کړی دا ځکه چې د یوې ترافیکي پېښې له امله په روغتون کې تر درملنې لاندی وو. په داسی حالاتو کې عزیز په ټاکلې نېټه د مالیې د نه تادیه کولو په اړه مؤجه عذر لري نو د ۱۰٪ اضافي مالیې تابع باید ونه ګرځي.

۳ بېلګه: قسیم هوایي شرکت د یوه سوداګریز هوایي شرکت په توګه کار کوي او د خپلو کارکوونکو د ورې میاشتې د معاشونو موضوعي مالیات یې د میاشتې په پای کې د معاش د ورکړې پرمهال وضع کړي دي. یاد شرکت باید وضع شوي مالیات د وروستۍ میاشتې تر ۱۰مې پورې د دولت بانکي حساب ته انتقال کړي وای، خو وضع شوي مالیات د همدغه کال د چنګاښ تر میاشتې نه دي انتقال شوي. د مالیاتو د څېړنې کارکوونکي دغه موضوع بررسي کوي او داسې انګېرل کیږي چې وضع شوې پیسې د یوې الوتکې د

ترمیم لپاره کارول شوي دي. دغه شان دلیل موجه نه دی او قسیم هوایي شرکت مکلف دی چې سربېره پر دې چې د مالیې د ځنډ لکبله په ۱۰۰ ماده کې درج شوې مالیه ورکړې، ۱۰٪ اضافي مالیه هم ورکوي.

۲.۱۰.۴ هغه شخص چې د دې قانون د احکامو لمخې ټاکل شوې مالیه له مالیې څخه د تېښتې به هوډ نه تادیه کوي، د ۱۰۴مې مادې په ۱فقره کې د مندرجې مالیه پر ورکړه سربېره، باید د عدلي تعقیب لپاره لویې څارنوالۍ ته معرفي کیږي.

۱ بېلګه: اې. بي. اې. یو امریکایي سهامي شرکت دی چې په کابل کې د ودانیزو چارو خدمتونه برابروي. یاد شرکت د یوه خصوصي شرکت لپاره د ودانیزو چارو خدمتونه ترسره کوي. اې. بي. اې. شرکت په افغانستان کې د هر ډول معاهدې یا تړون لمخې له هېڅ ډول مالیاتي مکلفیته معاف نه دی. د عوایدو لوی ریاست داسې پتې یې چې یاد شرکت د ۱۳۸۸ مالي کال لپاره تر څېړنې او پلټنې لاندې ونیسي. د څېړنو په ترڅ کې، د عوایدو لوی ریاست د برېښنالیک له لارې یو مکتوب ترلاسه کوي چې د کابل له دفتره د دغه شرکت یو عمده سهم لرونکي ته لېږل شوی دی. دغه مکتوب داسې جوته وي چې اې. بي. اې. شرکت چارواکي په دې ښه پوه وو چې پر عایداتو د مالیاتو مکلفیت او د انتفاعي معاملو د مالیې مکلفیتونه یې په افغانستان کې در لوده. دغه راز، یاد سند داسې څرګندوي چې د دغه شرکت هماغه عمده سهم لرونکي پرسونل ته ویلي چې مالیه دې نه ورکوي ځکه دا شرکت یوازې د لنډې مودې لپاره په افغانستان کې کار کوي. د عوایدو لوی ریاست دغه موضوع لویې څارنوالۍ ته عدلي تعقیب لپاره معرفي کوي.

۲ بېلګه: قسیم هوایي شرکت په پورته ۳ بېلګه کې بیا هم د خپلو کارکوونکو د معاشونو د موضوعي مالیې په ورکړه کې باتې راځي. په دې توګه، یاد شرکت سربېره پر دې چې پر عایداتو د مالیاتو قانون د ۱۰۴مې مادې په ۱ فقره کې درج شوې اضافي مالیه ورکوي، لویې څارنوالۍ ته د عدلي تعقیب لپاره هم معرفي کیږي.

تبصره: که چیرې مالیه په خپل ټاکلي وخت چې په قانون کې په ګوته شوی، تادیه نه شي، نو دغه کار په لاندې حالاتو کې له مالیې څخه تېښته ګڼل کیږي:

أ. د مالیې نه ورکول سره له دې چې د مالیاتو د وضع کېدو موضوع مالیه ورکوونکو ته د پروګرامونو، ورکشاپونو، عامه پوهاوي، سیمینارونو، رسمي لیکونو او داسې نورو ذریعو له لارې وررسېدلې وي،

ب. چې د مالیه ورکوونکي لخوا د دویم کال یا نورو اوږدو دورو لپاره د مالیې نه ورکول تکرار شي، او

ج. مالیه ورکوونکی هڅه وکړي چې د جعلي اسنادو په ښودلو سره خپله نه ورکړل شوې مالیه توجیح کړي.

د مالیه ورکوونکي د تشخیصه نمبر په اړه اضافي مالیه

یو سل او پنځمه ماده:

هغه حقیقي شخص چې د دغه قانون د ۸۲مې مادې له حکم سره سم د مالیه ورکوونکي د تشخیصیه نمبر په لرلو مکلف دی او پرته له کوم موجه دلیل څخه یې ترلاسه نه کړي، د ۵۰۰۰ افغانیو د اضافي مالیې په ورکړه او حکمي شخص د ۲۰۰۰۰ افغانیو د اضافي مالیې پر ورکړه مکلف دي.

۱.۱۰۵ هغه حقیقي شخص چې د دغه قانون د ۸۲مې مادې له حکم سره سم د مالیه ورکوونکي د تشخیصیه نمبر په لرلو مکلف دی او پرته له کوم موجه دلیل څخه یې ترلاسه نه کړي، د ۵۰۰۰ افغانیو د اضافي مالیې په ورکړه او حکمي شخص د ۲۰۰۰۰ افغانیو د اضافي مالیې پر ورکړه مکلف دي.

۱ بېلګه: آسیه د بدخشان ولایت په یو کوچني کلي کې ژوند کوي. نوموړې په یوه نړیواله نادولتي مؤسسه کې کار کوي. آسیه په خپل کلي کې د د ایې په توګه دنده تر سره کوي او له امیدوارو ښځو سره مرسته کوي. د آسیې استخدام کوونکې مرجع د هغې له معاش نه د ۱۳۸۸ کال مالیه وضع کوي. د ۹۱ مادې له مخې آسیه مکلفه ده چې د ۱۳۸۸ مالي کال لپاره مالیه ورکوونکي د پیژندني نمبر تر لاسه کړي. آسیه بې سواده ده او د مالیه ورکوونکي د پیژندنې نمبر د اخستلو په موخه مناسبې فورمې نه شي اخستلای چې ډکې ئې کړي. استخدام کوونکې مرجع د پیژندنې نمبر لاسته راوړلو په اړه آسیه ته معلومات نه ورکوي. آسیه مجبوره ده چې د څو ورځو لپاره سفر وکړي او هغه دفتر پیدا کړي چې د مالیه ورکوونکي د پیژندنی نمبر اخیستلو لپاره لازمې فورمې ورکوي. کله چې د عوایدو لوی ریاست کارکوونکي آسیه تفتیش کوي ، نو ورته وایي چې هغه د مالیه ورکوونکي د پیژندنی نمبر اخستلو ته اړتیا لري. آسیه سمې فورمې لاسلیک کوي او د پیژندنې نمبر اخلي. آسیه د نوموړې نومرې د نه اخستلو په اړه معقول دلیل لري.

۲ بېلګه: ساریکا په کابل ولایت کې اوسېږي. هغه په یوه نړیواله نادولتي مؤسسې کې دنده ترسره کوي. ساریکا د د ائې په توګه کار کوي. هغه له امیدوارو ښځو سره مرسته کوي. د ساریکا استخدام کوونکې مرجع د هغې له معاش نه د ۱۳۸۸ کال مالیه وضع کوي. هغه له استخدام کوونکې مرجع څخه پوښتنه کوي چې ولې یې د هغې له معاش نه مالیه وضع کړې ده. د ساریکا استخدام کوونکې اداره هغې ته خبر ورکوي چې هغه پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون تابع ده او باید د مالیه ورکوونکي د پیژندنې نمبر واخلي. کابل ولایت کې انټرنټ شته او ساریکا کولای شي چې د مالیه ورکوونکي د پیژندنی د نمبر فورمې د انټرنټ له لیارې لاسته راوړي او همدارنګه نوموړې کولای شي چې په کابل ولایت کې د مالیې وزارت له فترونو څخه مالیاتي فورمې تر لاسه کړي. ساریکا د مالیه ورکوونکي د پیژندنې نمبر نه اخلي ځکه چې د انټرنټ له لیارې د فورمو تر لاسه کول او یا مالیې وزارت ته په تګ او راتګ پیسې مصرفیږي. ساریکا مالیې وزارت ته د تګ او راتګ د کرایې پیسې نه لري. ساریکا د نوموړي نمبر د نه اخیستلو په اړه کوم مؤجه دلیل نه لري او د ۵۰۰۰ اضافي مالیې تابع ګرځي.

۳ بېلګه: د کابل ودانیز شرکت یو افغان سهامي دی او په افغانستان کې ساختماني فعالیتونه پر مخ وړي. یاد شرکت په ۱۳۸۸ او ۱۳۸۹ کلونو کې په افغانستان کې فعالیت کوي. دا شرکت پدې باور دی چې په افغانستان کې یې فعالیتونه مخ پر ختمېدو دي او په راتلونکي کې به هم کوم ساختماني قرارداد تر لاسه

نکړي. کابل ودانيز شرکت پوهېږي چې د ماليه ورکوونکي د پېژندنې نمره واخلي، خو پرېکړه کوي چې نوموړې نمره وانخلي. کله چې د عوايدولوی رياست د نوموړي شرکت په اړه تحقيق کوي ، داسې معلومات تر لاسه کوي چې دغه شرکت دوه کاله پرعايداتو باندې ماليات نه دي تاديه کړي. کابل ودانيز شرکت د خپلو کارکوونکو له معاشونو نه موضوعي ماليه نه ده وضع کړې او د عوايدولوی رياست نه د خپلو فعاليتونو د پټولو په موخه په قصدي توګه د ماليه ورکوونکي د پېژندنې نمبر له اخستلو څخه ډډه کړې وه. د کابل ودانيز شرکت بايد د ۲۰۰۰۰۰ افغانيو اضافي ماليې تابع وګرځي.

#

د مالياتي مؤظفينو لخوا ترسره شوې سرغړونې

يو سل او شپږمه ماده:

(1) که چيرې مالياتي مؤظفين د مستقيمې يا غير مستقيمې ګټې په قصد په دې قانون کې درج معلومات افشا کړي يا نور هغه اشخاص چې د معلوماتو په افشا کولو کې له هغه سره مرسته وکړي ، له احوالو سره سم تر يو سلو پنځه وېشتو زرو افغانيو پورې په نغدي جريمه يا تر يوه کال پورې پر حبس او يا په دواړو جزاوو باندې محکومېږي.

(2) که چېرې مالياتي مؤظفين د اړوندو واکمنو مقامونو د رسمي اجازې پرته د مستقيمې يا غير مستقيمې مالي ګټې يا نورې ګټې په قصد له خپل موقف څخه ناوړه استفاده وکړي، له احوالو سره سم تر دوو سوو پنځه وېشتو زرو افغانيو پورې په نغدي جريمه يا تر درې کالو پورې حبس يا په دواړو جزاوو باندې محکومېږي.

۱.۱۰۶ که چېرې مالياتي کارکوونکی د مستقيمې يا غير مستقيمې ګټې په موخه محرم معلومات افشا کړي او يا نور اشخاص هغو سره په دې کار کې مرسته وکړي ، دوی بايد د عدلي تعقيب لپاره لوېې څارنوالۍ ته ور وپېژندل شي.

بېلګه: فيروز د عوايدولوی رياست د سترو ماليه ورکوونکو په اداره کې کار کوي. د(الف) شرکت د څېړنې پر مهال فېروز د نوموړي شرکت عوايد او ګټه معلوموي. په افغانستان کې د (الف) شرکت اصلي رقيب د (ب) شرکت دی. فېروز موافقه کوي چې د (الف) شرکت معلومات د ۲۰۰۰۰۰ افغانيو په بدل کې د (ب) پر شرکت وپلوري. دغه قضيه په قانون کې د درج شوي محرميت د اصل د نه رعايتولو له کبله بايد د عدلي تعقيب لپاره لوېې څارنوالۍ ته ور وپېژندل شي.

۲.۱۰۶ که چېرې مالياتي مؤظفين د مالي او يانورو ګټو په موخه په مستقيم يا غيرمستقيم ډول د رسمي مقاماتو له اجازې نه پرته له خپل مؤقف څخه ناوړه ګټه پورته کړي، نو دوی بايد د محرميت د اصل د نه رعايتولو له کبله د عدلي تعقيب لپاره لوېې څارنوالۍ ته ور وپېژندل شي.

بېلګه: وحيد د يوه ولايت د مستوفيت کارکوونکی دی.د صديق ترانسپورتي شرکت خپل مالياتي اظهارليک ولايتي مستوفيت ته وړاندې کوي. وحيد نوموړی مالياتي اظهارليک ارزوي او د صديق ترانسپورتي شرکت ته وړانديز کوي که چيرې ده ته ۳۰۰۰۰ افغانۍ ورکړي نو په مالياتي اظهارليک کې د شرکت د درج

شوې ګټې اندازه به راکمه کړي. وحید له خپلې دندې څخه د شخصي ګټې لپاره ناوړه ګټه اخلي او پر سرغړونې تورن دی. په دې توګه، وحید د ۱۰۲مې مادې د ۱ فقرې د حکم لمخې د عدلي تعقیب لپاره لوېې څارنوالۍ ته ورپېژندل کیږي.

د اضافي مالیاتو د راټولولو واک

یو سل او اوومه ماده:

د دې فصل په حکمونو کې درج اضافي مالیات د مالیې وزارت د مالیاتي څانګو لخوا راټولیږي.

۱.۱۰۷ هغه مالیه ورکوونکي چې د اضافي مالیې په ورکړه مکلف دي، نوموړې مالیه باید د اصلي مالیې د تادیې په شان ورکړي. د ۸۷ مادې د (۱) فقرې پراساس مالیه ورکوونکی باید اضافي مالیه په یو واکمن بانک کې تادیه کړي. له واکمن بانک څخه د مالیاتو د ورکړې فورمو د ترلاسه کولو او لېږلو په موخه د عوایدو لوی ریاست ترتیبات رامنځته کړي دي او دا داسې ګڼي چې نوموړې تادیات په مالیاتي دفتر کې منځ ته راغلي دي.

# اوولسم فصل

## وروستنۍ مادې

## له ۱۰۸ مادې نه تر ۱۱۳ پورې#

د کړنلارې وضع کول او د فورمو برابرول
یو سل او اتمه ماده:
(1) د مالیې وزارت د مالیاتو د تشخیص، تثبیت او اخیستلو په منظور هغه فورمې چې د قانون د حکمونو لمخې اړینې ګڼل کېږي برابروي.
(2) د مالیې وزارت د دې قانون د حکمونو د ښه تطبیق په منظور پر عایداتو باندې د مالیاتو تعلیمنامه، جلا طرزالعمل (عمومي او انفرادي) لایحې وضع کوي.

۱.۱۰۸ د عوایدو لوی ریاست پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون د تنظیم او اداره کولو مسؤلیت په غاړه لري. له دغو مسؤلیتونو څخه یو هم دا دې چې د عوایدو لوی ریاست فورمې طرح او ترتیب کړي دي او پرعایداتو باندی د مالیاتو له قانون څخه د مالیه ورکوونکو د پېروۍ په موخه د مالیه ورکوونکو له غوښتنې سره سم به د دغهٔ ډول فورمو طرح او ترتیب ته دوام ورکړي. یادې شوې فورمې د هر ولایت له مستوفیت او د مالیې وزارت د عوایدو له لوی ریاست څخه تر لاسه کېدای شي.

۲.۱۰۸ پر عایداتوباندی دمالیاتو د قانون د تعلیمنامې د صدور واک د همدې مادې لخوا د مالیې وزارت ته ورکړل شوی دی. پر عایداتو باندی دمالیاتو قانون د تعلیماتنامې موخه د مالیاتو قانون تطبیق او تعبیردغه دی. په دغهٔ تعلیماتنامه کې یواځې عمومي لارښوونې شاملې دي. داسې باید ونه ګڼل شي چې په دغه تعلیماتنامه کې له مالیه ورکوونکي پورې اړوند ټول موضوعات شامل دي.

۳.۱۰۸ د مالیې وزارت لپاره د هغو مواردو په اړه چې پرعایداتو باندی دمالیاتو قانون تر پوښښ لاندی نه دی راغلي، دوه انتخابي لارې وجود لري. د مالیې وزارت دعوایدو لوی ریاست له لیارې دعامه او خصوصي طرزعملونه صادروي.

۴.۱۰۸ د عامه سنجش یوطرزالعمل پرهغې موضوع باندې پرعایداتو باندی دمالیاتو قانون د تطبیق په اړه په لیکلی توګه د مالیې وزارت موقف بیانوي چې چې مالیه ورکوونکي تر اغېزې لاندی راولي. دبېلګې په ډول، دمالیې وزارت د افغانستان کورني او بهرني خصوصي پانګې اچونې د قانون لمخې (د ۱۳۸۴/۴ عامه سنجش طرزالعمل) دورکړل شوي "مالیاتي معافیتونو" د پای په اړه د عامه سنجش یو طرزالعمل صادر کړې دی او همدارنګه نومړی وزارت د عمده مسئلو په اړه په هر هغه ډول او په هرهغه وخت کې چې لازم وي، د عامه سنجش طرزالعملونو صادرولو ته ادامه ورکوي. دا کار دمالیې وزارت واک د دې پرېکړې کولو په اړه چې په کومو حالاتو کې دعامه سنجش طرزالعمل صادر کړي او هم هغه موقف چې دغه وزارت یې د قانون تطبیق او تعبیر په اړه لري، بیانوي.

۵.۱۰۸ د خصوصي یو طرزالعمل پر هغې موضوع باندی چې له معینو او تثبیت شوو اشخاصوله ډلې څخه یو معین شخص یا ډله ترخپلې اغېزې لاندی راولي، پرعایداتو باندی د مالیاتو قانون د تطبیق په اړه دمالیې وزارت موقف بیانوي. دمالیې وزارت د هغو حقیقتونو په باره کې پر عایداتو باندې دمالیاتو قانون د تطبیق په اړه خپل موقف بیانوي چې د یو خصوصي طرزالعمل د غوښتونکي مستندو شواهدو پر اساس برابر شوي دي. یواځې پرعایداتو باندی د مالیاتوقانون د تعبیر او تفسیر په اړه د خصوصي یو

طرزالعمل صادر کیدای شي. دا پروسه د نورو قوانینود تطبیق د واضح کولو په موخه استفاده نه شي کیدای او همدارنګه له غوښتونکي (غوښتونکو) نه پرته د بل شخص د مالیاتي مکلفیتونو واضح کولو په موخه نه استفاده کیږي. که چیرې د غوښتونکو نه پرته نور اشخاص وغواړي چې د خپل مالیاتي مکلفیتونو په اړه معلومات تر لاسه کړي، نو باید د خپل نوم (نومونو) په اړه د یوځ خصوصي طرزالعمل صادرولو لپاره درخواست وکړي.

۲.۱۰۸ د طرزالعملونو په دواړه عامه او خصوصي حالتونو کې د مالیې وزارت د قانون تعبیر او تفسیر ته محدود دی. د عامه او خصوصي طرزالعمل د پروسې په اړه د ډیرو معلوماتود لاسته راوړلو لپاره د "عامه او خصوصي طرزالعملونو" تر عنوان لاندی د عامه سنجش طرزالعمل ته دې مراجعه وشي.

> **د جواز نه صادرول**
>
> **یو سلو او نهمه ماده:**
>
> (1) که چیرې حقیقي یا حکمي اشخاص، د خپلې غاړې (ذمت) د ورکړې وړ مالیه، د دې قانون د حکمونو لمخې په ټاکلي وخت ورنکړي، د مالیې وزارت کولای شي د هغوی د سوداګریز جواز د نه نوي کولو په هکله هغو ادارو او مؤسسو ته چې د جواز د صادرولو واک لري رسماً خبر ورکړي. دا شخاصو جواز هغه وخت د اجرا وړ دی چې د مالیې له وزارت څخه د خپل مالیاتي نه مسؤولیت سند اړوندې څانګې ته وړاندې کړي. سربېره پر دې، د جواز صادروونکي ادارې نشي کولای انفرادي اشخاصو او د سهامي او محدود المسؤلیت شرکتو ریسانو ته چې خپل یا د خپلو شرکتونو مالیاتي مکلفیتونه یې نه وي ادا کړي، د عین شخص یا شرکت په نوم بل جواز صادر کړي.
>
> (2) د جواز صادروونکي ادارې په دې مکلفې دي چې دولتي ادارو ته د هغو حقیقي او حکمي اشخاصو لست او مشخصات چې جواز یې اعتبار لري، د انټرنټ له لارې په واک کې ورکړي. ټولې دولتي ادارې او مؤسسې مکلفې دي چې د تړون د عقد پرمهال د کاري جواز له صحت او اعتباره ځان ډاډه او له دې وروسته تړون ترسره کړي.
>
> (3) د دولتي چارواکو د معاشونو د قانون په ۲مه ماده کې مندرج اشخاص مخکې له دې چې انتصاب یا وټاکل شي، مکلف دي چې د مالیې وزارت له لارې د مالیاتو د نه باقیدارۍ فورمې تکمیلې کړي.

۱.۱۰۹ د ۱۰۹مې مادې لمخې، ټول مالیه ورکوونکي که هغه حقیقي اشخاص وي یا حکمي او پرته له دې چې دوی څه ډول فعالیت ترسره کوي او هغه ډله اشخاص چې د کاري جواز په لرلو مکلف دي، مخکې له دې چې خپل کاري یا سوداګریز جواز نوی کړي، خپل مالیاتي مکلفیت دې ترسره کړي. د دې لپاره چې مالیه راټوله شي، د مالیې وزارت دا واک لري چې د سوداګریزو او سکتوري فعالیتونو د جواز صادروونکو ادارو ته رسمي مکتوب واستوي ترڅو د هغو اشخاصو جوازونه تجدید او نوي نه کړي څوک چې د مالیې وزارت یا بلې مالیاتي ادارې لخوا د مالیاتو ترلاسه شوی د تصفیې سند نه وړاندې کوي. همدارنګه د

۱۰۹مې مادې لمخې، هغه دولتي اداري او مؤسسې چې کاري جوازونه صادروي، ورته اشخاصو ته او د شرکتونو د مدیرانو په ګډون کاري جواز صادر نه کړي تر هغې چې مالیاتي مکلفیت یې پوره کړی نوي.

۱ بېلګه: غزنوي شرکت دخپلو سوداګریزو چارو لپاره د سوداګرۍ له وزارته د ۱۳۸۷ کال د وږي په پیل کې خپل کاري جواز ترلاسه کړ چې دغه جواز د ۱۳۸۸ کال د وږي تر پیله د اعتبار وړ ګڼل کیږي. د ۱۳۸۸ کال د تلې په میاشت کې، یاد شرکت هېواد ته یو شمېر توکي واردوي. دا چې د سوداګریز جواز د مودې له پایته رسېدو یوه میاشت تېره شوې، د ګمرکاتو د ریاست چارواکي وارد شوي توکي له ځان سره ساتي او له یاد شرکته غوښتنه کوي چې خپل جواز نوی کړي. د یاد شرکت مدیر سوداګرۍ وزارت ته غوښتنلیک وړاندې کوي چې خپل جواز نوی کړي. په دې خاطر چې غزنوي شرکت د ۱۳۸۷ کال اظهارلیک نه دی وړاندې کړی او مالیاتي مکلفیت یې هم نه دی پوره کړی، د سوداګرۍ وزارت نه شي کولای چې جواز یې نوی کړي. د غزنوي شرکت جواز هله نوی کېدای شي چې د ۱۳۸۷ کال خپل مالیاتي اظهارلیک مالیاتي اداري ته وړاندې، مالیاتي مکلفیت ترسره او له اړونده مالیاتي ادارې څخه د مالیې تصفیوي سند ترلاسه او د سوداګرۍ وزارت ته یې وړاندې کړي.

۲ بېلګه: مایک چې یو فرانسوي تبعه دی د مخابراتو وزارت لخوا د ۱۳۸۸ کال د غویي میاشتې په ۲۳مه نېټه د کمپیوټر انجینیر په توګه په کار وګومارل شو ترڅو د دوو کالو لپاره تخنیکي خدمات وړاندې کړي. د کار د قانون سره سم، مایک مکلف دی مخکې له دې چې په یاد وزارت کې خپله دنده پیل کړي، د کار او ټولنیزو چارو له وزارته یو کاري جواز ترلاسه کړي. د مایک کاري جواز د ۱۳۸۹ کال د غویي په ۲۵مه نېټه پایته رسیږي. له دې کبله، دی اړ دی چې خپل جواز نوی کړي پخوا له دې چې خپل کار ته ادامه ورکړي. د ۱۰۹مې مادې د ۱ فقرې لمخې، تر هغې چې مایک د۱۳۸۸ کال لپاره د خپلو مالیاتو تصفیوي سند چې د مالیې وزارت یا بلې مالیاتي ادارې لخوا یې ترلاسه کوي، د کار او ټولنیزو چارو وزارت ته نه وي وړاندې کړی، د کار او ټولنیزو چارو وزارت دا واک نه لري چې د مایک کاري جواز نوی کړي.

۳ بېلګه: د بهار د نوشابو شرکت مدیر احمد نومیږي. یاد شرکت د معدني اوبو، غیرالکولیک نوشابو او داسې نورو مشروباتو په تولیدي چارو بوخت دی. بهار د مشروباتو شرکت نه خپل مالیاتي اظهارلیک وړاندې کړی او نه یې هم د ۱۳۸۷ کال مالیات ورکړي. پر ۱۳۸۸ کال، احمد له خپل ورور محمود سره د یوه نوي شرکت په جوړولو او راجسترولو لاس پوري کوي. دا چې احمد د خپل شرکت لپاره د مالیاتو تصفیوي سند نه دی ترلاسه کړی، په افغانستان کې له پانګه اچونې څخه د ملاتړ اداره یا آیسا د احمد اړونده شرکت ته جواز نه صادروي.

تبصره: د مالیاتو تصفیوي مکتوب هر مالیه ورکوونکي ته هغه مهال صادریږي چې لومړی، د روان کال مالیه او د راتلونکو کالو د تادیې وړ مالیه ورکړل شوې وي او مالیه ورکوونکي هم پر عایداتو د مالیاتو قانون د ۱۷، ۴۲، ۵۹ او ۷۲مې مادې د حکم لمخې ټول مالیاتي مکلفیت د امکان تر کچې ترسره کړي وي، دویم، او د هر ډول اضافي مالیې هغه مکلفیت ترسره شوی وي چې د جواز د نوي کولو د غوښتنلیک تر نېټې سنجول شوی وي.

۲ تبصره: هر ډول ناتکمیله اجراآت چې موخه یې د اضافي مالیې مکلفیت سنجول وي، د مالیاتو د هغه تصفیوي مکتوب د صادرېدو مخه نه نیسي کوم ته چې مالیه ورکوونکی د کاري جواز د نوي کولو لپاره اړتیا لري.

۲.۱۰۹ د ۱۰۹مې مادې د ۲ فقرې د ۱ جز لمخې، د کاري جواز ټولې صادروونکې ادارې مکلفې دي چې دولتي ادارو او مؤسسو ته د هغو افرادو او شرکتونو لړلیک یا فهرست په واک کې ورکړي چې کاري جواز یې په قانوني لحاظ د اعتبار وړ وي.

۳.۱۰۹ د داوطلبۍ یا مزایدې د پړاوونو په ترڅ کې او د تړون د ترسره کولو پرمهال، ډېره اړینه ده چې د هغو افرادو له ګومارلو څخه چې د کاري جواز موده یې پایته رسېدلې وي، ډډه وشي . د شرکتونو او د داوطلبۍ په مراحلو کې د برخه اخیستونکو اشخاصو د مزایدې داسنادو د ارزونې پرمهال، ټولې دولتي ادارې مکلفې دي چې د کاري جواز د اعتبار وړ مودې په اړه ځان ډاډمن کړي. دوی ته په کار ده چې د داوطلبۍ په مراحلو کې د ګډون کولو د حق لپاره یو معیار وټاکي. په دې مانا، هغه ډله اشخاص چې د کار ي جواز موده یې پایته رسېدلې وي، له حکومت سره د تړون او قرارداد کولو لپاره حق نه لري چې د داوطلبۍ یا مزایدې په پړاوونو کې برخه واخلي.

۴.۱۰۹ پر عایداتو د مالیاتو قانون د ۱۰۹مې مادې د ۳ فقرې د حکم لمخې، هېڅوک د دولت لوړو پوستونو ته ټاکل کېدای یا انتصابېدای نه شي مګر دا چې د خپلو مالیاتو تصفیوي سند یې وړاندې کړی نه وي.

۱ بېلګه: پر ۱۳۸۷ کال، محمد اشرف د یوه روغتون د ماشومانو په څانګه کې د روغتیایي کارپوه په توګه کار کړی دی. د عامې روغتیا وزارت د اداري اصلاحاتو د کمېسیون له لارې په یاد وزارت کې د تخنیکي رییس یو پوست اعلان کړی دی. آغلی اشرف د یاد پوست لپاره د ټولو نوماندو له ډلې تر ټولو لوړ او شایسته شخص دی. دی مکلف دی د هغې دندې په اړه د مالیاتو خپل تصفیوي سندوړاندې کړي چې ده په کې کار کړی. له دې وروسته، د اداري سمون د کمېسیون چارواکي د ده د انتصاب چارې او اسناد بشپړوي.

۲ بېلګه: ولسمشر آغلې ثریا په ملي شوار کې د مشرانو جرګې لپاره انتصابوي. وړاندې له دې چې د مشرانو جرګې په ناستو کې برخه واخلي، آغلې ثریا مکلفه ده چې د خپلو مالیاتو تصفیوي سندوړاندې کړي. د دغه سند له وړاندې کولو پرته، نوموړې نه شي کولای د مشرانو جرګې په ناستو کې برخه واخلي.

۳ بېلګه: ولسمشر آغلی نوري د کار او ټولنیزو چارو وزارت د پوست لپاره د وړاندیز شوي وزیر په توګه ولسي جرګې ته وروپېژاند چې د اعتماد رایه ترلاسه کړي. ولسي جرګه د یاد وزیر د لوړو زده کړو درجه، اسناد، د تابعیت اسناد او نور اړونده اسناد تر څېړنې لاندې نیسي . د دغه نوماند د مالیاتو د تصفیوي سند د ولسي جرګې په واک کې نه دی ورکړل شوی . ولسي جرګه په رسمي توګه د مالیاتو د تصفیوي سند غوښتنه کوي او ښاغلی نوري داسې څرګندوي چې ده تر اوسه د تېرو کالونو خپل مالیاتي اظهارلیک اړونده مالیاتي ادارې ته نه دی وړاندې کړی. په دې توګه، ولسي جرګه د نوماند وزیر ټول اسناد مسترد او د اعتماد رایې موضوع ترهغه مهاله ځنډوي چې آغلی نوري خپل ټول مالیاتي مکلفیت ترسره کړي.

له معافیته د مستحق کېدو شرایط

یو سل او لسمه ماده:

(1) هغه منظور شوي تشبثات چې د ۱۳۸۱/۲/۲۰ نېټې په (۸۰۳) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوي د کورنۍ او بهرنۍ خصوصو پانګې اچونې د قانون په حکمونو کې درج مکلفیتونه او اړوند قوانین سرته نه وي رسولي ، د ۱۳۸۳ د چنګاښ له لومړۍ نېټې څخه وروسته د نوموړي قانون په حکمونو کې له درج شوي معافیت څخه د ګټې اخستنې مستحق ندي.

(2) هغه منظور شوي تشبثات چې د دې مادې په (۱) فقره کې درج د کورنۍ او بهرنۍ خصوصي پانګې اچونې د قانون دحکمونو لمخې چې ۱۳۸۲/۹/۱ نېټې څخه د مخه یې عملاً فعالیت پیل کړې وي ، په هغهٔ صورت کې کولای شي د هغهٔ په حکمونو کې له درج شوو امتیازونو څخه ګټه واخلي چې پدې قانون او اړوندو قوانینو کې درج حکمونه یې په پام کې نیولي وي او په پام کې نیولو ته یې دوام ورکړي.

(3) هغه منظور شوي تشبثات چې د دې مادې په (۱) فقره کې د کورنۍ او بهرنۍ خصوصي پانګې اچونې په قانون کې له درج مالیاتي معافیتونو څخه یې ګټه اخستې ده یا د دې مادې په (۱) فقره کې د ردج حکم له په پام کې نیولو سره یا د هغوی د مالیاتي معافیت د نېټې د تیرېدو (انقضا) په نسبت د هغو مالیاتي معافیت پای ته رسېږي، په هغهٔ صورت کې چې ذکر شوي تشبثات تر ۱۳۸۳/۴/۱ نېټې پورې ثبت او راجستر شوي وي ، د هغو د پاتې نه استهلاک شوې شتمنۍ ارزښت په هماغه نېټه د ثابتې شتمنۍ د ارزښت په توګه ګڼل کېږي.

۱.۱۱۰ پر ۱۳۸۱ کال خپور شوی د افغانستان د کورنۍ او بهرنۍ خصوصي پانګې اچونې قانون د " منل شوو تشبثاتو " ته پرعایداتو باندی د مالیاتو په ګډون د ۴ ، ۲ او ۸ کلونو او په ځینو مواردو کې له ۸ کلونو څخه ډېرې مودې لپاره مالیاتي معافیت ورکړی دی. د ۱۳۴۴ لمریز (۱۹۲۴ میلادي کال) کال پر عایداتو باندی دمالیاتو په قانون کې وروستي بدلونونوهغه دوامداره مالیاتي معافیتونه پای ته ورسول چې پرعایداتو باندی دمالیاتو قانون سره په تضاد کې وۀ. د ۱۳۸۳ کال د چنګاښ له لومړۍ نېټې څخه هر ډول مالیاتي معافیت دمالیې وزارت ته د منلو وړ نه دی. دهغو مالیاتي معافیتونو له ډلې څخه چې د ۱۳۸۳ کال له لومړۍ نېټې څخه دمخه بښل شوي دي ، یواځې هغه شمېر "منل شوي تشبثات" چې له دوه شرطونو څخه یې پېروي کړېده ، د مالیاتي معافیت دنېټې تر پایه پورې له مالیاتو څخه برخمن دي. هغه دوه شرطونه دادي:

1. یوۀ منل شوي تشبث باید د ۱۳۸۲ کال د لېندۍ د میاشتې له لومړۍ نیټې ( هغه نېټه چې په افغانستان کې له پانګه اچونې څخه د ملاتړ اداري د سوداګرۍ له وزارت نه د خصوصي پانګه اچونو د ثبت او راجستر واک تر لاسه کړی دی) څخه په فعالیت پیل کړی وي.
2. یو منل شوی تشبث باید په افغانستان کې دکورني او بهرني خصوصي پانګې اچونې د قانون ۱۳۸۱ کال کې په خپور شوي) (او یا د ده پر ځای قانون) له اړوندو احکامو څخه پېروي کړې وي او خپلې پېروۍ ته ادامه ورکړي.

۲.۱۱۰ که چېرې دیو منل شوي تشبث مالیاتي معافیت د ۱۳۸۳ کال دچنګابښ له لومړۍ نېټې څخه وروسته پای ته رسېږي ، نو نوموړی تشبث له هماغې نېټې څخه پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون تابع ګرځي او تر هماغې نېټې پورې د موجودو شتمنیو داستهلاک د محاسبې په موخه ، د نه استهلاک شوو شتمنیو پاتې ارزښت د شتمنیو د بيې په توګه ګڼل کېږي.

بېلګه: کابل ساختماني شرکت یو منل شوی تشبث دی چې د ۱۳۸۳ کال د چنګابښ تر لومړۍ نېټې پورې یې مالیاتي معافیتونه پای ته ورسېدل. نوموړی شرکت د ۱۳۸۲ کال د چنګابښ په لومړۍ نېټه د ۱۰۰۰۰۰ افغانیو په بیه یو داسې ماشین پیرې چې تر ۵ کالو پورې ورڅخه ګټه اخستل کېدای شي. هغه وخت چې مالیاتي معافیت پای ته ورسېدۀ له ماشین څخه د یوۀ کال لپاره استفاده شوې وهس. استهلاک ئې په لاندې ډول محاسبه کېږي: یو کال ÷ ۵ کاله × ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ=۲۰۰۰۰ افغانۍ. د ماشین د مالیاتي معافیت په پای کې د نا استهلاک شوي ماشین ارزښت منفي د ۱۳۸۳ کال دچنګابښ تر لومړۍ نېټې پورې استهلاک یعنی ۱۰۰۰۰۰- ۲۰۰۰۰ = ۸۰۰۰۰ دی. کابل ساختماني شرکت د ۱۳۸۳ کال دچنګابښ له لومړۍ نېټې څخه له ماشین نه داستفادې په موخه پدې اساس داستهلاک د وضع مستحق کېږي چې په هغۀ وخت کې دماشین بیه ۸۰۰۰۰ افغانۍ وه.

کابل ساختماني شرکت کولای شي چې د ۱۸ مادې د ۱ فقرې د ۷ جز لمخې د مناسبې فیصدۍ له مخې او یا هم د ۴۷ مادې لمخې د چټک استهلاک له مخې له شتمنۍ د مودې نه د ګټورې استفادې استهلاک سنجش کړي.

له مالیاتي معافیت څخه د چټک استهلاک او د ضرر د نامحدود لېږد په بڼه مالیاتي امتیازونو په اړه د ماليې وزارت د تعبیر په اړوند دزیاتو معلوماتو د تر لاسه کولو لپاره د عامه سنجش لاندې طرزالعمل ته مراجعه وکړي. پر عایداتو باندې مالیات: د پانګه اچوونکو لپاره مالیاتي معافیتونه او امتیازونه

د قانون لومړيتوب او لوړوالی

یو سلو یوولسمه ماده:

(1) د دې قانون له حکمونو سره د قراردادونو ، موافقه لیکونو او نورو تقنیني سندونو د حکمونو د مغایرت په صورت کې ، پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون مرجح ګڼل کېږي.

(2) له بهرینو دولتونو او نړیوالو مؤسسو سره د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت تر منځ عقد شوي قراردادونه او موافقه لیکونه ، د دې مادې په (۱) فقره کې له درج شوي حکم څخه مستثني دي.

۱.۱۱۱ د ۱۱۱ مادې (۱) فقره د قراردادونو ، موافقه لیکونو او د نورو قانونو داحکامو په پرتله پرعایداتو باندې مالیاتو دقانون غوره ګڼي.که چېرې یو قرارداد ، موافقه لیک او یا کوم بل قانون چې پر عایداتو باندې د مالیاتو په اړه پر عایداتو باندې د مالیاتو له قانون څخه مختلف احکام ولري ، نو پدې صورت کې نوموړی قانون او تړونونه د تطبیق وړ نه دي او پر عایداتو د مالیاتو د قانون احکام تطبیقیږي.

۲.۱۱۱ د یوې عادي طریقې په توګه دولتي اداري دبېلګې په ډول د دولت یو وزیر قراردادونه او معاهدې لاس لیک کوي.سره له دې چې یو وزیر د اجناسو او یا خدماتو د پېرودلو واک لري ، ولې نه شي کولای چې یوائې په خپل واک سره د افغانستان دقوانینو له احکامو څخه سترګې پټې کړي. که چېرې له پورتنیو قراردادونو او یا تړونلیکونو سره داسې ځانګړې چال چلندصورت ومومي چې پر عایداتو د مالیاتو قانون سره سمون ونلري ، نو په دغه صورت کې دقرارداد هماغه احکام ( نه نور احکام ) لغوه ګڼل کېږي.

بېلګه: یو وزیر دخپل وزارت په استازیتوب د یوې ودانۍ د آبادولو په موخه یو موافقه لیک لاس لیکوي . موافقه لیک داسې بیانوي چې د ودانۍ د آبادولو قراردادي پر عایداتو باندی له مالیاتو څخه معاف دی. سره له دې چې نوموړی وزیر دافغانستان د حکومت له واک سره سم عمل کړی دی ،یا موافقه لیک د افغانستان دحکومت لخوا له وړاندی نه لاس لیک شوی دی، پر عایداتو د مالیاتو قانون له نوموړي موافقه لیک څخه غوره ګڼل کېږي. د دغه وزیر لخوا ورکړل شوی مالیاتي معافیت نه تطبیقیږي او په دې اړه پر عایداتو باندی د مالیاتو قانون د تطبیق وړ دی.

۳.۱۱۱ د ۱۱۱ مادې ۲ فقره د هغوقراردادونو او موافقه لیکونوپه اړه استثناوې یا بېدودی. داسې ثابتوي چې ځانګړې مالیاتي برخورد پکې شامل دی او نه شي کولای چی پر عایداتو د مالیاتو له قانون څخه غوره وي. استثناوې باید د هغۀ قرارداد او یا موافقه لیک له شرایطو سره سمون ولري چې له وړاندې نه د افغانستان اسلامي جمهوریت سره لاسلیک شوی دی.

یوه استثنا هغه قراردادونه او موافقه لیکونه دي چې د افغانستان اسلامي جمهوریت او یوۀ بهرني هېواد ترمنځ لاسلیک شوی دی. هغه ځو اړخیزه مؤسسات ( لکه اروپایي اتحاد ) چې له مختلفو هېوادونو څخه تشکیل شوي دي د دې مادې له مخې باید د بهرنیو هېوادونو په توګه و ګڼل شي.

بله استثنا هغه قراردادونه او تړون لیکونه دي چې د افغانستان اسلامي جمهوریت او د ملګرو ملتونو او یا د نورو مؤسسو ترمنځ لاسلیک شوي وي. ملګرو ملتونو پورې اړوندې مؤسسې عبارت دي له: د ماشومانو لپاره د ملګرو ملتونو وجهي صندوق (UNICEF)، د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام (UNDP)، د مهاجرینو لپاره د ملګرو ملتونو عالي اداره(UNHCR)، د ملګرو ملتونو د ځانګړو پروژو دفتر(UNOPS) ، نړېوال بانک، د پیسو نړیوال وجهي صندوق او داسی نور.

۴.۱۱۱ د مالیې وزارت باید د بهرنیو چارو وزارت او عدلیې وزارت سره د هغو شرایطو په اړه چې دهغه لمخې یوه معاهده ، قرارداد او یا نور موافقه لیکونه د ۱۱۲ مادې د ۲ فقري لمخې او یا د افغانستان اسلامي جمهوریت د اساسي قانون ۹۰ مادې سره لمخې وګڼل شي ، لارښودونه صادر کړي.

###

باقي داري او مکلفيتونه

یو سلو او دولسمه ماده:

د ټولو حکمي او حقيقي اشخاصو باقيداريانې او نور مالياتي مکلفيتونه د ۱۳۸۱ کال څخه مخکې پورې اړوند يږي، معاف دي.

د حکمي او حقيقي اشخاصو د ۱۳۸۱ کال څخه تر ۱۳۸۵ کاله پورې مالياتي جريمې او د بېلانس په وړاندې کولو کې ځنډ په هغه صورت کې معاف ګڼل کيږي چې په جريده کې د خپر ېدو له نېټې څخه يې په دريو مياشتو کې اصله باقيداري تاديه کړي.

هغه باقيداره اشخاص چې مالياتي حسابونه يې د دغه قانون له نافذېدو مخکې تصفيه کړي وي، د ۱ او ۲ فقرې له احکامو مستثنی دي.

۱.۱۱۲ د ۱۱۲ مادې ۱ فقره د مالياتو او نورو مالياتي مکلفيتونو د ورکړې له شرايطو يو داسې معافيت په ګوته کوي چې پر عايداتو د مالياتو قانون په بل ډول وضع کړی وي. دغه معافيت د ماليې پر ورکړه، د جريمې په ډول اضافي ماليې او د مالياتي فورمو وړاندې کولو باندې پلی کيږي. هغه ماليات چې پر عايداتو ماليات، د انتفاعي معاملو ماليات، ثابت ماليات او موضوعي ماليات په برکې نيسي او پر مخکېنيو کالونو پلی کيږي خو ۱۳۸۱ مالي کال په بر کې نه نيسي.

۱ بېلګه: احمد شرکت د ۱۳۷۹ کال خپل بېلانس چمتو کړی او د ۱۰۰۰۰۰ افغانيو ماليه يې هم محاسبه کړې ده. ياد شرکت د مالياتي اظهارليک له وړاندې کولو او د ۱۳۷۹ کال د تاديې وړ ماليې له ورکړې هم معاف دی.

۲ بېلګه: نبي يو سوداګريز مارکېټ لري چې خپلې هټۍ ګانې يې بېلابېلو اشخاصو ته په ۱۳۸۰ او ۸۱ کال کې په کرايه ورکړې دي. په عين مهال کې، ده په يوه نهاد کې هم کار کاوه. نبي په ۱۳۸۰ کال کې د هټيو د کرايې او د دندې د عوايدو له درکه د خپل بېلانس او اظهارليک د وړاندې کولو څخه معاف دی. مګر دی په ۱۳۸۱ کال کې د خپل بېلانس او اظهارليک د وړاندې کولو او ماليې له ورکولو معاف نه دی.

۳ بېلګه: قسيم په ميوند واټ کې يوه هټۍ لري چې د ۱۳۸۱ مالي کال څخه د مخکېنيو کالونو د ثابتو مالياتو د ورکړې له درکه ۵۰۰۰ افغانۍ پوروړی ده. که چېرې ماليه دمخه نه وي ورکړل شوې، دی يې له ورکړې معاف دی.

۴ بېلګه: د احمد ساختماني شرکت پر ۱۳۷۸ کال د پوهنې له وزارت سره يو تړون لاسليک کړی چې له مخې يې يو ښوونځی ورغوي. په ۱۳۷۸ کال کې تاديات پرته له دې چې ماليه وضع شي، ورکړل شوي دي. د پوهنې وزارت له دې مسؤليته معاف دی چې د احمد ساختماني شرکت ته د تادياتو له ورکړې څخه ماليه وضع کړي. ياد شرکت په ۱۳۷۸ کال کې پر عايداتو د مالياتو له ورکړې او په ترلاسه کوونکي مبلغ د انتفاعي معاملاتو له ماليې هم معاف دی.

۲.۱۱۲ د ۱۱۲ مادې ۲ فقره د جريمو يو محدود معافيت په ګوته کوي چې په بل عبارت د هغو اشخاصو لخوا د تاديې وړ وي چې خپل مالياتي اظهارليک وړاندې او د ۱۳۸۱، ۸۲، ۸۳، ۸۴ او ۱۳۸۵ کال ماليه د ۳ مياشتو په موده کې وروسته له هغې ورکړي چې پر عايداتو د مالياتو قانون په رسمي جريده کې خپور شي. پر عايداتو د مالياتو قانون په ۹۷۶ نمبر رسمي جريده کې د ۱۳۸۷ کال د کب پر ۲۸مه نېټه خپور شو. پورته ياد معافيت پر ټولو اضافي ماليو او جريمو له قانونه د نه اطاعت کولو له کبله پلی کيږي.

۱ بېلګه: د احمد ګل انحصاري شرکت د ۱۳۸۱ او ۸۵ کال خپل بېلانس او مالياتي اظهار ليک مالياتي ادارې ته لس ورځې وروسته له هغې نېټې وسپاره چې پر عايداتو د مالياتو قانون په رسمي جريده کې خپور شو. په دې توګه، د احمد ګل انحصاري شرکت د ۱۳۸۱ او ۸۵ کال لپاره د مالياتي فورمې او ماليې په ورکړه کې د ځنډ راوستلو له کبله له هر ډول اضافي ماليې او جريمې څخه معاف دی.

۲ بېلګه: سردارولي په منډيي کې د چايو مارکېټ لري چې د ۱۳۸۱ څخه تر ۸۵ کاله پورې خپل مالياتي اظهارليک نه وړاندې کړی. نوموړي خپل مالياتي اظهارليک د مالياتو ادارې ته لس ورځې وروسته له هغې نېټې وړاندې کړ چې پر عايداتو د مالياتو قانون په رسمي جريده کې خپور شو او د خپلو هټيو د کرايې له درکه يې ټول د تاديې وړ ماليات ورکړل. دی له هر ډول اضافي ماليې او جريمې څخه معاف دی.

۳.۱۱۲ هغه اشخاص چې يو معامله ترسره کوي او موخه يې دا وي چې د ماليې له ورکړې تېښته وکړي، له هغه معافيته نه مستحق کيږي چې د تېښتې د ماليې په اړه وي. همدارنګه، هغه اشخاص چې له معاشونو، مزدونو، کرايو، د ونډې ګټې، ټکټانې او نورو موضوعي ماليې ته له تابع منابعو څخه د ماليې د وضع کولو مکلفيت لري، خو دغه ماليې نه وضع کوي، د ۱۸مې مادې لمخې د مالياتي عوايدو پر وړاندې له کسر څخه نه برخمن کيږي او د ۱۰۳ مادې لمخې پر اضافي ماليې مکلف دی.

۱ بېلګه: پنځه ستوريز ساختماني شرکت چې د ۱۳۸۵ کال بېلانس او اظهارليک يې نه دی وړاندې کړی، د معافيت په دوره کې په شلمه ورځ وړاندې کړل. ياد پنځه ستوريز ساختماني شرکت د مالياتي فورمې او ماليې په ورکړه کې د ځنډ راوستلو لکبله د اضافي ماليې څخه معاف دی. له څېړنې وروسته، داسې جوتيږي چې ياد شرکت په قصدي توګه خپل د ماليې وړ عوايد لږ ښودلي دي. دا چې شرکت د ماليې د نه ورکولو کوښښ کړی، د قانون د حکم لمخې ياد شرکت د اضافي ماليې په ورکړه مکلف ګڼل کيږي.

دغه راز، څېړنه ښيي چې پورته ياد شرکت د خپلو کارکوونکو له معاشونو څخه هم ماليه نه ده وضع کړې. له دې کبله، شرکت مکلف دی چې د تاديې وړ موضوعي ماليه ورکړي او د موضوعي ماليې د نه ورکولو له کبله د جريمې تابع دی.

۴.۱۱۲ هغه ماليه ورکوونکي چې خپل ماليات يې له ۱۳۸۲ کاله مخکې او د دغه قانون له پيله هم مخکې د نورو مخکېنيو مالياتي کلونو لپاره تاديه کړې وي، له هغه معافيته نه برخمن کيږي چې د دغې مادې په ۱ او ۲ فقره کې ياد شوی دی. هغه ماليه چې د معافيت له نافذېدو مخکې ورکړل شوې د مسترد کېدو وړ نه ده. وروسته له هغې چې د ولسمشر لخوا د ۱۳۸۷ کال د کب د مياشتې په ۲۷مه نېټه د ۱۷۱ نمبر فرمان له لارې د ۱۳۸۷ کال پر عايداتو د مالياتو قانون لاسليک شو، اوس نافذ دی.

**د نافذېدو نېټه**

**يو سل او دیارلسمه ماده:**

(1) دغه قانون د توشېح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جریده کې خپرېږي.

(2) د دغه قانون د ۴مې مادې د ۳ فقرې او د **۵۹**، **۶۴**، **۶۵**، **۶۶**، **۶۷**، **۷۲**، **۷۴** او **۷۵** مې مادې او د ۸۸مې مادې د **۵** او **۶**مې فقرې ټول احکام د ۱۳۸۸ کال د وري میاشتې له لومړۍ نېټې څخه پیل او د پلي کېدو وړ دي.

(3) د دغه قانون په نافذېدو سره، لاندې قوانین د ۱۳۸۸ کال د وري میاشتې له لومړۍ نېټې څخه منسوخ ګڼل کیږي:

أ. په ۱۳۸۴ کال کې د ۸۶۷ نمبر رسمي جریدې له لارې خپور شوی پر عایداتو د مالیاتو قانون، نور تعدیلات، ضمیمې او د همدغه قانون مغایر احکام،

ب. په ۱۳۵۹ کال کې د **۴۵۳** نمبر رسمي جریدې له لارې د استهلاکي موادو د مالیې خپور شوی قانون او په ۱۳۶۱ کال کې د **۵۱۷** نمبر رسمي جریدې له لارې خپور شوي قانون د ۱۰ او ۱۱مې مادې د تعدیل په اړه د ۱ نمبر ضمیمې سره، او

ج. د ۱۳۶۱ کال د زمري میاشتې په ۳۱ نېټه د **۵۱۴** نمبر رسمي جریدې له لارې د صکوکو د اخیستلو خپور شوی قانون.

۱.۱۱۳ د افغانستان اسلامي جمهوریت د ولسمشر د ۱۳۸۷ کال د کب میاشتې د۲۷ مې نېټې صادر شوی او لاسلیک شوی ۱۷۱ نمبر فرمان داسې څرګندوي چې پر عایداتو د مالیاتو قانون د دغه فرمان د لاسلیک له نېټې څخه نافذ او جاري ګڼل کیږي. دغه فرمان د ۱۳۸۷ کال پر عایداتو د مالیاتو قانون سره یو ځای په ۹۷۶ نمبر رسمي جریده کې د ۱۳۸۷ کال د کب په ۲۸مه نېټه خپور شو.

# پای